ستا په بېلتون کې ورانه هرڅه دي زما
پاخه اومه ، خواږه ترخه دي زما
که په دنیا زرگونه يه دي زما
بې ستا له تومه په کار نه دي زما
"حبیب الله رفیع"

داؤدخان

# د کې.جي.بي په لومو کې

دهیواد دسیاسی تحولاتو او پیښو په اړه
نوی او لړزوونکی انکشافات

دلومړي ځل لپاره په مستنده توګه :

رازونه افشاء ،حقایق برسیره، نقابونه لیری
اوتوطیئی رسواشوی

Ketabton.com

سوا په ښکلود کي وران هرڅه دي زما
پاتې اومه ، څوولپه ترڅه دي زما
که په دنیا زرګونه پښه دي زما ر
ی سعا له ترسه په کار نه دي زما
"حبیب الله رفیع"

PROPERTY OF ACKU 5276

# داؤدخـــان

# د

# کي جي بي

# پـــه

# لـــومـــو کـــي

کتابفروشی خاور
ټول ـــ څمن تاون
یونیورسټی آباد رود پشاور
ټیلیفون 43708

دهیواد دسیاسي تحولاتو او پېښو په اړه
نوی او لړزوونکی انکشافات

**DAUD KHAN DA KGB**
**PA LOMO KI**

Ketabton.com

د کتاب نوم : داژدخان ذکي جي بي په لومو کي

لیکونکی : ا. هارون

ویراېښ : ف. الکوزی

کمپیوټر اپرېټر : ف. الکوزی

دوهم چاپ

خپرونکی : دخیبر دچاپولو مؤسسه

دچاپ شمېر : (۵۰۰)

دچاپ نېټه : د (۱۳۷۳) کال دورې میاشت

Ketabton.com

# فهرست

عنوان | مخ


| عنوان | مخ |
|---|---|
| یادونه | ۱ |
| سریزه | ۲ |
| **لمړی څپرکی** | |
| دداؤدخان لنډه څرګندونه | ٤ |
| دروسي فعالیت پیل | ۷ |
| دعبدالرحیمزي کودتا | ۹ |
| ددو امریکائیانوتري تمیدل | ۱۳ |
| دمجددي مظاهره | ۱۵ |
| افغاني جاسوس په روسیه کي | ۱۸ |
| امریکائي وسلي | ۲۳ |
| دوه پاکستاني پناهنده ګان | ۲٦ |
| دداؤدخان ګوښه کیدل | ۲۷ |
| **دوهم څپرکی** | |
| دیموکراسي اودکمونستانوفعالیت | ۲۸ |
| دکي جي بي فعالیت په دننه کي | ۲۸ |
| بې‌سرحده آزادي | ۲۹ |
| سیاسي جرمونه | ۳۰ |
| اداري فساد | ۳۱ |
| میوندوال ته توطینه | ۳۳ |
| ددولت کمزوري | ۳۵ |
| شورا | ۳۷ |
| شاهي کورنی | ۳۸ |
| په بهرکي افغان سفارتونه | ٤۰ |
| افغان محصلان په روسیه کي | ٤۱ |
| دشوروریانوسره تماسونه | ٤۳ |
| دکمونستي فرهنګ اغیزه | ٤۵ |
| اقتصادي نښتی اوتوطیئي | ٤٦ |
| دقحطی کلونه | ٤۸ |




Ketabton.com

# فهرست

| مخ | عنوان |
|---|---|
| ۴۹ | ملي او اسلامي مقاومت |
| ۵۱ | دشفيق سياست |
| ۵۲ | دروسيې اندېښنې او اقدامات |
| | **دريم خبركى** |
| ۵۴ | دداؤدخان دوهمه واكمني (دچنګابن ۲۶) |
| ۵۶ | دنوي دولت تركيب |
| ۵۷ | جمهوريت |
| ۵۹ | په نوي حكومت كې ټاكنې |
| ٦۰ | ددولت كورنۍ سياست |
| ٦۱ | دكمونستانو پراخه فعاليت |
| ٦۲ | خطرناكه لوبې |
| ٦٤ | دارك لخوا عكسونه |
| ٦۵ | دميوندوال كودتا |
| ٦۷ | دديوان حرب پريكړه |
| ٦۸ | ددو كودتاګانو مقايسه |
| ٦۹ | دداؤدخان ويښېدل |
| ۷۱ | لويه جرګه |
| ۷۳ | دجمهوررئيس ټاكنه |
| ۷٤ | نوى حكومت |
| ۷۵ | په بهرني سياست كې تغير |
| ۷٦ | دخلق او پرچم ائتلاف |
| ۷۷ | دداؤدخان قهر |
| ۷۸ | دداؤدخان تخريبېدل |
| ۷۹ | دزمان خان دكلا سړي |
| ۸۰ | دخرم وژنه |
| ۸۲ | دداؤدخان ورمسى ورځې |
| ۸٤ | خيبر |
| ۸٦ | دخيبر ترور |
| ۸۸ | دكمونستي مشرانو توقيفي |



Ketabton.com

# فهرست

| عنوان | مخ |
|---|---|

## څلورم څپرکی


| | |
|---|---|
| دغوائي (۷) | ۸۹ |
| هوائي عمليات | ۹۱ |
| پرارك باندي عمليات | ۹۲ |
| دکودتاپه مقابل کي دمرکزدقواوعکس العمل | ۹٤ |
| دولايتونودقطعو عکس العمل | ۹۵ |
| دغوائي انقلاب | ۹۷ |
| نورمحمدتره کي | ۹۹ |
| درژيم کورنی سياست | ۱۰۱ |
| درژيم لوی کارونه | ۱۰۳ |
| افغان ستالينيزم | ۱۰۵ |
| روسي يرغل ناخاپي نه ؤ | ۱۰۸ |
| په بهرکي افغان ديپلوماتان | ۱۱۰ |
| درژيم بهرنی سياست | ۱۱۱ |
| دالله اکبر چيغه | ۱۱۲ |
| غازي ميداکبر | ۱۱٤ |
| دماديت ډارن بنده گان | ۱۱۵ |
| دډېز ترور | ۱۱٦ |
| وفاداره شاگرد اوبي وفا استاد | ۱۱۷ |
| حفيظ الله امين | ۱۱۹ |
| دامين رژيم | ۱۲۱ |


## پنځم څپرکی


| | |
|---|---|
| دمرغومي (٦) | ۱۲۳ |
| ببرك کارمل | ۱۲۵ |
| گوډاگی رژيم | ۱۲۷ |
| لوی اوبنيادي خيانتونه | ۱۲۹ |
| روسي جنايات | ۱۳۱ |
| افغان کارټيل | ۱۳٤ |




Ketabton.com

# فهرست


| عنوان | مخ |
|---|---|
| مقاومت | ۱۳۵ |
| دافغان ولس سره نږیواله تنګه | ۱۳۷ |
| دمهرۍ بدلون | ۱۴۰ |
| ډاکټرنجیب | ۱۴۱ |
| دمهاجرینو په منځ کې دکې جي بي فعالیت | ۱۴۳ |
| روسي توطئې دجهاد دجبهو شاته | ۱۴۴ |
| ورستنۍ لټونې | ۱۴۶ |
| دیرغل پلویان | ۱۴۸ |
| ناکامه یرغل | ۱۴۹ |
| هیله | ۱۵۱ |





Ketabton.com

# ﴿بسم الله الرحمن الرحيم﴾

## يادونه

دوېروخت راپېدې خواپېدې سوچ کې وم چې ديوکتاب په ترڅ کې دافغانستان په باب دشوروي روسي تو طيئي وليکم. دګران اومحترم دوست نه مننه کوم چې پېدې باب ئي داسي معلومات پلاس راکړل چې لږهيوادوال به له هغونه خبروي.

زمادوست چې زه ئي پسله دي دګرانو لوستونکودآسانتياپاره نوم (ع) بولم ، دژوندپوره تودې سړې څکلي ، دپراخي تجربې اومعلوماتو خاوندی ، دهيوادپه مختليفوځايوکې ئي کارکړی دی .

کله چې مادکتاب په ترتيبولوپيل وکړ ، بيابه هم دځينوموضوعاتو دبنې توضيح اويانوروملعوماتوپه خاطرده ليدوته ورتلم اوپېدې ترڅ کې دهغو ګرانودوستانونه هم مننه لرم چې زمادتشويق سبب وګرځېدل اوپېدې لارکې ئي لارښوونه اومرسته راسره وکړه .

دکال (۱۹۹۰) په وروستيو ورځوکې کله چې پاکستان ته رامهاجرشوم ، يادداښتونه مي دځان سره راوړل اودکتاب په ليکنه مي پېداسي حال کې چې دليکلوسابقه اوتجربه نېلرل ، مسلکي ليکوال هم نه وم ، يوازې دخپلووطنوالودخبرتياپه منظورلاس پوري کړ . دګرانولوستونکونه هيله ده چې داملائي اوقلمي اشتباهاتونه راتيرشي .

نودادی دسترګوليدلي حالات اوپه بيان کې راغلي کيسي اوعيني واقعات دحقيقت پربنا ګرانولوستونکوته وړاندي کوم .

ښخپله بشري هڅه مي کوښښ کړېدی چې په ټوله امانتداري اودبي طرفي په چوکاټ کې اصلي بڼه اوواقعيت څرنګه چې ؤ ، وليکم ، ځکه چې پېدې کتاب کې ديوشميرکسانو نومونه راغلي دي اويادموضوع په ارتباط ورته اشاره شوېده چې اوس هم ژوندي اولاس پکار د .

من الله التوفيق

" مؤلف "

Ketabton.com

# ســريـــزه

ددي كتاب متن دهغوتوطئوشرح اوتحليل دی چي دشوروي روسي اودوخت دسرحواك اونړيوال ښكيلاك په لاس زموږپه هيوادكي ترتيب اوعملي شويدي ، اودهمدي توطئولړۍپه ورروسته كي زموږدهيوادوالودنورروبدبختيو اوكړاونوسبب وگرځيدی . دتوطئوشميرممكن گڼ وي ، څه چي زمالاس ته راغلي دي ، زه ئي پدي كتاب كي وړاندي كوم اوڅه چي پټ اوپوښلي پاته دي كيدای‌شـي شميرئي لانورهم ډيروي چي دكي جي بي (دشوروي داستخباراتواوامنيت سازمان) په دفتروكي قيددي . زموږهرهيوادوال ته به داپوښتنه پيداكيږي چي روسيانوولي زموږپرهيواد تيری وكړ ؟ اوزموږنه ئي څه غوښتل ؟ دچاپواسطه اودكوم وخت نه راپيدښوا دفعاليت زمينه ورته مساعده وه ؟ .
په سطحي نظرداباور كيږي چي روسي پوځي يرغل اوروسي لاسوهنه يوازي د (۱۹۷۸) م كال دغوائي دمياشتي راپيدښواپيل شويدي ، پداسي حال كي چي اسنادشته چي روسيانولاپخوازموږپه هيوادكي دخپلواجنتانوپواسطه كاراوفعاليت كاوه ، مگر دهيواد سروالانوهغوته توجه نه درلوده .
خوچي دابدبختي راغله اوولس قرباني اوپاخون ته اړشو ، نوديرغل ځواب په ډيردرانـده قيـمت تـمام شـو .
ددي يرغل سره افغانان دسر ، ناموس اودهيواددخپلواكۍ په فكراوغم كي ډوب شول ، اوددي سوال دحل په لټه كي وو چي څنگه به وكولای‌شي چي خپل پټ خوندي اودخپلواكۍ بيرۍ دډوبيدونه وژغوري ، ځكه چي غليم ظالم اودلویځواك خاوند ؤ .
دولس پريكړه اوځواب يواځي دا ؤ چي وائي : (*شـهـادت ياخپلواكـي؟*) .
ولس ددي درانـده مسؤليت په مقابل كي اودموضـوع داهميت په خاطردهوسائي نه مخ راوگرځاوه ، دژوندپروگرامونو تغيرمونـد ورځني كـارونه بدل شول ، هدفونه وتاكل شول ، تردد اوسـرگي په لارتوب له منځه ولاړ ، يواځي دپټ اوجهادخيال ورسره پاتـه شـور .
د (۱۹۷۹) ع كـال دمرغومي په (٦) نيټه دشوروي نيغ اوبي شـرمه يـرغل ټول شـكونـه لـه منـځـه يوړل ، نورهرڅه هير شول ، تعليم ، آبادي اوعمران شاته واچول شول ، سروركول اوسروهل ورځنی كاروبلل شور .
قيام اومقاومت سراسري شو ، په ډيرلږ وخت كي دغازيـانودوياړنه ډكـي كـارنامي په هيواداونړۍكي تيت اوخپري شوي ، دهيـوادپه هرگوټ كي دجهادلي پـورتـه شـوي ، ځـيـنـاك اويـرغـلـگـرودخپلو لاسپوخوپه مـرسته دخپلو ټولوامكاناتو سـره چـي راډيو ، ټيلويزون اونورمطبوعات ئي هم په اختياركي درلودل ونشوكولای چي خپل كوره اوباطل عمل ولس ته سم اوحق څرگندكړي .
ديرغلگرو دوينوپه توئيدوپيل وشو ، دگوډاگيـانواويـرغـلگرو دوژني بهير روان شواودروسيانوپرجناياتوبل فصل پرانيستل شو . دسنگرلرونكودوياړه ډكي كارنامي دمخـفـلونوتراني جوړي شوي ، يوكمزوری هيوادپه تش لاس اوخالي گيده دپيړۍ معجزه شو اودخپـل هـمت پـه بـركـت اوخبـښتن تـعالیپه تـوكـل اومـرسـته ئي دوخت ځـواك ته ماتي وركړه ، يرغلگرئي پـه ژړمخ دخپـل ټـاټـوبي نه وشـړلوته مجبوراواعتراف ئي پـه وكـړی ( (۱) گوربه چوف داپووينه څـخيدونكي پرهاروباله ) ، اوداچاري پـه نړۍ كي

---

(۱) ميخائيل گـوربـه چـوف دشـوروي اتـحاددامپراتوری وررستیمشرژ چي دده پـه وخت كي جـنك ډيرشـدت ومـونـد اوهـيـوادئـي نورهـم راوبجاړكړ ، مگردسروعسكرودناكامیـنه وروسته دوتلوپه لټه كي شو .

Ketabton.com

دیولړنوو تحولاتوسبب شوي ، سره جګړه مخ په ختمیدوشوه . دسري پرې دبڅوله سره دتودو اوبو (دهندسمندرته نژدیوالی) خیال لړترلړه داوس لپاره لیري شوو ، اوپه روسي بنکیلاك کي رابندشوي ختیځ هیوادونوکي دخپلواکۍهیله راژوندۍشوه .
افغان ولس هم ډیروکړیدی ، ډیري خوارۍاوربړونه ئې ولیدل ، دمقاومت دپاره ئې دګاونډیانواحتیاج ومانه مګرذلت ته ئې تن ورنکړاوپه خپله خوښه ئې دخدای (ج) درضاپه لوري ودانګل .
شازلمودهیواد دېت په خاطر ، دنوروډآرامتیا اوعزت په منظوردهیواد دمورپه لمن کې په ویاړدابد دپاره خپل سرکیښودی ، د تاریخ پاڼې ئې بیارنګینې کړې ، دنړۍ دقهرمانانوپه قطارکې ئې خپل ځایپیاوساتی ، دوخت مثال اونمونه شول ، دناټوپه نظامي پکټ کي دابریالیتوبونه اوجنګي تاکتیك دتدریس مبحث شو .
داؤدخان چې دروسیانوپه دوستۍوغولیدی ، هغوددې دوستۍ نه ناوړه ګټې اخیستې ، اکثره روسي توطیئې دداؤدخان دواکدارۍپه وختوکې (صدارت اوجمهوري ریاست) عملي شویدي ، پدې اساس لړۍدداؤدخان یوه لنډه پیژندنه وړاندې کوم :

# *** لمړی څپرکی ***

## د داؤدخان لنډه پيژندګلوي

داؤدخان دسردارمحمدعزيز زوی ، دسرداريحيي خان دنمسي ، دپاچامحمدظاهرخان دتره زوی‌اواخښی ؤ ، نوموړی لاځوان ؤ چي پلارئي دبرلين (المان) دسفارت دماموريت په وخت کي ديومحصل لخوا ووژل شو .

داؤدخان ته پاچاهي کورنۍ دسياست مدرسه وه ، هيوادکي ئي دځوانۍ دوخت نه مختليفي وظيفي اجراکړي ، په ننګرهار او کندهارکي ئي دنائب الحکومه په توګه دنده درلرده ، وروسته ئي په اردوکي تيرکړيدۍ ، دمرکزي قواو قومندان ؤ ، دکورنيوچاروزارت اودملي دفاع په وزارت کي ئي هم دوزيرپه توګه مسؤليت درلود ، لمړي وزارت ته هم ورسيدئ اوپه ورروستيوکي ئي دکودتا پواسطه دجمهوري رياست مقام هم ونيوئ .

دهيڅ شي معتادنه ؤ ، کارپسي سړی ، په رسمياتوکي بي لحاظه ، په اداره کي قاطع اوپاك ؤ ، بي سره سرداران ئي لاري ته راوستل ، دعسکری اومکلفيت ددوري تابع ئي کړل .

په کال (١٩٥٨) کي په کابل کي دجاپان دسفارت په هغه ميلمستيا کي چي دهغه هيوادملي ورځي دښاغلي له کبله جوړه شويوه ، دبهرنيوهيوادونو پرديپلوماتانوسربيره افغاني لوړرتبه ملکي اوعسکري کسانوهم ګډون درلود ، په نوروميلمنو کي دپاچادتره زوی بريدمن سردارمحمدولي چي په (بابو) شهرت لري هم ؤ ، نوموړي دمحفل په ترڅ کي دډګرجنرال سيدحسن خان (لوی‌درستيز) نه دډګروال حاجي احمدعلي خان (ناصري) دترفيع دنه کولوپه هکله پوښتنه وکړه چي څو ورځي مخکي دخپلواکۍدتلين دجشن په وياړ (وړي) په لمړۍ نيټه مستحقومنصبدارانوته دترفيع کارتونه ورتسليم شوي ور ، مګرحاجي احمدعلي دهغه ډلي نه نه ؤچي دترفيع کارت دي واخلي ، سردار (بابو) دخپل توقع خلاف دښاغلي لوی درستيزنه (چي د منصبدارترفيع په تاپوري څه اړه لري ؟) په غوسه کړ .

نوئي بي اختياره لوی‌درستيز دنوروميلمنوپه مخ کي په څاپيړه پرمخ ورواهه ، چي ميلمنوداصحنه وليده . بابودسردارمحمدنعيم خان لخوادصدارت دماڼۍ په بڼ کي درياضت ترحبس لاندي ونيول شواو محمدداؤدخان هم هغه دعسکرۍ نه طردکړ .

داؤدخان په کارکي مستقل ، حتیٰ‌په خپلواجراآتو کي ئي دپاچاخيال هم نه ساتۍ ، لکه په (١٩٥٩) کالٰ کي ئي د پاچاد مخالفت سره محمدصديق (وزيري) دکندهاردوالي په توګه وټاکه اووزيري دبنځودنهضت په نامه دهغوماموريتونبنځۍ چي لا تر اوسه ئي ودي نهضت ته تياري نه درلوده ، دولايت دژاندارمي قومندان ډګروال سردارمحمداکرم پواسطه دبرچي اوپوليسوپه زورلوڅ مخ اوبي حجابه بازار اوکوڅي ته راوايستلي ، خوچي دکندهارخلګوددي عمل په مقابل کي دمولوي عبدالصمداخندزاده په مشري دخپلوملي اواسلامي شئوناتودساتني په خاطرد (١٩٥٩) کال دلينديۍ دمياشتي په ورروستيو ورځوکي په مظاهرو لاس پوري کړی ، چي دامظاهره دټانګونوپه واسطه دکندهاردکل اوردودقومندان تورنجنرال خان محمدخان لخواخاموشه کړه شوه ، څوکسه پکي مړه او (١٧٢) کسان ونيول شول ، نيول شوي کسان په نظامي محکمه کي دملي دفاع دوزارت د محاکماتو د رئيس ډګرجنرال سعدالله سابي لخوادهغه‌په مختليفومودو د (٧) نه تر (٢٠) کالواو (٢١) تنه ئي په اعدام محکوم شول ، خواعدام عملي نشواو دغه کسان دداؤدخان داستعفیٰ تروخته په جبل کي پاته شول .

Ketabton.com

پدې پله کې داسې کسان هم وو چې دمظاهرې قصدئې نه درلودی،اوفقط دخپل عادې ورځنې کارداجراليپاره بازارته ورغلي وو . کله چې بياوروسته پاچاته يوتن دخبروپه ترڅ کې دمحمدصديق خان (وزيري) ددې پول اجراآتواوبې کفايتې په هکله شکايت وکړ ، نوپاچاخپل نظرد (وزيري) دتياکنې په هکله داسې څرګندکړی : ( *آغا لاله ام قبول نميکرد* ) . داؤدخان نه يوازې داچې پرچابه بې اعتماده شو ، بيالړحاضريدی چې خپل نظرواړوي اوهمداړول پردوست اوملګري هم ترآخيره ټينګ ولاړ ؤ .

زما ملګري (ع) داسې بيان کاوه : ـ

کوم وخت په (۱۹۶۰) کال کې ديورسمي کارداجراليپاره دلړې وزارت په ماڼۍ کې دداؤدخان ليدوته ورغلم نوزماترعرض رومبی ده ديوې خصوصي عريضې کوپي دلوستلودپاره په لاس کې راکړه ، داعريضه په کابل کې د (زلال) درملتون دخاوند لخوا وحسن شرق (دعظمیصدارت دمخصوص قلم مدير) ته دخپلې ناداری‌اوبيچاره ګی له کبله وړاندې شوې وه اوفقط د (۵۰۰۰۰) افغانيودورکړې توان ئې منکاره کاوه ، مګرډاکترحسن شرق په ډيرصراحت پخپل قلم اولاسليك په منکاره درشوت غوښتنه داسې کړې وه چې ( *يك لك افغاني ميخواهم* ) ، داکاغذ مربوطه خانګې دداؤدخان لاسته رسولی ، مګرداؤدخان بياهم حسن شرق دځان نه ليرې نکړ . ډاکترحسن شرق دفراه په اناردره کې زيږيدلی‌دی‌چې دده سپين ږيري وطنوال اکثره پدې‌نظردي چې دحسن نيکه ديهودي آواره ګانوڅخه ؤ ، شرق مستعداوماهرؤ ، دخپلې فراهي فارسي لهجې‌سره ئې وکولای‌شوای‌چې دوزيري په کورکې ځانته ځای‌اوخونه پيداکړي .

امريکائيانودی‌داسې تشخيص کړيدی : " *داؤدفردي شديداً ملي ګراست که درجستجوکمك ازهرکجاکه دردسترسش باشد خواهدرفت ، اوادعاميکندکه يك غيرمتعهدوبيطرف است . ولي تصميم اودرمدرنيزه کردن افغانستان درزمان که اونخست وزير بودبه اتکا شديدبه شوروي براي‌کمك کردن منتهي شد ، دلايل رواوردن ناګهاني به سوی‌شوروي ( کمکهای نظامي امريکابه پاکستان وحمايت اندك امريکا ازافغانستان ذکر کرد)* " ، (اسنادلانه جاسوسي ۱۴ مخ ۲ ټوك) . "

روسيانودپرنسيپ په اساس دخپلوهدفونودګټلودپاره لمړی‌داشخاصومطالعه اوپيژندنه تکميله اوبياهرچاته دهغه د پولنيزموقف په ارزښت اواهميت قايليدل اودتماس لاره ئې سنجوله ، نرطبعاًدپاچاکورنی پدې هکله دلړې اهميت اومقام لرونکی وه ، او داؤدخان پخواترصدارت دروسيانوترنظرلاندې ؤ .

په کال (۱۹۵۱) دتلې پر (۱۶) داؤدخان دسپاه سالارشامحمودخان صدراعظم دکابينې نه دمخالفت په اثرووت چې څه وخت وروسته دعلاج دپاره مسکوته ولاړ ، نووريسي زرپه کابل کې دروسې لوی‌سفيرميخائيل ورسيلويچ (ديکتيار) دمسکوپه لورې وخوځيد ، ديکتياردهمدې سفارت دغړي (ابلوف) دمنځی پلار (خسر) کيدی ، چې نوموړي ابلوف دافغانستان په ورروستيوپولوتحولاتواونورو توطيئوکې لاس درلود ، ديکتيارپه مسکوکې دداؤدخان تودهرکلي‌اوخدمت وکړ اودروسې مشرانوسره ئې ده دکتنې زمينه هم برابره کړه .

څه وخت وروسته داؤدخان پخپله کورنی‌مبارزه کې بريالی اوپه کال (۱۹۵۳) دچنګابن پر (۲۱) ئې دصدارت مقام داسې ونيوی‌چې سپاه سالارشامحمودخان صدراعظم دخپلې استعفی‌خبردلړی‌ځل دپاره دکابل راډيودلارې واوريده ، اکثره خلك داکارداؤدخان ته نسبت ورکوي اووائي چې پاچادېوانجام شوې عمل سره مخامخ شو ، پدې پول داؤدخان صدراعظم شواودروسيانوسره دمنواړيکوپه لټه کې شو ، اخوا ديکتيارهم دکابل نه تبديل اوپه کراچي (پاکستان) کې ئې دلوی‌سفيروظيفه په غاړه واخيسته . دداؤدخان دصدارت په لمړی اونۍ کې ببرك کارمل هغه وکړه چې دشپې په تياره کې دداؤدخان سره ده په کورکې وګوري اووائي ربل ( *ازداؤدخان چيزي ساخته ميشود* ) ، مګرداؤدخان هغه وخت ورسره ونه کتل اوبيا کتنه ئې دصدارت دنوي مديرډاکترحسن شرق دلارې ځواب اولارښونه وکړه .

Ketabton.com

دداؤدخان ترصدارت دمخه ددو عمده سياسي ډلولکه دويښوزلميانوډډلي مشران (چي اصلاح طلبه مشروطه خواهان وو) اود کمونستي ډلي مشران لکه ډاکترمحمودي ، ميرغلام محمدغبار ، علي اصغر شعاع ، ميرمحمدصديق فرهنګ اوکارمل بنديان اود دوی‌دنداي‌خلق ، انګار اووطن ورځپاڼي مصادره شوي وي .

دچين اوروسي دسياسي مخالفت په اثرافغاني کمونستي ډلي هم پردو برخوويشلي شوي وي ، چي دچين پلويان ترډيره وخته پوري بنديان اويايه زندان کي مړه شول ، مګردروسي کمونستي پلويان دبندنه خوشي شول ، حتی‌ځينوئي لوړي دولتي کرسی‌هم پيداکړي اودويښوزلميانوډډلي مشران هم ډيروخت بنديان وو .

دروسي سره دداؤدخان اړيکي ترانداز زيات نژدي مګردلويديځوهيوادونوسره يوځه ساړه خرګنديدل ، دايران سره هم اړيکي ډيري خوږي نه وي ، مګردپاکستان سره دپښتونپرحقوقومخالفت جدي حدته ورسيد ، سرحدي وړي وړي نښتي وشوي ، دسفربري اعلان وشو ، احتياطي قواوي راوغوښتلي شوي ، مګرداؤدخان پدي برخه کي دنظامي اوسياسي لحاظه کومه ګټه اوبری ترلاسه نکړاونه پښتونوته کومه ګټه ورسيده . که څه هم دپاکستان يونټ مات شو ، پښتنواوبلوڅوته په دننه کي څه نسبي داخلي آزادي ورپه برخه شوه ، مګردپښتنومنطقه دپښتنوپه نامه نه بلکه د (صوبه سرحد) به نامه ياده شوله ، پداسي حال کي چي دپاکستان نورايالتونه دهغودقومونوپه نامه سره ياديږي .

دکرښني هغه پلوپښتانه هم ممنونه نه وولکه دپښتونمشر (خان عبدالغفارخان) په يوه مجلس کي دپاکستان ديونټ دماتيدو افتخار يواځي دبروپښتنوپه هڅواومبارزه پوري وتاړه اودائي په ډاګه وويل چي پدي برياليتوب کي دبل چا (افغانستان) څان ممنونه نه بولي .

داؤدخان پسله (۹) کاله صدارت نه استعفی‌وکړه اودخپلي استعفی‌دليل ئي دټولنيزواوسياسي تحولاتودپاره دلاري د پرانيستلودليل راوړ ، پدي ماناچي حکومت اوسلطنت به دواکمنی‌په برخه کي سره جلاشي چي دادده دهغه وخت يوعمده اقدام بلل کيږي .

Ketabton.com

# د روسي فعالیت پیل

ددوهم نړیوال جنګ په ختمیدوسره امریکااوشوروي دنویو نړیوالوځواکونوپه حیث رامنځته شول ، سیاسي اونظامي پکتونه دپنګه والي اوسوسیالیستي په نامه جوړشول ، سړې جګړې زور وموند ، دآزادقضاوت اوبیطرف سیاست په منظور دناپیلو هیوادونوپه نامه ددریمې نړۍهیوادونه راټول اولمړنۍغونډه ئي په کال (۱۹۵۵) په جاکارتا (اندونیزیا) کې وکړه .
ددې سازمان بنسټ اینبودونکي جواهرلال نهرو دهندصدراعظم ، جمال عبدالناصردمصرجمهوررئیس ، یوسف ټیټودیوګوسلاویا جمهوررئیس اواحمدسوکارنودااندونیزیاجمهوررئیس وو
داؤدخان چې دافغانستان ددې وخت صدراعظم ؤهم ددې ډلې دسیاست ملګرتیااوپلوي کول ، ددې سازمان غړودزاړه استعمار نه کرکه درلوده ، شوروي اتحاددخپلوګټوپه خاطراودپنګه والو هیوادونوسره دایدیولوژیکي اختلاف په اثرپه ډیره ریاسره ودې هیوادونه ځان نژدې کاوه اوددې سازمان دطبعي دوستۍ ادعابه ئي کوله .
دافغانستان دجغرافیائي موقعیت اهمیت پدې کې هم ؤ ، چې دبغداد دتړون ددوهمو هیوادونولکه ایران اوپاکستان سره ئي اوږدې ګډې پولې درلودې (داتړون وروسته دسینټوپه نامه یادیدی‌چې برتانیې ئې مستقیم غړیتوب درلود اودامریکا دخاصې توجه اوحمایې نه برخورداره ؤ) .
امریکادپاکستان سره د (مي‌پر ۱۹ کال ۱۹۵٤) کې (۱)متقابله نظامي دفاعي تړون لاسلیک کړی ، چې دناټو دنظامي پکټ غواهم تائیداوپه رسمیت وپیژندل شو .
دافغانستان دولت بیاهم دامریکانه لاس پرسرنه شو ، دهمدې کال داکتوبرپه میاشت کې دبهرنیوچارو وزیرسردارمحمدنعیم د (۲٤) ملیونوډالروپه بیه دامریکائي وسلې درانیولودپاره امریکاته ولاړ اودامریکې دبهرنیوچارود وزیر (دالس) نه ئي نیغ په نیغه ددې پورغوښتنه وکړه ، دوه میاشتې وروسته ددې غوښتنې ځواب منفي اوحتی‌توهین ډوله ؤ .
پدې ځواب لیک کې دوسلودرانیولوپه مقابل کې دافغانستان ددولت نه دنقدو پیسو دغوښتلوسره ، دترانزیټ لارې اوچارې هم دافغانستان پرغاړه اچول شوې وې (داهغه وخت دی‌چې دپاکستان لخوادپښتونستان دکشالې له کبله کراچې دترانزیټ لاردافغاني مالونوپرمخ دپاکستان لخواتړل شوېوه) ، اوترڅولودرونددبارئي لاداؤ چې دوسلودپیرودلوپه مقابل کې بایدد (۲) پښتونستان دداعیې نه صرفنظر وشي .
په همدې وخت کې روسانوډیر ژردمرستې لاس رااوږدکړ ، اودخوږو پروژودقراردادپه خلک کې خروسچوف دګوندمنشي اوبولګانین صدراعظم د (۱۹۵۵) ع کال ددسمبرپه میاشت کې کابل ته راغلل اود (۱۰۰) میلیونوډالرودمرستې ورانديزئي وکړ ، دپښتوکالودپاره دآزادترانزیټ تړون هم لاسلیک شو ، دافغانستان ملي حاکمیت ، متقابله احترام ، په کورنیوچاروکې لاس نه وهل اودافغانستان دناپیلتوب سیاست ئي هم تائیدکړل شو اوامریکا بیاهم په پوره ډول افغانستان دلاسه ورنکړ ، دهلمنداوارغنداب دوادي اودکندهاردهوائي ډګرپه پروژوکې ئي خپلو مرستوته دوام ورکړی .
ختیځ اولویدیځ بلاکونه دسیاسي رقابت پربنادنوروهیوادوپه جذبولوکې دیوبل سره په رقابت لویدلي وو ، داؤدخان ددې نړیوال سیاسي حالت نه په ګټه دخپلوپرمختیائي پروژو دپاره دمرستوپه خلک کې دپښتنو دحقوقوداعادې په هکله هم دروسي مشرانوتائید اوحمایه ترلاسه کړه .

---

(۱) دنظامي اسنادو مجله (نهم مخ ، ٤٥ ګڼه) .

(۲) دنظامي اسنادومجله (لسم مخ ، ٤٥ ګڼه) .

Ketabton.com

په (۱۹۵۶) ع کال کې دداؤدخان لمړنی پرمختیائي پلان دروسي ماهرانوپه مرسته پرروسي موډل ترتیب شو ، چې ددې پلان دتطبیق لپاره دالقصادي لگښت یوه لویه برخه روسیانوپرغاړه واخیستل ، دپلان دتطبیق لپاره لمړی ځل گڼ شمیر شوروي ماهران هیوادته راغلل ، چې یوه لویه برخه دکې جي بي دغړوهم پکښې وه ، اوپدې وسیله زموږپه هیوادکې دراتلونکې دپاره دتخریب اوفعالیت زمینه برابره شول .

Ketabton.com

# د عبدالرحیمزي کودتا

عبدالملك عبدالرحیمزی دلوژستیك په رشته کې د لوړ رتبو منصبدار او د ترکیې نه فارغ التحصیل شوی، دلوګر او سیدونکی او په ختیه عبدالرحیمزی ؤ .

عبدالرحیمزی د داؤدخان همکاره ؤ، داؤدخان چې دملي دفاع وزیر ؤ، نوموړي دملي دفاع په وزارت کې دلوازمو د رئیس په حیث ورسره کارکاوه. دمطالعې خاوند ؤ، ابتکاري درلود، دعسکري انضباط او دسپلین پلوي ئې کوله. کله چې داؤدخان صدراعظم شو، عبدالملك عبدالرحیمزی ئې دوګروال په رتبه کې دمالیې وزیر وټاکی.

دداؤدخان دانکشافي پلان دپاره عبدالرحیمزي خپله تیاري ونیوله، مالیه ئې لوړه او مالیات بر عایداتو ئې وضعه کړه، هرېڅو ئې دعایداتو دراټولولو او سپمولو دپاره هڅه وکړه، حتی دارګ او پاچاهي دربار خرڅ ئې تر حساب لاندې راوستی او دبهرنیو هیوادو دمرستو دراجذبولو دپاره ئې لمړی امریکې ته سفر وکړ.

ددې سفر نه دراستونیدو سره سم دلمړي ځل دپاره (سیدکریم) جګړن وسردار عبدالولي نه دوزیر عبدالملك عبدالرحیمزي تر مشرې لاندې دخپلې فرقې دقومندان جنرال (خواجه خلیل) دکودتا راپور ورکړ، جنرال (خواجه خلیل) دجنګي کلا، چې داتمې فرقې په نامه یادیدله قومندان ؤ.

سیدکریم: وسردار عبدالولي دواړو په همدې اتمه فرقه کې وظیفه درلوده (اتمه فرقه هغه وخت کې دکابل دښارپه دننه کې ارګ ته نژدې پرته وه چې اوس هلته دوزیر اکبرخان مینه جوړه شویده)

وائي چې دکودتا راپور محمدلاسه صدراعظم ته چې دملي دفاع وزیرهم ؤ، ورکړل شو، ددې سره سم دمتهم کسانو ټول حرکات او زرځنې ژوند (۱) دضبط احوالاتو دریاست څواتر څارنې لاندې ونیول شو او سیدکریم جګړن ته دنور تعقیب دپاره وظیفه ورکړل شوه. دوزیر او جنرال خواجه خلیل ټوله کړنه تلیفونې اوراتلونکې لیدنه او کتنه تر تعقیب لاندې وو، که څه هم په اصل کې دغه کتنې بې ضرره او بې مطلبه وې.

دراپورونو په حواله د (۱۹۵۷) کال دلوی اختر ورځ دکودتا دورځې په حیث ټاکل شوې وه (په هغه وخت کې داختر لمونځ پاچا او دده دکورنۍ غړو، ملکي او لښکري لوړرتبه مامورینو د کابل دعیدګاه په جامع جومات کې په ګډه اداکاوه)، دراپورله مخې دکودتا عملیات باید دلمانځه تر ادا کولو وروسته اجرا پاچا، دده ورسره دکورنۍ غړي او نور لوړرتبه مامورین ترحملې او بریدلاندې نیول شوي او نوی رژیم اعلان کړي. دا راپورونه دالزام داثبات دپاره کافي وبلل شول، دتش په نامه د (کودتا ورځ) هم رانژدې شوه، نو داحتیاط له مخې بنائي چې کودتا تر اقدام او اجرانه مخکې شنډه شي.

داسې څرګندیدل، چې وزیر عبدالملك خان دکودتا دمشر او سمبول په حیث چې په اکثرو کودتاګانو کې معمول دی او جنرال خواجه خلیل لدې کبله چې دیوې مقتدرې او تقویه شوې قطعې قومندان ؤ دنظامي عملیاتو دشخصیت په حیث مدنظر نیول شوی ؤ، دلمړۍ ورځې داعلان او دکودتا دخپرونې دپاره دحبیبیې دلیسې د (۱۱) ټولګي شاګرد (مهدي ظفر) چې په هغه وخت کې دکابل راډیو دفارسي ژبې دخبرونو نطاق ؤ، وظیفه داره ښودل شوی ؤ.

په توندۍ سره دکودتا دشنډولو دپاره عملیات پیل شول، تر لوی اختر نه دوې اونۍ دمخه دکودتا دتورنو نیول یو په بل پسې عملي شول، دکابل ولایت دتوقیف دسیاسي بندیانو په خانګه کې ترکلکې او ځانګړې څارنې لاندې زندانیان شول.

---

(۱) دا ریاست وروسته دمصئونیت ملي نوم پیداکړی، دطلقیانو او پرچمیانو په وخت کې هم د (اکسا، کام، خاد او واد) په نامه (ژ ژ) نوموونه واخیستل.

Ketabton.com

عبدالملك عبدالرحيمزي‌لمړی دده دشيرشاه ميني په كوركي ترنظارت لاندي ونيول شو ، دده ورونه عبدالرحمن عبدالرحيمزی دسپين غرشركت رئيس اودفارياب دخارندوی‌قومندان عبدا لله عبدالرحيمزی‌چي په عبدا لله ترافيك سره مشهوره ؤ دنورو تورنوسره يوځای دمخه بنديان شوي وو .

دلوی‌اختونه دري ورځي وړمبی‌دشپي د (۸) بجوپه مهموخبروكي دعبدالملك عبدالرحيمزي اوجنرال خواجه خليل دكودتاخبرديوه پردي هيوادپه مرسته دكابل راډيولخوا اعلان اوخپورشو . دهرات والي عبدا لله ملكياردعبدالرحيمزي په عوض دماليي وزيراود خواجه خليل په عوض جنرال عبدالغفار وتاكل شو .

زموږپه هيواد كي دكودتانوم نوی ؤ ، توطيئه په ډيرمهارت جوړه شوي وه ، دخلكويږي باور راتللو ، دباندي په كوڅه او بازاركي هم دا آوازه خپره وه چي شمالي گاونډي (روسيې) دكودتاپه شنډولوكي دافغان حكومت سره مرسته كړيده . تردي وروسته پاچانورتل داخترونولمونځونه دارګ په جامع جومات كي آداكاوه ، اوبيائي دعيدگاه په جامع جومات كي نورلمونځ آدا نكړ .

دوه اوني‌وروسته ترلوړوامنيتي ترتيباتولاندي دشپي په تياره كي عبدالرحيمزی‌دكابل والي ميرعبدالعزيز پواسطه دداؤدخان سره دخبروپه پلمه له كوره داسي راوايست چي قرآن مجيدئي په سينه پوري نيولی ؤ اودربارد‌پخواني وزيرسرداراحمدشاه خان په هغه كوركښي ئي چي صدارت ته نژدي اوله وړاندي ورته ټاكل شوی‌ؤ زنداني كړ ، چي ددي كوريوه كوټه اوشاته يوه پسخانه دده دپاره وه اودكوردمخ په يوه بله كوټه كي يواځي مهدي (ظفر) لدي كبله چي لاهلك ؤ ، دنورو بنديانو نه ليري اوجلاچول شوی ؤ .

دبنديانو نوم اوكيفيت چانه پيژنده . مؤظفو پيره دارانوبه فقط دكوټي په لمبرپيژندل ، اوټولوته پرعادي پيره دارانوسربيره خاص مؤظف امنيتي مامورين هم وظيفه داروو اوپيره دارانوورسره دخبروحق نه درلود .

تحقيقاتوپه شدت اوبي رحمي سره دوام ومومند ، وهل ټكول روان وو ، اوددوی‌په اړوند ددوی كورني اوځيني خپلوان هم ترسختي څارني لاندي وو .

دځينو كسانوشتمني ضبط ، سپين غرشركت چي رئيس ئي عبدالرحمن دعبدالملك عبدالرحيمزي ورور ؤ منحل اوشتمني ئي ضبط شوه ، دعبدالرحيمزايانودكورني ماشومان دښوونځيونه وايستل شول ، د (۲٤) ساعته څارني په خاطرپه شيرشاه مينه كي دعبدالملك عبدالرحيمزي دكورشاته يوامنيتي مامورته كورپه كرايه ونيول شوچي بايدكورني‌هم ترنژدي مراقبت لاندي وي .

حتی‌دحكومت فشاراومخالفت دكورني‌وسرحدته هم ورسيدی‌اوهغه كيدله چي دعبدالملك عبدالرحيمزي دشفنان بنځه چي ده ته دوزارت په وخت كي دبدخشان مستوفي (محمدجان خان) لخواجرگه شوي وه ، دفشارپواسطه تري طلاقه كړي ، وزيرونه منل ، اوهغه انجلی‌كه څه هم ځوانه وه خوپخپله خوښه ترآخيره په هغه كوركي پاته شوه .

(ع) وائي چي ددي ډلي نه يواځي عبدالرحيمزي شكنجه ونه ليدل ، مگرهغه زيږی‌اوښكنځل چي دكورنيوچارو دوزير (سيدعبدا لله خان) لخوادتحقيق په جريان كي ورته شوي ؤ ، ترآخيره وخته پياد ؤ .

خواړه اوجامي ئي ښي وي ، اكثره ئي د (شړی) دټوټي جامي اغوستي ، ږيره ئي پري ايښي اوسپينه پگړی‌به ئي تړل ، وخت ئي دكلام ا لله شريف په تلاوت تيريدی اوپه آخيرووختوكي ئي تر (۱۷ ـ ۱۸) سيپاروپوري حفظ كړي وي ، حوصله ئي ښه وه ، شكايت ئي نه كاوه ، دهروظيفه لرونكي ماموراخبروته حاضرنه ؤ ، دياددانتونوپه ليكنه بوخت ؤ ، خيلي روغتياته ئي توجه درلوده ، لمونځ ئي پروخت ؤ ، جمناستيك ئي اجراكاوه ، عصاب ئي آرام وو اوخپل رسالقد ئي ترآخيره ساتلی ؤ .

دپاچاهي اوديموكراسی په وروستيووختوكي ئي ليكني د (افغان ملت) په ورځپانه كي خپريدلي ، دجيل دكوټي پريوه ديوال ئي دځان دپاره كليزه ترسيم كړيوه چي ده پوره گټه تري اخيستله . ورځي ، مياشتي اوكلونه ئي پياد وو .

Ketabton.com

عبدالملك عبدالرحيمزي ځان دداؤدخان وفاداره ملګری باله ، بدني نه پري ويل اوخپل زندان ئي دداخلي رقابتونونه باله ، دخپل جيل په وروستيو كلو كي به ئي كله كله ګمان كاوه چي ممكن دده سفروامريكي ته ددي خطراوتخريب سبب شوی وي چي داسي بيان ئي كاوه : " *هغه وخت چي دی دلري پسنځه كلن انكشافي پلان په خاطردمرستي دترلاسه كولودپاره امريكي ته ولاړ ، په امريكا كي بنه استقبال شواودځينودولتي مشرانوسره ئي هم وكتل* " ، نوموړي داهم علاوه كول " *په كومه ماڼي كي چي ده ته ځای ورکړه شوی ؤ ، دزينت اوبنايسته والي په لحاظ دومره شيك اوعالي نه ؤ مګرامريكائيانوهلته خاص اومهم ميلمانه ميشته كول* " ، اودا به ئي هم ويل چي ددي سفررابوراوجريان ممكن په منفي تعبيركابل ته ورکړل شوی وي اوپه ضمن كي به ئي په پوډيرليري ارتباط و (كي جي بي) ته اشاره وكړه .

دی دخپل سفرد نتيجو نه راضي ؤ ، دامريكادولت دلويومرستو وعده ورسره كړيوه ، خوهغه وخت كله چي دامريكادسفرنه راستون شومدلاسه ترتعقيب اوخارني لاندي ونيول شو .

دپاچاهي دديموكراسي په وخت كي ئي چي دداؤدخان دواك لمړیدورختم شوی ؤ ده دعدالت غوښتنه كول اودستري محكمي په محكي ئي خپله محكمه غوښتله ، مګردنوموړي غوښتنوته چاغوږ ونه نيوی اوددیموكراسي په ټولو لسوكالوكي بياهم په جيل كي وساتل شو ، ولسي جرګي ئي هم پوښتنه ونكړه او داؤدخان په خپله دوهمه واكمني كي هم خوشي نكړ .

(ع) داسي دخپلوسترګوليدلي كيسه كوي : " *ددي موضوع نه خوكاله تير وو ، وهل اوټكول نورتمام شوي وو ، كله چي به مي دبريكوټ په عمومي جيل كي دكابل ښاروالي دمرستيال حاجي عبدالخالق (ددي فقري بل تورن) سره مركه كوله اويا به هغه ته دتحقيق صحني وربيادشوي ، سترګي به ئي داوښكونه ډكي شوي اوپه ډيرعجزاوناتواني به ئي وويل چي (يوسپين ږيری ميرزابه دخپل قلم سره څرنګه وتوانيږي چي كودتا وكړي)* .

داكسان په سياسي جرم تورن شوي وو چي سياسي توزتربل هراتهام بداوخطرناكه ؤ ، خپلوانواوكورنيوئي دپوښتني او ګرويږني دپاره هم مرسته ورسره نشواي كولای ، چاټي نوم نه اخيستیء ، بي اسنادو اوبي ثبوت نه ئي كړاونه وګالل .

عبدالملك عبدالرحيمزي ترآخيره دكودتا تور رداوه اوځان ئي بي ګناه باله ، همداوجه وه چي په اصطلاح توبه ليك ئي لاسليك نكړاوتوبه ليك ورته پرخپله ګناه سندبريښيدی .

تحقيق ډيروخت ونيوی ، مګراسناداوثبوت پيدانشول ، دداؤدخان تراسقوطهوروسته ددي فقري تورن كسان خوشي شول مګروزيرعبدالملك دبريكوټ د (قلعه جديد) خانګي ته يوړل شوچي يواځي ځيني سهولتونه اونسبي آزادي وربه برخه شول .

دپاچابه استشاره دتسكين اوجبران په خاطرددي فقري ځيني كسان بيرته په دولتي كارونوباندي وګمارل شول ، جنرال خواجه خليل دمرستون درئيس په حيث اودمالي دوزارت پخوانیدقلم مخصوص مديرتورن عبدالرحيم جينزائي (چي عبدالرحيمزي داردونه دځان سره راوستلی ؤ) دجنګلك دفابريكي مشرشو ، مهدي ظفردتحصيل موقع پيداكړه ، دكابل پوهنتون دحقوقودرشتي نه فارغ اوپه سره محكمه كي مقررشوچي دكمونستانوپه وخت كي په شهادت ورسيد .

عبدالله عبدالرحيمزي (ترافيك) دداؤدخان دجمهوري رياست په وخت كي دمالي دتفتيش درئيس په توګه وټاكل شوچي خپله دكاركوټه ئي دداؤدخان په ډيروعكسونكلي كړي اوپه وفاداری‌كښي ئي افراط كاوه ، عوض علي خوني ګنهونكیاو حاجي عادل شاه هم دجيل نه خوشي شول اوحاجي عادل شاه وكولای شول چي خپله ضبط شوي شتمني بيرته لاسته راولي .

مګرعبدالملك عبدالرحيمزی‌حتی‌دكمونستانوپه واكداري كي هم بندي پاته شو ، ببرك كارمل هم دعمومي عفوي سره دهغه دخوشي كيدوخيال نه درلود ، ترڅو يسله (۲۳) كاله بندنه دبشردحقوقودعفوي دنړيوال سازمان دمداخلي په اثرزندان نه آزادشو ، عبدالرحيمزي بياهم دمړك تروخته پوري دهيواد دردهيرنكړاودروسي يرغلګرو په مقابل كي ئي دهيواددخلاصون دپاره هڅي پيل كړي .

Ketabton.com

د (کې جي بي) پلان په دې طرحه شوي نو طيله کې چې که څه هم د نور د ثابتو او هيڅ اسنادحکومت ته په لاس ورغلل او سره د ډېر مهارته ډېري خلاوي په کښې موجودې وې . د کرچې رتبې بادنور ومنصبدارانو رول ته هيڅ اشاره نه وه شوې پداسې حال کې چې دجنګيالو د (۲٦) او دغوانې د (۷) کسوډ ساګانو وسره دلته چې په کې دوه منصبدارانو رول ډېر وو ، ځکه چې دقطعي په سرکې به وو

د روسي توطيله برباله شوه ، دداؤدخان سره همکاردلاسه ورت ، بې اعتمادي ورته پيدا او په ځان بوخت شو ، دامريکائيانو په مقابل کې اندېښمن شو ، پداسې حال کې چې دهغه وخت عملي شوي کودتاګانو دنړۍ په نورو ګوټونو کې اکثره دکين اړخ تمايلات درلودل اودروسيانو لخوا حمايه کېدلې چې مصر ، عراق ، سوريه اويمن ئې مثالونه دي .

چاچې پدې توطيله کې مستقيم رول درلود اولمړنی زاپورئې ورکړی ؤ ، هغه وروسته دعسکرۍ نه طرداو دبريکوټ په جيل کې ليدل کېده چې نورو زندانيانو به دهغه جرم سياسي (جاسوسي) باله .

Ketabton.com

# ددو امریکائیانو تري تمیدل

د (۱۹۵۷) کال دمني په شپوکي دوه ځوان امریکائي گرځندوي یوهلك اوبوه انجلۍ افغانستان ته دسفربه ترځ کي کله چي دکابل نه دهیوادشمالي خواوته ولاړل ، وشبرغان ته درسیدوسره سم تري تم شول .

دامریکائیانودورکیدلوآوازه هرپلوخوره شوه ، حکومت په اندیښمن شو ، دپیداکیدودپاره ملي ځلي ، پټ اوښکاره اجراآت اوتحقیق پیل شو ، قضیي حساسیت درلود ، دي واقعي دهیواددامنیت پرخرابوالي دلالت کاوه ، دواشنگټن نه زموږدبهرنیوچارو دوزارت نه سوال اوځواب وشول اودامریکاپه ورځپانوکي داموضوع خپره شوه ، دولت هم داسعاروډپلاس راوړلودپاره بهرنیوسیلانیانوته خاصه پاملرنه درلودل

دموضوع نه وخت تیرشواجراآتونتیجه ورنکړل ، والي اودولایت دخارندوی‌قومندان لیري کړل شول ، دسیلانیانودمړله اوژوندښي نښاني پیدانشوي اواندیښنه پرځپل ځای‌پاته شوه .

په هغه وخت کي څوك نه پوهیدل چي ددي واقعاتواصلي عاملان مسلکي جنایتکاران دي ، چي توطیئه ئي په ډیرمهارت اوپرخوالي جوړه کړیده چي افغانستان غوندي واړه هیوادته ئي حل اوکشف ناممکن ښکاریدئ .

افغان ماموریں به اکثره غیرمسلکي خلك اوددامي موضوعاتودکشف په مقابل کي ناتوانه وو ، هرپلوبه ئي لاس اوپښه وهله مگرنتیجه به په لاس نه ورتله ، مغزبه ئي نشوای‌اخیستلای‌چي یوبهرني‌هیواد دي زموږدهیوادپه کورنیوچاروکي په دومره بي شرمۍ لاس ووهي اوغیرحق دي داسي کسان چي اصلاًدسیاست اودولت سره سروکارنلري قرباني کړي .

موضوع پیچیلي وه ، په آسانه حقیقت پلاس نه راتلی ، وخت به ضائع شو ، ماموریں به سړي شول ، حوصله به ئي دلاسه ورکړه ، دتوطیئه گرانوځوابه دبلي توطیئي مقدمه کیښودله شوه ، ماموریوبه دځان دخلاصون په خاطردعدالت او واقعیت نه لیري تصمیم نیوی‌اوپربیگناه کسانوبه ئي دالزام نظریه ورکوله ، یابه په توطیئه کي بله توطیئه جوړه شوه .

یو کال وروسته حاجي سروربای دجوزجان دسرپیل اوسیلونکي ددي فقري په ارتباط دعظمی‌صدارت دضبط احوالاتوریاست ته ددغوامریکائیانولړی راپور ورکړو چي دتازه اجراآتواساس اوبنا شو ، راپورپه لمړي سرکي معمولي بڼه درلوده ، بشپړنه ؤ ، اسناداوشواهد پکي لږ وو ، بیاهم غنیمت پدي ؤچي اقلاً ددي راپورپه اساس اجراآت اودسره نوی‌تحقیق پیل شي ، راپورداسي وېل :

*"امریکائي سیلانیانودخپل پروگرام له مخي دکابل نه دبلخ دولایت په لوري حرکت وکړاوهلته دخوورځوتم کیدونه وروسته دمزارشریف نه دبس پواسطه دشبرغان ولورته وخوځیدل . دسړك دخرابوالي له کبله دغه امریکائیان دنورومسپرلوسره شبرغان ته دشپي په لیاره کي ورسیدل ، شبرغان ته درسیدوسره سم دبس ډریور برغ وکړچي یوخوك دي داخارجیان ترهوټل پوري بوځي . که څه هم دبس تم ځای دولتي هوټل نه لوڅواټن نه درلود ، خو بیاهم چمتوشواوددي دوتنوهوټل ته رسول لي برغاړه واخیستل ، سیلانیان دهمدي ځای‌اوهمدي وخت نه تري تم شول ، نوره ئي پته نشته ، دمړله اوژوند سوال لي بي ځوابه پاته دی ، هغه سړی‌چي دوی لي رسول ، هم ترآخیره پیلنشواوهیڅ چاونه پیژندی ."*

دحاجي سروربای‌راپورتردي ځایه پوري داصلي واقعي دجریان سره سرخوري .

دهوټل منتظم ددوتنوسیلانیانوراتلګ وهوټل ته نه تائیدوي اودده دادعایه خلاف کوم شواهدهم پلاس کي نشته ، منتظم لدي کبله چي ددولتي هوټل مؤظف ؤ ، دبهرني میلمنودپاره به خاصه توجه مکلف ؤ اودهغوددتنوبه نه راتلګ ئي ترآخیره ټینگار کاوه .

Ketabton.com

دحاجي سروربهای‌ړاپور نورداسي زیاتوي چي " دادوه تنه خارجیان دهغه ناپېژندل شوي سړي په ملګرتیا هوټل ته دلته په لاره کي په تصادفي ډول دشبرغان داوسېدونکي (دوشنبي) نومي سره چي داقمراد وروردی مخامخ شول، پسله سوال اوځواب نه دوشنبي نومي دخارجیانورسول پرغاړه واخیستل، دلاري په منځ کي ددوشنبي فکرعوض شواو ددي پرځای چي هغه دوه کسان وهوټل ته ورسوي، دواړه ئي خپل کورته بوتلل اودخوشېولپاره ئي پخپل کورکي وساتل".

دسروربای‌ړاپور دوام ورکوي چي " اقمراد اودده ورورډمنطقي بلهایان دي، څوکسه مزدوران اودبزکشي ښه ښه آسان لري اوډېره کي ئي اکثره وخت دښکاربزم تېروي، چي ښکاپه دمبوره بلدګه کېږي، ترڅولوډیرعبدالرزاق نومي ددوشنبي بچه بي ریش په ښکا کي لوړمهارت درلود اوپه منطقه کي بې ساری ؤ. په لمړي سرکي امریکائیان هم ښکاله دننداري دپاره ناست وو، څرنګه چي امریکائیان سپین پوستي اوښکلي کړه وړه ئي درلودل، نودمحفل دګډونکونکوتوجه ورجلب شوه او هغه ئي هم تشویق اومجبوره کړل چي ښکاوکړي. دمنطقي مخورلکه دقنزل اياق دخلیفه زوی، اسمعیل بابري اوڅو نوروکسانوترسهارناوخته پوري ددي بزم ننداره کول. دي وضعي څوشپي دوام وموند، میلمانه نورخسته اوستړي شول، خفګان ئي ورځ په ورځ ډیریدی، اکثره به ئي خوب اوخوراك نه وو، وزن ئي وبایلی، کمزوري شول اوربخور معلومیدل، نورنوداستعماله ولویدل.

رنځ ئي شدت وموند، درمل اودارونه وو، دحکومت دواړه ئي خوشي کولای هم نشوای ترڅوهلك چي (٢٢) کلن ؤمړشواو انجلي چي هم دهمدي عمرمعلومیدل اونوره دژوندنه وه، اقمرادمړه کړه، دواړه مړي اقمراد پرآس واچول اودخپل یونوکرپه مرسته ئي په جر کي ترخاورو لاندي کړل."

دموضوع تحقیق بیاپیل شو، دراپورقلمدادشوي تورن اودښادبزم ګډونکونکي په بیړه ونیول شول، کورونه ئي تلاشي اوکابل ته ولیږدول شول ؛ تحقیق تریخواپه کلکه پیل شو، دشکنجي اووهلونه په بشپړډول کاراخیستل کیده، تحقیق ډیروخت ونیوی مګردموضوع دکشف دپاره اسنادپه لاس رانغلل، مړي هم پیدانشول، چاچي ددې کسانوبیول هوټل ته پرغاړه اخیستي ووهم پیدانشواوچاونه پیژندئ.

دخارجیانوراتلو ددوشنبي کورته هم تائیدنشوپداسي حال کي چي داقمرادکوردشبرغان په ښارکي اودولایت نه چنداني فاصله هم نلرله اوپه وړوکي ښارکي پیژندګلوي هم آسانه وي، هیڅ شواهدپیدانشول چي دسروربای‌رپورټ دي تائید کړي، حتی‌داقمرادسره تورن نوکرانودشکنجي په مقابل کښي دځان دخلاصون په خاطرهم اقراورونکړ، اکثره دډیروشکنجوله امله ناروغه شول که څه هم درمل موجود وه مګرتاثیرئي نه کاوه اوګټه ئي نه رسوله، دتورنو نوم چانشوای‌اخیستلای، دپایوازه اجازه نه وه ترڅودخوکالو کوټه قلفي نه وروسته دبریکوټ جیل ته ولیږل شول.

دموضوع نه څوکاله تیرشول، دوی‌به کله کله په جیل کي په احتیاط مرکه کول، ددوی‌نه ځینودامریکائي سیلانیانو ورکیدل هغه ورك نومي سړي ته منسوبول چي دامریکائیانوبیول ئي هوټل ته پرغاړه اخیستي وه اوروسیانو (کي جي بي) ته به ئي تسلیم کړي یاپیرې خرخ کړي وي، یابه پخپله هغه ورك نومی‌سړی ازبك یاترکمن نژاده د (کي جي بي) غړیوؤ.

ددوی‌داخبره دمنلوده، (کي جي بي) په توطیئوکي نړیوال شهرت لري، ډیرپرمخ تللي هیوادونه هم ددوی نه بیغمه ندي، په هرصورت دادوه امریکانیان بیګناه مړه اودلفقري تورن غیرحق وکړیدل، انتقادچانشوای‌کولای، دوی‌دداؤدخان تراسعفي پوري دبریکوټ په جیل کي بندي پاته شول اوتوطینه بریالی‌شوه.

(ع) وائي چي دوشنبې نومی‌دبندنه وروسته په خدایي مرك مړشواودده ورور اقمراددغواني تر (٧) کال (١٩٧٨) پوري ژوندی ؤ.

Ketabton.com

# د مجددي مظاهره

حضرت صبغت الله مجددي دهيوادد روحاني کورنۍ غړی ، دمصر دالاظهر دپوهنتون فارغ التحصيل ، دپوهنتون استادچي بيا حبيبي ليسي ته ددينيات دښوونکي په حيث تبديل شواو داوسني جهادي تنظيمونه دنجات ملي دجبهي مشردی . دده کورنۍ په تيره دپښتونيه سيمه کي ډيرمريدان لري ، مريدان ئي داخلاص اوارادي له مخي تري دعااوفيض اخلي اومددتري غواړي .
دحضرتانو کورنۍ دروحانيت په څانگه کي متنفذه اودهيوادپه سياست کي ئي هم کله کله مهم رول درلودلی دی .
صبغت الله مجددي ښه وينـدوی اودسياست سره علاقمند ؤ ، دحکومت اورژيم په هکله ئي انتقادي نظردرلود ، اودده دوينا له مخي ده دهيوادرفاه اوامن تراسلامي نظام لاندي غوښتی ، حکومت ئي تحمل نه درلود اودده مخالفت ته متوجه ؤ ترخويوي روسي توطيئي حکومت ته بهانه برابره کړه چي زنداني ئي کړي .
د (۱۹۵۹) کال دژمي په شپوکي دامريکاجمهوررئيس ښاغلی ايزنهاور دپاکستان نه دتلو په لارکي دڅوساعتونودپاره په کابل کښي ميلمه شو ، ددي سفرنه دشوروي دخراب ذهنيت دورکيدوپه خاطرپاچااووخت وروسته گوندي مشراو صدراعظم نيکيتاخروسچوف کابل ته (چي دادعوت هم ضمني دده دهندد سفرنه دراستيدوپه لاره کي ميسرليدل کيده) دعوت اوميلمه کړچي دده دبهرنيوچارو وزيرگروميکو هم ورسره ملگری ؤ ، دوی دروشپولپاره په کابل کي پاته شول .
دروسي درقابت پرښاچي کله به دلويديځو هيوادو نه څوک پاکستان ته ورغلل ، نوروسانوبه دهندپلومخ وکړ ، دکابل هوائي ډگردودانولو اوترميم ترپروژي لاندي ؤ ، پروگرام داشوچي دميلمه الوتکه به دبگرام په نظامي اډه کي کوزه شي ، اوميلمه به دکوربه په ملگرتيا دهغه ځای نه دکابل دچهلستون ماڼۍ ته ولاړشي .
حکومت ددولتي ميلمه دتشريفاتواوامنيت په پروگرام بوخت ؤ چي په (کال ۱۹۶۰) کښي دميراکبرخيبر (چي دکمونستي فعاليت په تورتازه دبندنه خوشي شوی ؤ اودضبط احوالاتوپه رياست کي ئي ځان ته لمرپيداکړی و) نودضبط احوالاتو ورياست ته دحضرت صبغت الله مجددي په باره کي داسي راپورورکړچي " *حضرت مجددي غواړي دمبرچه کوټي په برخه کي دخپلومريدانوپه واسطه وکابل ته دتلو په لاره کي روسي ميلمه په تيرو وولي اوفرسياوځنيوی ئي وکړي* " ، دمجددي په هکله فوري اجراآت وشول ، ونيول شواودبريکوټ په جيل کي کوټه قلفه شو .

روسيانوزموږدهيواد ديني اوملي شخصيتونه دخپلو امپرياليستي گټوخنډبلل اوپه عمومي ډول ئي هغه داوه چي دولس ديني اوملي روحيه مړه ياکمزوري کړي اودروسيانوپرموډل برابره يوه مسخ شوي ټولنه رامنځته کړي ، په ښوونځيوکي ترهربل چا دپښتواوديني علومومښوونکوته په سپکه کتل کيدل ، اوددي منظورلپاره به په منظم ډول پرمخ تلل ، په آخيرو وختوکي بديني موږ گرځيدلي وه ، دين اومذهب په دولتي چوکاټ کي بواري تشريفاتي بڼه درلوده ، لمونځ اوروژه يوشخصي عمل بلل کيدی ، لوړرتبه مامورينودجومات سره کارنه درلود ، والیانوپه ولاياتوکي دروژي په مياشت کي فقط دخلکوپه خاطرپه ختم کي گډون کاوه اوپه کورکي به ئي روژه خوړله . داؤدخان هم مستنفذ ، ملي اوروحاني کسان نشوای زغملای اودهغوديکولولپاره به يوه وړه بهانه ياراپورکافي ؤ .
دجوادکلااو شوربازار حضرتان اکثره وخت ترتعقيب لاندي وو ، دمريدانوعلص په نامه به ددوی په لنگرکي دحکومت پومخبرهميشه ناست ؤ . ملابسم الله دخښتي پله امام هم روغه ورځ نه درلوده ، ترفشارلاندي ؤ ، اکثره به دپوليسوددفترته راغوښتل کيده ، يوه ورځ مي دده دشکايت په مقابل کي چي تازه دپوليسوددفترنه راوتلی ؤ ورېلي

Ketabton.com

" چې لږ څه د خولې سره احتیاط وکړي " ، د نوموړي ځواب دا و چې " هیڅ مې ندي کړي ، فقط د خپل اسلامي وجیبې په رڼا (نهی عن المنکر) او (امر بالمعروف) وایم "

داؤد خان حضرتانو ته د شک او تردید په سترګه کتل او په تیره چې به کومه بهانه په لاس ورغله

(ع) داسې بیان کوي : —

د کوم کار د اجرا په باره صدارت ته د داؤد خان د لیدلو د پاره ورغلم چې په قهر او غضب کې ؤ ، یوه پرزه کاغذ او یادداشت په لاس کې یوه خوا او بل خوا واړوي او په آخر کې ئې ماته هم د لوستلو د پاره لاس ته راوړ کړ . دا کاغذ د یو حضرت صاحب خوا (دلته ئې د نامه نه معذرت غواړم) په کابل کې د انګریزانو و سفارت ته د میاشتنۍ حقوقو د حصول اطمینان او رسید ؤ چې په مستعار نامه سره ئې لاسلیک کړی ؤ . دا کاغذ د سفارت مستخدم سفارت نه د وړلو په لارکې د مربوطه خانګې په واسطه داؤد خان ته رسولی ؤ . داؤد خان د خپل ملي احساس پربنسټ دا سوال طرحه کاوه چې " کوم بل هیواد دی چې هلته دې نوي راغلي روحانیون د دومره سیاسي او اجتماعي نفوذ نه برخوردار وي ؟ او په داسې پرله پرخته کسې دې فقط د ماموریت اوښ روحانیت د لارې دومره پانګه او مرفه ژوند پیدا کړي او د هیواد د لوړو کورنیو سره دې خپلوي او پیوند تأسیس کړي ؟ " ، او د دې کورنیو وراتلل ئې افغانستان ته په (۱۹) پېړۍ کې د انګریزانو د راتلو سره یو ځای والی تصادفي نه باله .

د ښاغلي عزیز نعیم له خولې چې د یو د خپل تره (داؤد خان) خوا په همدې منظور په لندن کې د افغاني سفارت غړی مقرر شو ، چې د افغانستان په هکله سري اسناد او یادداشتونه د انګریزانو سره د افغانانو د پټې او سري اړیکې مطالعه او یادداشت کړي ، چې د انګریزانو قانون په اساس د (۵۰) کلونو ورسته د مرور زمان په نامه د افشا او خپریدلو اجازت ورکړ دی .

په هرصورت د صبغت الله مجددي په هکله هم دا راپور بهانه شو ، په داسې حال کې چې نه حضرت صاحب او نه کوم بل چا زموږ په هیواد کې د میلمه د سپکاوي خیال درلود ، خو بیا وروسته کې دا د پیرنو فرهنګ د روسیانو خوا زموږ په هیواد کې رواج وموندلکه (په کال (۱۹۷۰) کې د امریکا د جمهور رئیس مرستیال ښاغلی سپیرو اګنیو چې کابل ته میلمه راغلی ، د پوهنتانو خوا د چهلستون د ماڼۍ په لارکې په هګیو او تیږو ویشتل شو چې په دې موضوع کې ډاکټر نجیب پښتواني جمهور رئیس د څو ملګرو سره په زندان کې بند کې یو څه وخت تیر کړ . ببرک کارمل د دې موضوع په هکله د پلوټیلفون کاوه او دا موضوع ئې خپره ، زموږ ځینه او میلمه پالنې خاصه او د بیطرفی سیاست ئې تر پښو لاندې کاوه او دا به ئې فقط د ځوانانو امریکائي ضد احساسات بلل .

(ع) داسې بیان کوي : —

میلمستیا چې غلام محمد شیرزاد د سوداګرۍ وزیر او جنرال آصف د سیلو مشر ئې میلمه پالان وو په سلطه درو ورڅخه شوه ، خروسچوف غوښتل چې د چهلستون د ماڼۍ نه د جشن ترجن پورې د هلیکوپتر په واسطه د ګرام د هوائي ډګر په لور ورځي ، د ماڼۍ به هال کې د وتلو په وخت کې وظیفه دارانو ده ته بالاپوښ ورنیوئ ، ده هم وانه غوښتی ، مګر په ډیر ټینګار او خاص اکټ ئې بالاپوښ بیرته وایستی او دا وړې بالاپوښ ئې و نه غوښتی ، په داسې حال کې چې پاچا او محمد داؤد خان نږدې ورته ولاړ وو داسې وویل : " په لنډو سرکې چې کابل ته راغلم د کابل ښار په داروویست او هوا سره وه ، زه ما هم ماره کیدل ، ځکه چې د کابل د ښار پانو د لمبو احمد شاه بابا سره مخامخ شوم ، اوس مې ګرمي کیږي " ، د دې جملې د ترجمه کیدو سره پاچا او داؤد خان ډیر وخندل . د داسې غوښتونکو حکمرانه چې یوازې ظاهري ډول ئې درلود ، روسیانو کار اخیست .

Ketabton.com

زموږ مشران د موږ په ذاتي، حلواو سیاسي حرکاتو غولېدل مګر په حیله ئي د موږ کواو سیاسي انتهو په ونه ډډه کوله.

(ع) د یو باوري ملګري له خولې وايي: په کال (۱۹۷۰) کښي چي پاچا د امریکي د جمهور رئیس نکسن په بلنه امریکي ته میلمه شو، د دې سفر په ترڅ کښي د نیویارک ښاروال هم د ده په ویاړ یوه غونډه ښار کښي میلمستیا جوړه کړه چي د جمهوري ریاست مرستیال همفري هم پکښي ګډون درلود. معمولاً د میزبو پر سر د میلمه او کوربه له خوا څه خبري او لنډي تشریفاتي بیانیي ردوبدل کیږي، د نیویارک ښاروال بیانیه ورکړه او بیا بیا پاچا خبري کړي وای، که څه هم محمد ظاهر شاه خبري لږ کولې، عکاسان او مطبوعاتي خلک ئي نه خوښېدل، خو د لته مجبوره چي بیانه ورکړي.

نوموړي خبري ئي وکړي چي د غه خبري په ملګرو ملتو کښي د افغانستان د نماینده عبدالرحمن پژواک په انګریزي ترجمه کړي، چي ترجمه تر اصلي بیانیي مفصله او ډېره وخت ئي ونیو، هوا ئي خبره وه او په کښي د نړۍ سیاست ته، د امریکا رول ته په نړۍ کښي، زموږ بیطرفي او داسي نورو موضوعاتو ته اشاره وشوه.

ښاغلي همفري چي د پژواک په خبرو کښي ناست و، په ډېر احتیاط ئي عبدالرحمن پژواک ته په غوږ کښي وویل چي "زه اوس پوه شوم چي د فارسي یوه جمله په انګریزي کښي څومره ډېري معناګاني لري".

په هر صورت خروسچوف د کابل نه د مسکو په لور ولاړ وخو خپله ارتباط کښي هم تم شو، هلته ئي په مطبوعاتي مرکه کښي د پښتونو پر حقوقو او د پښتونستان پر خپلواکي تاکید وکړ او داځ ئي یوه پر حقه داعیه وبلله، او علاوه ئي کړه چي "د روسیانو دوستي د افغانانو سره داسي روښانه ده لکه د افغانستان آسمان او داسي ټینګه ده لکه د سالنګ تونل".

میلمه روغ رمټ د کابل نه ووت، مګر مجددي بندي او پېدل هکله روسي ترطینه کاري ونه کړه، مجددي د داؤد خان تر استعفي پوري په جیل کښي پیله محکمي بندي پاته شو.

حضرت مجددي ته تراوسه د بند علت او ورته منسوب شوی تور څرګند نه دی، فقط په ګمان سره جیل بند د غو کمونستانو څوا بولي چي وروسته د ببرکیانو په نامه مشهوره شول، حضرت مجددي داسانْ اوس کړي چي میراکبر خیبر وروسته په تماس کښي ز ازد حکومت په مقابل کښي ئي وګډي مبارزي ته رابللی.

د اسلام نه د روسیانو د هغه وخت تشویش هم بیځایه نه وو، هم دا اسلامي جبهه وه چي ټول افغانان پري راټول شول، د روسي ښکېلاک مخنیوئي ئي وکړ او د دوی پر مزدورانو ئي هم اورشونګه کړه.

Ketabton.com

# افغان جاسوس په روسیه کې

فیض آباد د بدخشان د ولایت مرکز د هیواد په شمال ختیځ کې د کوکچې د سیند پر غاړه پروت کې ښار دی، خو ډو کانونه او کوچنی بازارلري . بدخشان په پخوا کې د قطغن سره د (قطغن او بدخشان) په نامه یو لوی ولایت ؤ ، او اوس د مستقل اداري واحد په توګه د هیواد په دولتي تشکیلاتو کې ځای لري .

د فیض آباد اوسیدونکي آرام ، زیارایستونکي ، په اسلامي عقیده ټینګ ، په کرهنه ، مالداري او لاسي کارونو بوخت دي . د هیواد د مرکز کابل نه لیري ، د تګ اوراتګ لارې ئې خرابې دي ، د نورو ښارونو سره ئې هم تګ اوراتګ آسانه ندی نو د ژوند داوسنۍ راکړې اوورکړې نه شاته پاته دي . پوهنه ئې پرمخ نده تللې او تر وروروستیو وختو پورې په خصوصي ډول د ملایانو لخوا په جوماتونو کې تعلیم ورکول کیده . د وګړو ژوندئې د ربړو سره مخامخ دی ، روغتیائي چارې ئې په پخواني سیستم رواني دي ، نو سیاست ته وخت او پاملرنه نلري ، ټولنیزه نظام ئې د سپین ږیرو او اربابانو لخوا تنظیمیږي ، د ملک او ارباب یکې رول ډیردی .

فیض آباد په کال (۱۹۵۹) کې حیله آرامه فضا د لاسه ورکړه ، د دې ښار خوځوري کورنۍ دیوه (۱٦) کلن شپانه چې خداینظر نومیدی او د ارباب نومي زوی ځ پواسطه ناآرام او وپکول شوي . دده پلار ارباب د منطقې خوارسړیؤ ، په ورځینۍ مزدورۍ به ئې د خپلو ځوتنو ماشومانو نفقه په سختۍ برابرولـه ، خداینظرچې ماشوم اولا وړ ؤ ، دیو ځوپیسو په مقابل کې د همدې منطقې دیوې رمې شپونې په غاړه واخیسته چې د پلار په ځنګ کې دده داعاید د کورنۍ لپاره مرسته شي .

په کال (۱۹۵۹) کې په کابل کې د شوروي د سفارت لخوا یو سرټرلی خصوصي لیك د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ته تسلیم کړل شو ، د لیك متن پدې ډول ؤ :

*" د شوروي خاوري د ترمزیه برخه کې یو افغاني تبعه د بدخشان اوسیدونکی خداینظرنومې د جاسوسۍ په فعالیت نیول شویدی ، موضوع د مربوطه ځانګو لخوا ترڅیړنې لاندې ده . د دوارو هیوادونو د ښو اړیکو په هیله دالیك ختم شوی ؤ " .*

لیك لنډ ؤ ، مګر د افغاني جاسوس لیکل ډیر داندیښنې وړ ؤ . افغان دولت لیك په غور تر کتنې لاندې ونیوی ، خو د حیرانتیا وړ خبره داوه چې په افغاني استخباراتي سازمان کې داسې ځانګه نه وه ، چې د روسیې د خبرونو او اطلاعاتو د راټولولو وظیفه دې ولري ، افغاني ځانګې بایدمجبوره او سرګې په لاره پاته شي ، چې که د شوروي د سفارت نه نور څه راوریدل شي .

د لیك متن په بیړه د کورنیو چارو د وزارت له خوا د عظمی صدارت د ضبط احوالاتو ریاست ته ولیږل شو ، د اطلاعاتو ځانګې په ډیر احتیاط د معلوماتو د لاسته راوستلو لپاره هلې ځلې پیل کړې . افغان جاسوس خداینظر لاماشوم ؤ ، ډیرونه پیژندی او پلار ئې هم غریب ؤ ، د هغه پیژندل هم آسانه نه وه ، په اخیرکې ارباب پیدا او وپیژندل شو ، چې یو بې آزاره او غریب سړیدی او خداینظر نومې زوی ئې دغه وخت راهیسې ورك دی . نور کوم معلومات د دوی په هکله چانه درلودل ، ارباب ورځ په مزدورۍ او خداینظرچې اکثره وخت د خپلې رمې سره په دښت او صحراکې ؤ ، باورنه کیدی چې داشپون به هم یوه ورځ د روسې توطیې په لومه کې بندشي .

ددې لپاره چې داشیطاني توطیه عادې بڼه غوره کړي ، تر ډیره وخته د شوروي سفارت پدې هکله کوم تماس ونه نیوی ، افغان حکومت د موضوع د وضاحت لپاره سرګې په لاره ؤ چې پسله څه وخت نه سفارت یاد بهرنیو چارو وزارت ته لیك ورکړی او پدې لیك کې ئې دافغاني جاسوس مسئول خرګند کړی ؤ . دالیك هم په ډیر دوستانه ډول لیکل شوی ؤ ، د دوستۍ او ښه ګاونډیتوب احساسات تري خرګندیدل .

روسیان چې اصلاً وچال چلند ، ظاهري خبرو او راکړې ورکړې ته اهمیت قایل دي نو پدې لیک کې ئې اشاره کړې وه چې دشوروي اتحاد دولت دخپلو منو اړیکو پر بنا نه غواړي چې یو افغان پخپلو زندانو کې وريږي ، که څه هم دغه سزا درنده او جرم ئې جاسوسي وي ، نو شوروي حاضر دی چې دا نیول شوی جاسوس افغاني مقاماتو ته وسپاري او دائې ټکي زیاته کړې وه :
" *البته افغاني مقامات به پخپله برخه کې اجراآت وکړي* " . پدې خوك نه پوهېدل چې ددې دوستانه جملو شاته څومره لویه شیطاني توطئه تراجرا لاندې ده .

دخولیکو نود رد او بدل نه وروسته دتسلیمي ورځ او ځای وټاکل شول ، خداینظر نومی دخاصو ترتیباتو په ذریعه د (کې جي بي) دمامورینو لخوا دشیرخان په بندر کې افغان امنیتي پولیسو ته تسلیم کړل شو . پدې تسلیمي کې خداینظر یوازې نه و بلکه یوه لویه او درنده دوسیه هم ورسره وه ، خداینظر تحت الحفظ کابل ته په ډیره عجله چې امنیتي خانګې ورته سترګې په لار ؤ ، راوستل شو . دخداینظر عمر کم ؤ ، څرنګه چې په آزاده هواکې لوی شوی ؤ ، په تنه تکړه او قوي ؤ او ترخپل عمر پوخ معلومیدی . په لومړي سر کې موضوع عادي بریښیدله ، څرنګه چې دوسیه وشنل شوه ، موضوع یوازې دخداینظر نومی نه وه بلکه دده سره پدې فقره کې دروسیانو دتحقیق په اساس یوه لویه دجاسوسي شبکه کشف شوې وه او نور افغانان هم په همدې فقره پورې مربوط قلمداد شوي وو . حکومت اندیښمن شو ، مسئولو خانګو ته په بېړه داجراآتو لپاره هدایات صادر او لاربوونې وشوې او ددوسیې لنډ مطلب او جریان ژر داؤدخان ته ور سول شو .

دوسیه او دموضوع تحقیق دترمزدخارنوال لخوا بشپړ ، دکار دجیکتیا او اسانتیا لپاره ټول جریان ، نتیجه او لنډیز دروسي تحقیق په خنګ کې په فارسو هم ترجمه وه . په ظاهره دخداینظر او دده ددوسي را استول دښو اړیکو او ښه ګاونډیتوب پر بنا ښودل کیده مګر ډیر ددې شاته دیوې لویې توطئې طرحه او بنیاد کیښودل شوی وو چې په عادي ډول ئې درك آسانه نه ؤ . پدې دوسیه کې د خداینظر نومي تورن سره دفیض آباد او یفتل یو شمیر روحانیون او قومي مشران دجاسوسي په تور قلمداد شوي وو ، پدې مانا چې دروسیانو پر ضدئې فعالیت کاوه او ددې جاسوسي شبکې اداره او رهبري د سي آی ای (دامریکا داستخباراتو مرکزي دفتر) په لاس سنبودل شوې وه .

شفرونه مخابره شول ، اجراآت پیل شول ، په نیولو لاس پورې شو ، تلاشي عملي شوه ، ټاکل شوي هیئتونه دفیض آباد په لورې وخوځیدل ، تورن کسان وځلك او زولانه یو دبل پسې تحت الحفظ په جلاموټرونو کې کابل ته راوستل شول ، په کابل کې پخوا لا کوټې خالي او دبندځایونه تهیه شوي وو ، موضوع په لوی لاس بې ځایه مهمه او لویه کیدله ، په یوه نامه دوه او درې کسان هم ونیول شول . لوړ امنیتي تدبیرونه ونیول شول ، دفیض آباد عسکري کنډك ته دتیارسي امرور کړل شو او دنهرین فرقې هم دوهمه درجه احضارات ونیول .

دنولت اجراآت جدي او قاطع وو مګر دتورنو او ددوی دکورنیو لپاره داپیښه یوه آسماني تیره وه ، په کور او کلي کې ویر اوریدی ، مرموزه حالت ؤ ، ددې کسانو په کورونو کې تلل او راتلل ورك شو ، داوضاع دکنټرول لپاره دتعقیب په منظور دکابل نه نور مخبران ولیږل شول . هر حرکت په څیر ترڅارنې لاندې ؤ ، چادچا تپوس نشوای کولای ، ددې کسانو نوم هم نور دچا دیادولو نه ؤ ، دبندیانو دبندځای او دجرم کیفیت اسرار بلل کیدل . دتحقیق په څنګ کې دکورونو تلاشي هم وشوه مګر دجاسوسي لپاره ضروري موادلکه مخابراتي وسایل او آلات ، راډیو ، شفرونه ، یادداشتونه ، کوډونه او نور داسې مواد په لاس ورنغلل چې دموضوع دکشف لپاره مرسته وکړې او پر جاسوسي دي دلالت ولري . دتحقیق په جریان کې هم داسې اقرار په لاس ورنغلی چې واقعیت او ثبوت دي ولري ، مګر ددې ټولو سره چانشوای کولای چې ددې کسانو بیګناهي دي تائید کړي ، جرم سیاسي ؤ ، دروسیانو لخوا تور لګول شوی ؤ ، خوك نه ؤ چې حق ووائي ، دعرض وداد لاره بنده وه . خیلوان ترې لیرې او بیزاره وو ، هر یو پر ځان ډاریدی ، دتحقیق مامورینو هم دیوبل سره خبرې نشوای کولای ، موضوع داسرار وجز او پرتم پورت ؤ ،

Ketabton.com

هر یو دا راخیستې ؤ اوتورن هم په بې‌چاره وو ، دخان ددفاع توان ور سره نه وو ، بېګناهي ئي نشوای ثابتولای ، نه ئي څه دلیل او عرض اورېدی . دمروجه وسیلو ، شکنجې او تکولونه کار اخیستل کېده خو بیاهم څه پلاس ورنغلل مګر فقط دترمزدخارنوال لیکل شوي تپولي لیکې ومنل شوې .

دتحقیق په هیئت کې دا وس اواستعدادنه وچې دترمزدخارنوال تپل شوي تورونه ښکاره اوددې څرګندو دروغو نواقص اوخلاوې راوباسي اویااقلاًاعتراض پرې وکړي ، توضیحات اوددی پلاس کې اسنادتري وغواړي که احیاناًوجود ولري . ضرور داوه چې تپاکل شوی‌هیئت دې دترمزدخارنوال سره په ګډه کارکړی وای .

روسیانو دخداینظر داقرارنه پرته بل څه نه درلودل ، که دهغه اقرارهم رشتیا وای‌نوددې اقرارددی پرنفس تاثیردرلود نه پر نوروباندې . په هیوادکې مدني اوجزائي قانون نه ؤ ، که نه نو څنګه کېدای‌شي چې یو (۱۶) کلن هلک دې دمجازاتو پر وبلل شي پداسي حال کې چې وروهلکانونه فقط تربیتي اوخاصه جزا مدنظرنیول کېږي . دمسئولو داهم نده چې ماشوم ته دې دجاسوسي غوندې مهمه اوخطرناکه وظیفه ورکړل شي .

په کابل کې دخداینظرنومي نه نورتحقیق ونشواوهغه ، دترمزدخارنوال پرتحقیق اکتفاوشوه ، دنوروتورنونه دتحقیق په سرکې مجهول سوالونه کېدل ، تردېره وخته پورې پنځیله ګناه هم نه پوهیدل . دسرپا ، دشپودبې خوبۍ ، دوهلو ، روحي فشاراز نامعلومه حالت نه کېدله به سمې خبرې هم تري غلطي شوې ، مستنطق به داسنادو اودلایلوددنه درلودلو له کبله هغه ددوی‌دخبروسهوه او اشتباه هم دالزام ددلیل په حیث تېنګوله .

دوی‌جاسوسي نه پېژندل ، اصیل افغاني خویونه درلود او داکارئي دخپله شانه لیري باله ، منسوب شوي تورته به حیران وو ، کله به ئي دوبرې غصې نه وخندل ، امریکائي پېژندل اود سي آی اي نوم او وظیفه ورته ناآشنا وو . مستنطق هم داثبات لپاره څه پلاس کې نه درلوده فقط دابه ئي ویل : "بګر" ، نورنوبه په دیرعذراو بېچاره ګۍ ورته وویل :
"څه بګویم صاحب !" .

دتحقیق منظورهم ، همدادی‌چې حقیقت ولټول شي او واقعیت راښکته شي ، مسئول اوغیرمسئول سره جلاشي ، مګردلته هدف داؤ چې اعتراف پلاس راشي چې دربورټ سره سموخوري ، نتیجه اونظریه پرقایمه کړي ، هغه به کېدل چې تورن بایدحتمي مسئول شي . خوګ چې به پوځلي ونیول شو ، خلاصون ئي بیا ناممکن ښکاریدی .

ژراقرار اخیستل دمستنطق پرلیاقت دلالت کاوه اوپه تحقیق کې هرډول فشار ، شکنجه ، روحي آزار ، توهین اوبې خوبي جایز کارؤ ، ددې لپاره چې تورن بېخوبه وساتل شي نوبه مستنطقان په نوبت راتلل ، تورن به په مرلۀ واضي وو اوشکنجې نور توان به ورسره پاته نه وو . ددې فقرې اکثره نورن سپین ږیري اوژربه رنځ ورته پیداشو ، دوامداره تبه به پرې راغله ، فشار به ئي لوړ اوکښته تلی ، ورځ په ورځ به کمزوري کېدل ، اوبو یادوه ئي دتحقیق په جریان کې مره شول .

دتحقیق په جریان کې ئي خواړه منه وه . ګرچې دوی‌به اشتهانه لرله ، دارو اودرمل هم وو ، چې اکثره به ئي اخیزه لره وه ، مؤظف ډاکټران ډاکټرجنرال محمدیوسف دعسکري مرکزي روغتون سرطبیب اوډاکټرعبدالغفورتوطاخیل دهغوی‌ددتداوي لپاره مؤظف شوي وو ، لابراتواري اونورمعاینات ناقص حتی‌ناممکنه ښکاریدل .

قاري سیداحمدچې سپین ږیری اوروحاني څوک دي ښکاریده اواکثره وخت ئي په تلاوت باندې تیراوه ، تروهلولاندې مړشو ، مګرخداینظراوبېلارئي ارباب نومي تکړه معلومیدل ، دجېل پوډی ورته غنیمت وه ، خداینظرچې تحقیق ئي ختم سرکېږ ترفشار لاندې نه ؤ ، رنګ اوبڼه ئي تازه ښکاریدل . کوراوبې تفاوته ؤ ، دخان اودنورو وعواقبونه متوجه نه ؤ اوخان ئي تقدیرته سپارلی ؤ

ارباب فقط پدې خاطرښدې ؤچې دخداینظرپلار ؤ ، دترمزدخارنوال په دوسیه کې هغه قلعداشوی‌ما ؤ ، داچې حوم پر

شخصي امردی نوروته سرایت نه کوي ، دي پرنسیپ ارزښت نه درلوده . که څه هم دتحقیق هیئتونه څوځلي بدل اونوي تازه دمه هیئتونه وټاکل شول نویې تورنو به دمره نوی فشار راغی . وهلکو ، څنځیرو ، شکنجو اودوامداره فشارونو څوکاله دوام وکړ ، بیاهم دموضوع دثبوت لپاره څه پیدانشول ، دوسیه دمحکمې ور ونه بلل شوه ، خودوی بیاهم خوشي نشول اوبې محاکمې ئي بندوام ومونده

(ع) داسي کیسه راته کوي : —

تورن که څه هم غیرحق ناست وو ، صابره اوسرنوشت ته ئي ځان تسلیم کړی وو . هرڅه ئي دخښتن تعلی له پلوه بلل ، دخلاصون لپاره ئي هم هلي ځلي نه کولې اونه ئي دهغه لپاره لاره لیدله . ډاریدل اوبه ډیراحتیاط به ئي خبرې اودزړه خواله کول . په خپله برخه کي ئي عقل کارنه کاوه اونه ئي اټکل کولای شوای چي ولي داتوطئه ورته جوړه شویده

(ع) وائي چي څوکاله وروسته یوه ورځ خدایــنظردبریکوټ په جیل کي دموضوع په اړوند راته داسي په زړه پوري کیسه وکړه : —

*" دمعمول سره سم دفیض آباددښار دښاندي دخپل ورځني بوختوالي په اساس دخپلي رمي په شپني بوخت وم ، دورځي په دښت اوشپې ته به کورته راتلم ، یوه ورځ دغرمي څوابه همدي دښت کي دسیندهغه پلونه یوه څرخي الوتکه (هیلي کوپټر) ښکاره اوزماخواته رانژدې ترڅوکوزه اوپرمځکه کښیناستله ، دوه کسان تري راووتل اوزماپلوئي اشاره وکړه ، زه ئي دځانه سره الوتکي ته پورته کړم ، بیله کومي پوښتني اوځوابه الوتکي حرکت وکړاوپیروته شوه ، توریوه نشوم ، منه کوټه اوډوډی راته راکول کیدل . مراقبت مي کیدی ، خواړه اوڅښاك مي هم منه مګردباندي مي دتلو اجازه نه درلوده ، ترفشارلاندي نه وم . ویروئم ئي اولارښوونه ئي راته کوله ترڅوداخبري رازده کړي شوي چي په دوسیه کي لیکل شویدي ، چي ددغو کسانو سره په ګډه مي دامریکالپاره جاسوسي کول اودپي کسانونومونه دوی په خوله کي راکړل ، بدي ئي هم تهدیدکړم چي داخبري بایدچي هرځای وي تائیدکړم . "*

دخدایـنظرخبري که څوك کي جي بي اودهغوتوطئي وپیژني منلای شي . خدایـنظرسپینځلي اوساده کلیوال هلك اود ترمزترخارنوال شریف اونجیب ژ ، ده ریښتیا ویل ، دېبي آزاره مګردترمزخارنوال ردبل اودسیه جوړونکي ژ . خدایـنظرپه دسیسو کي بلدیت نه درلود مګردترمزخارنوال لاسونه پدي سیاسي جنجلو کي ترڅنګلو لړلي وو .

دترمزخارنوال په دوسیه کي هیڅ اسنادموجودنه وو ، نورهم دتحقیق دلحاظه په دوسیه کي ډیري خلاوي لیدل کیدي چي په یوه سرسري کتنه سړی ورته متوجه کیدای شوای . که دموضوع حقیقت درلودای نوبه دافغاني سفارت غړي هم دتحقیق دګټون لپاره رابلل شوي وای ، ولي چي دبوي خواخدایـنظر وړوکي اوبل لوموضوع حساسه وه چي په افغانستان اوافغانانو پوري ئي اړه درلودل ، موضوع بایدتیراحراآتو اونیولودمخه په سري ډول تعقیب شوي وای ترڅوپوره اومستند اسنادپلاس راغلي وای .

دافغانستان حکومت داتور ردنکړاودخپلواتباعوحمایه ئي هم ونکړه ، اوباني بایددوسي په هکله دنورواسنادومطالبه کړي وای . روسي نظرته به په نوروموارد وکي هم ژر ارزښت ورکول کیدی ، دافغان سفارت غړي چي به ډکي جي بي دنظره نامطلوب وو ، کله په یوه اوکله په بله پلمه دبدلۍ په تور نورن اورموردبهرنیوچارودوزارت نه به ئي دهغه دزر وتلو څرښتنه وکړه .

روسیانو پدي ترڅو کي رسبدله چي دامریکائیانو سره څومره مخالف دي ، پواري امریکاده چي دهږاد ده لاسوهنه کوي اوروسي ته هم یوازي دافغانستان دپلونه خطرمتوجه دی چي همدابهانه ئي د (۱۹۷۹) کال دیرغل لپاره هم بکاروړله

Ketabton.com

روسیانو حتی زمونږ د هیواد دننه هم د روسیانو مخالفت نشو ای زغملای او داسي مخالفت یا اعتراض به ئي د افغان او شوروي دوستۍ مخالفت باله ، لکه په کال (۱۹٦٥) کي عبدالکريم حکيمي لدي کبله چي امريکائي منبځه ئي په نکاح وه ، د روسيانو د اعتراض په اساس د هرات دولايت نه ژرد هلمند دوادی وریاست ته تبديل کړل شو .

بريدجنرال قمرالدين ناصري د (٤) زغروري قواو قومندان لدي کبله چي امريکائي نظامي روزنه ئي ليدلي وه ، دغلط راپور پواسطه چي دده دغرخي پله په کورکي دامريکانظامي اتشه ليدل شويدی ، بيله پوښتني په (۱۹٦۰) کال کي احتياط ته ورکړی شو او چي څه وخت دملي دفاع داخذخبردرياست ترتعقيب لاندي هم ؤ .
پدي دول داتوطيئه هم بريالۍ شوه ، داؤدخان په روسيانو باوري ؤ او خپل هيوادوال ئي ناحقه وتړکول . ددي فقري تورن دداؤدخان له استعفی وروسته پسله څوکاله دجيل نه خوشي شول ، دجيل نه ترخوشي کيدلو وروسته په ډيره بېړه بيله دي چي دجبران او خساري په فکرکي شي ، بياهم خوشحاله اوشکرگذاره خپلو کورونه ولاړل .
تورن اکثره سپين ږيري وو ، ممکن څوک ئي تراوسه ژوندي پاته نه وي ، دهمدي ډلي تورن حاجي قيوم بای دېفتل دولسوالۍ څوا ددیموکراسۍ په وخت کي دولسي جرگي د (۱۳) دوري وکيل هم انتخاب شو .
اوخداينظرکه دروسي ورستيو وحشيانه حملواويرغل نه بچ اوژوندی وي ، عمربه ئي اوس (٤٨) کالوته رسيږي .

Ketabton.com

PROPERTY OF ACKU 5276

# امریکائي وسلې

توطیئولړۍ روانه وه ، کله وړه اوکله به ئي لمن پراخه شوه ، دکي چي بي منظم فعـالیـت اوتخریبي اعمال یوپه بل پسې طرحه کیدل ، دیوې توطیئې آخیربه دبلې پیل ؤ ، زموږاداري کمزورتیااوناتواني ورته څرګنده وه ، داؤدخـان ئي پیژنـدی اوددولت اداري کمزورتیاورته معلومه وه .

امنیت خراب اووضعه دواړورنه وه ، کله دلته اوکله به هلته دناآرامیوخبررارسـیدئ ، په پکتیاکي دسرك د تیریدوپه سردمنګلودکام جګړې ، دصبربواوتوربو ترمنځ شخړې ، په کندهارکي دمخ لوڅي په خاطرمظاهره ، د غزني دولایت دعلماواوروحانیونونارضایت ، دپاکستان سره دباجوړاو (مروری) په سیمه کي څوځلي نښتې اوددواړو هیوادو په ګډوپولوکي ناآرامي اوسوتاژونه چي ددواړوخواوولـه پولوعملي کیدل ، داؤدخـان دي تـه اړایستئ چي شوروي ته تر خپلي ضروري اندازې زیات ورنژدې شي . اوهمدا نژدیوالی دلویدیځوهیوادونودانتقاداوبې باورۍ سبب وو .

دامریکـائیـانوسره رویه دوستانه څه چي حتی بیطرفانه هم نه وه ، په کابل کي دامریکـادسفیردکورمخ ته به اکثره (پټ پولیس) دتعقیب په منظورولاړاودسفیرشورلایټ موټربه دبایسکل پواسطه تعـقیـبیدی ، دامریکي سفیردځان اودسفارت دغړوتعقیب توهین اوداوضعه ئي دډیپلوماتیك مصئونیت خلاف بلل ، څوځلـي دامریکائیانودشکایت سبب شو ، مګردا چلند دروسیانوپه مقابل کي نه وو .د روسیانو دنه تعقیبـیـدوپه هکله دداؤدخان ځواب داوچي "روسیان په استخباراتوکي مخکي دي اوددوی تعقیب زموږترتوان لوړدی" . لویدیځوهیوادونوهم بهانی لټولي ، دروسیانودفعالیت په هکله اودداؤدخان پردوستۍ اوسیاست به ئي اکثراًډیري منفي تبصرې کولي .

کوم وخت چي په کال (۱۹۵۸) کي داؤدخـانُ تورخم ته ولاړ ، نودانګریزانودوخت لومړی وزیرمکملن دپاکستان دحمایې په خاطردداؤدخان پردي کـتني کلك انتقادوکړ ، چي داډول سیاسي وضعه دروسیانوپه ګټه اودتوطیئولپاره ئي زمینه برابروله .

بیاداؤدخـــان دملادتیردتکلیف لـه خـاطره ددارو اودرمل لپاره یوروپ تـه ولاړ ، (ع) وائي دي سفـرڅـه وخت ونیوئ ، د (۱۹٦۰) کـال دپسرلي آخیري شپې اوورځي وې ، چي دکـابـل دنړیـوال هـوائي ډګـر دګمرك مامورینودتلاشي پـه ترڅ کي څوصندوقه دآریانا شرکت پواسطه راوړل شوې وسـلـه کـشـف کـړه .

موضوع پولیسوته اطلاع شوه ، دابتدائي تحقیق نه داسي څرګندیدله چي وسله دبیروت نه بارشوی اوامریکائي مارك لري مګرپه کـابـل کي داخیستونکي نـوم اوآدرس څرګـنـدنه وو . وارخطائي اواندیښنه پیداشول ، دوسـلي نوعیت اوخاصیت دملي دفـاع دمـلـکي کـسانوڅواتشریح شو ، نودوسلي قاچاق ته توجه ډیره شوه اواکثرو مامورینوبه په وسـلوپسې کـتل . دملي دفاع دوزارت داخذخبردریاست دراپورپواسطه دغزني دکوچیانونه هغه وسله چي هغودځان اومال دساتلولپاره په غرواو دښتوکي دځانه سره ګرځوله ، ونیوله اوکوچیان ئي پري بندیان کړل .

ددي موضـوع تـورهم پـه امریکـې ولـګـید ، ولې چي وسـلـه امریکـائي مـارك اودبـیـروت نه دآریـانـاهوائي شرکت پواسطه راوسیدلې وه (دآریاناهوائي شرکت نیمائي دامریکائیانوپه پـانګه جوړشوئ) ، نودفقري هیرواوقهرمان بایدامریکا وبلل شي .

نوراسنـاد اوتمسك په لاس کي نه وو ، دآریـانـاهوائي شرکت دکارکونکونه تحقیق پیل شو ، دصدارت عظمی دوهم مرستیال سردارمحمدنعیم خان ته اطلاع ورکړل شوه . لمړي مرستیال علي محمدخان پـدي کاروغرض نه درلوده ، پـه ظاهره بې آزاره اوبې غرضه ښکاریده که څه هم دلمړي مرستیال علي محمدخان په باره کي چي دیخوانه ئي مهمي اوحساسي وظـــفي درلودې اوبیا وروسته ددرباروزیرهـم شـوځیني آوازې اوریـدلي کیدلې چي دکي جي بي غړې ئي دمعشوقې په نامه پـښیل کورکي ساتلې ده ،

Ketabton.com

دی ښځې دخپل سفارت سره په کابل کې تماس درلودی ، درخصتي دتیرولولپاره ئې مسکوته هم تلل راتلل کاوه ، دانښځه د هغه وخت نه راپدې خواکوم وخت چې علي محمدخان په مسکوکي سفیرؤدیوافغان محصل سیف الرحمن نومي دښځې په نامه افغانستان ته راوستل شوه ، اوترآخیره دسیف الرحمن په نامه وه ، علي محمدخان ئې هم دنکاح نه منکرؤ ، مګربه میامستیاګانو کې ئې دحمیدالله (دده زوی) دموږکارتړې اخیستې ، دانښځه منکلې نه وه ، زړ ویښتان ، سپینچوك مخ اوپیړتن ئې درلوده .
مګرددربار وزیردهغې پوهه ستائیله ، خوخرګنده نشوه چې مرستیال دهغې دپوهې نه څه زده کول ، موضوع به ممکن پېدې ساده ګې نه وه . دقانون داتېکل شوې احتیاط رعایت بایدشوی وای ، له همدې کبله دارددومصبدارانواودکابینې غړوته دخارجي ښځې واده منع شوئ‌وو ، مګردنوموړې په برخه کې داساسي قانون داخلاف عمل شعوري زغمل کیدی ، اوزموږهیواد ؤ چې روابطوته په کښې پرصوابښوترجیح ورکول کیدله . ددې ښځې واك اواختیاردکارمل اوروسي برغل په وخت کې واضح محسوس ؤ .
دجان محمدنومي تپاکنه په بیروت کې دسفیرپه توګه چې دلیاقت او زکریر) دنه درلودلوله کبله په بهرکي دوظیفې نه محرومه ؤ ، دبهرنیوچارودوزارت دماموریتودحیرانتیاسبب وګرځیدئ ، دوزارت اداري معین پرچمي عبدالهادي مکمل دماموریتودپوښتي په ځواب کې داپاکنه دلوړومقاماتولخوا وګڼله چې اشاره ئې هم هغې ښځې ته وه .
نورنوزموړاودروسیانوترمنځ داسراروپه نامه څه پټ نه وه اوزموږپه هرڅه خبروو . دانښځه دمجاهدینودبریالیتوب د رانږدې کیدلوسره سم خپل هیوادته لاړه اوزموږپه هیوادکې ئې نوره دنده ختمه شوه ، دې ښځې دمرستیال نه کوم زوی‌یالورنه درلودل .
اوس نوبیرته دوسلې موضوع ته راګرځم چې ددوهم مرستیال دفرمان په اثرترجادې تحقیق لاندې ونیول شوه ، مظنون اواشتباهي کسان په جیل کې واچول شول ، دآریاناهوائي شرکت نماینده په بیروت کې (محمدشریف عظیمي) راوغوښتل شواوبندي شو ، کپیتان رحیم نوروزچې دهغه دې الوتکې پیلوټ ؤ ، اودکومې بلې الوتې سره تللی ؤ ، مخابره ورکړل شوه او تراصلې راتلل دمخه راوغوښتل شو ، کوپیلوټ هم بندي شو ، دالوتکې میلمه پاله (ستهوردس) صاحبه ، لدې کبله چې ښځه وه په ورځنۍ حاضرۍ مکلفه شوه ، نورکسان هم بندیان شول چې نوموړسه ئې اوس په لاس کې نشته .
دغې فقرې هم لکه دنوروموضوعاتوپه شان سیاسي بڼه پیداکړه ، ملې رامنهې اوفعالیت هرپلولیدل کیدل ، تورن کسان کوتپه قلفه اوجلاجلاساتل کیدل ، خپلوانوته اجازه نه وه ، دبندځای هم پټ ساتل کیدئ ، موضوع داسرارو برخه وه ، حتی هڅه به کیدله چې موضوع مهمه اوغټه وښودل شي ، بیروت ته هم خصوصي تفتیش اوپلټونکې ولاړل . که څه هم دموضوع مرتکب امریکا ګڼل کیدی ، مګردامریکانه پوښتنه ونه شوه .
دشرکت رئیس فیض محمد احمدزی لدې کبله چې دبوې خوادمسئول شرکت رئیس ؤ اودبلې خوانې په امریکاکې زده کړه کړې وه ، ترفشارلاندې ونیول شو . دآریاناشرکت په هکله بله بدګماني هم وه چې په شرکت کې څوکسوامریکائیانو کار کاوه ، ولې چې په سلوکې په (٤٩) امریکائي پانګه بانندې داشرکت جوړ شوی ؤ .
دآریاناشرکت څوځلې هیله وکړه ، که پیلوټانوته ئې مستقیم اوجوت مسئولیت راجع نه وي بایددبندنه خوشي اود الوتنې نه محرومه نشي ، ځکه چې دوسلې بارول اصلاًدپیلوټ وظیفه نه بلکه دادکارګو دکاریګرانو وظیفه ده .
څیرنو ډیروخت ونیوئ ، تورن په بندکې تریووخت پورې پراته وو اووروسته دبندنه خوشي اودپولیسودفترته په ورځنۍ حاضرۍ مکلفه شول .

خو تحقیق څه نتیجه ورنکړه ، اسنادموجودنشول ، خلګو یله محکمي مجازات ولیدی ، روسي ښومه تو ظنه یوواربیا بریالۍ شوه ، دآریاناد هوائي شرکت نوم بدشو ، تاوان ئي ولیدئ ، سبه پیلوټان ئي دځه وخت لپاره دلاسه ورکړل . دوهم مرستیال محمدنعیم خان په لمړي سرکي تردي اندازي کلک ؤ ، چي دشرکت دتجزیي اوترلوامرورکړي مګرداؤدخان ورسره ونه منل . روسیانونه غوښتل چي افغانان دامریکائیانوسره په ګډو پروژو کي کاروکړي اوداچاره ئي خپلو ګټوته تاوان باله . که امریکاپه رښتیاغوښتلای چي افغانستان ته وسله دننه کړي ، نوکولای ئي شوای دهغوهیوادونودلاري چي زموږسره اوږدي پولي لري ، اودامریکي سره ئي پکښ جوړکړیځ اودباوروړدوستي ئي درلوده ، داسي اقدام وکړي . خوخبره دانه وه فقط کي چي بي غوښتل چي دځومیلوتوپکواوماشینګنوپواسطه یوه غوغاپورته کړي ، افغان حکومت دامریکائیانوپه مقابل کي بي باوره کړي اوداومښي چي دا امریکائیان دي چي دافغانستان په کورنیوچاروکي لاسوهنه کوي . دموضوع دلویولواوحساسیت پیداکولودپاره ترهرچادکیږ اړخیانولمن وهل څرګند وو .

څیرني دپاره که دعاملیت نه کاراخیستل شوئ وای ، اوبیله دي چي امنیتي خانګي به سکاره اجراآتولاس پوري کړي انتظارایستل شوئ وای ، چي وسله دچاله خوا وړل کیږي ؟ اوبیائي څوك پوښتنه کوي ؟ اودپولیسي زغم اوحوصلي نه کاراخیستلئ شوئ وای ، نوښه به وای .

سپکي وسلي خودنږه په بازاروکي په آساني په لاس راځي حتی لایسنس ته هم ضرورت نه لیدل کیږي ، دډیرو لږو پیسوپه مقابل کي کمښنکارداکارکوي اویاکله کله دکاندارهم دمال دلیږلوکاریرخپله غاړه اخلي . پدي موضوع کي هم دآریاناهوائي شرکت فقط دترانسپورت وظیفه ترلسودله ، چي مال ئي راوړئ ؤ او خپله کرایه ئي اخیستله . تورن کسان چي په ورځیني حاضري باندي مکلف شوي وو ، دداؤدخان داستعفی تروخته ئي دي مکلفیت دوام ومومند . ولي له دي کبله چي دوسیه ناقص اودالزام دلایل پکي کافي نه وو ، محکمي ته وړاندي نشـوه .

Ketabton.com

# دوه پاکستاني سيوګري (پناهنده ګان)

محمود او محمدطاهر هغه دوه پاکستاني ځوانان ووچي دپاکستان دنظامي حکومت په ضدئي کابل ته پناه راوړه ، په هغه وخت کي افغانستان اوپاکستان دخپلواړيکودخرابتيا له کبله يودبل مخالفين روزل اوساتل .

دي ځوانانوځان د (۱۱) ټولګي شاګردان اودپنجاب اوسيدونکي بلل ، دقبايلودمستقل رياست (چي بيابه ورورسته کي وزارت شو) څخه اوسره مرسته کيدله ، دي دواړوچي ديوي خواځوانان اودبلي خوا کاريګرمعلوميدل دقبايلودرياست په مرسته محمود دماليي په وزارت اومحمدطاهردآريانايه هوائي شرکت کي کارپيداکړ ، دکابل په نوي ښارکي ئي کوريه کرايه ونيوی ، زرئي ملګري پيداکړل اودواړه دښه معاشرت خاوندان وو .

محمدطاهرچي دآريانايه هوائي شرکت کي ئي کارکاوه ، دهغه شرکت دماموربناغلي افضلي سره آشنا اودهغه لورئي په نکاح کړه ، ښاغلی افضلي په قوم محمدزی وو چي دجرګي اووادِه محفل ته ئي ځيني دولتي لوړرتبه مامورين هم ورغلي وو .

د (۱۹٦۱) کال په وروستيوورځوکي رپورټ ورکړه شوچي دوی دواړه امريکي ته جاسوسي کوي اوپه وار بيادامريکا جاسوسي مطرحه شوه ، بي سنده تحقيق شروع شو اودواړه بنديان شول .

دتحقيق هيئت هم نور اسنادنه درلودل ، دالزام ددلايلودپاره به ئي يواځي ددوی‌دانګريزي ژبي زده کړه ارائه کوله ، پداسي حال کي چي دپاکستان په لوړوښوونځيوکي دانګريزي زده کړه حتمي وه .

ښاغلي افضلي دمحمدطاهردښځي پلارهم په جاسوسي کي شريك (پدي دليل چي لورئي يوه پاکستاني ته ورکړيده) وګڼل شو اوبندي شو ، ددوی‌کورونه ئي تلاشي کړل ، خودجاسوسي‌لپاره کومه بيلګه پيدا نشوه ، سره دهغه هم فشاراوشکنجي ته دوام ورکړل شو .

دپاکستانيانوسره دشکنجي تاب نه وو ، پرجاسوسي ئي ژراقرار وکړ ، که څه هم داقرارپه څنګ کي نوراسناد ، ښي اونښاني چي ددوسيي دتکميل لپاره لازمي دي ترلاسه نه شول . دشکنجي نه دخلاصون په خاطر ئي يولوی شميرافغان لوړرتبه مامورين هم امريکاته په جاسوسي دځان سره قلمدادکړل . ښاغلي افضلي چي رنځوراوپه روماتيزم اخته ؤ ، په دوی اوپه ځان دجاسوسي‌لګيدلي تورونه ردول .

افضلي د (ع) ددي سوال په مقابل کي چي ولي ئي لوربوه پاکستاني ته ورکړيده ؟ په ډيره پښيماني وويل چي "ډيرلوړکسان لکه سيدشمس الدين مجروح دقبايلومستقل رئيس اوعبدالله ملکياردماليي وزيرورته جرګه شوي وو" .

خودجاسوسي‌اسناد پيدانشول ، پدي جاسوسي کي دنوروقلمدادشووکسانونه څکه صرفنظروشوچي په وروسته کي دموضوع راټولول آسان نه ښکاريدل ، دوسيه محکمي ته ونه ليږل شوه . دواړه دداؤدخان تراستعفي وروسته خوشي شول ، فرارته ئي پرقرارترجيح ورکړه اوبيا په کابل کي ونه ليدل شو .

Ketabton.com

# د داؤدخان گوښه کیدل

وخت داؤ چي داؤدخان نوردحکومت نه گوښه شي ، هیوادپه سیاسي انزواکي پریوت . دننه په شاهي کورني کي هم دده سره مخالفت ډیریدئ ، گوښه کیدل ني لادپخوانه اټکل شوي ؤ ، نوزددي وضعي ساتل اسانه کارنه و ، دپاکستان سره اړیکي خراب ، اودترانزیت دلاري دبندیدلوله کبله هیوادته ډیري اقتصادي خساري ورسیدي ، دپښتونستان ارمان او هیلواکي هم حقیقت پیدانکړ ، دپاکستان یو یونټ مات شو ، پښتونوته څه اندازه داخلي آزادي ورکړل شوه ، ترڅو د ایران دپاچا رضاشاه په مینځگړیتوب ددواړو هیوادونومناسبات اقلاًعادي حالت ته راوگرځول شول ، اوتوافق پیدي شوچي سرحدي اوذات البیني معضلي دخبرودلاري حل کړي .

پرمختیائي اوعمراني پروژې چي دداؤدخان په ابتکارپیل شوی وې ، که څه هم تولي بشپړشوي نه وې مگرپرمختلګ یکي لیدل کیدئ . په (۱۹۶۲) کال دمارچ دمیاشتي په دریمه داؤدخان دخوورځوتیریدولپاره جلال آبادته ولاړچي دراگرځیدوسره ني سمدلاسه دحوت پر (۱۹) استعفی وړاندي کړه . اوداستعفی ني واجتماعي اوسیاسي عولاتوته دلاري دپرانیستلوپه منظور وبلل ، دادلمریځ نوي کال دنوروز لمړي‌شپي اوورځي وې ، دلته نوعملاً حکومت اوسلطنت سره جلاشول ، ډاکترمحمدیوسف دپاچاهي کورنۍنه په غیرلمړني سړی ؤچي صدراعظم وټاکل شو .

کابینه جوړه اوپه نوی اساسي قانون باندي کارپیل شو ، چي په دواړوموارد وکي دداؤدخان مشوره اخیستل کیدله . اساسي قانون منځ ته راغی ، دولتي واك په دري گونودولتي قوتونوتجزیه شو ، سیاسي بندیان خوشي شول ، دمطبوعاتو اوبیان آزادي تضمین شوه ، دگوندونودآزادي وړاندوینې اوپیش بیني وشوې . دډیموکراسي‌پرپرنسیپونو دانتخاباتواصول کیښودل شول .

داؤدخان که څه هم دصدارت اوسیاسي صحنی نه په ظاهره گوښه شو ، مگردهیواداوسیاسي مسایلوسره ني خپله علاقه ساتله . دفرانسي سفارت ني ونه مانه ، داساسي قانون (۲٤) ماده ني چي ویل ني پاچاهي کورنۍ په حکومت اوپارلمان کي گهون نشي کولای ځان ته متوجه بلله ، ځکه خودنوي واکدارۍ په لټه کي شو اودپاچا په تخریب ني لاس پوري کړ .

(ع) راتبه بیان کاوه : یوځل دداؤدخان دبیکارۍ په وخت کي دده دلیدولپاره دده کورته ورغلم ، دداؤدخان عادت داؤ چي پسله روغبړه به ني تپوس کاوه "*چه گپهااست ؟ (څه خبري دي)؟*" ، هغه ځواب ورکړی چي شکایت ډیردی ، خلک وائي چي پاچا ته واقعیت نه ویل کیږي اوغولول کیږي . داؤدخان سمدلاسه وویل "*پاچامردم رابازي میدهد یامردم پاچارا ... ؟ (پاچاخلک غولوي اوکه خلك پاچا...)؟*" .

Ketabton.com

## *** دوهم شپرکی ***

# دیموکراسي اود کمونستانو فعالیت

روسي فعالیت مخ په وړاندي روان ؤ ، دادیموکراسي روسیانو اودوی کمونستانو ته دمرورزرو وخت وو . دهیواددهرتحول سره به روسیانو خپل تجربې پلانونه اعیارکړل ، په فعالیت به ئي پیل وکړ ، دلته دخوښکو به تسرخ کي ددوی دفعالیت په هکله اشاره کیږي :

## دکي جي بي فعالیت په دننه کي :

روسیان دخپل ریج اوبي فرهنگه نظام سره ظاهري چلنداوداداب رعایت ته ارزښت ورکوي ، په لیدواو کتوکي شخصي تعریف اوتوصیف نه گټي ، چي زموږهیوادهم ددي پرنسیپ نه مستثني نه ؤ .

د (۱۹۶۲) کال په پیل کي ئي ددیموکراسی نه گټه واخیسته اوپه ښکاره اومستقیم ډول دکي جي بي فعالیت نورهم ډیرشو . ددوستۍ قراردادونه ، سه گاونډیتوب اوپه داخلي چاروکي لاس نه وهل یواځي دکاغذ پرمخ ؤ ، په پرمختیائي اوعمراني پروژوکي ډیرروسي مشاوران اوتخنیکي ماهران ځای پرځای‌شول ، په هره څانگه کي دیوه نفرپرځای دوه دري کسوکار کاوه ، انجنیرانواوسلاکارانوځانته مرستیالان هم درلودل . ترجمان ، آشپزاوډریورهم روسي وو اودکي جي بي غړوبه هم په همدي نامه یکي ځای نیولی وو .

روسیانوزموږهیوادته دراتلو لپاره پیسي اوبلوي ورکولي ، افغانستان ورته جنت ښکاریدی . کچالو ، سابه ، میوه ، امریکائي زړي لیلامي جامي اوکاوباني پتلونونه هم ډیر وو ، شین آسمان اوزړه وړونکي هوا ئي خوښیدل .

په افغانستان کښي دروسیانوشمیرچاته معلوم نه وو ، پوښتنه نه وه ، پرتلو اوراتلو ئي کنټرول نه ؤ . البته هغه پروژي هم ډیري وي چي ددوی په مرسته ودانیدلي ، لکه :

دکابل هوائي ډگر ، دبگرام اوشینډنډ هوائي نظامي ډگرونه ، سالنگونه ، د ننغلو پروژه ، دبلخ هوائي ډگر ، دبلخ اوشبرغان ترمنځ سړک ، دکندهار دتورغونډۍ سړک ، دسردي بند ، ددرونټې بند اودننگرهارکانال ، دکابل اوپروان واټ ، تفحصات ، دمیکرویان پروژه ، جنگلک ، پولي تخنیک ، دکابل اوپلخمري سیلوگاني ، دکوداوبریښنا فابریکه اوداسي نوري لسوی اووړي پروژي وي ، چي روسیانو پکي کارکاوه .

امادخطرځای ئي داؤلکه هغه متل دی چي وائي " دالنډ مزل اولویه گټه " . دهیوادپه اکثروبرخوکي به چي کومه یوه نوي ودانۍ وه ، هغه به دروسیانوپه مرسته جوړه اوپابه کارېزي کیدی ، البته ددي پروژومرستي دروسیانولخوا ي هدفه نه وي ، هغه پروژي اوس په جنگ کي اکثره ویراني شوي .

ددي برسیره پولوی، شمیرروسیان دنظامي سلاکارانواواستادانوپه نامه دهیوادپه اردوکښي ځای‌نیوی ، دسفارت دغړو شمیرهم کم نه وو ، شمیراوپیژندنه ئي چاته معلومه نه وه ، دهولوتلو راتلو آزادو ، یائي سیاسي پاسپورت درلود یاد خدمتي پاسپورت لرونکي وو زموږپه هیوادکي دکي جي بي دمامورینوفعالیت محسوس اوپه ډیروځایونواوبرخوکي لیدل کیدی .

(ع) دخپلوسترگولیدلی حال داسي بیانوي —

په (۱۹۶۹) کال کي دېـ حم دو ځیاني هغه گټه چي داساسي قانون ضدخپرونې له کبله بایدقانون په حکم مصادره ، مسئول مدیرني ترتعقیب لاندي نیول شه دا وای ، په همدي هکله ددولتي مطبعې ددروازي په مخ کي مناقشي دوام درلود ،

Ketabton.com

میراکبر خیبر د ورځپاڼي مدیر د موضوع د هیئت واستدلال او دفاتر تعلیق ته چي ورځپاڼه دي (ترجاب ورو سته او ترنشر د مخه) مصادره شي ، غاړه نه ایښودله ؟ د مناقشي د دوام په جریان کي ببرک کارمل د نجیب او د خونورو پرچمي ملګرو سره هغه ځای ته وروړسیده .

پرچمیانو د خپلو نمایشي حرکاتو پواسطه داسي منودل چي د ورځپاڼي د تحقیق پر هیئت د حملي د باره هم تیار دي . ببرک کارمل غونډل چي په طمطراق ود پارلماني مصئونیت نه په ګټه د اورځپاڼه د ځان سره د توزیع لپاره واخلي . د کي جي بي د کار کونکو داسي جریانونه ترخارني لاندي او د پرچمیانو پر خلک ولاړ وو او دلته هم سمدستي روسی پیدا شوا و وضعه ئي د نژدي نه په ډیر ځیر خارله ، د غه سړی چي بایدحتماً د کي جي بي غړی او فارسي ئي هم زده وه ، ببرک ورته په ډیره عاجزئ او اخلاص عرض وکړ " *صاحب ! پرچم را نمی ماند* " . خو هغه ورته اشاره وکړه چي حدي بایدنشي .

په کابل کي د نورو بهرنیو هیوادو د دیپلوماتانو نه هم د کي جي بي فعالیت پټ نه وو ، د لته د هیواد د شمالي سیمو دیو ولایت د والي د خولي ، هغه وینایه ګوته کوم ، کوم چي د امریکا سفیر د هغه ولایت نه د لیدو په ترځ کي ئي د ولایت والي ته د میلمستیا په وخت کي په خندا او ټوکه وویل " د افغانستان دي زړې امنیتي دستګاه ته حیران یم چي څنګه په بریالیتوب سره کولای شي د سلاکارانو په نسامه د کي جي بي د راغلو مامورینو فعالیت تعقیب او کنټرول کړي ، په داسي حال کي چي د کي جي بي فعالیت نړیوال شهرت لري . "

د ګهیځ د ورځپاڼي چلونکی شهید منهاج الدین (ګهیځ) چي ورځپاڼي ئي اسلامي خپروني کولي او د کمونیزم اصلي څیره ئي بربنډوله په ډیره بې او مرموزه ډول ترور شو . اکثره پدي پوه وو چي نوموړی د روسیانو د بالاحصار د کومندو د بریدمن فیض محمد (د داؤد خان د کورنیو چارو او د کارمل د سرحداتو وزیر) پواسطه ووژل . ولي کله چي په یوه رسمي خارجي دعوت کي د بهرنیو چارو په یوه مامور د نباغلي ګهیځ د وژل د شوروي سفارت غړي (ابلوف) ته مخامخ منسوب کړل ، نو ابلوف په ډیره زړنګی داخبره په خندا او ټوکه تیره کړه او وویل کیږي چي په همدي ترورستي عملیاتو کي ابلوف هم نیغ ګډون درلود .
د آریانا هوائي شرکت د پیلوټ ښاغلي ګران ترور یدل هم لدي کبله چي مسلمان و ، او د شوروي ضد مفکوره ئي لرله او په امریکا کي ئي زده کړه کړې وه ، کي جي بي ته منسوب او یاد هغوی د خوا بلل کیږي

<u>بي سرحده ازادي :</u>

هغه محدوده سیاسي ازادي چي د پاچا خواپه رضا او د ویني د توئیدو پرته ولس ته ورکړی شوه . څو تروخت د مخه بلله او د دلیل ئي راوړی چي د خلکو سره ئي د هضم طاقت نشته ، په دیموکراسي پوهیدل او د هغې سرحد ساتل ساده نه ؤ ، اداره د انارشي پلوته روانه وه ، ځکه چي په غلطه تعبیریده ، د ادیموکراسي او ازادي د کمونستانو په ګټه وه . مظاهرو ، میتنګونو او اعتصابونو رواج وموند ، د دولت د هرقانوني تصمیم په برابر کي تري کاراخیستل کیده ، شاګردانو او پوشمیر کاریګرانو د سوونځیو او کارنه لیري پاته کیدل هم غنیمت بلل . کمونستي سوونکو او اداري مامورینو هم په مظاهرو کي پوره لاس درلوده ، د مظاهري او اعتصاب لپاره پو محدود شمیر کاڼي ؤ چي نور په ځان پسي راو کاږي ، کمونستان منظم وؤ او وزرني تصمیم نیولای شوای چي یوه لویه مظاهره جوړه کړي .
اداري یادولت به د موقتي جوړښت په خاطر هري غوښتني ته غاړه ایښودله لکه دلړم ؤ (۳) مظاهره چي دري کسه یکي ووژل شول د واکټر محمد یوسف د استعفی سبب وګرځیده او (می) لمړۍ نیټه د کاریګرانو د نړیوالي ورځې په نامه د مظاهرو لپاره ومنل شوه .

Ketabton.com

په پوهنتون کې د ظرفیت د نشتوالي نه سمه چې شمېرې ئې د ټولو بکلوریاپاسو شامل کړي، هم اکثره کلونه د مظاهرو د پاره یوه بهانه وه چې دولت به ئې په نشتوالي ... ساته.

که به پدې جریان کې د مظاهره چیانو او خارندویانو ترمنځ ... سته وشوه نو د مظاهرې لمن به نوره هم اوږده شوه. آزادو ورځپاڼو هم د حق او واقعیت نه لیرې بې مسئولیته ودې اورته لمن وهله

ورځپاڼې هم پرملي او اسلامي اهدافو بنا نه وې، ځینې د شخصي مخالفینو د ټکولو لپاره یو وسیله وه، د مطبوعاتو په مقابل کې هیڅ چا حتی دولت د خپل حق د دفاع نشوای کولای، هر یو د ازادو ورځپاڼو د اعتراض د تهدید نه ډاریدئ، چې پدې برخه کې د (پیام روز) ورځپاڼه د (نې خاطر) په چلیدو ترټولو وړاندې وه.

کمونستان په هر ځای کې لمړی د دیموکراسۍ چیغې وهي او د دیموکراسۍ د راوستلو لپاره ئې د ټول عامه ذهنیتونه رابولي، خو کله چې دیموکراسي راشي، نو ناوړه ګټه ترې اخلي، ترخو خپله واک ته ورسیږي، او بیا یې خپله د دیموکراسۍ تهړټول کړي، د پرولتاریا د دیکتاتورۍ تر نامه لاندې هر ډول ظلم او بشر ضدې اعمال روا وبولي او د بس ورچې په زور دیو واړه برمته وال اقلیت واکمني پر یو لوی اکثریت باندې وروتپي.

په افغانستان کې د کمونستانو سره د دیموکراسۍ د پاره سرحد او چوکاټ نه وو، تر دې عنوان لاندې دین او مذهب هم شخصي اعمال وبلل شول او حتی په ملي فرهنګ او اسلامي عنعنو هم ملنډې وهل کیدې، روسیانو او کمونستانو به په شعوري ډول هدف لرونکي تخریبي فعالیت کاوه.

د ډوډۍ، جامو او کور فلسفه منځته شوه، (زن، زر او زمین) د جنګ او بدبختیو عوامل بلل کیدل، په ټولنه کې دبې بندوبارۍ راوړلو لپاره فعالیت روان ؤ، ټولنیزه ارزښتونه تر پښو لاندې کیدل، و کمونستي ته د جذب په منظور د انجونو او هلکانو ترمنځ اړیکي ټینګیدلې، د اخلاقو تعبیر تغیر موند، کمونستي انجونې او هلکان به د شپې په بد اخلاقۍ اخته وو او د ورځې به ئې پر مستېز د مارکسیزم تشریح ورکوله

په پردو وېاړېدل نورعیب نه ؤ، محمد خان جلالر په لوړ و قدرتونو ورې ځان تړل د شخصي پرمختلګ سبب باله، او دا مطلب به ئې په ډاګه اکثره ځایونه وایه "*ما په خپل فکر هغه وخت کې دده مطلب دلوړو (قدرتونو) نه امریکا یا سي آی اې بلل، ولې چې نوموړي خپل لوړه زده کړه په امریکې کې بشپړه کړې وه*".

د کمونستانو ټول عملونه زغمل کیدل، ځکه چې یو لوی نړیوال ځواک ئې شاته ولاړ ؤ، دا زغمل د شوروي سره زموږ د دوستي شرط بلل کیده او په کابینه کې به هم د دوو یا درو کمونیستو وزیرانو ټاکل لازمي وو چې ښه مثال ئې جلالر ؤ.

کمونستان پیلي او تنظیم شوي وو ځکه ئې کار او فعالیت اغیزمن وو، نور ولس که څه هم کُلي اکثریت ؤ، هر یو بېر ځان ډاریده، تنظیم شوي نه وو، د هیواد پلورونکو ټولو اعمالو ته به ئې په بې تفاوتۍ کتل ترڅو چې هیواد د بدبختۍ کندې ته ورو غورځیده.

## سیاسي جرمونه:

په اساسي قانون کې تضمین شوی پاچهي رژیم په ښکاره ډول تخریبیده، مسلکي حیثیت او عنعوي بیطرفۍ ته صدمه رسول د تعقیب نه معاف او جرم نه بلل کیده، سیاست یوازې د کمونستانو په لاس کې وو، هره ورځ ئې نوې انتقادات اوږ اندیزونه رامخ ته کول، هره ورځ به په ورځپاڼو او یا مظاهرو کې د اساسي قانون په خلاف او د دولتي اورګانو په ضد فعالیت کیده، چې هر عمل ئې توهین او جرم وو، خو جاسوسي او په پردو وېاړېدل نور وېاړ ؤ.

ښه مې بیاد دې (مؤلف): کله چې په کال (۱۹۷۰) کې الکسي کاسیګین د پاچا په میلمستیا کابل ته راتلی، نو د هر کلي ویونکو په ډله کې ببرک کارمل هم ولاړ ؤ، هغه وخت چې روسي میلمه د کابل هوائي ډګر د استقبال کونکو صفونو ته نژدې

Ketabton.com

شو ، ببرك كارمل لويه چوهه وابسته اوډ "زنده باد هميران شوروي (ژوندي دې وي دشوروي مشران)" شعارني ور كړل ، دنوموري دابي حياتي تولو وليدله او پاچاهم يه تعجب مخ ور واړوی .

نه پوهيږم چي دمصئونيت ملي رياست او دهغه ځنګ ته دملي دفاع په وزارت کي داخد خبر رياست چي لوی او پراخه تشکيلات ئي لرل ، څه وظيفه درلوده ؟ ، ددي لوی اودرندي بودجي په مقابل کي ئي داجراآتو کوم کلی راپور وړاندي کاوه ؟ ، او ددولت دکوم اورګان او اساسي قانون مصئونيت ئي ټينګ کړی ؤ .

دګوندونو قانون نه ؤ پاس شوی مګر کي چي بې دجاسوسئ دشبکي پرمودل برابر دخلق ګوند جوړ کړی چي دشوروي دسفارت څوا يه کابل کي رهبري کيده . شفيع الله دخارندوی قومندان (چې اصلاً عسکري ډګرمن ؤ) په ډيرتـأثر او خواشيني دشوروي دسفير (پوزانوف) دايستلو په سبب پر حفيظ الله امين باندي پړه واچوله (داد امين او تره کي هغي شخړي ته اشاره وه چي به نتيجه کي ئي امين ميدان وګټی ، تره کی ئي پلاس کيوت او دشوروي سفير پوزانوف ئي دکابله وايستی) ، او دنوموړي د (۱۴) کالو لار ښوونه او حمايه ئي تقدير کړه .

کمونستي ګوند د (ج د خ ا) په نامه ښکاره فعاليت کاره . (د) دديموکراتيك ، (خ) دخلق او (الف) دافغانستان په مانا وو ، (ج) په ظاهره د(جبهې) مګر ددوی په خپل منځ کي د (جمهوريت) په مانا ؤ ، پداسي حال کي چي دافغانستان اساسي قانون او ولس سلطنت او پاچاهي رژيم منلی او تضمين کړی ؤ .

داطلاعاتو راټولول او پروپاګند کول دګوند دغړو لمړني دنده وه . ګوندسري تشکيل هم درلود ، چي دغيرضروري پيژندګلوی نه ئي حتی دغړو ترمنځ مخه نيوه کيدله ، دګوند دننه دسپلين چاري اود پټو ستر ګو اطاعت لمړنی شرط ؤ ، پر ګوند انتقاد او دامر نه سرغړونه ګناه وه .

داحتياط په منظور دښکاره ګوندي کميټي څنګ ته دسري کميټي وظيفه داوه ، چي دنيولو او يادحکومت دهغلي په صورت کي بايد فعاليت معطله نشي او سري کميته ګوندي فعاليت ته دوام ور کړي . دولتي لوړرتبه خلقيانو دګوند سره ا پيکي پټي ساتلي حتی مستقيم دکي جي بي څخوا اداره کيدل تر څو تر مبادا ور څي پوري ونه پيژندل شي . شپې پاڼي ، ميټنګونه ، مظاهري او اعتصابونه فقط دصفوفو وظيفه وه .

سربيره پردي چي نا پيژندل شوو خلقيانو داسرار ودلاسته راوړلو دپاره په دولت کي کار کاوه ، نور و سازمانو ته هم ورننوتلي وو چي دمخالفو ګروپو فعاليت هم تر څيړني لاندي ونيسي .

په پارلمان کي دکمونستانو په مرسته روسي قراردادونه که به څه هم زموږ په تاوان وو ، بې تکليفه منل کيدل خو دلويديځو هيوادو سره دمرستي او پانو روقراردادي پروژو په مقابل کي به هرډول ستونزي راپيدا کيدي . لکه دهلمند دواډي پروژي تخريبول او دتخريب په منظور د (لښکرګاه) نوم زوړ کي واشنګټن ايښودل شوی ؤ . حکومت ددي ټولو تخريبونو په مقابل کي چي ښکاره جرمي بڼه ول ئي درلود ، بې تفاوتي غوره کړي وه .

<u>اداري فساد :</u>

اداري فساد ، دجرمونو ډيروالي او دولس نارضايت دکمونستانو په ګټه وو ، په هره ټولنه ارتشاء کي جرمونه شته مګر دولتونه وظيفه لري چي په کلکه ئي څارنه وکړي .

اقتصادي بحران دجرمونو دډيروالي يو عامل کيدای شي ، مګر زموږ په هيواد کي خواري او بې چاره طبقي ددي ستونزو په مقابل کي استقامت او حوصله کوله ، پداسي حال کي چي دلوکس ژوند غوښتونکو د محوريت او ضرورت پرښانه بلکه دمرفه ژوند پاره په ناروا غښتو نو لاس پوري کړی وو او دي ژوندته شرسيدو پاحيني لاره رشوت ، قاچاق او اختلاس وو .

Ketabton.com

داړه او غلا هم عمومي شول . قاچاق او غلا په سازماني او تشکيلاتي ډول کيدل . حقاني ، واسطې او سفارش يکي کار کاوو ، مجرمان به د قانون د پنجې نه ساتل کيدل (حتى د مرتکبينو د ساتنې لپاره د شورا ځينو وکيلانو د پارلماني نفوذ نه هم کار اخيستى ) . په ځينو محافلو کي به رشوت ، قاچاق او حتى داړه هم توجيه کيدل او نيمه سياسي بڼه ئې نيولې وه .

په کال (۱۹۷۲) کي د شبرغان د سرپل په ولسوالۍ کي يوه داړه بالفعل ونيول شوه چي د خوسوزرو افغانيو نه ډېرې سيفونه ئې غلا کړل ، د هغه ولايت سناتور محمد ابراهيم روزګاني د شکنجې د ناحقه ادعا په نامه د غلو په حمايه کښې له دې کبله چي دده د خورزوى (خوره ئي) ئې ملګرى ؤ ، وکړلاى شواى چي د سرې محکمي نه د تحقيق پرهيئت باندي هيئت راولي .

داسي موارد ډيره چي د موظفو مامورينو د مايوسى او د مجرم د جرئت سبب به ګرځيدل ، چي د دې وضعي په ليدلو به پاك او تقوالرونکى مامورهم په رشوت لاس پورې کړي . د ځينو مامورينو د جرمينو سره لاس يوو ، مجيد کلکاني د خپلي داړه ماري دلې سره د غلام حضرت ګلبهاري په ملګرتيا اکثره د قره باغ د ولسوال او مامورينو سره تماس درلوده ، او تلې راتلې ئې ورسره کاوه . داړه ستل د مخالفينو د تهديد د پاره هم يوه وسيله ګرځيدلې وه . د پخواني رئيس محمد رسول خان د کابل د قرغي د بند داړه د حکومت او يا مسئولو مامورينو نه پټه نه وه .

د غلا شکل نور بدل شو او اکثره وخت به غله مجهز وو ، د (۱۹۷۷) کال د قوس په مياشت کي د هرات نه راتلونکي يو بس چي يو شمير حاجيان او په ايران کي افغان کاريګران ئې سواري وو او ډير سامانونه او پيسې پکښې وې ، د موټرسيکل او موټر سورو لخوا لوټ شو ، غلو د بس ډريور مړ کړ او د بس چلولو ته ئې خپل يو ملګرى کښيناوه چي داسي غلا پخوا چيري زموږ هيواد کښې نه وه شوى . د الار نيونکي هم پيدا نشول ، امنيتي څانګو جدي اجراآت ونکړل . داډول غلا تراوسه بې سارې او لوى هدف ئې د رژيم بې اعتباروال ؤ ، غلو د بس سوارليو ته په خطاب کي وويل چي " ما هم دردها داريم " .

Ketabton.com

# میوندوال ته توطئه

ښاغلی محمدهاشم میوندوال ، دغزني دمقر دملازيو اودهیواد دننه اوبهرني په مختلفومقامونوکي کارکړيدی . دی دپاچا دکورني نه په غیر ، پسله ډاکټریوسف خان نه دوهم سړی ؤچي صدارت ته ورسیده .

محمدهاشم میوندوال پوه ، هیوادپاله اودیموکرات سیاستمدارګڼل کیده ، وائي چي دګوندونو ممدمدني غوښتي اود دیموکرات مترقي په نامه ئي ګوندجوړکړی ، چي بوشمیرروښاندي ئي پکښي راټول کړل اودده په ریناغوښتل ئي چي دهیواددآبادئ لپاره تري کارواخلي .

کله چي نوموړي دصدارت مقام ته ورسیده نودجدي مشکلاتوسره مخامخ شو ، داخلي ناآرامئ اودپوهنتون داعتصابونو دوام ، د (۱۹۶۵) کال دلړم په (۳) نیټه ددرزتنود وژلوموضوع ، دمخکني صدراعظم ډاکټریوسف خان نه ورته په میراث پاتي وه . دی هم ددیموکراسۍ ترنامه لاندي دیولړخپل مسره کمونستانودتخریب سره مخامخ شو ، له بلي خوائي ولسي جرګي هم ملاتړنه کاوه .

سردارعبدالولي چي غوښتل ، حکومتونه دده دغوښتنواوسلیقي په چوکاټ کي راشي ، که نه داونشوه نوبیا خفه ؤ ، حتی داخفګان به په مخالفت اوتخریب بدل شو لکه دکابل دترافیکودمدیرمحمدمیرخان پواسطه ئي چي خوکاله دارلې دحضور ساتونکوخارندویانو دټولي قومندان اودسرداروځي اعتمادي ؤ ، دحکومت دبیثباتۍ اومیوندوال دتخریب په منظور پیرسي کانو اوکورخوشبه لیکونه وشندل ؛ محمدمیرداکاردترافیکي خارندویانو په لاس وکړ . ځیني والیان هم دصدراعظم دپاره سرخوږی وو ، لکه دهرات والي محمدصدیق اودغزني والي عبدالعزیزوصدراعظم ته اطاعت نه درلود ، اوبیا ئي ګنه به ئي ویل چي : بیله "دوچشم اعلیحضرت" بل څه نه مني ، پداسي حال کي چي دصدیق خان هغه لوړي چي په روسیه کي ئي تحصیل کړی ؤ ، دمزیسم په ضد فعالیت اخته وي .

روسیانومیوندوال سره نه لیده اودده ورځني اجراآت ، شخصي اوګوندي ژوندني دده دقلم مخصوص دمدیرشاه محمددوست (وزوسته درژیم دبهرنیوچاروو‌زیر) پواسطه ترڅارني لاندي نیولی ؤ لکه دداؤدخان خسلپ نه چي ئي ډاکټرحسن شرق کبینولی ؤ . ترټولومهمه اوګټیونکي توطیه دده په ضدهغه وه ، چي یوی امریکائي اوغیرمهمي ورځپاڼي (حتمابه هغه ورځپاڼه چیپي اویابه یئوریکي کارکړی ؤ) دعبداللطیف هوتکي مخصل سره دمرکي په ترح کي دمیوندوال پرملګورد سي آی اي دجاسوسۍ تورولګاوه اوروسیانودچینوګوډاګیانوپواسطه دابیرږپاګندډلاسه په افغانستان کي تیت کړ .

میوندوال دهرڅیرومتونواوتخریب سره مخامخ ؤ نوځوځي په خبګان سره ئي استعفی وړاندي کړه ، مګربیاهم دهیواددخدمت نه بیغمه نه کښیناستی . په (۱۹۶۹) کال کي ئي دولسي جرګي وکالت ته دغزني دمقریه ولسوالۍ کي ځان کاندیدکړی ، خودحاجي اکرم په مقابل کي ئي ماتي وخوړله ، چي پدې باره کي ئي دنوراحمداعتمادي پرحکومت دلاسوهني تورولګاوه اوداعتراض عریضه ئي ستري محکمي ته وړاندي کړه . خوعرض ئي دډاکټرولسیه حقوقي دستري محکمي داداري امرڅرچي دانتخاباتودکميټي مسشرهم ؤ ، وانه وزړلی شو

Ketabton.com

کمونستان په خاص پول سهونسدوال ته متوجه وو . دده دخارجي اوتخريب په منظورپه دستوري دول خليل احمد ابوي او ډاکترمحمود حبيبي اوداسي نورددې گوند ته ورننوتل . په زړه پوري داده چې محمددين ژواك چې دكارمل دوخت دعلوم اكاډمۍ ديوي څانگې رئيس ، اوډيروان مهني په پوكې کې دميراكبرسره پرځاي اوسيدى ، دميونډوال دديموكرات مترقي گوندغړيتوب ئې هم درلود

Ketabton.com

# د دولت کمزوري

ایادولت کمزوریږ ؟ اوکه ئې خپل عالي زورار واکمنې نشـوای تمثیلـولای ؟ .

دهرسیاسي ، عمراني اوپرمختیائي پروژې لپاره لمړنۍشرط امنیت دی چي ددولت لمړنۍدنده بلل کیږي . دډیموکراسۍ نه دناوړي گټې له کبله دولت ناتوانه ښکاریدئ ، دولتي لوړه واکـمني ئې نشـوای تطبیقـولای .

دلته یوځل بیا داسوال مطرح کیږي چي دولت کمـزوریږ ؟ که ددولت کـارکونکودقانوني وسلې نه کارنه اخیستئ ؟ . دولت چي خپـل واك اوزوربایـد دحکومت پـه وسیله تطبیق کړي ، مگردحـکـومت پـه سرکي یوشمیردمفکوري پـه لحاظ غیرمتجانسو تحصیل کړو بیروکراتانوځای‌درلوده ، وزیران هم دسیاسي مفکوري اولوړي پـه اساس نه ، بلکه یواځې دزده کړي اوتجربي پربناوزارت تـه رسیدل ، ملي اوگوندي پښتوانه ئې نه لرله ، دولسي جرگې پـه مقابل کې کمزوري اوبې دفاع وو ، دشورانه پاس شوی‌قانون اولایحې ئې نشوکولای چي تطبیق ئې کړي که څه هم وزیران دشوراتردیرو وکیلانوپـه علمي سویه لوړ وو .

استهضاً اورای‌گیریٔ دوکـیلانوخوابروزیرانوباندي لویه دفشاروسیله وه اودوزیرانوډیروخت دوکیلانوسره په تشریفاتوضایع کیدئ . وزیران چي اکثره پـه عمرځوان اواقتصادبه ئې ښـه نه وو ، دوکیل دسلب اعتماددتهدیدنه پـه ډار کې وو ، دوزارت نه دلیري کیـدوپـه صورت کې ئې خپـل پخواني ماموریت اوریاست ته دوزارت دپرسـتیژپـه خاطرمراجعه نشوای کولای ، سفارت اوسناتوري چي دپاچـاپـه صلاحیت کې ؤ ، هریوه ته ممکن نه ؤ .

نوئي نشوای‌کولای چي پـه اداره کې غوڅ دریځ غـوره کړي ، پـه هغه ؤجي رشوت ئې نه خوړی ، کارنه کول اومحافظه کاري عیب نه وؤ . داسي حالت واکمـن ؤ چي سیاست حتی‌دحکومت اودولت کارنـه ؤ ، سیاسي مصئونیت نه لیدل کیدئ ، وزیران ئدي کبله چي یوه گوندته منصوب اویادیوی مفکوری لرونکي نه وو ، نوپـه خپـل منځ کې به ئې هم همکاري نه درلوده .

داجرائیه زواك (قوی) پـه حیث داساسي تشکیلاتوسـره سـم دامنیـت مسئول پـه عـام ډول حکومت اوپـه خاص ډول صدراعظم ، د کورنیوچاروزارت ، دملـي دفـاع وزارت اودملي مصئـونیت ریاست وو ، مگرپـه یوه مرجع کې قاطعیت نه لیدل کیدئ که څه هم پاچـا حکومت اووزیران پـه صلاحیت اومسئولیت کې دځان سره شریك کړي وو .

دوزیردصلاحیت لپاره یواځې وزارت کافي نه ؤ بلکه دده دقوت دپاره یوه بله شخصي رابطه دډوی اوپښتواني پـه حیث هم په کاروه . پـه هرصورت پـه عمومي ډول امنیتي مسایلوته.سرسري کـتل کیدل .

دکورنیوچارو وزیرمحمدعمروردك خپـل بـیکاره اوزیاتیکړی وخت د (پغمان دده سړکه) پـه سگوانۍ اویادجلال آباد دبهسوددپله پـه گوډي پرانې کې تیراوه .

ددي سیاسـي فضـانـه تـرهرچاپخپله وزیرانواودحکومت غړودیرشـکایت درلود ، ښاغلی ډاکټراکرم چي دکابل دولایت نه دپوهنې وزیروټاکل شو ، پـه ډاگه به ئې ویل "مراهـم بازي دادنـد (زه ئې هم وغولولم)" ، رښـتیاخومیاشتې نه وې تیرې چي حـکومت پرنلټ اونوموړی بیکاره پاتي شو . دصدارت مرستیال ښاغلی عبدالله یفتلي هم پخپـل سـت کې خوشحاله نه لیدل کیدئ ، کوم وخت چي ئې کورته دلیلو لپاره ورغلم اومازیگرو ، تروې ئې زانه راوړې اوددي وضعي نه ترهرچا لړمون شیني‌ؤ . اندیښني سراسري وې ، مگرچاره ئې چانشوای کولای اووضعه دکمرستانوپـه گټه وه .

Ketabton.com

تربل هر ځای لمړی دکابل امنیت تامینول ضروري وُ ، مګردکابل دامنیت په رأس کي داسي کسان تاکل شوي‌وو لکه ډاکترنعمت الله پژواک ، غلام علي آیین ، سیدرسول فکور اومحمودحبیبي چي رژیم ته وفاداره نه وو ، یاني کمونستي تمایلات درلودل چي بیا وروسته خرګنده شول ، چي ځینو‌ئي ترآخیره دروسي برغل تائید اوملګرتیا وکړه . ددولت ځینو مسئولانو پدي بهانه لاس ترزني ناست ور چي دغرب وهلي ، امریکائي ډوله اویادارتجاع دملګري خطاب ورته ونه شي .

Ketabton.com

# شورا

وکیلان دیغو ، بیتهواوآزادو رایوډلاري دولس لخوا انتخاب شوي وو چي یولوی شمیرئي دضروري ورځنۍ سیاست نه بې خبره اوعلمي سویه ئي دحکومت ترغړو ټیټه وه ، اکثره دقبیلو مشران اودقومونو مخور وو ، ځینو پخوانیوباقي شوو خزانه دارانو ، تحویلدارانو اودتیلو دټانك مامورینوهم پکي ځای درلود ، چي دپارلماني مصئونیت په برکت دقانون دپنجي نه ځان وساتي دبې سرحده زور ، لوټي واکمنۍ اواختیارخاوندان وو ، دملت دنماینده په حیث هیڅ انتقادنشو ای ورته راجع کیدای ، تقریباً واجب الاحترام اوغیرمسئوله وو ، ترقانون اودسپلین لاندي نه وو .

دکتهوازوکیل چي دانتهرکانتیننتهال په هوټل کي دحاجي عبدالرشیدپواسطه ورته دیوې منځې سره دشپې دتیرولوزمینه برابره شوې وه ، سره ددې جرمه قانوني تعقیب نشو . وکیل هم دا خپل باالفعل نیول اودخارندوی داپاخه اوبیساري اجراآتو ته گوته نیسي اوداخارندوی دلوی قومندان جنرال عبدالحکیم کتهوازي لخوانخکي پلان شوي ترتیبات اودقومي مخالفت پربنا بلل . یوملگري وکیل ته مې وویل چي دتورن وکیل دننگي نه لاس واخلي ، دهغه ځواب داؤ چي " *هغه قاضي ئي بایدمحکمه وکړي چي پخپله په رښتیاکوم وخت ددې عمل مرتکب شوی نه وي* "

پروکیل باندي انتقادملت ته توهین تعبیریدی ، دحاضری پابندي ئي نه درلوده ولې چي پخپله قانون وو ، دجرگي نصاب به اکثره پوره نه ؤ . دحکومت سره ئي سخت چلند کاوه ، بودجه اوپانوري لايحي به په میاشتو ځنډیدلي پاتي وي اوپوتعداد ئي پخپلوشخصي علایقو پسي گرځیدل ، په ملي مسایلوکي بې پروا اوبې زړه سري وو ، استحضاري غونډي اورای گیري ئي پرحکومت باندي یوه دفشارو سیله وه .

وکیلان به دانتخاباتو نه وروسته دنوي دورې دپاره دځان په کاربوخت شول ، یابه ئي پیسي ټولولې اویابه دنوي سیاسي اواجتماعي کریدیټ دلاسته راوړلوپه لټه کي وو ، دملي گټوسره ئي مینه نه درلوده ، فقط په کلیواله سطحه ئي مسایل مطرح کول .

دشخصي کارودحل دپاره به به ډله ایزه توگه په خانگواو وزارت خانوکي گرځیدل ، فراکسیون وجودنه درلود ، هروکیل دځان دپاره شخصي مبارزه کوله ، حکومت ته به داعتمادرایي ډیروخت ونیوی ، ددیموکراسۍ دپارلمان دواړه دورې دحکومت سره په مخالفت تیري شوې اودخوحکومتونودړنگیدوسبب وگرځیده .

دمامورینو په مقرری کي ئي دنفوذ اعمال کاوه ، قاچاقبران اورشوتخوران ئي حمایه کول ، بنه مي پیاددي (مؤلف) چي دیو وزیرسره ئي دیورشوتخوره مامورپرمقرري اصرارکاوه ، وزیربه دهغه مامورد رشوتخورۍ دلیل راوړی ، مگردوکیل صاحب بهانه به داوه اوویل به ئي چي " *ایاپه هیوادکي دایورشوتخوره دی ، که دابووي نووزیراجازه لري چي مړئي کړي* " ، مشاجري خوساعته وخت ونیوی ، نه پوهیږم چي وزیرحق درلود ؟ اوکه وکیل صاحب په حقه ؤ ؟ .

دکونجاري اوغنموپیش ته حاضر وو ، دانتخاباتودپاره ئي بلوې ورکولې اوبلوې ئي اخیستلې ، دولس اوورځپانواعتراضونوته ئي غوږ نه نیوی . ددې رنځ په داروخوك نه پوهیدل اوداحالت پواځي دکمونستانوبه گټه وو .

پاچادحالت نه دخلاصون په منظوردمحمدموسی شفیق صدراعظم په ابتکارتصمیم ونیوی ، د (۱۹۷۳) کال دمرگولي (۱۵) دانتخاباتوپه قانون کي تعاکل شوي نیته ، چي بایددراتلونکو انتخاباتودپاره ترتیبات نیول شوي وای ، وځنډوله . داچي ددې ملي رنځ دپاره څه درمل په نظرکي وه ، خرگنده نشوه ترخودچگابض کودتا پري راورسیده

Ketabton.com

# شاهي کورنی

پاچاتل دخپلي کورنۍ نه يوتن دنژدې مشاوراومرستندوی په حيث په خنګ کي درلود ، دسردار احمدشاه خان اوسپاه سالار شاه محمودخان نه وروسته دامقام وداؤدخان ته تکيه ګړې وه چي وروسته سردارولي ددې مقام دنيولولپاره ځان کانديدباله .

داسبب شوچي کورنۍ شخړې پيداشوي اوآوازې ئې دباندې هم عامي اوخبرې شوې اودابې اتفاقي هم دروسيانوپه ګټه تمامه شوه .

سردارعبدالولي دداؤدخان په مقابل کي بې باکه ؤ ، د (۱۹٦٤) کال داساسي قانون (۲٦) مادې چي په حکومت کي ئې د شاهي کورنۍ دبرخي اخيستلومخنيوی کاوه اوپه قانون کي دشاهي کورنۍ دغړو دتعريف له رويه داؤدخان دپاچاهي کورنۍ غړی بلل کيده چي داؤدخان دامادده دده دګوښه کيدو دپاره يوپلان باله .

دسياسي صحنې نه دداؤدخان ليري کيدلو سردارعبدالولي ته موقع ورکړه چي دولسي اوملي کسانوسره تماس ډيرکړي او اغيزمن شي چي اکثره به دده دپلار مارشال شاوليخان څواخلک دده ليدلواوکتو ته تشويقيدل .

دداؤدخان سره دهغه کارکونکوهم مينه درلوده اوهم ترې ډاريدل ، سردارعبدالولي کي دااستعدادموجود نه ؤ ، دپاچا د پاره ئې حساسيتونه توليد اودداؤدخان دانتقام حس ئې راپاراوه .

دباندې آوازه وه چي د (۱۹٦٤) کال داساسي قانون دپاس کيدلولپاره دلويې جرګي دافتتاح دورځې په غونډه کي داؤدخان په نابلل شوي توګه دغونډې تالارته راځي اوددې قانون په ضدبيانيه ورکوي . په همدې ګهيځ دوخته جنرال عبدالولي خپل دفترته دتلو په لاره کي چي دارلامان ته نژدې دتاج بيګ دغونډې په ماڼۍ کي ؤ ، مؤظفو څارندويانوته پخپله لارښوونه وکړه : " *داؤدراګمانيد که بطرف تالارشورا برود ....... ورته کش اش کنيد (داؤدمه پريږدئ چي دجرګې تالارته لاړشي ....... که نه کش ئې کړئ* " .

دکورنۍ دنوروغړومينځګړتوب هم ځايونه نيوئ ، سردارولي به اکثره وخت داؤدخان (مغزپوده) باله .

(ع) وائي : دداؤدخان دکورنيوچارو وزيرفيض محمد داسي کيسه کوله : " *هغه وخت چي مودچنګاس د (۲٦) کودتاپه شپه سردارعبدالولي ونيوئ نوداؤدخان ته ديراوستلوپه لارکي ماننوموړي دضربې (وژلو) هڅه کوله ، مګرنوموړي دغلام حيدررسولي اوضياء (دګاردقومندان) لخوابه منځ کي نيول شوئ اوسالل کيده* " ، فيض محمددا هم علاوه کوي : " *څرنګه چي دانقلاب لمړۍ شپه وه ، ماهم داحتياط نه کاروانيستي . کله چي موسردارولي دداؤدخان مخي ته راوستي ، نوداؤدخان په ډيرغرور ورته خطاب وکړچي (مغزمن پوده است ياازتو...)* " .

سردارعبدالولي وليعهد احمدشاه ته په خپلوی کښي همدومره لنډ ؤ څومره چي داؤدخان ظاهرشاه ته ؤ ، نوپه مشکل سره به ومنل شي چي نوموړي به داحمدشاه سره سم وائ اودهغه پاچهي به ئې منلې وائ .

سردارعبدالولي هم دروسيانودنظره ليري پاتي نه ؤ ، نوموړي به هم کله کله دعوت کيدئ اومخي ته به ئې نظامي مانورې ترتيب شوي ، البته ترهغه وخته پوري چي داؤدخان ؤ ، بيدې برخه کي په احتياط کارکيدئ .

Ketabton.com

دواکمنۍ نه دداؤدخان دلیري کېدوسره سم په ارګ کي دقدلونیم قد سرونو نه یوهم محمدرحیم خان دحضورپیشخدمت ؤ، چي دخپلي وظیفي نه په غیرئي لږه کارونوکي لاس واهه، سپارش ئي منئ اوسپارشونه ئي ورکول .

(ع) وائسي

د (۱۹۶۳) کال داوړي په شپږاوورځوکي ارګ ته دپاچا لپاره څو صندوقه دښکاري توپك مردك دبیروت نه چي پخوا ئي مې رښتنه شوي وه، راورسیدل . لدې کبله چي داصندوقونه دبیروخت په بیروت کي ځنډیدلي وو، پداسي حال کي چي وظیفه داري خانګي نوري وې، مګرمحمدرحیم خان پخپل خوښتون داحتیاط په پلمه اودسبوتاژ دمخنیوي په خاطرد ضبط احوالاتورئیس جنرال محمدرسول خان ته ددې صندوقونودمعاینه کولولارښوونه ورکړه، چي دی پخپله بایدمعاینه وکړي .

(ع) داهـــم زیـــاتـــوي :

دپاچا دحضوردملاقات دپاره مي وخت اخیستی ؤ، کله چي پاچا ارګ ته راننوت . جنرال محمدرسول خان ئي چي صندوقونه معاینه کول ولید، پاچا دهغه سلام واخیست اوددې معاینې نه ئي بې خبري ښکاره کړه، جنرال محمدرسول خان ئي دلنډوخت دپاره دځان سره دګلخانې ماڼۍ ته بوتلئ اودمعاینې ددوام نه صرفنظروشو .

دپاچادحضورسرمنشي حافظ نورمحمد کوهګدای هم هغه کوله چي په کارونوکي خپله سلیقه په کارواچوي، دپاچا اسرارئي نه ساتل، دپاچادذهنیت نه ئي خپلوپلویانوته خبرورساوه . ځکه چي دلوړرتبه مامورینوهریوه هغه داوه، چي په ارګ کي ځانته دپښې دټینګولوځای اوملګري پیداکړي .

دداؤدخان رښتیا خوښ نه ؤ، مګرپاچاته چا رښتیا نه ویل، دهرکاردخرابوالي بېره پرپاچا اچول کیدله . دکارښه والی به هر یوه ځانته منسوباوه اودا به ئي دځان ابتکارباله، دامطلب یوه سپین ږیري پاچاته ووایه، دده ځواب فقط داؤچي :

" *زمانسي تـوکـل پـرخـــدای* " .

(خـوپـاچـاهـي دخـــدای دورکـړي عـقـــل اوراجـع شـوي مـسـؤلـیـت سـره سـم پـه تـدبـیـرونـو کـیـږي، نـه پـه تـشـو تـوکـلـونـو) .

Ketabton.com

# په بهرکي افغان سفارتونه

دبهرنيوچارودوزارت کارکونکي څه دهيواد دننه اوڅه په بهرکي دوظيفي داهميت په خاطربايددزوندڅاصواصولوپه رعايت مکلف وي ، ددي ځانگي دهرمامورشخصي ژوند اوحيثيت نيغ په نيغه دملت نمايندگي کوي ، همداوجه ده چي په تاکنه کي ئي بايدکلک غورروشي ، څوبېدي پوه نه يو چي زموږپه هيوادکي دداسي تاکنومعيارڅه ؤ ؟ اوشخصي اړيکو به ترکومه ځايه اغېزه درلوده ؟.

په تاکنه کي پرلياقت سربېره دشخصي تقوا مسئله ترټولومهمه وه ، هرعمل په تېره بيادسياسي اوديپلوماتيکي نزاکتونو رعايت بايدداحتياطه سره واي.

دا راته څرگنده ده چي په بهرکي دافغان ديپلوماتانواړيکي دروسيانوسره لکه زموږدهيواد دننه ددوستۍپه نامه دکي جي بي ترڅارني لاندي وي . نوي‌افغان ديپلوماتان چي به هرهيوادته ولاړل ، دروسيانوځوابه محاصره شول ، دروسي سفارت د غړو اونوروکمونستي هيوادونو دديپلوماتانوځوا به دعوتونه پيل شول ، تلل اوراتلل به ډيرشو ، ترڅوچي سرحدبه ئي لمبواوپيکنيک ته ورسيدئ . روسيانوافغان سفارتي کارکونکوته د (وارسا) ديکړ دهيوادونودغړوپه سترگو کتل .

دبهرنيوچارودوزارت مامورينوبايدپوددي دري ژبولکه انگريزي ، فرانسوي اويا الماني زده واي ، داچي ترکومه ځايه ئي پدي ژبو تسلط درلود اويائي ليکنه په کولائ شواي ، ازموينه ئي بايدتيره کړي واي خوداچي دخپلي وظيفي مشکل ئي پري ترکومه ځايه حل کولائ شواي ، راته څرگنده نه ده . په هرصورت افغانستان دداسي نوروهيوادوسره لکه عربي هيوادونه ، چين ، جاپان ، اندونيزيا ، يوگوسلاويا ، پولينډ ، هنگري اوچکسلواکيا سره هم سياسي اړيکي درلودي چي دسفارت دغړوديوه هم د هغوئ ژبي زده نه وي ، ولي چي اکثروځوبه په ملي ژبه پښتوهم خبري نشواي کولائ څه چي خارجي ژبي ته توجه وکړي .

شوروي سفارت دي مشکل ته متوجه ؤ ، چي دافغان سفارتونو غړي دژبي ستونزي لري ، اوخپل اونيز راپورهم بايد کابل ته ولېږي ، نوبه ئي دافغان ديپلوماتانوسره دراپورپه جوړولو کي په وړيا ډول اوبه ډيره پيرزوينه مرسته کوله ، اما فقط پدي تفاوت چي په راپورکي به هغه روسي تحليل اوهفکوره دننه کوله ، څه چي روسيانوغوښتل اوزموږدهيوادسياست به هم پر دي راپور جوړيدئ .

وزارت هم ن.. س نه کاوه ، چي داراپوردکومي خوا اوپه څه ډول پداسي صورت کي چي دافغان مامورينودهغه مربوطه هيواد ژبه نه ده زده ، جوړشوي دي .

محمدموسي شفيق دخپل وزارت په وخت کي ددي نيمگړتيا دليري کولودپاره ، دمامورينوتعليم اوتربيي ته متوجه شو اوددي کاردسرپرستۍ دپاره ئي ډاکتراکرم وټاکي چي دمامورينودعلمي سطحي دلوړولودپاره علمي کورسونه جوړکړي .

Ketabton.com

# افغان محصلان په روسيه کي

دافغانستان اوروسيي ترمنځ ددوستي اووسلي پرتړون سربېره په نظامي ډګرکي دافغان محصلانوروزني تړون هم لاسليک شو ، ترڍي دمخه دکاله (٥٠) تنه داردومنصبداران دمختلفورشتولپاره دترکيي ددولت لخوا په وړيادول روزل کيدل چي دلوړو زده کړو زده کونکي ئي په اردوکي د (ارکان حرب) په نامه يادول .

خوداتعليم اوروزنه دنوي وسلي اوسياست سره نوره دمنځه ولاړه ، روسيانوهم هغه افغان منصبداران چي دناټو او سينټو دهيوادونو روزنه ئي ليدلي وه زموږپه اردوکي نشواي زغملای ، دهغوروزني ته ئي اهميت نه ورکاوه ، دترکيي اويادنورو لويديځوهيوادونودتحصيل کړوچانس په قطعه کي کم وو اواکثره به په دفترونوکي ترې کاراخيستل کيدئ .

افغان محصلان چي په نظامي رشته کي ئي شمېرزخته ډيروو (بهرنيومطبوعاتي منابعوئي شمېر اوه زره تنه ليکی) ، روسيي ته د رسيدوسره سم به دنورو زړومحصلانولخوادخلق يابرچم ډلوته جذب شول . خلقيان په اردوکي ترپرچميانوډيروو ، ولي چي په اردوکي کليوال اودمحرومو کورنيوغړواکثريت درلود اوروسيي ته ليږل کيدل ، دوی‌به ژر دزړو خلقيانوپه مزو ورو‌پيل شول ، دروسيي دظاهري ځل وبل ژوندترتاثيرېه لاندي شول اودروسيي داصلي ربړيدلي ژوندنه به ليري ساتل کيدل ، جنسي آزادی به په دوی‌باندي داغيزي په اچولوکي لوی‌رول درلودئ ، کمونستي ګوندونواويه تيره بياپرچميانودکوردننه کي هڅه کوله چي دابي بندوباري زموږتهولني ته رانباسي او پدي وسيله په پرچم کي ځوانان خوشحاله وساتي .

افغان محصلان په روسيه کي داکاډميکي آزادی‌نه برخورداره نه وو ، دفکرآزادي ئي نه درلوده ، انتقادورته اجازه نه ؤ ، په غير ددي به دشوروي نظام دمخالفت په توردتحصيل نه محروم اووطن ته ليږل کيدل چي دلته دمثال په توګه دتورن اخترمحمد او ډګرمن بسم الله نومونه راوړم چي نومړنی ئي دکابل اوسيدونکئ اودوهم ئي دغزني هستوګن ؤ .

دافغان محصلانوپه جذب کي دروسيي دتدريساتوادارو اواستادانوهم رول درلوده . درس اهميت نه درلود بلکه په کمونيزم سباليدل مهم و ، خلقيانواوپرچميانوته غري وړياوي ، ماتراوسه دروسيي نه ناکام راغلي‌ندي‌ليدلي ، سياسي درس اوکمونستي تعليم ترهرڅه مهم ؤ اوددي نوږځوانانودمغزو ډيريوللوکاربه ترې اخيستل کيده .

چاچي به دپردو واوامروته غاړه نه ايښودله پرځپلومهوبه ئي تکيه وه ، مجبورؤچي په ډيره بي وسی‌ژوندوکړي اوزيار وباسي نرخويوڅه زده کړي .

له دغوافغان محصلانونه يوزيات شمېرزموږپه راتلونکي اردوکي مهم رول پيداکړئ . ديوباور وړدوست دخولي مي داسي بيان واوريدئ :

" کله چي پاچامحمدظاهرشاه په پاکستان کي دفيلډمارشال محمدايوب خان په بلنه ميلمه شو . يوبرو ګرام ته دتلو په لاره کي پاچادمارشال محمدايوب خان نه دروسي سامان اوآلاتودجنسيت په باره کي تپوس وکړ . ايوب خان په ځواب کي ورېل چي بدنه دي اودائي هم علاوه کړه چي دپالتوبرزودنشتوالي له کبله ستونزي لري . پاچاهم داشکايت وکړاووئي وبل هو ! پرلوی‌ماشين ترډيروخت پوري ديوي وړي پرزي دنشتوالي له کبله شل وي . داخبري دترجمان پواسطه په انګريزي ژبه رواني وي ، که څه هم فيلډمارشال ايوب خان په پښتوبني خبري کولای‌شوای ولي چي دی‌په قوم دکوپټي دترينانونه ؤ .

بحث اوږدشو ، فيلډمارشال په روسيه کي دافغان محصلينوپه هکله تشويش څرګندکړئ اوعلاوه ئي کړه چي افغان محصلان به روسي کمونستي ايډيولوژي دځانه سره راوړي اوازدوته ئي دايولوی‌خطر وباله ، نوموړي پدي وسيله دپاچا متوجه کيدل غوښتل . پاچابه لنډول ځواب ورکړچي : په اردوکي کمونستان زغمل کيدای‌نشي . "

Ketabton.com

ولي خدای‌خبردی چي پاچاپه کوم بنسټ داخبره کوله ، ځکه چي کمونستي جرائيمولاپخواهرپلو وده کړې وه اوهمدا پرپاچابانـدي دمجاهدينوپرعمده اعتراض هم دی . پاچاخه وخت دمخه په روم (ايتاليا) کي يوافغان مخورته ددي اعتراض په رد کي داسي ويلي ؤ " *ماشاگردان بهرته دروزني لپاره ولېږل چي هېوادته په راتلونکي کي خدمت وکړي . مگردهغې خوا دشوروي نه کمونستان اودمصرنه اخوانيان راغلل.* "

هغه نسې مراقبت چي دافغان سفارت لخواپه پرديوهيوادوکي پرافغان محصلانوباندي ؤ ، په روسيه کي ئي استثنائي حالت درلود ، مثلاً داعليحضرت امان الله خان دتلګ سره سم هغه افغان محصلان چي دده په وخت کي دده ترتعليمي پروژې لاندي ترکيي ته لېږل شوي وو ، دسفارت لخواترڅارني لاندي وو .

په روسيه کي دافغان سفارت اختصاصي باد اتشي مليزي په نامه څانگه چي په سرکي ئي اعتمادي کسانولکه جنرال عبدالرزاق ميوند يا جنرال عبدالله روکي ځای‌درلود ، هم ددي بي تجربي اوپه سرگرېټهو ځوانانو لارښوونه اوڅارنه ونه کړه . څوروسيانوبه ترڅانگړي روزني لاندي ونيول ، په هغوکي به ئي دځان دپاره خاص نفرپيداکړل ، لکه دگروال ميرطهماس چي دلوړ رتبه منصبدارانوپه ډله کي دلوړونظامي تحصيلاتودپاره روسيې ته ولاړ .

دگروال حاجي احمدعلي خان ناصري چي په همدي ډله کي دميرطهماس ملگری ؤداسي بيان راته کاوه چي " *ميرطهماس لرېږي ځانگړي روزني لاندي نيول شوی ؤ ، هره شپه به په منظم ډول دخوشگذراني په نامه اوبهانه خپلي کوټي ته ناوخته راتلي*" .

ميرطهماس جنرال شواودتره کي په وخت کي دکندهارد کل اردولوی‌قوماندان وټاکل شو . اولوړو تحصيلاتوته دمنصبدارانو لېږل هم دروسيانوپه نظر او وړانديزسره ممکن وو .

Ketabton.com

# د شورويانو سره تماسونه

عواموته هم دروسيانوسره دتماس لاره جوړه وه ، سفارت ته تلل اوراتلل آسانه ؤ ، روسي تعليمي بورسونه هم دشخصي سپارښتنو دلاري کيدلای شوای ، درخصتي اوتداوي په نامه روسيي ته ويزه اودالوتکي ټکټ په ارزانه اوآسانه پيداکيدل اويا ځينوتجارانوته خاص تجارتي امتيازورپه برخه ؤ ، چي دي ټولوموارد و روسيانوته دتماس اونفوذ مبه ډګرجوړکړی ؤ .

دښارنه وتلي په عمراني پروژوکي دروسيانواوديرروژو دکارکونکوترمنځ ميني اړيکي ، تلل اوراتلل موجود وو ، په کابل کي دشوروي سفارت ته داکتوبردجشن دګډون په نامه غيرديپلوماتيک کسان هم ورب‌لل کيدل ، په وروستيوکي داسي تلينونواودعوتونوپه هغوولاياتوکي چي دروسيانوشميرپکي ډير وو هم دود وموند ، تماسونه کال په کال ډيريدل ، شراب به موجود وه ، په څکلوکي به ئي اعتدال نه ساتل کيدئ ، افغان ميلمانه به ديوه بيلک (ووډکا) په خاطردساقي په چارچاپير ورتاتاويدل ، مست به وو ، افغان اواسلامي پت به ئي دلاسه ورکړی ؤ .

داسي ميلمستياوي به اکثری په ټيټه سويه وي ، کله به په دعوت کي ووډکاهم آسانه په لاس نه ورتله ، دميلمه اوکوربه ترمنځ دادب سرحدنه ساتل کيدی لکه :

دبهرنيوچارو دوزارت مامورصادقي دشوروي په سفارت کي داسي منودل چي مست دی ، نوئي دسفارت دغړي بنځه مچ کړه اودهغه په مقابل کي دټولودمخه شوروي ديپلومات دصادقي بنځه څوځلي پرخوله مچ کړه .

داسي دعوتونه دسفارت دغړي ابلوف لخواسرپرستي کيدل ، ځينومخورو ته به دافغان دودپه پيروي پخپله ابلوف حتی کله کله خوداني کارتونه ورووړل ، کله به تارتوک هم ورسره ؤ ، سړي پيژندئ ابلوف هرډول سپارش ته تيار ؤ ، نواکثروبه ځان روسيانوته نژدي کاوه.

ديوه ملګري دخولي مي واوريدل چي دلته ئي ليکنه بي مورده نه بولم :

دکابل دښاروالی لخوادمسکودښاروالی‌کوم کارکونکي ته بلنه ورکړل شوه ، ددي بلني په ترڅ کي همدي روسي مامورته په ساتلو کي يوه ميلمستيا ترتيب شوه ، څرنګه چي دعوت نيم خصوصي بڼول درلود نودښاروالی مرستيال خپل وروکی‌زوی‌هم دي ميلمستياته دځان سره بيولئ ، دمرستيال زوی‌به هرڅودقيقي ورروسته دخپلي موروپه سپارښتنه ددي روسي ميلمه نه خواهش کاوه " *مستر ! مستر ! براى بابيم بورس بدهيد .* "

کارمل اونوروکمونستي مشرانوهم دروسي سفارت په دعوتونوکي ګډون کاوه اوددي ټولوافتخاربه ئي دځان باله .

روسيانوپخپل دي تکتيک کي برياليتوب درلود چي دهيواددلوړرتبه مامورينو ، مخورو اوروحانيونوزامن ترنوروپه اخلاص دروس په خدمت کي ونيسي لکه : اکرم عثمان د رزيرغلام فاروق عثمان زوی ، عبدالحق اونورالحق علوميان چي دهيواددمتنفذه کورنی‌نه وو ، رفيع (دملي دفاع وزير) دهوائي تورنجنرال شيرين خان زوی ، ببرک کارمل دتورنجنرال محمدحسين خان زوی ، ضياء (دګارډقوماندان) داخذ خبردرئيس جنرال عبدالقادر زوی ، زلمی‌دجنرال عبدالکريم مستغني زوی چي دکمونستي دوري اود روسيانوديرغل په وخت کي دحکومت سره په عسکری کي نژدي همکارؤ دډګروال ترتبي پوري ورسيدئ ، عمرشريف دوالي سردارحنيف زوی‌چي دنادريي لسه ئي په نامه ونومول شوه ، دمصئونيت ملي درئيس جنرال محمداسمعيل خان زامن چي تروروستيو ورځوپوري ئي دبهرنيوچاروپه وزارت کي لوړرتبه بڅونه درلودل . ددي کسانوپلروبه په ظاهره درژيم دبقا دپاره دپاچاپه خنګ کي ځای‌نيولئ ، مګرزامنوئي دکمونيزم فعاليت کاوه . ډاکتراناهيتا راتبزاد هم دپاچادتره لمړي وزيرشاه محمودخان په کورکي روزل شوي حتی لکه دهغي کورنی دغړي په شان وه ، محمدصديق والي پاچاته ملي مګرلوبه ته . په شوروي کي دخپل تحصيل په وخت کي طبقاتي مبارزه زده کړل .

Ketabton.com

سیدقاسم رښتیا هم دهمدې ډلې نه ؤ چې ددربارنږدې اعتمادي ؤ ، مګرورور ئې میرمحمدصدیق فرهنګ دروسیانوپه ګټه فعالیت درلود . بې ځایه ئې نه بولم چې دښاغلي میرمحمدصدیق فرهنګ په پېژندلو کې دښاغلي ولي الکوزي د (نګاهي بر کتاب افغانستان درپنج قرن آخیر) کتاب د ۱۹۹۱/۸/۲۰ نېټې چاپ دیوې برخې په رانقلولوخپل مطلب ختموم :

" ..... لازم میاندنکاتي چندی راکه نویسنده داستان (افغانستان درپنج قرن آخیر) درباره سردارمحمدداؤدخان شهید ، محمدهاشم میوندوال شهید ، دیموکراسي تاجدار ، لویه جرگه ۱۹٦۵ ، فاجعه سوم عقرب ، جنبش محصلین وانتخابات تصنعی دوره ظاهرشاه اورده ازکتاب پرقطرشان درانیجانقل کرده ، بداوری خواننده محترم میگذارم تاخودانچه دیده وانچه بیاد دارد وانچه ازین نبشته های (بیطرفانه) اقای فرهنګ برداشت میدارند قضاوت نماید . ناگفته پیداست که اقای فرهنګ به اصطلاح یك (دست چپی) که پیرو مکتب نجایف روسي ولی درعمل شیوه ماکیاول رابرگزیده اند ، زیرادرهرزمان نظربه (شرایط عینی) تغیرماهیت (ذهني) داده گاهی باروبل روسی زمانی بادولار امریکائي در (آغوش پرمحبت خانواده سلطنتی) بکارروائي های (تاریخی) پرداخته اند . گاهی درگوشه زندان ، زمانی مشاورظاهرخان ومدت مشاوربیرك خان واکنون بلندگوی لندن وواشنگتن شده اند . ولی این همه (بدعت ها) بحال اوشان مفید واقع نخواهد شد زیراهمانگونه که خود مغرضانه درداوری اشخاص ، اقوام ، زبان وتاریخ افغانستان بخون غلطیده پرداخته اند ، تاریخ بخون نبشته شده افغانستان هم درقضاوت خودبیرحم است ودرذهن خودبسا چیزها رامیسازدکه نه فرهنګ ونه کسانی چون اودرجعل کردن آن قدرت دارند . "

Ketabton.com

# دکمونستي فرهنګ اغیزه

دنوروفعالیتونو په څنګ کي روسي فرهنګي استعمارهم ورځ په ورځ ډیریدئ ، روسي مجلې اواخبارونه په پښتواوفارسي ژبه ډیراوپه اکثروځایوکي لیدل کیدل ؛ پوښتنه نه وه چي دکومي خوا اوپه څه ترتیب افغانستان ته راوړل کیږي ، دفارسي ژبوکمونستي کتابوراوړل دایران دلاري آسانه وو ، روسي فلمونه به هم په سینماګانوکي چلیدل .

په شمالي صفحاتوکي چي روسي کاریګرانواو اتباعوروسي تلویزون لیدئ ، نوډیروژو افغان ماموریین به هم تاجکي اوازبکي پروګرامونو ته دعوتیدل اوپه آخیرکي ئي عمومي شکل غوره کړئ ، داکثرو پروژودماموریینوپه کورروکي به تلویزیون لیدل کیدئ ، پدي وسیله به دروسي دروغواو تبلیغاتوتر تاثیرلاندي راتلل ، دشمالي صفحاتو والیانواود فرقي قومندانانوهریوه په کورکي دروسي تلویزیون پروګرام درلود .

په وروسته کي دکویټ نه لمړی سوغات تلویزیون ؤ چي په بلخ ، شبرغان اوفاریاب کي ئي اهمیت درلود ، حتی حاجي صاحبانوهم نوردحج نه دراتلګ په وخت کي تلویزیون نه هیراوه .

تاشکنداورادیومسکوپه پښتواوفارسي ژبوپه منظم ډول خپروني درلودي . دمطبوعاتودآزادی نه په ګټه دمحمود حبیبي داطلاعاتواوکلتوردوزارت اوسیدفقیر علوي دمدیریت په وخت کي د (مرد ۹زنه) ترعنوان لاندي کاریکاتورچي د (اصلاح) په ورځپانه کي نشرشو ، تصادفي نه ؤ ، دمسلمانانوپه اسلامي احساساتولوبي کیدي چي دائي یومثال ؤ .

هغه کیدله چي نوردهیوادپه ورځپانوکي درود برلینن لیکل عمومي دودکرړي ، داکارئي هم وکړ .
ګرچه د (مرد ۹زنه) دخپریدوسره ولسي جرګي جدي عکس العمل ښکاره کړئ اوخبره دډاکترمحمودحبیبي اوسیدفقیرعلوي ترلیري کیدو ورسیده .

Ketabton.com

# اقتصادي نغښتي اوتوطئې

زموږ داقتصاد وېجاړول اوپایه روسي پوري زموږ داقتصادتړل هم دهغوتوطئوتوطئوبرخه وه ، چي روسیانوپه پلان کي درلودئ اوهغه ئي کوله چي زموږ اقتصاد نورهم راکمزوری کړي چي دنـل دپاره مسوودوی‌ته داحتیاج لاس غځېدلی وي ، د بارتري ترنامه لاندي غیرعادلانه تجارت زموږ لاسونه تړلي وو ، تجارتي اوترانزیـت لاره هم بل دلیل ؤچي روسیانوته ئي نورهم محتاج کړي وو په تیره بیاهغه وخت چي به دهیواد مناسبات دپاکستان سره خراب شول .

زموږدتجارتي اومو موادولکه گاز ، پنبې ، وړی ، وچي اولندې میوې په مقابل کي روسیانوزموږ افغاني تجارانوته هغه څه ورکول چي اکثره به ددوی مازاده ، بیکاره اوخراب وو . افغاني تجارانوبه دمجبوری‌له مخي دخپلي خوښي په خلاف دا روسي موادواخیستل کوم چي به دوی ورکول ، البته رشوت هم رول درلود . زموږ مالونه به ئي هم په یوه اوبله پلمه مستردول ، دافغان سوداگرانوخوښه اوضرورت ئي په نظرکي نه نیوئ . کله به ئي کلوښي ورکولي اوکله به ئي بیکاره الیکټونه . کلوښي به هم هغه کلوښي وې چي غره ئي تراندازې لوی اودسایبریا دکاریگرانودپښې په اندازه به جوړي‌شویوي . ددواړو خواوودتجارتي موادونرخ دروسیانوخوا ټاکل کیدئ ، په هرتجارتي اوپابل قراردادکي دروسیانودا عادت ؤچي یا رشوت وخوري اویا غولول وکړي . شوروي ته دشبرغان نه دصادرشوي گازدحجم دمعلومولو میټر یواځي دشوروي اتحادیه خاوره کي نصب شوئ ؤ ، اندازه به هغه منل کیدله ، کوم چي به روسیانو وویل اودگازبیه هم ډیرغیرعادلانه ټاکل شوی وه چي خوځل دنړیوال نرخ نه ټیټه وه .

دیوه روسي نه مي چي دسفارت غړی اودافتصادي اتشې وظیفه ئي په کابل کي په غاړه درلوده ، دتجارتي اړیکواونرخ دټاکلوپوښتنه وکړه ، هغه په ډیرمنافقت راته وویـل چي " *دافغاني موسسونه فقط دارتیاوړشیانولست، راځي اوموږهغه ورته برابرو ، دافغان دوستانوسره نرخ کومه ستونزه نه لري.* " مگرداټول منکاره دروغ وو .

افغانستان دروسي سامانو لپاره دیوه لوی‌مارکیټ حیثیت درلود که څه هم روسي سامانونه په نړیوال کچ اوستاندارډ برابرنه وو ، دنوروهیوادو دلوازموسره ئي سیالي نشوائ کولائ ، صنعت ئي ډیرابتدائي اوشاته پاته ؤ داپېدي خاطرچي پخپله روسي په اقتصادي لحاظ ددریمي نړۍ‌په کتارکي ځای‌درلوده اوپه صادراتوکي ئي ترصنعتي موادو اومه مواد ډیر وه . کله کله به ئي پداسي غبن اودروغولاس پوري کړ چي څوك به هیڅ ورته متوجه کیدائ نشوائ .

دي شمالي لوی‌گاونډي به خپل پولوی‌اندازه مازاده اوبیکاره سامانونه بیله دي چي چاسپارښت ورکړی‌وي دبندروالي درياست په نامه دحیرتان اوشیرخان بندرونوله لاري زموږ هیوادته راواړول اوذخیره به ئي کړل ، بارنامه ئي ورسره تسلیم اورسید به ئي واخیست . داسامانونه اولوازم تردي حده ډیرو چي دبنتونه اوصحراوي به په ډکي وي دسامانوبیل اوبیجك به هم راورسیدل ، مگردسپارښت مرجع اودقرارداد نمره ، شمیره اونیټه به ئي خرگنده نوه ، څوك نه پوهیدل چي داسامان دچادی اویا په کومه موسسه پوري اړه لـري ؟

(ع) داسي بیان کوي :

" که څه هم ددي موضوع منل گران دي اما متاسفانه حقیقت لري "

ددي سامانو نه زموږدهیواددشمالي صفحاتودبنتونه ډك وو ، سره دهغه چي دسپارښت ورکونکي موسسي ئي معلومي نه وي ، څوك نه پوهیدل چي داستعمال ځای‌به ئي څه وي اویا به چیري تري کاراخیستل کیږي ، فقط (میلون روسیه) به پري لیکل شوي وو . داخلي ماهران لاڅه حتي‌پخپله روسي انجنیران هم نه په پوهیدل . داسي سامانونه ورځ په ورځ راتلل ، کنټینراوارگاډي به ډکیدل اوتشیدل اوبندروالي به هم تسلیمول

Ketabton.com

خوداتوول بې صاحبه مال ؤ چې قیمت ئې میلیونوافغانیوتهرسیدئ اوافغان ولس مجبوره ؤچې دادېرور پیټی پرځپله غاړه واخلي . اکثره ددې دراننده سامانونوبیه دکیفیت له مخې نه تياکل کیدله بلکه دوزن په اساس ئې خرڅلاو رو چې په زمې به واوري ، باران اویخني ته پراته وو اوپه اوړي کې به ئې ګرمې اوبادونه زغمل . زموږپه هیوادکې هم ددې سامانوسره څاعلاقه نه درلوده چې دابې خبرې اوبې تفاوتی په کلو کلودوام وموند .

پسله څوکاله تیریدونه په (۱۹٦۸) کال کې بندروالې شکایت وکړچې موسسات حاضرندي خپل سامانونه نقل کړې اودبنتونه تش کړي ، داشکایت دعظمی صدارت ته وړاندې شو . پدې هکله دعظمی صدارت فرمان ټولوموسسوته ورسیدئ چې هره موسسه مجبوره اومکلفه ده چې خپل سامانونه یوسي اوتري کاروانخلي . څه وخت تیرشوهيڅ موسسه پیدا یاحاضره نشوه چې داسامانونه اولوازم دې ددبنتونه یوسي ولې چې دوی سپارښت نه ؤ ورکړی.

داځکه خوسامانونه اولوازم په هغه بې سرنوشتیه حالت کې په بندروکې پاتې شول ، دعظمی صدارت فرمان به هم دوزیرانواومسؤلو مامورینودتبدیلی له کبله څه وخت بیرته دیاده ووتی .

په همدې کال کې بل فرمان صادرشواوټولوموسساتوته اطلاع ورکړل شوه چې هره موسسه بیله ځکینې سپارښت نه کولائ شي چې دبندروالی نه دځپلې اړتیا وړ لوازم بیله تخصیص اومصرفه یوسي ، داځلې بیاڅوك پیدانشول چې داسامانونه دې پکار شي . که دا سامانونه دپروژولپاره وای اوپیداسې حال کې چې دهیوادتولې یااکثره پروژې دروسیانولخوا جوړې شوې وي ، نوداروسي سامانونه بایدهغوپروژولپاره پکاروړل شوې وای خوبیاهم ترآخیره څوك په پوه نه شول چې چیرته بایدپکار یوړل شي . ددې سامانوقیمت به اوس هم په اسعارو غوښتل کیږي .

څرنګه چې معمول دی موادڅکینې تفاهم اوقرارداد یاسپارښت دنیږي اوغږې په اساس رسیږي ، حتی قیمتونه لا څکنې تياکل شویوي ، مګرداساده اوآسانه پوښتنه دروس نه څاونه کړه چې داسامانونه دکوم قرارداد اوکومې موسسې په سپارښت رالیږل شویدي . دهرروسي سره هره خبره فقط ددیپلوماتیکې نزاکت په رعایت سره کیده ، عادي روسي کاریګرهم ددیپلوماتیکې حقوقونه برخه وال ؤ .

هغه سامانونه به تراوسه پراته وي مګرافغان مظلوم ولس به ئې دپوررنو وتادیه کولوته مجبوروي .

دشبرغان دګازدپایپ لینو میټرونه زموږپه خاوره کې نه بلکه په روسیه کې نصب شویوو . اماڅه چې دروسیانوخوښ ؤ لکه زموږ ګاز ، دغورې سمینت اودننګرهارمیوې هغه به ئې ززبرمته کولې ، روس ته څادغداراوخاینن خطاب نشوای کولائ او زموږ دهیراحترام وړ بلل کیدئ .

دارالامان داعلیحضرت امان الله خان یادګار دجرمنیانولخواپه پخوانې مهندسي اونقشه جوړه شوېدانۍ چې دکار.دقواوود خانګودپاره ترې کاراخیستل کیدئ ، روسي مشاورانوته هم هلته دکارلپاره ځای ورکړه شوی وو ، طبعاًنورو روسیانوهم دخپل ورځنی کاروداجرالپاره اوبایدې پلمه تلې اوراتلې درلود . دروسیانوشمیرپه افغانستان کې ډیرو ، دځپلوکاریګرانودکنترول په پلمه دکې چې بې دماموزانوفعالیت اوپیژندنه ډیره پتیه نه وه . دروسیانوترنظارت لاندې اودوی په مرسته دمختلفوپروژودکار دوسې دورروستنې کنترول دپاره هم هلته وې ، چې دعظمی صدارت دمحاسباتوددیوان ریاست دتفتیش دهیئت تازه دروسیانوغلا اوبې کفایتی ته پام شوی ؤ چې موضوع سوال اوځواب ته ولاړه وه . په (۱۹٦۹) کال کې ماشین اورواخیست ، خلورسره پوره چې لرګې بکې ډیرکارشوي وو په ایروبدله شوه ، څه نیم سوځل شوي پاتې دپښتنې تجارتي بانك په سیفوکې د (۱۹۷۸) کال دغوائې تر (۷) پورې بې ګټې ساتل شوي وې .

داهودبوتونوفابریکه چې هم دسویس په پانګه اوشراکت جوړه شوې وه ، دهمدې کال په زمی کې اورورلوید . داڅیرله هغه پیښې دې چې دسړې دسبوتاژ باور پرې کیدای شو.

Ketabton.com

# د قحطۍ کلونه

(۱۹۷۱) او (۱۹۷۲) دافغان ولس دبدبختیاو خواریو کلونه ور ، دوه کاله سرپرسرباران ونشو ، هیوادسختي وچکالي وځپی ، کرهنه ونشوه ، لوږه او کاختي وه ، بیا په وریسي کال کي ئي سخته یخني شوه ، دهیواد دننه دیوه ځای‌نه بل ځای‌ته کډي پیل شوي ، اکثره کلي او کورونه تش پاته شول ، حتی په شمالي برخوکي ځینوکورنیوخپل بچیان دلوږي نه دبچ کیدو په خاطر په بازارونوکي خرخ کړل ، په هیوادکي ددولت لخوااضطراري اوبیړنی‌حالت اعلان شو ، نړیوالي مرستي وغوښتل شوي چي څه اندازه ئي راورسیدي ، په ځینوعمومي ځایونوکي د (دلدي) دیگونه بارشول ، کله کله به ددلدي دډیروخوړلو سره دګیډي رنځ هم پیداشو .

غنم دکار په مقابل کي او کاردغنمو په مقابل کي پروژه پیل شوه ، مګرياهم ویش عادلانه نه ؤ اودغنمو په ویش کي ترهرچا د وکیل او ارباب برخه لویه اودرنده وه .

ددي کال طبیعيّ افت هم دکمونستانو په ګټه ؤ ، کمونستانو په همدي کال کي دانقلاب په نامه غوښتل اقدام وکړي او پیدي پلمه یو کمونستي نظام راولي ، مګرغرګنده نشوه چي ولي داپلان تر (۱۹۷۳) کال پوري وځنډول شو .

Ketabton.com

# ملي اواسلامي مقاومت

اسلامي تنظيمونه روسي توطيئوته چي دکمونستانودلاري عملي کيدلې متوجه وو ، که څه هم دوي پخپله ددولت لخوا تيکول کيدل اودکمونيزم دخنيوي لاري پري بندي وي . ددينيات اوقرآن کريم ښوونکي په شعوري ډول توهين اوتحقيريدل ، اوپه ډيره سپين سترگي به دشاگردانولخوا ورسره بي احترامي کيدله . (امربالمعروف ونهي عن المنکر) نه ددولت منه نه راتله .

مولوي محمدنبي محمدي د (۱۹۷۲) کال دلوي اختر په ورځ دمزارشريف دروضي دجامع جوماتي دمنبرنه راکوزکړه شو اودهغه ولايت والي نورد وعظ اونصيحت موقع ورنکړه که څه هم نوموړي پارلماني مصئونيت درلود .

دبلخ پرمولوي دواجان باندي هم په همدي گناه محکه تنگه کړل شوه ، دوطن په پريښودلومجبوره شوچي دپيښورپه سوات کي ئي ژوندغوره کړ .

په (۱۹۶۹) کال کي دکابل دخشتي پله په جامع جوماتي کي ديوي مياشتي نه په زيات وخت دافغانستان داکثروولاياتوعلماو ملايان راټول شول اودکمونستانوپه ضدئي په مظاهرو لاس پوري کړئ ، په لمړي سرکي به ئي شپه اوورځ په شورغوږدو تيروله ، ژرچنده ورته ټوله شوه اودکابل خلکوئي مرستي ته ورودانگل . مگردعلماو سره دولت خبروته حاضرنشواوپه سپکوالي دشپي په تياره کي دجوماتي پرحريم حمله وشوه ، دخارندويانومنتظره قطعه جوماتي ته ورننوتله اودميخ لرونکو بوټانوسره به دهغوپرپښوورختل ، دبرقي ډنډوپه واسطه ئي په داسي حال کي چي هغوبه د (الله اکبر) چيغي وهلي دجوماتي نه وايستل . دکابل ښاريانوئي دباموټو نه ننداره کوله اوحتي دسهاردلمانځه موقع ئي هم ورنکړه .

عبدالحنان (مينه پال) دکابل دخارندوي قومندان ددوي اسلامي جذبي راټولي اودمرکزي قواودرستيز سردارعبدالولي ته ئي دتخفي په ډول ولېږلي چي هغه ته ددي لوي بري تبريکي دخارندوي دلوي قومندان جنرال عبدالحکيم کتوازي له لياري ورکړل شوه .

دجمعيت العلماءرياست ياعدليه وزيرعبدالستارسيرت هم ددوي عريضه وانه خيستله .

ملايان دجوماتو نه ترايستلووروسته په هغوموترانوکي واچول شول چي ددوي دوړولودپاره دجشن په ځمکي کي دمخه دريدلې وو اوپه مربوطه ولسواليوکي ددوي نه کابل ته دبيانه راتلو لپاره دهغوئ نه په جبري ډول شرعي التزام خطونه واخيستل شول . دملايانوپه همدي سپکاوي باهم کمونستان راضي نه وو اودائي ټول ددولت پرپلان بلل .

اخوانيو هغوئ هم دکمونستانواومسلمانانوترمنځ دمقابلي اومبارزي په مرکزبدل شوي . دکمونستانوفعاليت منظم اودکمونستي استادانولخواحمايه موجوده وه ، مگرغيرکمونستي استادان غيرمنظم دبيطرفانوپه نامه ساکت اوچوپ پاته اوداعتراض نه واريدل . همداوجه وه چي دکمونستانوټولنه پردروگونو برخوبعضي پلويانو اوخوشبينو (پلوخوښو) ، بيطرفانو اومخالفانو ويشلي وه . دوي ته لازمنوونه داوه چي دمخالفانوسره بايدمبارزه وشي ، خوشبينان خپل دي اوبيطرفان پخپله تسليميږي ولي چي دمقابلي توان نه لري .

داسلامي تحريک سره دخطراحساس موجود ؤ اودمجبوري له مخي عملاً لاس په کارشوترڅوداسلام دنواميسودفاع وکړي ، په پوهنتون کي ددي دومخالفوايډيولوژيو ترمنځ لفظي ناندرۍ (مشاجري) په عملي شخړوبدلي شوي ، په يوه غونډه ننجته کي سيدال (شعله ئي) مړشو ، خونورملگري ئي سخت ټپيان شول اودفقري په توردانجيري دپوهنځي دهغه وخت محصل گلبدين حکمتياراوڅوکسه ورسره نورملگري ئي ونيول اوبنديان کړه شول .

Ketabton.com

عبدالحمید محتاط چې د داؤدخان تر کودتا وروسته دده په کابینه کې د مخابراتو وزیر او د کمونستانو په دوره کې د ممیزئي (ستمیت) ناولي سیاست د پاره خرگند کار کاوه ، دوا کمني اوو خت نه په گته ئي هڅه وکړه چې د کمونستانو ملاتړ وکړي او د سیدال دوژني د فقري کمونست گلیون کونکي ئي هیوادپال بنودل ، د محمدې فقري پرتن گډون کونکي د اقتصاد د پوهنځي محصل (عصمت) نومې چې تر هغه دې وخت پورې ئي د واره په هندکي ژوند کاوه ، د لیکلي سپارښت پواسطه د محکمې په وړاندې ننگه وکړه . عصمت نومې په وروسته کې که څه هم د حرکت اسلامي د غړیتوب کارت ئي تر لاسه کړی ؤ ، مجاهدینو وپېژندی او په (۱۹۷۹) کال کې ئي د ایران په زاهدان کې ووژنې چې د حزب اسلامي درې تنه پرې تورن شول .

یو ځلي ببرك كارمل هم په ولسي جرگه کې د بسم الله شریفي نه د انکار په خاطر د سردار عبدالرشیدخان د پلخمري وکیل ، عبدالصمد نورزي د کندهار وکیل ، سدوخان د پکتیا وکیل او مولوي محمدنبي محمدي څو ادشورا په تالار کې ووهل شو ، او د همدې دورې د وکیلانو څو ایداسي حال کې چې کارمل د توبې اوزاریو چیغې وهلې روغتون ته یووړل شو ، وکیلانو د کمونستانو د پلي نه یوازې اناهیتاته چې منځه ره لاس وانه چاوه . سردار عبدالرشید به په لوړ آواز برغ کاوه چې " بچه سیدحبیب را بمانید " مگر مباغلی فرهنګ د وخته لادشورا د تالار نه غلي په وتلو بریالي شوی ؤ ، پدې هکله پاچا ځینو ته ویلي وه که دوی مړه هم رای شوروي به تردې نور سخت عکس العمل نه وای ښکاره کړی .

# د شفیق سیاست

په تیروخپرکوکي بیان شوي حالت اوددې وضعې نه دخلاصون په منظوردپاچادغوښتنې سره سم محمدموسی شفیق صدراعظم شوچې په یوغوڅ دریځ ئي لاس پورې کړاودبدلون په خاطرئي دروندسیاسي مسئولیت ته غاړه کښیښوده.
دشفیق نه دقاطعیت اوابتکارهیله کیدله، نوموړې دجرئت خاونلئ، دعربي نړۍدمشرانوسره ئي پیژندګلوي درلوده اولویدیځو هیوادوني ابتکارته داهمیت په سترګه کتل. نوموړی کله چې دبهرنیوچارو وزیروُ، بي بي سي خپل تبصره کې ئي دنوموړې سیاسي ابتکاراوسیاسي برتري دوخت پر دستاینې اوتوصیف تبصره وکړه چې پدې تبصره کې ئي دنوموړې سیاسي ابتکاراوسیاسي برتري دوخت پر صدراعظم ډاکټرمحمدظاهرخان هم لوړه وښودله.
شفیق شولسي خوئ اوخصلت خاوند ؤ، اسلامي سازمانو (اخوانیانو) هم پیژندئ اوباورئي پرې درلود، دده په لارښوونه په راډیوکابل کې پنځه وخته آذان پیل شو اودنوي ښاردښهرغلغلي شرابخانه ئي وتړله.
مناغلي شفیق دننه دیوې بالباته مسئولي اداري دراپیداکولوپه خاطرلمړۍدشورا انتخابات وځنډول اوپدې مفکوره ؤچې دګاونډیانوسره دصلح اوتفاهم ژونداودنوروهیوادونوسره بنې اړیکي دیوې باثباتي داخلي اداري دفرصت سبب ګرځي.
لمړئي پدی مهموتصمیمونولاس پورې کړئ:
۱ــ دهلمنددسیندداوبوپرویش دایران سره یوه تثبیت شوي ګنج اوتفاهم ته ورسیدئ چې داتفاهم اوباوردواړو هیوادونوپه ګټه ؤ.
۲ــ دپاکستان سره دموجوده نسبي آرامومناسباتونه په ګټه ئي هڅه وکړه چې دپښتنواوبلوڅومسئله دخبرواوسیاسي لاري حل کړي.
۳ــ په جرئت ئي دلویدیځوهیوادونوسره دښواړیکوپه پیداکولولاس پورې کړ اودابتکار لمړنۍ نتیجه داشوه چې دبرتانیې دحکومت لخواپاچا لندن ته دعوت شو.
۴ــ د (صنعتي پراختیائي) بانك په نامه ئي دیوبانك دجوړیدوطرحه وکړه، چې دامریکې، برتانیې، فرانسې اوجاپان په پانګه جوړشي. همدې هیوادونو دمرستې ژمنې هم وکړې.
خوبیاهم داټولي چارې هغه رخت پراخې دیوه بنست په بڼه وې چې دیوې شروع اوپیل په ډول منل کیدائ شوائ.

Ketabton.com

# د روسیې اندیښنې او اقدامات

روسیې او کمونستانو د هلمند د اوبو د ویش په بهانه د دولت او بالخصوص موسی شفیق په تخریب پیل وکړ ، موضوع هم حساسه وه ، پخواني دولتونه هم په دې لړکي په احتیاط چلیدل پدې مانا ، نه چې دیولوی ملي تاوان سره مخامخ شي ، دهریوه سړه تشویش موجود ؤ ، داوبو د ویش د موضوع تحلیل ساده کار نه ؤ ، د موضوع په واقعیت پوهیدل او د دریځ نیول مشکله ښکاریدل . مګر بیاهم پاچا د شفیق د دې اقدام ملاتړ کاوه ، و کیلان ئې راغوښتل او ور سره کتل ئې .

خو کینې اړخیانو دا موضوع تخریبوله ، په خپله ګټه به ئې د ناوړو تبلیغاتو نه کار اخیستئ او په هر ځای کي ئې منفي تعبیر تري ایستئ . یوه شپه په ناڅاپي ډول د خپل شهید دوست ښاغلي میرعلي احمد شامل د لید لو لپاره دده کورته ورغلم چې خلیل ابوي او ډاکټر عطا نورزائي د خونورو کسانو سره د همدې موضوع ( د هلمند د سیند د اوبو ) پر سر د ویش د هیئت غړی ښاغلي حبیب کرزی تر پوښتنو لاندې نیولئ او د خائن په نامه ئې باله .

د موسی شفیق هر ابتکار ته ځینو د پر حسادت په سترګه کتل ، یو افغان محور راته ویل چې داسړی (موسی شفیق) به ژر پاچا په یوه بلاکي وغورځوي ، په هغه وخت کي مي داخبره احساساتي و بلله مګر څرګنده شوه چې دې خبري یو اساس او بنیاد درلود .

روسیانو محمد موسی شفیق اخواني باله ، هغه ئې د خپلو ګټو په ضد بلئ او د پروپاګنډ په ډول ئې اسلامي نظام انګریزانو او امریکائیانو ته منسوباوه .

ډاکټر حجاریه (افغانستان بین دوابرقدرت) کتاب کي په ضمني ډول د روسیانو حمله او یرغل په منطقه کي د اخوانیانو د نفوذ او ډارله خاطره توجیه کوي . داکتاب د واقعیت نه لیرې او هدف ئې دافغانانو د ملي احساساتو په ضد دیوه نظرقایمول وه او پر بې بنیاده دلایلو لیکل شوی دی . دده نژدې ملګری ښاغلي ډاکټر یوسف خان هم ددې کتاب د خپریدلو مخالفت وکړ .

د موسی شفیق د عمل آزادي روسیانو نشوای زغملای ، روسیانو ته د اقدام وخت ؤ ، صبرکول د وخت ضایع وه ځکه چې پخوا هم د روسیانو لخوا زمور د هیواد په ګټه هر مثبت عمل په نطفه کي شنډیدئ . داقدام دپاره لاپخوا اټکل شوئ ؤ او دیونوي تحول دپاره تر هر چا مساعد سړی داؤدخان ؤ . لړی کالي وچې پاچاهي نظام ، هغه چې داؤدخان (فرتوت) وباله نسکور ، بدلون ته لاربرابره او د انقلاب په نامه د خپلو استعماري پروژو دپاره لارد هواره کړي . داتر ټولو لویه توطیه وه چې داؤدخان پخپله پکي دخیل ؤ او دده پواسطه روسیانو کولای شوای چې د خپلو شومو هدفونو په لورې لوی ګامونه واخلي .

روسیانو د نورو هیوادونه دا تجربه درلوده چې لړی پاچاهي نظام په جمهوري بدل او بیا د کاریګرانو د دیکتاتوری تر عنوان لاندې خپلې استعماري داړي ښخې کړي . ددې شوم پلان دپاره هراړخیزه مطالعه شوی وه ، پاچاهم دکورنه وتلی او په یوغیررسمي سفر بوخت ؤ . د ځینو سره حتی تراوسه داغلط ذهنیت موجود دی چې پاچا د کودتا نه خبر ؤ .

روسیانو خپل پلان د مهمو دولتي او امنیتي حساسو چوکیو لرونکو په مرسته په ډیر دقت سره محاسبه کړی ؤ چې د مهمو امنیتي کرسیو مسؤلان لکه د مصئونیت ملي رئیس جنرال اسمعیل ، د ملي دفاع د استخبرو رئیس جنرال عبدالقادر (د ګارد د قومندان ضیاء پلار) او د کورنیو چارو وزیر ډاکټر نعمت الله پژواک بې روله او بې خبره بایدنه وي . پدې کودتا کي د محاربوي قواوو (کودتاچیانو) نه د غیر محاربوي او مرستندویو قواوو اغیزه درنده او غوښته وه .

ډاکټر شرق د (کرباس پوشان برهنه پا) د کتاب په (۹۵) مخ کي د مصئونیت ملي د قلم مخصوص د مدیر محمد هاشم د اطلاعاتو ورکول او دده توجه او مراقبت د خپل پلان پشتوانه او اړم بللی دی . دیر باوري منبع د معلوماتو په حواله د مصئونیت ملي د ریاست ټولې خانګي د اطلاعاتو او خارې وظیفه لري مګر د قلم مخصوص څانګه ددې وظیفې نه د تشکیلاتو له مخي مستثنی ده او یوازې

Ketabton.com

تشریفاتي دنده لري . داطلاعاتو په سازمانو کي ورځني اجراآت دکارکونکو په منځ کي دیوال نه هم پټ وي ، نودډاکتر شرق داطلاعاتو چینه بایدډیره باخبره اومهمه وي چي دی‌ئي لوځول نه غواړي .

دملي دفاع په وزیرخان محمدخان باندي دروسیانو دلوړباور اوډاډلرولوګمان کیږي ، ښاغلي صباح الدین کشککي د (دوه‌ډیموکراسي) په نامه پخپل لیکل شوی کتاب کي هم ودې مطلب ته نسبتاً څرګنده اشاره کړیده .

ستر جنرال خان محمدخان هم دجنګابښ دکودتادبریالیتوب نه وروسته دبریکوټ دجیل دتحقیق په ترځ کي دکودتا نه دخبردرلودلو بیان وکړ اوکودتا ته رابلل شوی ډګرمن محمدنعیم ئي کودتاچیانوته په ګوته کړئ کوم چي دکودتا داطلاع دراپوررسره دمرکزي قوا ددرستیزوال جنرال عبدالولي لخوا وده ته ورلیږل شوئ ؤ ، مګرچادکودتا دمخنیوي اوشنډولو اقدام ونکړ . داچي کودتا بریالی شوې وه ، دستر جنرال له خوا یادشوی ډګرمن داورد بندنه صرفنظراووبخښل شو . ستر جنرال ترآخیره دکمونستانو دواکمنی په وخت کي هم خپل ژوندته په بي آزاره ډول په کابل کي دوام ورکړئ .

کارمل به په څرګنده دکودتانه خپله خبرتیا داسي ښکاره کوله : *اګرداؤدخان اقدام بکنند ، راه ما بسیار کوتاه میګردد .*

# *** دريم څپرکئ ***

## د داؤدخان دوهمه واکمني

### د چنګابښ (٢٦)

د (١٩٧٣) کال دچنګابښ پر (٢٥) نيټه دشپې لخوا داتمي فرقې ، دپنځلسمي اوخلرمي زغروري قواوو ، دکابل دبالاحصارد قومندودغونډو اودمرکزي قوادانضباط دټولي ځينومنصبدارانو اوهغه څوك چي کودتاته دعوت شوي‌وو ، ملي دفاع وزيرته درسنم ګذشت دمعاينې په نامه خپلي قطعې مسلح اوتيارسي‌کړې .

داؤدخان خپل کورپرصوفه دباندي ناآرامه اومضطرب دهغي مخابرې ددستګاه څنګ ته ناست ؤ چي دوه ورځي مخکي د پاچاګل وفادارلخوا ورته راوړل شوي‌وه . دکابل هوا آرامه اوښايسته وه ، آسمان شين اوستوري ځليدل ، داؤدخان وخپل ناظر حاجي بازمحمد منګل ته خطاب وکړ " *اګربچهايکدفعه شروع کنند موفقيت ازمااست...* " ساعت ته ئي وکتل دشپې (٢٤) بجي وې چي دقومندي لمړى فيشنګ دکابل په فضاکي وبړقيدل . عمليات پيل شول اوقطعات دهدفوپه لور وخوځيدل . هدفونه ونيول شول ، جنرالان دکورو راوايستل شوو ، دکابل تليفونونه قطعه شول . دکودتاعملياتوډيروخت ونه نيوئ اودسهار ترپنځوبجوپوري هرڅه ختم وو . دښار خلورلاري اشغال شوې ، داوردوقطعات تسليم شوي اوجنرالان دقديرنورستاني دقولي چکان په کورکي ترنظارت لاندي ونيول شول اونورمنصبداران دلاري نه نيول کيدل اودکابل په ژوبڼ کي اچول کيدل .

قطعاتومقاومت ونه کړ ، جنرالانوته فرصت ورنکړه شوچي خپلوقطعاتوته ځان ورسوي ، دجنرال عبدالولي دمرکزي قوا درستيزرال مقاومت دټينك ديوه فيرپواسطه مات کړل شو ، شاهي ګارډ قطعې دمقاومت په منظورمتقابل فيرونه کړل مګر ملکي حميرا دامقاومت بي ګټي وبلي‌اودتسليميدوهدايت ني ورکړئ .

سرجنرال دملي دفاع وزيرخان محمد اوډګرجنرال ارکان حرب لوي‌درستيزغلام فاروق مقاومت ونکړ . غلام فاروق خان بواځي دڅوکي‌نه ليري اوپه احتياط کي ونيول شو . داؤدخان چي په شخصي توګه ئي خان محمدخان سره نه کتئ نوڅه دپاسه دوه کاله ني په ډيره بي تابي په بريکوټ کي بنديرتيرکړئ ، اګړوه به ني ژړل اودخپل يوه دانه زوي‌احمدشاه دليريوالي نه به کړيدئ . دوزيردنيولودپاره دوظيفه دارکودتاچي له خولې چي وزير برعلاوه چي مقاومت ونکړ ، بلکه درااېستلوپه وخت کي دخپل دوزيراکبرخان ميني دکور وزيرخانې ته کوزشوئ ؤ . دکابل دښاوخوا اوولاياتوقطعاتوهم دکودتاسره خپل پيوستون ژر اعلان کړئ .

لدې کبله چي مقاومت نه ؤ ، داؤدخان خپله کودتا سپينه کودتا وبلله . دچنګابښ (٢٦) نيټه وه چي تر (٩) بجوپوري ټول عمليات ختم شول ، داؤدخان دتورنجنرال عبدالکريم مستغني په ملګرې کابل راډيوته دبياني دپاره ولاړ .

داؤدخان دراډيوله لاري دشاهي رژيم نسکوريدل ، دپارلمان ړنګيدل ، داساسي قانون الغا ، خپل جمهوريت اوواکمني ديوې نظامي شورا په راس کي اعلان کړه . ددې اعلان سره سم نظامي حکومت مسلط ، دديموکراسي تهفرتيول ، دمطبوعاتو اوبيان آزادي سلب شول ، ددرې ګوني درلې قوا واك يوه لاس کي راټوليدئ . نوي‌رژيم ترټولودغه ووسيانوديو تريکي ټيلګرام په ترڅ کي په رسميت وپيژندئ اودښو اړيکوهيله ني ښکي ځرګنده کړې وه .

Ketabton.com

جنرالان ځيني بندي او ځيني نور خوشي شول ، جنرال عبدالولي دارګ دکوټې په باغچه کي او مارشال شاولیخان دناروغی خاطر د اردو په (٤٠٠) بستر روغتون کي بستر او تر مراقبت لاندي ونیول شو ، مارشال چي د جنګابس به (٢٦) شپه د دیښمان دکوره راوړل شو ، تر آخیره ئي خپل معنویات دلاسه ورنکړه ، هر وخت چي به ئي بریتونه وخړیدل ، نو به ئي په ډیر زړورتیا به لاس راپورته کړل . دی چي د را وستلو په وخت کي پدي پوه شو چي دکودتا مشر داؤد دی ، نو ئي وويل چي *" داؤدیك چشمم وظاهر چشم دیګرم ... "* .

دداؤدخان دتعجب سبب شو چي اردو کي هیڅ مقاومت چا ونه کړ او بي خبري تر دي اندازي چي قطعات مسلح کیدل اماد قطعاتو قومندانان پري خبرنه وو .

داؤدخان چي داخلي هم ددفاع وزیر و ، یوه ورځ غرمه ناخاپه دملي دفاع دوزارت دډوډۍ خوړلو کوټې ته ننوت ، په اصطلاح داردو آمران او اوکانان اکثره هلته حاضر وو ، داؤدخان پسله روغبړه ودوی ته په خطاب کي وويل چي دوی د کودتا په مقابل کي هیڅ مقاومت ونکړئ ، که دابل څوك اویا یو بل دي هیوادوای نو به مو څه کولای ؟ ، ټوله چوپ پاتي شوله ، یو جنرال په آخیر کي دځان او نورو دخلاصون په خاطر بهانه راوړل چي ټول پوهیدل دا کودتا دداؤدخان لخوا ده ... داؤدخان دګنلیونه ډك لیدل کیدی ، خپل غضب ئي پټولای نشو ای ، دګرجنرال مرادعلي خان ته ئي پدي لمړي کتنه کي په کنایه ډوله توهین وویل *" بعد از ده سال مي بینم ات "* ، چي دا کنایه نورو جنرالانو هم ځانته راجع بلل .

Ketabton.com

# د نــوي دولت تــرکـيـب

دنوي دولت دوزيرانواو يانوروڵوړ رتبه ټاکنوسره ددولت ماهيت څرګندشو ، داځل داؤدخان هغه نه وُ چه چي خلګوتري هيله کوله . ددوی‌انقلابي شورا دمرکزي کميټې په نامه اوغړي ئي دمرکزي کميټې دملګروپه نامه يادېدل .
پدې کميټه کي ډاکټرحسن شرق ، غلام حيدررسولي ، قديرنورستاني ، فيض محمد ، جګړن مولاداد ، سرور نورستاني ، يوسف فراهي ، عبدل اله ، عبدالحميد محتاط ، پاچاګل وفادار ، ضياء اوغوث الدين فايق غړي وو چي داؤدخان ئي په سر کي ؤ اومرکزي کميټه ددولت ترټولو لوړاوديواکمني دولتي اورګان په حيث پيژندل کيدله .
نظرهم داؤ چي دا اورګان دي پدی بنه تر آخيره پاتې اودهيواد اداره دي په لاس کي ونيسي ، صلاحيت دي ددوی‌په منځ کي يووبل ته وارپه وار اويادلزوم په ډول انتقال شي ، اويا دنوروانکشافاتودپاره دي دداؤدخان ترمرګه پوري ځکه چي زوړاو سپين ږيرئ انتظاروايستل شي . دمرکزي کميټې ځينوغړوپه حکومت کي دوزارت پوستونه هم ونيول . پرجنرال اسمعيل د نوراحمداعتمادي ټولګيوال اودشاهي رژيم دمصئونيت ملي رئيس باندې هم دنوي رژيم باورراغلی اودهغه داطلاعاتودسازمان رئيس پاته شواوځينوئي په اردوکي لوړې څوکۍ ترلاسه کړې‌لکه غلام حيدررسولي دمرکزي قواووقومندان ، ضياء دګارډ قومندان ، يوسف فراهي اوسرورنورستاني دخپلوپخوانيومربوطه قطعاتو قومنداني ونيول . عبدالکريم مستغني خپله ترفيع چي په همدې کال دکودتا نه څوورځي وروسته ډګرجنرال شو ، دکلنۍ‌ترفيع په نامه اعلان کړه ، لوی درستيز وټاکل شو .
ډاکټرعبدالمجيد ، پوهاندعبدالقيوم وردګ ، باختري جيلاني ، پوهاند نظرمحمدسکندر (کاکانظر) اوډاکټرعبدالرحيم نوين که څه هم په کودتاکي ئي ګډون نه ؤ کړی ، مګرپه کابينه کي ونيول شول .
دشاهي رژيم دکورنيوچاروززيرددننګرهاردباغوانيواوسيدونکی دمغولي بابربقاياواوپه کام چغتائي ډاکټرنعمت الله پژواك دپوهني دوزيرپه توګه ، دپاره درياکټوال محمدخان جلالربيادسوداګری‌وزيرشواودملي مصئونيت رئيس کشميري الاصل سباغلی‌فرمان وخپلي دندې‌ته دپخواپه شان ادامه ورکړه .
ستري محکمې ته مولانا ابلاغ اوسعيدافغاني دوزارت په رتبه راوستل شول ، سعيدافغاني دپرچمي کمونست په نوم په پوهنتون کي شهرت درلود ، دمصرد (الازهر) دپوهنتون نه ئي ډاکټري راوړی اوپه کمونستي رژيم کي دتميزرئيس اوبيادااسلامي شئونو وزيرشو خوچي دمجاهدينودچريکي عملياتو (خيبرجنلټ) په لړکي په قتل ورسيدئ .
د (۷) ټولګۍ فارغ التحصيل وحيدعبدالله ( دلندن دسفارت کاتب ، دده په ادعاچي دکودتانه خبرؤ ، ياني لاس پکي درلود ، دداؤدخان دوزګاری‌په وخت کي ئي تلټ اوراتلټ ساتی ، چي داؤدخان ته داسي اړيکوپوره ارزش درلود) دبهرنيوچاروپه وزارت کي دلمړۍ‌درجې سړی شو ، پخپله داؤدخان دملي دفاع وزير ، دبهرنيوچاروزير ، صدراعظم اوددولت رئيس شو ، ډاکټرحسن شرق بياد داؤدخان څنګ ته ځای‌ونيوئ اودصدارت سرستيالي ئي واخيستله . دهمدې وخت نه ځينوته دحکومت ددې ډول ترکيب په هکله سوالونه پيدا وو .
دکودتاچيانودډلي نه دبالاحصاردقومندود اوپراسيون مديرتورن فيض محمدمسعود دکورنيوچاروزير ، عبدالله دماليې دوزارت کاتب دماليې وزير ، داستحکام جګتورن غوث الدين فايق دفوايدعامې وزير ، داردو دمخابرې لمړی‌بريدمن عبدالحميدمحتاط دمخابراتو وزيرلورن پاچاګل وفادار دسرحداتووزير اودترافيك لمړی‌خارن دخارندوی‌لوی‌قومندان وټاکل شول .
ددې ټاکنوپواسطه دولتي لوړومقاماتودروندوالی دلاسه ورکړئ ، ددوی‌لياقت اوسړيتوب پټ نه ووچي دولس اومامورينود حيرانتياسبب وګرځيد ، لکه انجنيرغوث الدين فايق ترکودتاڅوورځي مخکي په پل محمودخان کي ددويلړو تيلودخرڅلاوپه وخت کي دمرکزي قوا دانضباطانولخوا نيول شوئ ؤچي تحقيق ئي لاتراوسه دوام درلود .

Ketabton.com

# جمهوریت

دداؤدخان کودتاپه دننه اوبهرکي ډول ډول تعبيراومعنی‌شوه . په بهرکي که څه هم روسيي ته دداؤدخان تمايلات اوکړيدني پټې نه وی ، بياهم دافغانستان داخلي موضوع وبلل شوه ، په داخل کي دايوکورنۍ موضوع تعبيرشوه پدي سبب دلوی‌اوعمده بدلون هيله نه کيده مگرکمونستانولدي کبله چي خپل هدف ته يوگام نورهم ورنږدي شول ، دکودتائي ښه استقبال وکړاوهغه ئي انقلاب وباله .

پرچميانودانوی‌دولت دڅان باله ، نوراحمد نوردگونداو دولت يووالي په هرځای‌کي بيانـاوه ، خلقيانوکه څه هم په دولت کي مستقيم گـډون نـه درلـود مگرديوه پريکړه ليك په ترڅ کي ئي نوی‌دولت ترټولودمخه تائيدکړئ اوداتوضيحات ئي هم ورکړه چي داؤدخان دي د (وړي) د (٩) دبيانيي متن لمړی تـطبيق کـړي (داؤدخـان دوري د ٩ نيټي په بيانيـه کـي دخپـل دولـت اوحکومت کړنلاره په تفصيل سره بيان کړه ) .

په بـهرکـي تـرټـولـودمخه روسيانو نـوی‌دولـت پـه رسـمـيـت وپـيـژندئ ، ټيلگرافي تبريکي ئي داؤدخـان تـه راوليـرله چي دښو اړيـکـوهيله ئي هم پـکـښـي کړيـوه .

دعـمده بدلـون پـه جملـه کي بانـکـونـه ملي شـول ، شـاهي ارڼ پـه جمـهوري ارڼ ، شـاهي گـارډپـه جمهوري گارډتبديل شور اودداؤدخـان عـکس پرنـوو بانـکي نوټـونوبانـدي چاپ شو . دغبرگولي د (٦) نيټي دخپـلواکي‌دتـلـين جشن چي به د (وري) پـه لمړی‌نيټه نـيول کـيدئ هغه هـم دجـنگابن (٢٦) ته راواړول شو اوددي ورځې پـه وياړدقرغي دقشلي مخته دياد‌گارپـه توگه ديو توغندی څلي‌جوړشو ، داصلاح ورځپانه دجمهوريت بـه نامه ونومول شوه .

دبيرغ فورم اوډول هم بدل شو ، ملي سرودتبديل اودښاغلي عبدالرؤف بينوا داشعردملي سرودپـه توگه ومنل شو :

څوچي دامځکه آسمان وي

څوچي داجهـان ودان وي

څوچي پـاتـه يوافغان وي

تل به دا افغانسـتـان وي

........ الخ

دقومي تخلـصـونـومخ ونـيول شوو ، دسردارلقب له منځه ولاړ ، دولتي القاب اوعنوانونه لکه په عريضواورسمي ليکونوکي (ع ، ص ، ع ج ، ع ش ، ع ع ش ، و ج .... اوداسي نور ) به مروج وو هم نورله قلمه ولويدله .

نوي اصطلاحات چي ترهغه وخته پوري دولس غوږونه ورسره آشنا نه وو لکه (رهبر ، انقلاب ، مرکزي کميټه اوخوداسي نور) هم مروج شول . کودتاچيانوته دوی‌ترفيع ورکړل شوې اوهغه ځاچي دکودتا سگه ئي کړيوه هغوبـه يوه ترفـيع قناعت وکړ .

درشوت پرضد اعلانونه وشول اوځه عمليات هم دتازه دمه واکمنانوځوا ترسره شول ، خوکـمه بيچاره اوبي واسطي واړه رتبه مامورين بيگناه يـاگناهکار ونيول شول . منصبدارانواومامـورينودنوي رژيـم اوداؤدخان سره دوفاداری‌لوړه وکړه اوجنـرالانـودا داخـل بيا قـسـم وخـوړ .

پـه کابل کي دپـاچـاهي کورنی‌اوسردارعبدالولي سـاتل بـاچـاپـه روم کي استعفی ته مجبوره اواستعفی ئي راوليـرله ، داؤدخان نه ئي دوررخـطـاب وکړاودده دبريالیتوب ديـاره ئي هيله وکړه . دااستعفی ژربـه ورځـپانـوکي چاپ شـوه اوپـاچـاهي کورنۍ ته دتلو

Ketabton.com

احازه ورکړل شوه ، دشپې لخوا په ډیره چټکتیا په دولتي مطبعه کې جمهوري پاسپورتونه جوړ ، دکابل دقومندانۍ لخوا اجرااودتلو لپاره پروګرام اوتیاري ونیول شو .

دکابل په نړیوال هوائي ډګرکې الوتکه چمتووه ، پاچاهي کورنۍ ترفوق العاده امنیتي ترتیباتولاندې هوائي میدان ته بوتلل شوه ، پاسپورتونه ئې کنټرول اودکابل دخارندوی دقومندان پاچا سربازیه امرئې بکسونه اوځانونه په ډیره بې حرمتي تلاشي شول .

دشاهي کورنۍ دمنځوپه ځانوکي وکتل شواوڅه چې ئې درلودل ترې واخیستل شول ، دیوې انجلۍ ترکمبس لاندې یو لاکټ هم ترې وایستل شو ، هغې ورته په ډیره بې وسۍ عرض وکړچې دائې خپل دی خوچاونه منل ، وائې هغه وخت چې دا کیسه داؤدخان واوریدله ، نوډیرمتأثره شو .

داؤدخان دپاچا اوده دکورنۍ دپاره (۵۰۰۰) ډالره میاشتني معاش وټاکۀ چې دامعاش دځوان جمهوریت دوزیرانودمخالفت سره مخامخ شواودپاچا دتقاعد استحقاق ئې نه منۍ ، دوزیرانوپه غونډه کې عبدالحمید محتاط دمخابراتو وزیرپدې هکله داسې استدلال کاوه : که پاچا مستحق اوبه سړیوې باید بیرته راوغوښتل شي اوکه نه وي ، دامعاش ئې هم بې مورده دی .

داؤدخان ته معلومات وُچې پاچا اړاوغریب دی .

کوم وخت چې پاچا دلړې ځل دپاره په روم (ایټالیا) کې دکابل دکودتا نه خبرشو ، ترټولو لمړی دخپل سفرخرڅ دپیسوپه تلاښ کې شوکوم چې په پاریس کې ئې دافغان سفارت دلاري حواله کړې وې مګردنوې رژیم دډاره دپاریس سفیر عبدالغفور روان فرهادي ده ته دپیسوورکولونه ډډه وکړه ، نوپدې وسیله هغه ټولي ددروغــوآوازې ردیږې ، خوك چې دپاچا دشتمنۍ خبرې کوي . پاچا خپل اوسنی ژوندهم یواځې دسعودي دپاچاهي کورنۍ په مرسته تامینوي اوژوند ئې په اوروپا کې نورو داسې پاچهانود ژوند سره توپیر لري .

دپاچا داستعفی سره نور داؤدخان بې غمه اوخپل کارته متوجه شو .

# په نوي حکومت کې ټاکنې

دنوي رژيم دراتللوسره نوي څيرې په ماموريت کې پيدا اوراڅرګندې شوې چې ترانداز زياتې غيرمستحق اودتعجب وړوې مثلاً مولوي عبدالعزيزچې خلګو (وهابي) بللې مګردې خلقي ؤ ، دعدليې وزارت په جمعيت العلماکې وټاکل شو ، نوموړي دحفيظ الله امين سره ترکودتاګانومخکې تلل اوراتلل درلود ، دې دتره کې په وخت کې دهمدې رياست رئيس شو اوهمده دمجاهدينودواجب القتل اومباح الدم فتوې صادره کړه .

يوشميرخارندويان چې په کمونستانومشهوره وو ، که څه هم کودتا کې ئې سيخ ګهون نه درلوداختياراو واکداري ترلاسه کړه لکه غلام فاروق يعقوبي ، قطره ، جليل نورستاني ، صمد ازهر ، محمدنبي ، عبدالله همکار ، باقي ، اوډنورچې دخلګوپه ټکولوکې ئې لوې لاس درلود ، دوې کمونستې اوګوډاګې رژيم کې نورهم لوړشول . جليل نورستانی د خاديه وزرت کې دډاکټرنجيب مرستيال ، يعقوبي دخادوزارت ، صمد سفارت ، باقي دپيژندمدبردکارمل دانقلابي شورا مرستيالي ته ورسيدل .

قديرنورستاني هم دپوليسودخاص صلاحيت غوښتونکې ؤ ، دخارندوې تشکيل ئې ډيرپراخه کړچې يعقوبي اوصمد هم په هغه وخت کې دپوليسودجنرالې پُست نيولې ؤ . ملک اوسناتورحاجي محمدځمکنې د (ملکي) نه دکړونولوې ولسوال شو ، ځمکنې دامين اوتره کې په وخت کې دهوټلودرياست مشراودډاکټرنجيب دجمهوري رياست په دوران کې دکارمل پرځای دانقلابي شورا رئيس وټاکل شو ، دګلابزوې ورور خان محمدځدراڼ دبانک دکتابت نه دتورخم دګمرک مديرشو .

بيت الله پيلوټ داوروزګان والي ، عبدالمحمدشيرزوې دزابل والي ، عبدالمحمدشينوارې دنيمروز والي ، حاجي محمدآصف پاس يوسفي دبغلان والي ، عزيزالله واصفي دننګرهاروالي ، عبدالرزاق عابدي دکندوزوالي ، سيدداؤدهاشمي دفراه والي ، ډاکترمحمودحبيبي دکابل والي اوپوهاندفضل ربي پژواک دهلمندوالي وټاکل شول . دټاکنې هم لکه نورې ټاکنې مامورين ئې ياپرچميان وو اوياپرچميانوته دمنلوړ وو .

ددې ډلې ځينې کسان لکه پاس يوسفي اوډاکټرحبيبي دبيطرفانوترنامه لاندې کله دکارمل په پدروطن جبهه کې اوکله دډاکټرنجيب دملي روغې اوجوړې دتوطيئې مرستندوئ وو .

دداؤدخان دپخوانيو ملګرونه څا چې دده سره تلل اوراتلل ساتلې ؤ لکه ډاکټرمحمدآصف سهيل دجمهوريت دورځپاڼې مدير شوچې دی دې پست نه خوشحاله نه ؤ مګردځان دخوشحالې لپاره ئې ځان دالاهرام دمجلې دمديرحسن هيکل سره مقايسه کاوه اوويل به ئې چې دې هغسې رول لرې څنګه چې هيکل دمصرجمهوررئيس جمال عبدالناصرته درلود .

دنوروټاکنوپه ترڅ کې جنرال آصف سيلوبيا دسيلومشروټاکل شو ، عبدالله وردګ دننګرهاروالې شواوجنرال محمدنعيم وزيرې دکندهاردکل اردو لوی قوماندان شو . خوددداؤدخان داملګرې ژرناراضې شول ، کارئې ترک کړئ اوياد کار پريښودلوته مجبوره کړل شول .

ددې ټاکنوپه ترڅ کې دمشهوروپرچميانوديلرونو تقاعد اعاده اوپه ترفيع سره په لوړوکرسيوکې وټاکل شول لکه جنرال محمدحسين خان دبيرک ببلار دګرجنرال اودپکتيا دکل اردولوی قوماندان ، دصمدازهرپلار عبدالکريم عمرخيل دپروان والي اودډاکټرنجيب دپلار اخترمحمد تقاعد اعاده اوپيسوروکې وکيل تجاروټاکل شو .

دپخوانې پاليسۍ اوسياست پربنا دخلقيانو فراکسيون دمادا ورځې لپاره دحکومت نه لېرې وساتل شو اودهمو په پراځې صاحب جان صحرائي دکنړ دولايت دقبايلو مديرشو

Ketabton.com

# د دولت کورنی سیاست

دځوان جمهوریت سیاست پراختناق اوپولیسي نظام باندي ولاړ ؤ ، دجمهوریت مخالفت اوپرهغه انتقادجرم بلل کیدئ اوسخته سزا ئي درلوده ، دجمهوریت دمخالفت په نامه ډیرکسان وتړکول ، متقاعد ، له کاره لیري اوځیني بندیان شول ، دجرم ثبوت هم یکارنه ؤ .

دجمهوریت نه دمخالفت ترعنوان لاندي دخاني اوروحانیت په ضد هم مبارزه پیل شوه ، هرخوك ډاریدل ، دسراسري اوپراخي اندیښني واك ؤ . حاجي عبدالوهاب دننگرهاردحصارك وکیل راته ویل چي " *غواړي کوم ځای ځان په غلاپازناتورن کړي چي بندي شي ، ترڅودجمهوریت دمخالفت دجرم داتهام نه چي ډیرډارلري ، پدي وسیله ځان بچ کړي* " .

کشف الحال رواج اوددي امردتطبیق لپاره ولسوالیوته دکورنیوچارو وزیرفیض محمد متحدالمال لیکونه ولیږل شوچي دجمهوریت مخالفین په گوته کړي اووالیانوته به ئي دا پیه ډاگه ویل چي " *کوټك پسي راواخلئ* .... " .عمومي پالیسي داوه چي ولس وتړکول شي اوغروررئي مات شي .

مولانافیضاني دهرات اوسیدونکي په کام کاکړ دمریدانوسره ددهشت اچولوپه نامه ونیول اوغیرحق دنظامي محکمي لخوا په شل کاله بندمحکوم شو ، دی ترهغه وخته بندي ؤچي دامین رژیم پرراورسیدی اودخپلومریدانوسره ئي یوځای شهید کړئ . مولاناپه پښتواوفارسي ژبه ویندوی اولیکوال ؤ ، دنامتوتالیفاتوڅخه ئي (نړی داسلام په تلیسکوپ کي) نومیدئ چي کمونیزم ئي رسوا کاوه اود خشتي پله په مشهوره مظاهره کي ئي گډون درلود .

(ع) وائي :

دکورنیوچارو وزیرفیض محمد دلیدوپاره دده دقلم مخصوص په دفترکي منتظرناست وم ، دقلم مخصوص مدیردپیخواني پیژندگلوی له مخي هغه وخت چي دوزیردکاردکوټي نه راووت ، یویادداشت ئي دلوستلوپاره راته ونیوی چي دهغه یادداشت متن دا ؤ :

" *جلالتماب وزیرصاحب جوان وقهرمان !*

*لحظه ای که حیات خویش وفامیلت راجهت رفاه وفلاح مردمت بخطرانداختید ، انقلاب اوردید ، اکنون که ازآغازانقلاب شکوهمندروزها گذشت وماهاسپري گردید ، نظام تغیریافت ، مگرپروزه های فرسوده رژیم سابقه هنوزهم بجای خویش باقیمانده ازان جمله میتوان نام والی کابل غلام علي آئین رابرد ، شخصی امریکائي وضدجمهوریت است* . "

ترپورټ لاندي فیض محمد داسي یادداشت کړی ؤ :

" *ملاحظه شد !*

*به مجرداصول این مکتوب والی کابل اقای غلام علي آئین ترك وظیفه نماینده ، امورولایت راعاجلتاً ازطرف مستوفي وارسي شود .*

*فیض محمد وزیر* "

راپورنه نوم درلوداونه آدرس ، نورغوربیکي ونه شو ، دجمهوریت دمخالفت په نامه نن راپورهم کافي وبلل اووالي لیري شو . گرچي دوالیانومقرري دوزیرانوپه غونډه پوري اړه لرله ، مگرپدي برخه کي نه دوزیرانودغونډي تصویب پروت ؤاونه ددولت د رئیس موافقه . داداسي راپورونه وو چي بخپله دیرجمهورلخوا ورکول کیدل ، یواوبل ته به ئي پاس ورکاوه اوبخپله ورکړئ راپوربه ئي دمسندبه توگه مني . دمیاغلي آئین دجمهوریت سره مخالفت چاندی لیدلی ، حتی نوموړي خپل د (تخنیك در خدمت بشر) کتاب د (اهدابه جمهوریت) به نامه چاپ کړی اودتحصیل به وخت کي دچپي تمایلاتودرلودلوپه خاطرخه وخت بندهم لیدلی ؤ .

Ketabton.com

# د کمونستانو پراخه فعالیت

داؤدخان په نوي دولت اویادده په اصطلاح په ځوان جمهوریت کي کمونستانو وخت ضایع نکړ ، دلړي سرنه ئي په پراخه پیمانه خپل فعالیت پیل کړ چي داؤدخان تجریداو نور منفور کړي ، ولس وتڅکوي ، خپل ګوندي ملګري په هرځای کي ځای پرځای کړي ، مسلمان او وطنپال مامورین تقاعد او بدنامه کړي او تر ولسوالیو پوري خپله واکداري او نفوذ وغځوي .

ددي پروژي دعملي کولو دپاره دپوهني وزیر ډاکټر نعمت الله پژواك د (۸۰) کسانو پر ځمي سنوونکو لست دکورنیو چارو وزیر فیض محمدته دولسوالانو په توګه دمقرري په منظور ولیږی ، داغیر مسلکي او بي تجربه سنوونکي ولسوالان شول او د دولت وروستنۍ مهرې (ګوډۍ) هم کمونستانو ونیولي .

دي ولسوالانو په هره سویه او هره بڼه دولس په ځکولو پیل وکړ چي دهغي ډلي نه دهلمند دنوزاد دولسوالۍ دولسوال دظلم او بي ناموسۍ له لاسه یوه تن په رڼا ورځ ددارالامان په ماڼۍ کي دعدلیي وزیر ددفتر مخ ته انتحار او ځان ته ئي اور واچاوه .

دکمونستانو ناخوښه مامورینو ته هم درشوت په نامه دسیسي جوړي شوي ، دکابل دخارندوی قوماندان پاچا سرباز دسنوونځیو په تلاشي پیل وکړ ، دشاګردانو سرونه به ئي خریل حتی دیونفر سیك اوپوهنتون سرتي هم وروخرایه .

ددولتي موټرانو نه دناوړي ګټي اخیستلو دمخنیوي په نامه به دمامورینو واړه او ماشومان پرسړك باندي دموټرنه کوزکړل شول او داسي نور او نور کارونه روان وو .

ځوان جمهوریت دفابریکو او شرکتونو تفتیش او پلټلو ته هم لاس واچاوه ، دبلخ دولایت ځوغني شرکتونه ئي داختلاس او دمالي نه دتیښتي په تور تر باقبداری لاندي کړل او ډیرو ورونه ئي په وتړل . دکندوز دسپین زر شرکت مشر محمد سرور ناشرئي درژیم سره دمخالفت په تورچي خپل شرکت او شتمنۍ ته ئي اوراچولی دی ، دنوي رژیم په لمړي کال کي ونیوئ ، شرکت ډیرمالي زیان ولید او ناشر په اوه کاله بند محکوم شو . ځینو دناشر سره دداؤدخان شخصي مخالفت په همدی نورکي اغیز من باله ، کله چي ئي داؤدخان ته دوزګاری په شپږاوورځوکي دشرکت دهوټل په هغه خاصه کوټه کي چي دپاچا محمدظاهرشاه دپاره وه دشپي دتیرولو اجازه ورکړی نه وه .

خلقي رژیم راورسید ، دناشر سره بخت ملګري وکړه ، دده دقلم مخصوص دپخواني مدیر عبدالله امین په مرسته دجیل نه خوشي او بهرته ئي دتلو لپاره پاسپورټ هم ورکړ .

د (۱۹۷۶) کال دسلواغي په میاشت کي جنرال میراحمدشاه هم په حقیقت کي وجنرال رسولي لوی درستیز ته داطاعت نه کولو کبله درژیم دمخالفت او دکودتا دپلان په تورونیول شو ، بي ډرته په بندمحکوم شو تر څو خلقي رژیم پرراورسیدا و شهید ئي کړ .

Ketabton.com

# خطرناکه لوبي

داؤدخان سیاسي نزاکتونواودهغوحساسیت ته متوجه اوبدي پوهیدئ ، نولدي کبله ئي دبهرنیوچارود وزارت وظیفه هم ځان ته واخیستله اوپه عمده مسایلوکي ئي دخپل ورور پښتواني دیپلومات سردارمحمدنعیم خان سره مشوره اومرسته به ئي تري غوښتله .

دداؤدخان مشکل هم دا ؤچي دده په اصطلاح هلکانو (بچه ها) نورډده خولي ته نه کتل ،هریوه ځان کودتاچي بلئ اوده ته ئي هم یواځي دکودتادیوه ملګري په سترګه کتل . دسقاو پاچاهي وه ، هریوه به ویل : " *یك دزدمن ویکی هم حبیب الله بود ، حبیب الله ازماچه برتری دارد ....؟* " .حبیب الله په ارګ کي ناست ؤ ، دکابل دامنیي قومندان ملك محسن دقاضي عبدالرحمن نه په ژوندوني پوستکئ وایست .

دهرکودتاچي خپله خوبنه وه ، هغه به ئي کوله څه چي ئي زړه غوښتل ، ددوی‌اعمال داؤدخان ته دتشویش وړ اودسرخوږ وو . دسقاو دزوی‌دنامه دیادولوسره سم مي دښاغلي ډاکټرحق شناس ددسیسوکتاب چي په نیته (١٣٦٣) کي دهغوترنظرلاندي چاپ شوچي تل ئي دافغانستان فرهنګي اوتاریخي افتخاراتوته دحرص په سترګه کتلي دي ، راپه زړه شو . نوموړي پخپل کتاب دوهم چاپ (١٣٩) مخ کي هراړخیزه هڅه کړي چي دسقاو دزوی غلاته هم ملي بنه ورکړي اوپدي ډول تري یوبل شیرینجشیرجوړکړي . داچي نوموړی دپیښوردسماوار ددوکان نه ترکوهدامن پوري ګام په ګام دانګریزي ملایانولخوا تعقیبیدئ اوداعلیحضرت امان الله خان په مقابل کي لمسول کیدئ ، په شعوري ډول دواقعیت په خلاف په ډیره ساده ګي اوبي تفاوتي لیکنه کړیده .[دښاغلي میرغلام محمدغبارد افغانستان درمسیرتاریخ کتاب (٨١٧ ، ٨١٦ مخونوکي) کي ددي موضوع په هکله دواقعیت پربنابیان بل ډول دئ]

دحق شناس دکتاب دهمدي مخ په حواله دکلکان دمسلمانوخلګودغلا وړاندیزد سقاودزوی دپاره دده دپخواني عادت اوسابقي نه لیري اوبي ربطه نه وه . لکه چي ډاکټرحق شناس هم لیکلي دي :

" *یگانه راه پیشبرد زندگی نان همان بسته کردن داره ودزدی است.* " دلته د (همان) کلمه دده پخواني حرفي اوکسب ته اشاره ده . ددي کتاب مؤلف ډاکټرحق شناس هڅه کړیده چي دده په اصطلاح کلکاني دانګریزانومخالف وښیي . پداسي حال کي چي انګریزانود اعلیحضرت امان الله خان نه دخپلواکي‌دګټلوپه مقابل کي دغچ په غرض اودهغه دآزادی دمبارزانوسره دمرستي کولو نه بچي مرکزئي په کابل کي ؤ اودده لخوا ئي تنګه کیدله . سقاو پیداکړ ، لوی‌ئي کړئ ، داسماوارچي ئي کلکان ته وروليږئ اوامان الله خان ئي په بوه غله وراهه

دکابل دسپین ږیروبه اوس هم بیادوي چي دشهرارا په سیمه کي کله چي سقاودولتي قواووسره په جنګ کي ټپي شو ، نوډیر ژر دانګریزانوسفارت په (برکي) کي دسقاوخدمت ته ورسیدئ ، دخپل سفارت په روغتون کي ئي دخپل معالج ډاکټرلخوا تداوي اودرمل په ؤکړل ، ژرئي بیرته پرملاوتیاوه اوجګړي ته ئي راولیږئ .

دحق شناس نه دحق هیله داوه چي دي مطلب ته ئي د " *سپاهي بر حریرسلطنت* " پرځای " *سارق برحریرسلطنت* " عنوان ورکړی‌وای

په هرصورت چې داصلي مطلب نه لیري نه شم ، غواړم خپل مطلب ته راوګرځم اودکمونستو کودتاچیانودبې مسئولیتی ځینې مثالونه راوړم :

هوائي ډګروال عبدالوسع دشمالي د (بولقین) اوسیدونکی چې دنیمروزسرحدي قومندان مقررشوی ؤ ، دنیمروزد چهاربرجك په سیمه کې ئې په خرګنده ډول دایران پرخاوره تعرض وکړاوغوښتل ئې چې پدې حمله کې دایران یوه ټوټه خاوره تصرف ، ددواړوهیوادو ترمنځ په بین المللي سویه په رسمیانو پیژندل شوی سرحدله منځه یوسې اونوي سرحدي کرښې منځ ته راوړي . ایراني ژاندارمري اخطارورکړ اودی ئې دده عمل ته متوجه کړئ ، مګرډګروال کله حاضرؤچې دا واوري اودا ئې شعار ؤ چې په ایران کې هم همداډول انقلاب رامنځ ته کړي لکه چې په افغانستان کې ئې کړی ؤ ، ایراني سرحدي قواچې په کمین کې وه ، برید ئې پرې وکړاوډیر بې ګناه افغاني عسکرئې په شهادت ورسول ، ترډیره وخته ایران حاضرنه ؤ چې دافغاني عسکرو مړي بیرته ورکړي . افغان دولت ته مشکل ؤچې بهرنیانوته هم کودتاچي عبدالواسع معرفي او ورو پیژني .

بل مثال : د (۱۹۷۵) کال ددارلامان دبرخې په لوی نظامي مانورکې چې خارجي نندارچیان هم حاضروو ، جنرال رسولي دډګرجنرال مستغني داخبره رد کړه چې افغان اردو دصلحې آردودی اوفقط دهیوادنه ددفاع وظیفه لري ، رسولي په ډاګه په میکروفون کې وویل چې دا اردوبه دپښتونستان خپلواکي اخلې اوهرډول حملې ته تیاری لري .

# د ارګ لـغ عکسـونـه

دروسیانویه فکرنوی رژیم لا نــه ټینګ شوی نه و ، دپاچـانه ئي لااندیښنه درلوده ، ډیــرېـدي فکروو چي بیله پـاچـابل څوك ددي ملك اداره نشي کولای اوپـاچـادخدای‌سپوری بلل کیدی . نولدي کبله روسـیـانودپاچاپه شخصـي تخریب اوبـدنـامـولـو لاس پوري کړ اوډده پرضدئي هم یوه بله توطئه جوړه کړه .

دجهوریت نه ایله څوورځي اوباڅو اوني‌تیري وي چي دکـابل نړیوال هوائي ډګرته دآریاناهوائي شرکت پواسطه دبهرنه دشاهي ارګ پـه نـامه څوتـړلي صـندوقـونـه راورسـیدل . که څه هم پـه ارګ کي څـوك نـه و ، مګرداسي ښـودل کیدل چي دا صندوقونه دپـخواني سپارښتنې پـه اساس دي چي دااوس راورسیدل .

کـودتـا تـازه عـملي شـوی‌اونـظامي حکومت جاري و ، دي صـنـدوقـونـودپولیـسـوپام وروااړاوه ، سمدلاسه ئي دصندوقونوپه خلاصیدو اوتلاشي پیل وکړ . صندوقونه دډیرو لوڅوشهواني اوسکسي لوڅوعکسـونو نه ډك وو چي دلوبو دقـطـعو پـه بـڼه جوړ شوي وو . تحقیق پیل اوموضوع هرپـلوخپره شوه ، هرچا چي به دا لوڅ عکسونه لیدل ، نـوطـبـعـاًبـه ئـي پـاچـاتـه پـه بـدو ویـلوشـــروع وکـــړه .

دیوبندل عکسونوقیمت دهغه وخت پـه توربازارکي (٥٠٠) افغانی نرخ وآخیسـتـل شـوچـي پـدي حساب دټـولـوعکسـونـوقیمت (٧) ملیونو افـغانیوته رسیدی ، البته دانرخ دتوربازار پـه نامه اټکلي ډول درلـود ولي چي زموږپـه هـیـوادکـي تـرهغه وخته پوري د لوڅـوعـکـسـونـو قـاچـاق دود نـه و . ورسره جوړکړی بیل اوبیجك داسـي ښـودل چي عکسـونه پـه ارګ کي دحضوردپیش خدمت محمدرحیم خـان پـه سـپـارش دي .

ارګ تـش اوخـالي و ، محمدرحیم پـنـجـشـیـری هـم دپاچـادورسـتي سـفرملګری‌و چي دجنګاښ دکودتاپـه راتلوسره دي‌هـم دپاچـا سره پـه روم (ایټالیا) کي پـاتـه شو . دنوي رژیم کارکونکودمحمدرحـیـم خـان زوی عبدالله نومي ته لاس واچاوه ، هغه ئي بندي اوتحقیق ئي تري پیل کړی .

دپـاچـااوډده دکـورنـۍ دپـاره دا لـویـه تـوطـئـه اوتخریـب و ، روسـیان پـدي پـوه وو چـي افغان ټـولنه دداسي اعمالوپـه مقابل کي ډیره حـساسه ده ، لکه چي انګریزانو وکولای‌شـوای دمـلـکـي ثـریا دلوڅ مخي عکس پـواسطه داعلیحضرت امان الله خان پـه مقابل پـه کال (١٩٢٩) کـي ولـس راوپـاروي .

دلوڅوعکسونو خرڅلاو اورانیول پـه اروپـائي بازاروکي ساده بـڼـه لري ، هریوچي عمرئي (١٨) کالوته رسـیدلی‌وي ، دارانیولای اوخرڅولای‌شي . دخرڅونکي هم خـیـلي پـیـسي پـکاردي ، دبل څه سره علاقه نه لري اوحتی پـه لیږلوکي ئي هم مرسته کـوي .

پـه (١٩٨١) کـال کي روسـیـانودکارمل اوروسي نیغ یرغل پـه وخت کي هم دعین نسخي نه دیوه امریکائي دیـپـلومات دبدنامولو دپـاره کـاروا‌خیست ، هـغـه ئي پـه بازارکي دلوڅوعکسونوپـه خرڅولـو تـورن کړی اوپـه (٤٨) ساعته کي ئي دکـابـل نـه دهغه وتل وغوښتل .

دارګ دلوڅوعـکـسـودمـوضـوع تحقیق څـه وخـت دوام ومـونـد ، دثبوت لپـاره اسنادپلاس ورنغلل اودداؤدخان دکورنۍدحیثیت مـوضـوع هم پکي وه ، نوډده پـه امر ددي فـقـري ددوام اومحـکـمـي تـه دلیـږلونـه صـرفـنـظـروشـو اودمـحـمـدرحـیـم خـان بیشخدمته زوی هم دبـنـدنـه خـوشـي شـو .

Ketabton.com

# د میوندوال کودتا

کمونستان و محمدهاشم میوندوال ته سخت متوجه وو ، دچنگاښ دکودتانه دوه میاشتې وروسته ، څرنګه چې په هغه وخت کې روسي مزدوران رویکارشوي اوپه تېره بیا په امنیتي څانګوکې ځای پرځای شوي وو ، دمیوندوال لمړۍ اپوراوځارنه ئې د مصئونیت ملي (جنرال اسمعیل خان) لخوا ترتیب اوصمدازهردتحقیق په جریان کې ووزې .
دکودتالمړۍ ورځې وې چې دمیوندوال کورپه اکبرخان مینه کې تر یتې ځارني لاندې ونیول شو ، دنوموړي دې ځارنې اوتعقیب ته پام اودخپلې اندیښنې نه ئې سردارمحمدنعیم خان ته چې څوکاله ئې نږدې همکاره ؤشکایت وکړ ، خوګټه ئې ونه کړه ، ځارني هم ډیروخت ونه نیوئ اود ورې پر (٢٩) کال (١٩٧٣) دکودتا په تورونیول شو ، دکودتاخبردلوی درستیز دپخواني مرستیال خان محمدخان په ګډون اودیوخارجي هیوادپه مرسته دکابل راډیوله لارې خپورشو ، البته چې خارجي هیواد دلته بیاامریکا ګڼل کېدله .
پدې توطئه کې چې اسناداوشواهد ئې په غیردیوه جعلي راپورنه نورڅه نه ؤ ، مخوروا وشتمنوکسانو ، پخوانیو اوپا برحاله لوړرتبه داردومنصبدارانوته هم ګډون ورکړه شوی وو ، پوطیه پراخه وه ، دډیروکسانودنیولواو راکښولوګنجایش ئې درلود . چې دیوې خوا کمونست مخالفین اوملي کسان وتپکوي اوبل پلودحکومت زور اووحشت ښکاره کړي .
په توطئه کې داردو نه پرمرستیال خان محمد سربېره چې دداؤدخان نږدې ملګری اوحتی دچنګاښ پر (٢٦) ئې دملي دفاع دوزارت اداره دده پرغاړه ورکړې وه ، جنرال ګلبهارخان اوډګرجنرال عبدالرزاق دهوائي مدافع پخواني لوی قومندانان ، تورن جنرال نیک محمدسهاک ، تورن جنرال محمدرحیم ناصري ، دبریدجنرال عبدالحکیم کتوازي دوه ورونه (څرنګه چې دځارندوی پخوانی قومندان بریدجنرال عبدالحکیم کتوازی دکودتا په وخت کې د ٧ فرقې قومندان ؤ ، دنورو جنرالانوخلاف یواځې دپرچمي ځارندویانودعقدې اومخالفت په اثرلاپخوابندي شوئ ؤ اودمیوندوال دکودتا تورنشوائ پرې لګیدلای نوئې دده دوه ورونه په ه مدې تورونیول) ، ډګروال زرغون شاه چې په مامازرغون شاه مشهوره ؤ ، ډګروال سیدامیردهوائي اومدافع هوائي لوی قومندان ، جنرال عبدالسلام ملکیار ، ډګروال کوهاټ خان ، محمداکرم دهوائي زواك ډګروال او جګړن محمدهاشم کاموال دولسي جرګې وکیلان لکه حاجي الله نظر هزاره دکوچې ، مولوي سیف الرحمن شینواری دشینواروکیل اوسعدالله کماني د مومندرې وکیل ، جنت خان غروال دپښتني تجارتي بانك رئیس ، حاجي الله ګل او دده ورور مولاګل هودخیل ، حاجي حنان ځاځی ، محمدعارف ریکشاچي دپېښورشینواریؤ اوپه کابل کې ئې تجارت درلود ، څه کسان نورهم ووچې نومونه ئې اوس په لاس کې نشته اوټوله پښتانه وو ، پدې توطئه کې راښکېل کړل شول .
ددې ډلې نه ډګروال سیدامیر ، محمداکرم ډګروال اوجګړن محمدهاشم کاموال په امریکاکې تحصیل کړیؤ . ډګروال سیدامیرکه څه هم دداؤدخان په کودتاکې ګډون درلود اودوه ترفیع ئې اخیستې وې ، په روسیه کې ئې هم دهوائي روزنې دیاره وخت تیر کړیؤ چې روسیانوبنه نه لیدئ .
داؤدخان هم باور وکړچې محمدهاشم میوندوال دیوسرحدي کم عمره عارف ریکشاوان سره دکودتا بندوبست کړیدی .
دتحقیق دهیئت په نامه دپخوانه پېژندل شوي بدنامه پرچمي ځارندویان لکه صمد ازهر ، نصرالله عمرخیل ، فاروق یعقوبي ، نبي دپولیسوداکاډمۍ قومندان ، علام رسول اثمر ، باقي ، عبدالله همکاراوقطره وټاکل شول . دتحقیق هیئت یولوی ګروپ ؤ چې نورغړي ئې هم درلودل مګراداره دپورتنیو کسانوپه لاس کې وه اوهدایت دکورنیوچارو دوزیراودځارندوی اوژاندارم دلوی قومندان قدیرلخوا ورکول کیدل . تحقیق پیل شو ، نوم ئې تحقیق ؤمګرپه اصل کې دشکنجې ، عذاب ، بې څوبۍ ، توهین اوهرډول بې عزتۍ نه یکې کاراخیستل کېدی .

Ketabton.com

کله چي به هواتیاره اولرولوید ، نوانسان نځي ځاوربه دبي دفاع انسانانوپه ځان حواله شول ، دتحقیق ځای‌اویاد شکنجي محل دکورنیو چارو دوزارت زیرخاني تهاکـلي شـوي وې ، په وحشت کي دتحقیق هرغړي په خپل ناروا ابتکاروپارکاوه اوپه بیان به ئي خوند اخیستی .

دکودتا دتائید دپاره دمصئونیت ملي درئیس جنرال اسمعیل (چي دفرمان تخلص کوي) لخواهم نورتائیدي راپوروونه داؤدخان ته وړاندي کیدل . (جنرال اسمعیل خان دډگروالۍ په رتبه دنوراحمد اعتمادي لخوادارډو نه صدارت ته راوستل شواودجنرالۍ ترفیع ئي ورکړه ، نوموړی په کابل اوجلال آبادکي دډیرو کورو څښتن شو ، تـردي دمخه به دنـمره ئي حمام ومحته دنوبت په انتظارناست ؤ) .

دمیوندوال مرګ ته دېرچیانوتلوار ؤ ، تحقیق خوشېي دوام وکړ ، نوموړی‌دخوشپو وهلو‌اوشکنجوختم کړی‌ؤ ترڅوچي ئي دصمد ازهرترلغتولاندي ساه ورکړه (ر و ح د ي سـبــــــــاد و ي) .

خبرد(۱۹۷۳) کال دتلي دمیاشتي په (۸) نیټه دنیکتهائي پواسطه دده دانتحاراوځان وژني خبردکابل راډیودلاري خپورشواو دده ځان وژنه ئي دده دعملونوپه مقابل کي دسزا نه دډار دلیل یادکړئ ، پلان هم همداؤچي دده دځان وژني یاتش په نامه انتحارنه دنورو دالزام لپاره دسنداواثبات په حیث کاروا‌خلي .

ربنتیا خبره خوداوه چي میوندوال ترروژني بره شپه ړومبی دکومایه حال کي دزنبیل پواسطه دځارندویانولخوا دکورنیو چارودوزارت دزیرخانو نه کلاه جدید (بریکوټ) ته راکشول کیدئ ، دي حالت عبدالملك عبدالرحیمزی‌چي هغه هم هلته بندی‌ؤ ، متاثرکړی‌اوپه میړانه ئي داجنایات محکوم کړل اووی‌ویل *" کوم وخت چي مجیب الرحمن دلویدیځ پاکستان دجیل نه خوشي اودبنگله دیش صدراعظم شو ، دژورنالیستانوپه جواب کي ئي وویل چي نه وهل شوئ اونه توهین شوئ یم .... "* .

دمیوندوال مړی‌خپلوانوته ورنکړل شو ، چاتي مړی‌ونه لیدی ، ترتهدیدلاندي دکابل پوهنتون دعدلي طب درئیس سناغلي پوهاند ډاکټربالمکنداس نه دعدلي طب دنظریي په نامه لاسلیك واخیستل شو ، دکابل دپوهنتون دعدلي طب درئیس سناغلي پوهاند ډاکټربالمکنداس خوځایه په احتیاط اوخصوصي بیان کړی ؤ چي اصولي معاینات دمحمدهاشم میوندوال په برخه کي عملي نشول ، فقط درندان دکوټي ور کي ئي مړ راښکاره کړی اودځان دعزت دډار په خاطرمي نظرورکړی ، حتی ترڅه وخت پوري دمیوندوال قبرترڅارني لاندې ؤ ، دمیوندوال خپلوان اوګوندي ملګري هم ترڅه وخت پوري تعقیبیدل .

تورنجنرال خان محمدخان مرستیال دډیري شکنجي تاب رانه وړئ ، دکودتادپلان اقرارئي وکړئ ، دده داقراردسوال او ځواب کوپي چي دصمدازهر اونصرالله عمرخیل په لاسلیك وه ، دخلګود غلولودپاره په ورځپانوکي خپره شوه .

خان محمدخان مرستیال ئي دځونورو ترزنانوسره په شهادت ورسوئ ، دویرنه ډکه صحنه وه ، پدي ظلم هرڅوك پوهیدل چي مرستیال به کوهاټ خان ته ویل : ورایه وا کوهاټ خانه ! چي مورکودتا کوله اودحال په ژبه ئي ورښودله چي ترکومي اندازي تروحشت اوفشارلاندې قرار لري .

ټوله بندیان دیوي‌ګړی آرامۍ په خاطر پرځان هرډول بهتان ویلوته حاضر وو ، مرګ ئي غوښتی ځکه چي اقرارکولو دمرګ معنی درلوده مګراقرارنه کولو ترمرګ بدي صحني درلودي . لکه چي تورنجنرال محمدرحیم ناصري دخپلي کورنی‌ددي اعتراض په مقابل کي (هغه وخت چي دپایواز اجازه پیداشول) چي ولي ئي غیرحق اقرارکړیدی ، وویل : داقرارنه کول‌په مقابل کي دی وحشیانودهرډول بي عزتی‌نه کار اخیستئ . سلطان علي کشتمند چي دحفیظ الله امین دوژلونه وروسته دخرخي پله دجیل نه خوشي شو ، هم داکسادمشراسدالله سروري د (غیراخلاقي) شکنجونه شکایت کاوه .

تحقیق ختم شو ، دوسیه بشپړشوه ، دڅارندوی‌په نزد دالزام دثبوت دلایل کافي وبلل شول ، څرنګه چي نظامي حکومت دوام درلود ، دوسیه هم نظامي محکمي (دیوان حرب) ته ولیږل شوه .

Ketabton.com

# د دیـوان حرب پریـکړه

په نظامي محکمه کې هم همداوحشیان ناست وو ، دکودتاچي اودمرکزي کمیټي دملګري په نامه دخلورمي زغروري قوا دقومندان سرور نورستاني نفوذ اورول ترټولوډیر ؤ . همداپرچمیان ووچي دداؤدخان سره راغلل اوبه مسایلوکي به ئي یووبل ته پاس ورکاوه . تورنجنرال عبدالقدیرخلیق هم دديوان حرب غړیتوب اوددیوان په سرکي ډګرجنرال غلام فاروق خان ؤ چي دوی‌هم دسرورنورستاني خولي ته کتل .

که څه هم دیوشمیرانسانانودمرګ اواعدام موضوع مطرح وه ، خوبیاهم فیصلي دغوردپاره ډیروخت ونه نیوئ ، دنظامي محکمي فیصله صادره شوله چي تورنجنرال خان محمدخان مرستیال ، ډګروال سیدامیر ، ډګروال ماماززغون شاه ، مولوي سیف الرحمن اوعارف ریکشا دخونوروکسانوسره چي نومونه ئي په لاس کي نشته په اعدام محکوم شول .

نورتورن دبند په مختلیفودورو محکوم کړل شول ، دجنت ګل غروال ، حنان ځاځي ، الله نظرکوچي ، الله ګل او حاجي مولاګل پربندسربیره سرایونه اوشتمني هم ضبط شول چي دشمنیوضبطول تردغه وخته پوري زمورهیوادکي سابقه نه درلوده . څه کسانوکولای‌شوای دبهودشیندلوپواسطه برائت واخلي . دکورونودتلاشي به نامه ځینودرانده تاوانونه وګالل ، سعدالله کمالي دځان دخلاصون دپاره خپله د (باختر) سینما خرڅه کړل .

دفیصلي دتطبیق دپاره داؤدخان دملي دفاع دوزیراودولت درئیس په حیث دتائید لاسلیک وکړ .

په اعدام باندي محکومین دخلورمي زغروري قوادتعلیم اونښي ډګرته یوووړل شول ، دپه مرګ محکوموشوو لاسونه ترشاوتړل شول اوتوري خولۍ وربرسرکړې شوې ، په یوه صف کي ئي دیوال ته ودرول چي دهغوئ مخ ته په (١٥) متري کي یوه ټولۍ وسلوال عسکر (رنګون کیش) ناست وو . عسکروټولوتر یوي قوماندي لاندي په یوه ځل دمحکوموکسانوپه لوري هدف ونیوئ ، ترڅو د (اور) امر ورکړل شو چي هرعسکربايد خپل ورکړل شوی‌دتوپك (جاغور) په هدف باندي خالي کړي .

کله چي داورقوماندہ ورکړل شوه په دغه وخت کي تورنوپه مرګ باندي دمحکومیدلو رغ په خپلوغوږو واوریدئ چي تردي وخته پوري پري خبرنه وو ، به مظلومانوسوری‌اوچیغي ګړي ، دالله اکبرناري پورته شوي .

دقوماندي سره سم (اور) پیل شو ، سمدلاسه هغه په وینوکي ککړ پرځځکه ولویدل اوځمکه دبي ګناه خلګوپه وینه ولړل شوه ، په اکثروباندي ډیري مرمۍ موبتي وي چي ټول ځان ئي سوری‌سوری‌اوغلبيل شوی‌معلومیده . دهمدي ورځي نه زموړپه هیوادکي دوینو توئیدل عمومي شول .

دیوتعدادنورو په برخه کي داسي اعلان دراډیوله لاري خپورشوچي " *دمحمدهاشم میوندوال په توطیئه کي یوتعدادشاملو کسانوته برائت ورکړل شو* " . یواځي دعارف ریکشامړی وخپلوانوته ورکړه شو .

دروسیانوداتوطیئه هم کاري ولویده ، (کي جي بي) خپل کاروکړ ، کمونستانویوملي اوپرهیوادمین ځوي حریف له منځه یووړ ، دپرچمیانوجبونه ډك شول ، داورته زده کړل شوه چي په راتلونکي کي هم بایدنظام اوهیوادپېدي ډول اداره شي . خلك ئي وډارول اوداؤدخان ئي دملت په وړاندي منفور کړ .

Ketabton.com

# د دو کودتاګانو مقایسه

هرجنایتکاره دخپل جرم دارتکاب دپاره یوعادت ، یوپرنسیپ اوبایوه نسخه لري چي داجراپه ترتیب کي ئي تخصصي تجربه او مطالعه کړي وي . دیوه جرم دبل سره دمقایسي امکانات دکرمینولوژي دمطالعي په اساس دمجرم دپیژندګلوي په هکله اسانتیاوي راوړي .

دلته که دمحمدهاشم میوندوال اوعبدالملک عبدالرحیمزي کودتاګاني اویادامو ضوع په هراړخیزه ډول ترغورلاندي ونیول شي ، ډیري نژدي نکتي ئي ترمنځ موجودي دي چي عیني نسخه ده فقط (۱۸) کاله وروسته بیازمونږ هیوادکي تکرار اوکارتري واخیستل شو :

۱ـ عبدالملک عبدالرحیمزی اومحمدهاشم میوندوال دواړه دهیوادپیژندل شوي شخصیتونه اودواړه دداؤدخان نژدي ملګري وو .

۲ـ دواړه دامریکا ترحمایي لاندي په کودتا تورن شول .

۳ـ ددواړو په فقروکي فقط دیوه راپورنه په غیرنوردثبوت اوالزام اسنادپکي نه وو ، اجراآت پیل اودتحقیق په جریان کي دتعذیب اوشکنجي نه کارواخیستل شو .

٤ـ محمدهاشم میوندوال په قتل ورسید په غیردهغه به هم په مرګ محکوم شوی‌وای ، مګرعبدالملک عبدالرحیمزي‌په تدریجي مرګ محکومه اواظافه تر (۲۳) کالوئي جیل وګالی .

٥ـ ددواړو کودتاګانود عملیاتوداجرا دپاره دوو مشهورو جنرالانوته ګلیون ورکړل شوی‌اوقلمدادشوي وو .

٦ـ ددواړو کودتاګانوتوطیه ، راپور اووخت دداؤدخان دواکمنی‌دوخت سره سمون خوري اوداسي ښودل کیدل چي دا کودتاګاني دده په مقابل کي کیږي .

په ډاګه باید وویل شي چي دواړو کودتاګانو حقیقت اوواقعیت نه درلود ، یواځي دوی روسی‌نخښتي اوتوطیئي وي .

Ketabton.com

# د داؤدخان ويښيدل

نارضايت سراسري ؤ ، کمونستي توطئي هرڅيلومحسوسي وي . فشار ، اختناق اودداؤدخان بې تفاوتۍ دخلګوزغم ختم کړی ؤ اودبدبختۍ کندي ته دهيواددا څرلودخطر احساس ترهرڅا ږومبی اسلامي نهضت وکړ ، ددې نهضت پلويانوعملياتوته لاس واچاوه اودکمونستانوپه مقابل کي ئې جهادته تياري ونيول .

په کال (١٩٧٥) کي دچنګاښ په (٢٨) نيټه چي دکودتادتلين دريمه ورځ وه ، داسلامي حزب داوسني لارښود ګلبدين حکمتيار په مشرئ په ځينوولاياتوکي نظامي عمليات پيل ، اوپردولتي اوامنيتي دستګاوحملي وشوي چي داؤدخان ئې ددړانده خوب نه راويښ کړئ ، اوپدې عملياتوئې خرګنده کړه چي هيواددړولو کوردی ، هرڅوك پکي حق لري اونوردډې وضعي سره اسلامي امت بې تفاوته پاته کيدای‌نشي . دنهضت موقتي مشراستادبرهان الدين رباني دلړی‌پريکړي په خلاف په ناڅاپه ډول دعملياتودګډون نه شاته شو .

دنهضت ځيني غړي لاپخوابهرته مهاجرشوي وو ، مولوي خالص په پاکستان کي اوسيدئ ، برهان الدين رباني چي په هغه وخت کي دنهضت موقتي مشرؤپه مصرکي ژوندکاوه . ګلبدين حکمتيار دسيدال دوژني په توردبندنه دخوشي کيدوسره سم ئې پيښوراوسرحدي سيموته مهاجرت وکړ .

دکمونستانونه دداؤدخان کرکه ډيره شوې‌وه ، نهضت پياوړی ، پلويان ئې ډيرشوی اوداتوان ئې په ځان کي ليدئ‌چي په نظامي عملياتولاس پوري کړي اودداؤدخان په مقابل کي مقاومت وکړي .

دعملياتودطرحه شوی پلان سره سم دچنګاښ پر (٢٨) په غزني ، پکتيا ، لغمان، پنجشيراوکابل کي عمليات وشول . عملياتوپه پنجشيراوپکتياکي برياليتوب درلود ، لغمان کي هم عمليات اوحملې‌وشوې ، هغه وشوه مګروالي په لاس ورنه غلی . دکابل دعملياتودپاره بايدلړی‌دنغلود بندد بريښنا ستڼي چي دسروبي نه کابل ته راتيري شوي وي ، چپه شي اوبيا پرهدفونو عمليات پيل شي . نهضت لا نظامي تجربه نه درلوده ، وئې نشوکولای‌دبريښنا ستڼي چپه کړي نودکابل عملياتوپوره برياليتوب نه درلود .

داؤدخان پروګرام درلودچي پدې شپه دچنګاښ دتلين په افتخارپه جوړشوی جشن کي ګډون اوداورلوبوننداره وکړي ، په خپل لاس دګتلي وياړاوجشن نه خوند واخلي چي ناڅاپه سراسيمګي شوه ، وارخطائي راغله ، دجشن دکمپودړولولو امرورکړل شوو ، داورلوبي ونشوي اوداؤدخان هم دکوره راونه وت . عملياتوکه څه هم پوره برياليتوب نه درلود ، مګرمبکاره شوه چي سازماني حرکت دی .

داؤدخان ژر دکابيني په ترميم لاس پوري کړ ، خرګنداوپيژندل شوي کمونستان ئې وايستل ، جيلاني باختري ، کاکانظر (پوهاندنظرمحمد سکندر) اوډاکترنعمت الله پژواك بيکاره شول ، فيض محمد دکورنيوچارونه دسرحداتو وزارت ته اوورروسته په جاکارتا (اندونيزيا) کي سفيرشو ، ډاکترسعيد افغاني اوداسي نورڅوکسان دکارنه ګوښه شول . پاچاګل وفادار (چي دنتاش نومي روسي انجلۍ‌سره ئې واده کړی‌ؤ) لاپخوادکابيني نه ايستل شوي اوليبياکي سفيرټاکل شوی‌ؤ . عبدالحميدمحتاظ هم دمخابراتودوزارت نه توکيو (جاپان) ته دسفيرپه توګه وليږل شو .

Ketabton.com

داؤدخان هرات ته ولاړ او هلته ني په ډاګه خپله بې طرفي اعلان کړه ، دده په خوله " *نوی‌عراغلی ایدیولوژي* " نـي وغنـدله اودائي ګناه وبلله چي څوك دی (داؤدخان) کوم ګوند ته منسوب وبولي .

داردو کمونستان چي دچنګابس دکودتا په وسیله لوړو کرسیوته رسیدلي وو ، ځیني ني غیرفعالو کرسیوته بدل شول ، قادر دهوائي درستیزوال اوهوائي قومندان پنجشیری اکبرمقصودي هم دوزارت په احتیاط کي ونیول شول .

مګریولوی شمیر کمونستان لاهم په اردوکي پاتي وو ، اودروسي دنظامي سلاکارانو اوکي جي بي دغړو رول دسترګونه ولویدئ .

Ketabton.com

# لــويــه جـرگــه

داؤدخـان وپتيلـه چي نظامي حكومت نورختم اوداساسي قـانون پواسطه هغه واكمنې چي په لمړي ســرکي دمركزي كميټې ملگرو ورته بيعت كړئ ؤ ، ټينگه كړي اوخپل جمهوريت ته شرعي اوقانوني جامې ورواغوندي .
په (١٩٧٧) كال كي ددولت درئيس داؤدخـان دفرمـان به اثرداساسي قانون دمسودي كميسون وټاكل شو ، يوڅه وخت ئي ونيوي‌چي تر‌خوداساسي قانون مسوده بشپړشوه .
دافغان دودسره سم ددي قانون دپاسراودپاره د (١٩٧٧) كال دسلواغي په مياشت كي لويه جرگه جوړه شوه . دلوی‌جرگي دغړوپه ټاكلوكي دډيرغورنه كارواخيستل شو ، جرگي ته بايد داسي څوك نه واي‌راغلي چي ددي اساسي قانون سره ئي مخالفت كړي‌واى . دداؤدخـان نژدي اعـتماديانوهر يوه هغه كوله چي دغړودټاكلولپاره ډيراحتياط اوڅانگړي نوبنتون وكړي اوپېدي ډول خپل اخلاص داؤدخـان تـه نـورهـم جـوت (ثـابـت) كـړي ، والي او ولســوال بايـددخپلي حـوزي دجرگي دغړي تضمين كړي‌واى ، شخصي تضمين اوسپارښتني هم رول درلود .
دهري ولسوالۍيا حوزي نه دولسوال په خوښه (٦) تنه ټاكل كيدل چي دهغي ډلي نه بايد والي فقط دري تنه راايستلي واى ، دهغودرو تنودجملي نه مركزيو تن انتخاباوه ، پدي ډول انتخاباتويا ټاكني كي داؤدخان دپخوانه لابلديت درلود .
دجرگي غړي دسلواغي پېر (٢٥) درارسيدوسره سم په پولي تخنيك كي ليليه شول ، تلې اوراتلې ئي تركنټرول لاندي اودآزادي نړۍ سره ئي رابطه قطعه شوه .
ددي جرگي دپاره دوزارتخانوځيني لوړرتبه مامورين هم وټاكل شول ، دافغانستان په تاريخ كي دلمړي ځل دپاره داردوجنرالانو ته هم دسياست حق وركړل شو اوخوتنوداردو منصبدارانو هم دجرگي غړيتوب واخيست . جنرالانوهم دنورو غړوپه څنګ كي دخوب جامي ، برس اوكريم دځان سره راوړل اوهغه هم ليليه شول ، كه څه هم ځيني ئي ژرتنلې شول ، په يوه ويله بهانه به ئي لبليه خوشي كړه مگرنورو ولسي غړوته ددباندي تللواومشوري حق نه وو .
دوكيلانودبوخت ساتلو لپاره به دهغوي په آخيرو ورځوكي ميلمستياوي ، كانسرتونه ، دجلال آباددهډي دباغ سفرونه اوداسي نوري ميلي جوړيچي وي .
داساسي قانون مسوده دجرگي تردايربدو دري ورځي مخكي دهيوادپه ورځپاڼوكي خپره شوه ، يوه برحاله وزير په هغه وخت كي راته وويل چي دا اساسي قانون دهغه نه تفاوت لري ، څه چي به لمړي سركي داؤدخان ويلي ؤ .
داساسي قانون په (٧٦) ماده كي دجمهوري رياست موده (٦) كاله ټاكل شوي‌وه ، دولس دسياسي شعوردنشتوالي له كبله يو گوندي نظام مدنظرونيول شو ، داسـاسي قـانون د (٢٠) مادي په اساس دافغانستان دولت د (افغانستان ديموكراتيك جمهوريت) په نـامـه يـاد ، اوددولت ددري گـونوقـواو تفكيك پكي نه ؤ ، دانتخاباتو ، مطبـوعـاتو ، قلم اوبيان آزادي پكي صراحت نه درلود اوداسي نور ....
دعامي روغتيادوزارت په تالاركي دپخواني قاضي عبدالكـريـم حقـاني ترریاست لاندي عونلوه دايره ، اودكرهنې وزيرعزيزالله واصفي دلوی‌جرگي درئيس په توگه وټاكل شو . ديـغمان اوسيدونكي‌دآريانالیسې سـرونكی‌اودقـديرداخبني مـامـا سبـاغلی محمدعلي هزاره اودپوهنې مديرميرحبيب سهيلي دجرگي منشيان انتخاب شول
دقانون مواد ژر ژر ولوستل شوو ، په عمومي ډول اعتراض اومخالفت ونـشو . البته توضيحات غوښتل كيدل ، اما بيله لوی مناقشي اساسي قانون داټكل سره سم دټولوپه رايو تصويب شو اويه كال (١٩٧٧) دفبروري پېر (٢٤) توشيح شو .

Ketabton.com

په جمهوري اساسي قانون کي وجمهوري رياست ته ديوتن دکانديدولودپاره اندازه قيد نه وه ، پداسي حال کي چي ډاکټرنجيب د (۱۹۸۷) کال ددسمبرد (۲) نيټي اساسي قانون په (۷۲) ماده کي درياست دپاره ديوکس يواځي دوه ځلي کانديد مجازبلل شوئ ؤ . دداؤدخان داساسي قانون په (۲۱) ماده کي ملي حاکميت ملت ته ورکړه شوئ ؤ ، امادا څرګنده نه وه چي ملت دامللي حاکميت څنګه تمثيل کړي ، پداسي حال کي چي ملي جرګه (ولسي جرګه) داعتماديا سلب اعتماد اودبودجي دلاري پراجرائيه قوه باندي کنټرول صراحت نه درلود . رئيس جمهور دهرډول مسئوليت اوخطانه پاك بلل شوئ ؤ اودحکومت دنوروغړو محاکمه اوياکنټرول هم سخت پيچلي ډول درلود .

Ketabton.com

# د جمهوررئيس ټاکنه

دوخت داساسي قانون سره سم دجمهوررئيس ټاکنه بايد په هرو (٦) کالوکي دلوی جرګي لخوا وشي اواوس بايدهمدا جرګه چي تياره ده ، دجمهوررئيس ټاکنه هم وکړي .

دجمهوررئيس ترټاکني دمخي ورځي مخکي ددولت رئيس داؤدخان کابينه اومرکزي کميټه ړنګ اودنظامي حکومت دالغا اعلان ئي وکړ ، دحکومت دچارو واګي ئي دوزارتخانومعينانوته وسپارلې .

دجرګي غونډه دايره شوه ، دجرګي حالت جدي اومضطرب وواودخاص انتظاربه ئي درلوده ، داؤدخان هم جرګي ته راغلی ؤ لمړی ئي ځان ددي دپاره کانديدنکړئ چي جدي هيلي تري وشي . دجرګي دغړوند يوي ميرمني دداؤدخان دکانديدو وړانديز وکړ ، دجرګي مشرمباغلي واصفي سوري وهلي " *همشيره ! داؤدخان نه ميکند* ...." ، تالاردهلهلو او روړ نه ډک ؤ .

دغړو دډلي نه دژاندارمي پخواني قومندان وريښمين خان ته چي دغلام حيدررسولي په تضمين اوسپارښت جرګي ته ټاکل شوئ ؤ ، داصحنه جدي په نظرورغله اوباورئي راغلی چي ګڼي واصفي رشتياوائي نوپه لوړ آوازئي وويل " *که ئي رئيس صاحب دولت نه کوي نودي رسولي صاحب کانديدشي* " .

دجرګیدننګرهارغړي حاجي عبدالوهاب غوښتل چي ووائي " *که ئي په رشتيا رئيس صاحب دولت نکوي ، نوتکليف مه ورکوی‌موږ دی بيرته دپخوانيه حال راولي* " ، دنوموړي دبيان ادامه دجرګي درئيس لخوا قطعه شوه .

ترخوداؤدخان ځان کانديد کړ ، رقيب ئي نه درلود ، رائي علني وي ، ټولولاسونه پورته کړل ، مخالفه اومستنکفه رايه پيدا نشوه اوداټکل سره سم داؤدخان انتخاب شو .

داؤدخان لوبه يوړه ، ملګري ئي راضي ښکاريدل ، دلاسونوبه پرکولودانتخاب هرکلي وشو ، مرتږي دداؤدخان په خنګ کي يادګاري عکسونه واخيستل اودلوی‌جرګي دغړو پرسينو دجرګي دوبارنه ډکي بهادری‌چي پخواجوړي شوي وې وتومبل شوې .

داؤدخان ځان وړونکی‌اواتل احساساوه ، تالارئي پريښوده اودکمونستانوپه دود دخپلوپلويانولخواپر اوږوهم پورته کړل شو . ده اودده ملګرولکه دچنګاښ دکودتاپه راوستلو سره داخلي هم کارونه ختم اومطمئن بلل .

Ketabton.com

# نوي حکومت

دلوی جرگي درخصتیدوسره وزیران هم دخو ورځولپاره په کورکي کښیناستل ترڅونوی کابینه اعلان شوه ، تغیرپکي ډیرنه و ، عبدل اله دمالیي په وزارت برسیره دجمهوررئیس مرستیال هم شو ، غلام حیدررسولي دلوی درستیزدمقام نه وزیروتیاکل شو ، دصدارت کرسۍ دمنځه ولاړه ، ډاکترحسن شرق په توکیوکي سفیرشو اودوزیردولت په نامه وزارت ته دعدليي وزیر ډاکترعبدالمجید ورغی .

داګنیلی شوه چي که عمروفا وکړه نوددي انتخاباتواونوي اساسي قانون پواسطه د (٦) کالولپاره دداؤدخان واکمني ټینګه شوه ، ولي ولس چي یوه مثبت بدلون ته سترګي په لاره ، مایوسه شو ، کمونستان ترټولوځپه بنکاریدل : دمځکوهغه اصلاحات وځنډیدل چي داؤدخان ئي وعده کړیوه اودنوي (٧) کلن پلان فکرامنځته شو .

دخبرویه ترڅ کي داؤدخان په خپل ژونددي پرمختیائي اوه کلن پلان دبشپړیدلوهیله وکړه ، چي سمدلاسه دده د غواړه مالانوله ډلي نه یوه وویل " *که یوبل اوه کلن پلان لاهم دلاربنود ترسیوري لاندي تکمیل شي ....* " یعني چي هیوادبه ګل اوګلزار شي ، دداؤدخان خپله ستاینه خوښیدله اوباوربه ئي پرې راتلی .

داؤدخان دځان دنورټینګیدوپه خاطرداساسي قانون دموادوسره سم دګونددجوړیدوپه فکرکي شو ، پدي برخه کي ئي دیوه کمیسون په ډول ډاکترعبدالمجید ، عبدل اله ، غلام حیدررسولي اویاس یوسفي ته وظیفه ورکړه چي دګوندد جوړیدود پاره په اوني کي یوځل دمالیي په وزارت کي غونډې جوړې کړي .

ګوند ته جذبول په خصوصي ډول پیل شول ، البته په نظرکي وُچي ګوند دخه غړودجذبولونه وروسته په رسمي ډول اعلان شي . دګوندد غړوشمیربایدزر ډیرشي . تقوا ، شخصیت اوسیاسي چلندته ځانه کتل ، دګوند اصول اومرام څرګندنه وو ، دګوندموسسانود (خدای ، هیواد اورهبر) په کلمه کي دګوند مرام ورلنډاوه .

دګوند اصلي نوم هم معلوم نه وُ ، مګربهرته دملي غورځنګ په نامه یادیدی . دې ګوندته ډیرزردکمونستانوپه خنګ کي یوخه نور ابن الوقتان هم ورننوتل .

Ketabton.com

# په بهرني سياست کي تغير

داؤدخان نوردکمونيستانو نه سترګي اوبيزاره ؤ ، دروسي نيغ اوغيرمستقيم فشارني احساساوه ، داځکه خودنوي جال چلند په لټه کي شو ، هغه څه چي پاچااومحمدموسي شفيق پخوا غوښتل ، ده اوس ورته مخ کړ . حتی کله کله به ئي شفيق دمجبس نه راوغوښت چي دده دهغي سياسي پروژې په هکله تري معلومات واخلي ، چي ده دخپل صدارت په وخت کي کړي وه .

داؤدخان عربي نړۍ ته هم مخ اوسفرونه ئي پيل کړل ، دايران نه ئي ددوميلياړو ډالرومرستي وعده واخيستله (داټرون ئي چي بنستي خبري ئي دشفيق لخوا شوي وې ، په کال (۱۹۷۶) کي لاسليك کړئ . دايراني مشرانودغلي اودروغ په هره بنه اوجامه کي چي دي دتاريخ په اوږدو کي دافغانانونه پټ ندي ، دالوزونه هم يوازي دکاغذپرمخ پاته شول) ، دديشو (هلمند) ددښت داوسپني دپټلي غځولو پروګرام باندي هم بحث وشوچي له دی لاري دهيواددترانزيټ مالونومشکل ليري کړل شي ، مګرعملي نشو .

په (۱۹۷۶) کال داګست په مياشت کي ئي دپخواني سياست په خلاف دبناغلي برټوپه بلنه پاکستان ته سفروکړ اوبيا په کال (۱۹۷۷) داکتوبرپه مياشت کي جنرال محمدضياءالحق کابل ته راغی ، دواړه خواوي دي تفاهم ته ورسيدلي چي دپښتنودحقوقومسئله اوسرحدي کشاله دي دخبرودلاري اواره کړي .

پداسي حال کي چي دجنګابن دکودتا نه وروسته دده لمړنی سفرمسکوته وشو ، په لمړنی ليدنه اوصحبت کي ئي لومړنی موضوع دپښتونستان کشاله وه چي دبرژنيف لخوادهغي کشالي ياد وشو .

رښتياچي دداؤدخان دبيا واکمنی په سرکي دپښتونستان دکشالي موضوع بياپه کلکه ونيول شوه ، (۴۰۰) کوره بلوڅان دبلوچستان نه افغانستان ته راواوښتل چي په کندهارکي دعام سړك پرغاړه په خيموکي ځای ورکړل شو مګردداؤدخان دنوي سياست سره هغوی بيرته بلوچستان ته ستانه شول .

دداؤدخان ددې نوي سياسي تغيرپه مقابل کي لمړی نشنل عوامي پارټۍ عکس العمل ښکاره کړئ ، معمول داؤ چي دوړي پر (۹) دپښتونستان ورځ په کابل اونورو ولاياتوکي جشن نيول کيدئ ، اودپرورند دکربني نه دهغه پلودمشرانونه به يوتن پدې جشن کي ګډون کاوه اوپدې هکله به ئي بيانيه ورکوله ، په کال (۱۹۷۷) کي اجمل خټك په کابل کي ؤ ، ده بايد دا کارکړی وای مګرنوموړي داځل دګډون نه ډډه وکړه ، ترڅودنورو پښتنودعذرپه اساس په ډيرمات زړه جشن ته راغلی داهم بايد ورپل شي چي دنشنل پارټۍ جفابه دافغانانوسره دجا دياده ونه وزي ، دافغانانودژوندپه ډيروسختو شيوکي دوی دروسي پرغل پلوي وکړه ، البته دنورو پښتنوحساب جلادی اودکربني ددواړو خواو دپښتنوترمنځ نه شکيدونکي اړيکي موجودي دي .

دکال (۱۹۷۸) دپاره داؤدخان دامريکي دجمهوررئيس کارتردميلمستيا بلنه هم ومنل چي امريکي ته ولاړشي ، دمخدره موادو دکنترول اومبارزي وعده ئي امريکاته ورکړه .

Ketabton.com

# دخلق اوپرچم ائتلاف

پرچمیان نور دداؤدخان ملګري نه وو . هغه ئي دځان نه باله اوځان ئي تري وشکاوه ، خلقیان دداؤدخان دملري سره هم خوښ نه وو ، نورمحمدتره کي چي غوښتل دداؤدخان سره وګوري اوپه رقابت کي توپرچمیانوپاته نشي ، داؤدخان ورسره ونه کتل . دامطلب بارق شفیعي زمادسوال په ځواب کي تائیدکړی اوونې ویل چي " *هو ، تره کي هم دخپلوپرپتوسره اړیکه ته روان و ، مګر رئیس دولت ورسره ونه کتل* " .

یوشمیربي طرفه خیرخواهان هم موجود وو اوهغه ئي کوله چي داؤدخان ته خلقیان ورنژدي کړي . ددي ډلي نه یوه راته ویل چي داؤدخان زمادهغي په هکله راته وویل چي " *زه اوس دپرچمیانوپرسلام هم پښیمانه یم* " .

پرچمیانوهم هغه خبري چي دولت اوګوندسره یودی نوري نه کولي ، دنوي بدلون اټکل کیدئ .

روسیانوته هم داؤدخان اوددہ جمهوریت دنورو راتلونکوځولاتودپاره دیوه پل پایوي زیربنا ډول درلودنودنوي پلان دتطبیق په لټه کي شول . په کال (۱۹۷٦) کي ئي روسي شوه کمونستي فراکسیونونه سره یوکړل چي دیوبل دظاهري تخریب نه لاس واخلي اوګډه ستراتیژي جوړه کړي . دفراکسیونو جلاکیدل اویوکیدل داریاب په لاس کي ؤ ، دواړه به دوخت دایجاب اوضرورت له مخي کله سره یواوکله به جلاشول ، ددواړو فراکسیونومرام اوتلۍ لاره یوه وه ، جلاوالی‌ئي یواځي دیوه تشکیلاتي ضرورت له مخي ؤ اودالهام منبع هم ددواړو یوه وه .

کلیوال محرومه قشرونه چي اکثریت ئي پښتانه وودنره کي پرچاپیریال راتپول وواواشرافي اونازولي بیاړسوزبي کارمل جذب کړي وو ، ددوئ‌ترمنځ لاپخوا دخولي شخړو هم تکتیکي اوظاهري شکل درلود ، پرچمي به دنوروډخوا دخلقي په تخریب هڅي خپه کیدئ لکه دخپل فراکسیون په تخریب .

ددي یووالي آوازي هرپلوولاړي ، ګڼوي غونډي ئي ژرناسټي پیل شوي ، داؤدخان لاهم دوی بیخطره ملل اودابوښته ونشوه چي دا ائتلاف دچا دپاره اودچاپه مقابل کي جوړشو

داؤدخان یواځي پاته ؤ ، کمونستي ملګري تري لیري شول اوخلوپخوانیوملګروته ئي هم دکاربلنه ورنکړه . اداره اوامنیت خراب اوهره ورځ به یوه بده پیښه کیدله ، داؤدخان هم محاصره ؤ اودمسئولوخانګو یواځي دخیریت په راپور ور کولو ئي قناعت کړیږ ، دی‌به دوضعي نه بي خبره ساتل کیدئ اودیاچهي دورستیوورځوبه شان وضعه ناآرامه اوناراضه وه

# دداؤدخان قهر

دداؤدخان اوروسانوترمنځ نوریخواني باورپاته نه ؤ ، داؤدخان دوضعي درك كاوه ، نوي سياست ته ئي مخ وكړ ، لمړی په (۱۹۷۸) كال كي يوګوسلاويا ته په سفرولاړ چي دمارشال يوسف ټيټوسره وګوري ولي چي هغه دبيطرفوهيوادودبنسټ ايښودونكونه ؤ اودده ورسره پخواني پيژندګلوی وه بله داچي مارشال ټيټوهم دروسيانونه بنه زړه نه درلود اودهغوی غداري ئي پوره پيژندل .

دی‌دسفرنه دراستنيدوپه‌لاري كي په مسكوكي هم تم شواود برژنيف سره ئي وكتل ، دصحبت په ترڅ كي بريژنيف (دروسيي دوخت دكمونست ګوندمنشي) ده ته په خطاب كي وويل " *څه فرق كوي چي بهرنه دخپل سفرنه مخكي وخپل شمالي ګاونډي ته هم اطلاع وركړي ؟ ....* "

داؤدخان اوس روسي شوموتوطيئونه متوجه اوپوه شوچي روسيان څه تري غواړي ؟ ، عصاب ئي ناآرامه اوپه غوصه شو ، دا غوښتنه ئي دملي غرور اوافغاني احساس نه ليري وبلله ، عزت اوآزادمنيشي ئي دانشواي‌ملاي‌اوپه مقابل كي ئي دجدي عكس العمل په ډول ورته وويل " *افغانان هغه ځوك هيوادكي پرپږدي ځوك چي غواړي ، كه وغواړي كولای‌شي چي هرځوك دخپلي خاوري نه وباسي .* "

دی‌بورته جملی داسي مانا وركوله چي داؤدخان په هغه وخت كي هم درڅسي سلاكارانونه انديښمن ؤ . بريژنيف هڅه وكړه چي داغفال په ډول خپلي خبري ته دټوكورنګ وركړي اوخپله خبره بيرته واخلي چي پدي ترڅ كي ئي ځوځلي داؤدخان ته دپرزيدنټ ! پرزيدنټ ! خطاب وكړئ .

داؤدخان نشواي‌كولای‌چي آرام شي ، دمذاكرختم ئي اعلان كړئ اوخپلي دسوارلی‌الوتكي (كندهارنومي) ته ئي‌دكابل په لوردتياری امر وركړئ .

كابل ته درسيدوسره سم دمصردجمهوررئيس انورالسادات دليدلوپه قصدشوچي مصرته ژرسفروكړي ، دبهرنيوچارو دوزارت مرستيال وحيدعبدالله ئي دوه ځلي سادات ته ولیږئ چي سادات دوخت دنه درلودلوله كبله ددي ليدني نه معذرت وړاندي كاوه مګر داؤدخان بيره درلوده مصرته ئي سفروكړ ، دسادات سره ئي وليدل ، دهمدي كال دوړي پر (۱۳) كويټ اوسعودي عربستان ته ولاړاودعمری حج ئي وكړاودغودولتونودمرستي لوزوركړئ ، دده دسفردملګري محمدخان جلالر لخوا ددي سفردجريان خبرپه منظم ډول روسيانوته وركول كيدی .

داؤدخان دناپيلوهيوادودراتلونكي غونډي په هوانا (كيوبا) كي دفيدل كاسترودمشرتابه سره هم مخالفت كاوه ، دروسيانوپه ابتكارئي (داسيادامنيت) دطرحي اوترون په نامه پروګرام چي په سيمه كي دامريكادنفوذ دمخنيوي په منظورطرحه كيدی هم رد كړی (دنظامي سياست اړاسنادومجله ٤٥ ګڼه ، ۱۳ ـ ١٤ مخ) .

داترون اوطرحه په وروسته كي نورمحمدتره كي دخپل رسمي سفرپه ترڅ كي (دسپتامبر ۹ـ۱۱ كال ۱۹۷۹) لاسليك كړی .
افغانستان روسيانودلاسه نه وركاوه ، تصميم ئي قاطع ؤ ، فرصت ئي دلاسه ورنكړئ مګرداؤدخان ليارة هرڅه ناوخته وه اوهر عكس العمل ئي نرم اوتدبيرئي درست اوعملي نه ؤ .

Ketabton.com

# د داؤدخان تخریبیدل

د نوي اساسي قانون او نوو دولتي تشکیلاتو په راتلو سره کمونستان او روسیان مایوسه او متوجه شول، چې باید د داؤدخان او دده د دولت تخریب پیل کړي، امنیت خراب او دولت بې اعتباره کړي، نور داؤدخان د انقلاب لار ښود او د جمهوریت موسس نه بلل کېدئ.

په ځینو ولایاتو کې والیانو په خپل ابتکار او د داؤدخان سره د اخلاص په منظور په ځینو عمومي ځایونو کې د انقلاب د لار ښود عکسونه جوړ او نصب کړي وو، مګر په دې وختونو کې دا عکسونه په منظم ډول په رنګ او ختولړل کېدل چې لدې لارې داؤدخان نه خپله کرکه ښکاره کړي، د دې عمل مخنیوی اسانه نه ؤ، کله چې به وظیفه داران و عکسونه پاك کړل، په سبا به بیا هم هغه حال ؤ. د داؤدخان او دده د دولت په ضد پروپاګندو او شپه لیکونو د دموندلې ؤ.

د سعودي او لیبیا د سفرنه د راستیدلو په لارکې داؤدخان غوښتل چې په کندهار کې هم تم شي او د خلګو سره وګوري، د کندهار د کل اردو په سالون کې ورته د شپې لخوا میلمستیا جوړه شوې وه چې د محفل په جریان کې تیاره جوړه او بریښنا قطعه شوه، و ارخطائي راغله هره دقیقه دېرې ناوړې پیښې احتمال موجود ؤ، داؤدخان پروګرام ختم کړئ او بېدې شپه کابل ته وخوځېدئ.

د (۱۳۵٦) کال په آخیرو ورځو کې داؤدخان ننګرهار ته ولاړ او دهغه ځای نه وروسته ئې دلغمان د ولایت او میترلام نه هم لیدنه وکړه، غوښتل ئې په هغه غونډه کې بیانیه ورکړي چې ورته جوړه شوې وه، مګر دا غونډه هم د ډېر جګیانو د چیغو، ږوږ او بې نظمۍ له کبله ګډه وډه شوه او داؤدخان ونشو کولای چې بیانیه ورکړي.

د دین او مذهب په مقابل کې بې احترامۍ ښکاره بڼه غوره کړه، اسدالله امین د حفیظ الله امین وراره ا... تازه د طب د پوهنځۍ نه راوتلی او د زابل د ارغنداو د ولسوالۍ د کلینیك آمر ؤ، اسلام ئې بې ګټې او عبث و باله او نورې د توهین نه ډکې ویناوې ئې هم وکړې چې د ولس د شکایت او عرض وداد یه اثر پېدې موضوع کې د مرکز نه یو هیئت راغلی مګر موضوع کلکه و نه نیول شول او هغه سزا ونه لیده.

د کندوز په ولایت کې هم په همدې کال د ځنګاښ د تلین د جشن په سیمه کې د پوهنې مدیر غوریاخیل (د پغمان او سیدونکی) خلقیان ولمسول چې د جشن په منطقه کې ناآرامي جوړه کړي چې په نتیجه کې د شاګردانو او ... ارندویانو ترمنځ اخ و ډب راغلی. په نورو ولایاتو کې هم داسې تحریکات روان وو مګر جدي نه نیول کېدل، ځکه چې تحلیل نه ؤ او د عواقبو اټکل نه کېدئ.

د غزني ولایت د اندړو د ولسوالۍ دی همدې کال د حج نه راغلي حاجیانو په افتخار جوړه شوې غونډه او میلمستیا کې یوه کمونست ښوونکي په ډېره بې احترامۍ (حج) بې ځایه سیاحت و باله او حجراسود ئې په داسې بدو ویناو یاد کړې چې پدې غونډه کې داکترو ګډونکونکو پر مذهبي او دینې احساساتو دې ملنډو دېر بد تاثیر وکړ. که څه هم د کلي او منطقي خلګو حکومت ته عرض وکړ مګر نتیجه ئې ورنکړه خو سګه چې بې تفاوتي روانه وه نو ولس پخپله د هغه ملحد کور جوړ کړ، هغه ئې ونیوئ او سرئې رج ور وخوایه.

امنیت مخ پر خرابیدو ؤ، داسې غلاوې او داړې ډېرې شوې چې ډېر منظم او تشکیلاتي ډول ئې درلود، خو ځلې غلاوې وشوې چې غله به په موټرو او موټرسایکلونو سبال وو، د دولت اقدام جدي نه ؤ، غیرکافي او بې تاثیره لیدل کېدئ، مامورینو به د ځان د داره یطرفي غوره کړې وه حتی ځینې مامورین د غلو او د دولت د مخالفینو سره خبر اوبوه وو.

Ketabton.com

# د زمان خان د کلا مړي

هره ورځ یوه واقعه اوپایوه توطیه وه چې داؤدخان به ئې بوخت ساتئ ، غلط اوداندیښنوړ راپورونه حکومت ته رسیدل ، داؤدخان هڅه کوله هغه فاصله چې دده اوولس ترمنځ موجوده وه لنډه کړي ، دباندې راووځي اودولس سره وګوري ، پروګرام ئې جوړ کړ ، دځینووالیانوسره ئې دخپل سفرپه باره کې خبرې هم وکړې ، خوبیاهم دامنیت له خاطره تشویش ورسره ؤ . یو والي ته ئې دخپل تلڅ په باره کې داسې وویل " *مهمان راقبول دارید ؟ (میلمه منئ ؟)* " بیا ئې ښکاره ورته وویل چې " *میتوانید مهمان را نګاه کنید ؟ (کولای‌شئ چې میلمه وساتئ ؟)* " .

په (۱۹۷۷) کال کې دداؤدخان پراعصابودزمان خان دکلا دمړوپیداکیدل بل شوك ؤ ، هرپلوغوغا پورته شوه ، کلا کې څه کم زیات (۵۰۰) مړي ښخ شوي وو ، خلګودا فکرکاوه چې دادچنګابش دکودتادورځې مړي یادحکومت مخالفین دي چې دلته مړه اوښخ شویدي .

که څه هم داؤدخان داحتیاط په خاطرد کودتا په لړ ورځوکې هره ورځ دبندیانواو مړولست دقدیر (دڅارندوی‌قومندان) اوفیض محمد (دکورنیوچارو وزیر) نه غوښتل مګرددې مړو نومونو داؤدخان ته دورکول شوو لستودنومونوسره سرنه خوړئ . دمړو دپیداکیدونه وروسته تیرشو چې په اخیرکې دخلګودشکایت په اثردبګرامي ولسوال داموضوع ورسمیاتوته وسپارله .

دزمان خان کلا دکابل ښاردمیکرورویانومنطقې ته نژدې دعصبي لاعلاجه روحي ناروغانولپاره تخصیص ورکړل شوې اودکورنیو چارودوزارت مربوط وه . داپوښتنه کیدله چې مړي څوك دي ؟ اوولې دلته ښخ شویدي ؟ دامړي دټول انساني کرامت نه لیرې بیله کفن اواسلامي سننوپه ساده ډول دکلا دننه ترخاورو لاندې شوي اوحتی ځینې ئې یودبل پرسرپه زیرخانوکې تر خاورو لاندې اچول شوي وو .

دکورنیوچارو وزیر قدیرنورستاني هڅه کوله چې دملي دفاع دوزیر غلام حیدررسولي په مرسته دمرکزي قواودعسکروپرواسطه دامړي بیله دې چې څوك پرې خبرشي دمرنجان دغونډۍ‌عسکري جبه خانوته نژدې ښخ کړي ، داکار ئې تریوې اندازې هم وکړاوخومړي ئې هلته یووړل مګردبګرامي دولسوال په سلسله موضوع اوکیفیت جمهوررئیس ته ورسیدل ، پداسې حال کې چې دکابل خلك لا پخوا ټول دموضوع نه خبر وو .

مړي چې دځینوغوښنې لاپاتې وې اودځینویواځې هډوکې دکابل عدلي طب ته ولیږل شول . ترهغه ځایه چې نظرقایمیدای‌شوای عدلي طب دمړك علتونه وهل ، دلاسونو اوپښواوحتی‌دځینودملا ماتول ، ځفې ، سؤتغذیه اودخوړونشت والئ وباله .

اصلي مسئولینوجزا ونه لیدله . فقط دوړو رتبوه مامورینوپرمسئولیت اکتفا وشوه . تره کي اوامین په خپل وخت کې غوښتل چې دداؤدخان په ضد اودده دبدنامۍ‌دپاره ددې موضوع نه ګټه واخلي ، موضوع څوځلې بیاهم راډیواوټلویزیون کې خپره شوه ، خرنګه چې تره کي ووژل شواوخرګنده شوه چې ترهغه نورې بدې پیښې راغلي دي نولدې تحقیق نه نوره ډډه وشوه .

Ketabton.com

# دخـرم وژنـه

روسیانو نورداؤدخان کرار پري نښوده ، دی‌اوددہ حکومت ئي ترنیغوحملولاندي ونیوئ چي دی مضطرب ، امنیت خراب او دولت بي اعتباره کړي .

په اصطلاح دکمونستي انقلاب دپاره وروستي‌شپې اوورځې وې ، مبارزه اوفعالیت په بېړه اوچټکتیا مخ په وړاندي روان وو . د (۱۹۷۷) کـال دلړم دمـیاشتي پر (۲٤) دمعلوم الحاله سړي لخواپه سپینه ورځ دپلان دوزیرښاغلي علي احمدخرم وژنه یوه لړزونکی پیښه وه .

دلغمان اوسېدونکی مرجان نومي‌ښوونکی چي کمونستي مفکوره ئي څرګنده وه ، دپلان په وزارت کي دوزیرعلي احمدخرم دلیدوغوښتنه وکړه ، داغوښتنې تکراري اودجدي تهدیدپه ډول وي ، دپلان وزیرښاغلي خرم دجلېاني هیئت غونډه وځنډوله او مرجان نومي ته راووت .

دتهدیدکونکي مرجان غوښتنه په همدي ځای‌ختمه نشوه اودښاغلي خرم نه ئي وغوښتل چي نوموړی دداؤدخان حضور ارګ ته بوزي ، خرم چي ترتهدید لاندي ؤ داغوښتنه ئي هم ومنله اوددہ په ملګرتیا دارګ په لوري وخوځېدئ .

سوال اوځواب یوره وخت ونیوئ مګرنه څارندوی اونه کوم بل ماموردوزیر مرستي ته وروړسیدل ، وزیرمخکي اومرجان ورپسي دواړه دارګ په نیت دوزارت نه ووتل ، دوزارت په مخکي وزیردمرجان لخوا فیراوپه مځکه ولویدئ ، دوزیردپاره نوره هره مرسته ناوخته وه اوبه روغتون کي مړشو ، مرجان وتښتیدئ اوخپل کورشاه شهیدمینې ته ئي ځان ورساوه ، نوموړي بیله تیښتي اومقاومت نه دخپلي تفنګچې سره ځان پولیسوته تسلیم کړئ اوپدي کارسره ئي داؤدخان ته ښکاره کړه چي وزیرپه وزارت کي هم امن نه لري .

دخرم په جنازه کي دځینودوستواوعربي هیوادوپرسفیرانوسربیره په کابل کي دشوروي سفیرپوزانوف هم ګډون درلود ، داؤدخان دسوزاومایوسي نه ډکه ویناوکړه ، احساسات ئي نشوای‌کنترولولای ، دامریکااوشوروي نه ئي شکایت وکړ اوعلاوه ئي کړه چي دشوروي اتحادمرستي هم ددوی‌په شخصي غرضونوکي نغښتي دي . دداؤدخان دابیانیه په مطبوعاتو کي خپره نشوه ، ډاکترعبدالرحیم (نوین) پخپله په ډیره بیړه دکابل راډیوستیشن ته ورغلی اودهغې بیاني ثبت ئي پاك کړئ .

داؤدخان بایدپدي پوه وای‌چي وخت نورددہ په ګټه ندی ، داسي واقعي تصادفي اوناخاپي ندي اونوردکي جي بي په لومو کي راګیرده .

دقفري تحقیق پیل شو ، موضوع ته بناخ اوپنځي ورکړي شوي ، بیځایه اوبي مورده وپرسوړل شوه ، دتحقیق لپاره لوی شمیر مامورین وټاکل شول ، شبکاري حواله شوه اودکورنیوچارو دوزارت زیرخانې دتحقیق دپاره وټاکل شوي . دنوي اساسي قانون په اساس تحقیق دڅارنوالۍ په صلاحیت کي ؤ مګرڅارندویانو وکولای‌شوای چي دڅارنوال دمسلکي مرستندویانوپه نامه په تحقیق کي نفوذ وکړي اوتحقیق پخپل لاس کي ونیسي . دتحقیق په ډله کي بیا پیژندل شوي څارندویانولکه یعقوبي ، باقي ، نبي ، اثر ، همکار ، قطره ، خیرمحمداوخونورو پرچمیانو ګډون درلودئ اوڅارنوالانوته ئي فرعي رول ورکړئ .

په څارنوالانوباندي لادپخوانه داخوانیانو ټاپه ووهل شوه ، ولي چي یو شمیردشرعیاتودپوهنځي‌فارغانوهم پکي ګډون درلود . کله چي مرجان نومي خپل ارتباط اودخرم وژنه داخوانیانوپه لارښوونه وګڼله اواقرارئي وکړ ، نودڅارنوالانو ډارنورهم ډیرشو اودڅارندوی ونفوذ ته ئي غاړه کیښودله .

Ketabton.com

دعدلیې وزیر وفیع الله سمیعي او دده مرستیال عبدالهادي هدایت داسلامي نهضت دغړو یا په اصطلاح داخوانیانو به نامه پیژندل کېدل او په کمزوري دریغ کې وو . داچې دعدلیې وزیر کودتاچي نه ؤ ، ددوهمې درجې وزیرانو نه شمېرل کېدئ ، نورځوك هم نه ؤ چې داؤدخان دواقعیت نه خبر کړي .

وژونکي شکنجه ونه لیدله ، پخپله خوښه ئي اقرار وکړ ، که څه هم مجرم یوتن ؤ مگر دتحقیق هیئت ډیرغړي درلودل ، تحقیق یوڅه وخت ونیوئ ، دوسیه بشپړه اونتیجه دراډیو دلارې اعلان شوه . پدې فقره کې بیا امریکا اوحتی دامریکې جمهوررئیس جمي کارټر ، گلبدین حکمتیار اوډشینوارو وکیل محمداعظم په لاس درلودلو تورن شول .

مرجان په تحقیق کې اقرار وکړچې " *گلبدین حکمتیار دجمي کارټرپه هدایت دوکیل محمداعظم شینواري سره دشینواروپه سیمه کې دخرم دوژلوپلان طرحه اوما (مرجان) ته ئي دعملي کولو لارښوونه وکړه او ماهم د (کارټر) داهدایت عملي کړی دی* " .

ترڅې یوڅه دمخه دداؤدخان دملي کلپ دوخت ملگری شیرآغا مهندس چې دجبل السراج دسمنټو دفابریکې رئیس ؤ هم پخپل کورکې بیله دې چې دکورمالونوته ئي لاس وروړل شي ووژل شو ، خوداسې ښکاریدله چې قاتل بایدډیرپه غوصه ، دسرې ویني خاوند ، مسلکي اوپوخ جنایتکاره وي .

جمهوررئیس داؤدخان ددوسیې پدې نتیجه اودې دلایلوباور وکړ ، دوسیه په عادي ډول محکمې ته ولیږل شوه مگرکارټر ، گلبدین اوډشینوارو وکیل په لاس ورنغلل ، یواځې دمرجان په تش حبس قناعت وشو .

ښاغلي ډاکټرحق شناس دخپل دسیسوپه کتاب دوهم چاپ (٤٦٤) مخ کې لکه دده نورو بې ثبوته لیکنوغوندې دمرجان په فقره کې دمحکمې رئیس (۱)عبدالسمیع (ژوند) بللی دی .

دغوائي د (۷) نه وروسته مرجان چاونه لیدئ چې څه شو ، ممکن روسې ته لیږل شوی وي . مرجان قرباني قبوله کړه ، که څه هم نوموړي کولای شوای چې رتښتې اماکه دی تښتیدلی وای نودجمي کارټراو گلبدین حکمتیارنوموړو به چا ورکولای لګکه چې داخودکې جې بې یوه محاسبه شوی وژنه وه .

په همدې وخت کې وکیل محمداعظم شینواری دمحمدافضل خان شینواري زوی هم ههه پلو اوښتی اودسرحد دشینواروپه سیمه کې ئي ژوند تیراوه ، محمداعظم په جهادکې برخه واخیستله مگرد (۱۳٦۷) کال راپدېخوا دډاکټرنجیب په بلنه کابل ته ولاړ اودننگرهار والي شو .

ولې دتره کې اوامین په واکمنۍ کې دده دکور ماشومان اوحتی ښځینه کسان هم په پلچرخي کې واچول شول .

---

(۱) که ئي مطلب دسمیع الدین (ژوند) نه وي ، نوښاغلي ژوند هیڅ وخت نه قاضي ؤ اونه څارنوال .

Ketabton.com

# دداؤدخـــان وروستی ورځـــي

دداؤدخان دجمهوریت وروستی ورځې اووختونه دنارضایت سره وې ، امنیت خراب اوقاچاق اورشوت اخیري مرحلې ته رسیدلی وو ، فقراوبیکاري ورځ په ورځ ډیریدله . دکورنیوډزوند دتأمین په خاطرډیرو ایران ، سعودي ، کویټ اواسټرالیا ته دکار دپاره څه وکړه ، په ایران کي افغان کاریگردتجاوزانوبه نامه یادیدل ، دتلك اوراتلك په وخت کي به سرحدي مامورینوهم لوټ کړل ، پیسي به ئي تري واخیستي ، په ایران کي هم ورسره انساني چلندنه کیدئ ، دکارځښتن به ظلم اوغبن ورسره کاوه ، د تلك لاري دخطرونو نه ډکي اودلوړي اوتندي له امله ډیري غمجني پیښني پیښیدلی .

دوضعي نارضایت دداؤدخان خپلي کورنۍ ته هم وررسید ، سلطان محمودغازي خپله همکاري قطعه اودملکي هوائي چلندد ریاست نه مستعفي شو ، دده ورور سردارمحمدنعیم خان قصددرلودچي وطن پریږدي اوخپل پاتي ژوندپه ایران کي تیرکړي .

کمونستانودبل اقدام دپاره تیاري نیول ، دزغروري قوا قومندان سرور نورستاني دوطنداری تراعتمادلاندي دکورنیوچارو وزیرقدیرنورستاني خوځل بلي کودتاته وروباله ، قادرچي دمسلخ په ریاست کي ئي پیسي پیداکړي اودهغونه ئي دملي دفاع وزیر غلام حیدررسولي ته څه ورکړي بیا دمدافع هوائي دقومنداني درستیزوال شو ، اسدالله سروري هم په اردوکي وکولای شوای‌چي په کومي خوکۍ‌وتاکل شي اوځونورداسي کسان بیاحساسوځوکیو اودقطعومشرۍ‌ته ورسیدل .

داؤدخان ته یواځې دده دکودتا هغه بي کفایته ملګري پاته وو چي کودتا ته دده لخواجذب شوي وو لکه غلام حیدررسولي دده دملګري اوکرهنیي پښخواني وزیر غلام حیدرعدالت دخورسړی چي دسردارعلي شاه خان دشاګردانو نه ؤ اودهغه پواسطه په عسکري منوځې کي شامل شوی ؤ ، ډیر پوروړی اودچرسومعتاد ؤ . دده هرنامعقوله اوخراب چلند دکمونستانو دپاره .وه مرسته وه ، دغوصی‌اوغضب په وخت کي به ئي په منصبدارانو خوله لګوله اویا به ئي دهغه غوږپه خوله چیچی .

لوی‌درستیزډګرجنرال عبدالعزیزهم دده دلاس تاکلی ؤ . یوبل بیادترافیکودرئیس امان الله حیدري پواسطه کودتاته جذب شوی بدنامه دترافیکوپښخواني بریدمن قدیر ؤ چي دخپلي سابقي دپاکولودپاره ئي دخپلوخدماتودمدیرعبدالرزاق کوهستاني پواسطه یوه آلماني کمپنۍ‌چي دوزارت مرکزګرمي ئي قراردادولي ،د درو میلیونوافغانیورشوت ته تشویق اوبیا ئي دهغونماینده مناغلی حمیدي بالفعل درشوت ورکولوپه نامه ونیوئ اودوزیرانوپه غونډه کي ئي دداؤدخان مخ ته وړراوډ چي بیدي ډول دداؤدخان شاباس تر لاسه کړي .

دخارندوی‌لوی‌قومندان تورنجنرال محمدطاهرخان چي په (طاهرکور) مشهور ؤ ، زوړ اوبي کفایته غیرمسلکي منصبدار ؤ چي فقط دیرچمي خارندویانودلاس غرګی ؤ ، چي په کوم لورئي ویشتئ ، ویشتئ به ئي .

عدل اله دمالیي وزیراودجمهوررئیس مرستیال دداؤدخان بل ملګری‌ؤچي دخپل بیلارسیدعبدالله په اعتبارچي پښخوادکورنیو چارو وزیرؤدکودتاملګری‌شوی اویوبي تجربه ځوان ؤ ، داقتصادپوهنځی‌ئي په ډیرومشکلاتوختم کړه اوهرمازیګربه دقدیرنورستاني په ګډون دسرپادلیري کولوپه منظوردیغمان په هوټل کي دهغوبداخلاقوبازاري ښځوسره په ساعتیري اخته ؤ چي دقدیرنورستاني دخارندویانولخوا به ورته راوستل کیدلې . که به نوي ځوك پیدا نشول دنوي ښار سینګارونکي ماجان ، فاضله اودهراتي لین دتجاریولیسدی ښځه به هروخت تیاري وې . ددي وضعي داصلاح په مقابل کي داؤدخان هم سړی‌او کمزوری‌معلومیدئ .

داؤدخان د (۱۹۷۷) کال په آخیروورځوکي ددوهفتولپاره جلال آباد ته ولاړچي (ع) ئي دلیدودپاره ورغلی‌ؤ ، ددي لیدونه د (ع) برداشت داؤ چي داؤدخان نورختم دی او ۱کمني په دنوي کال تر آخیره پوره نکړي چي همدا اټکل ربښتیا شو .

Ketabton.com

عامو خلکو او بالخصوص د اردو منصبدارانو چې د رسولي اوقدیرنه بې غمه شي د هر بدلون هر کلی کاوه ، وضعه تر ټوله د کمونستانو په گټه وه .

په اردو کې د سلاکارانو په نامه د روسي منصبدارانو فعالیت او هرېلو تلک راتلک چې په ملي دفاع وزارت کې ئې وظیفې درلودې ، د و مره محسوس وو چې حتی د ډېرو ټیټو رتبو منصبداران هم ورته متوجه شوي وو . دې منصبدارانو به اکثرو لوړې رتبې درلودې مگر د دې لپاره چې توجه جلب نکړي ، خپله رتبه به ئې کمه ښودله .

Ketabton.com

## خیبر

کي جي بي په روسیه کي لوړواك درلودارقوي دولتي اورگان ؤ ، په دولت کي یوبل دولت ؤ ، مهمي دولتي چاري سازمان لخوا اداره اولاربښوونه ئې کیده . ددې سازمان غړي دخاصوامتیازاتونه برخوردار ه وو ، دغړوپه انتخاب کي ئې هم زوره کتنه کیده اودغړو دټاکلوپه باره کي ئې ترخاصوشرایطولاندي تصمیم نیول کیدئ .

غړي باید سوسیالیزم ته وفاداره اودرژیم ضدنه وي ، خواري کښه اوپه کارپسي وي ، داستعدادخاوندان وي اوپه مهمواو حساسو وختوکي ئې دعاجل تصمیم توان درلودای .

ددي سازمان غړي به یولوی‌شمېر نظامي اوپولیسي منصبداران وو اودنورو مسلکونولکه دمهندسي، اقتصاد ، ژورنالیزم اودتخنیك خلگوته هم ځای ورکړل شوی ؤ .

دوی‌به ترخاصي روزني لاندي نیول کیدل . عکاسي ، رمزونه ، شفرونه ، مخابره اوژبې مهم درسونه وو ، دیپلوماتیك حرکات ، چلند ، داړوند هیواد تاریخ ، جغرافیه اوکلتوربه هم ددوی دزده کړوبرخه وه .

نقب گذاري ، سبوتاژونه ، جنگي اودفاعي سپورټ به ئې هم زده کاوه ، نسبان اوویشتل هم دمهمومضوعاتونه وو ، مغزئې پریولل کیدی ، ترحم بشریت اوعواطف ترې لیرې کیدل چې هرې فتنې اوجنایت ته چمتوشي .

افغان کمونستان هم دهمدې سازمان لخوا بنیادگذاري اوروزل شول چي ددوی‌نه یوهم میراکبرخیبرنومیدئ . میراکبر بنسټ پاله کمونست ، په خپلي ایدیولوژی‌قانع ، کمونیزم اوروسیې ته وفاداره اوپرې ډاډه ؤ .

دی‌دلوگر اوسیدونکی اولادحربي پوهنتون طلبه ؤ چې دروسیانولخوا جذب اومارکسیستي فعالیت ته وگمارل شو . دنوموړي کمونستي فعالیت دوخت دغنډ دقومندان (۱)محمدرسول خان لخوا ترڅارني لاندي ؤ .

میراکبرخیبرد (۱۹۵۰) کال دفارغانودډلي نه ؤ چې دمنصبداری یونیفورم ئې اغوستی‌اوتبریکي ورته ورکړل شوه . دمعمول سره سم دحربي پوهنتون دفارغانوبرې لیکونه به دوړې په لمریځ‌نیټه چې دخپلواکۍدتلین دجشن دورځې سره ئې سمون خوړ ، داردو درسم گذشت دتیریدونه وروسته هغه وخت ورکول کیدل کله چې به دحربي پوهنتون دمؤسس اعلیحضرت نادرشاه بابا پرقبردگلانوگیډۍ کیښودې‌شوې‌اوبیابه برې لیکونه دملي دفاع دوزارت په یوه محفل کي دمارشال شاولیخان اویاملي دفاع دوزیرلخوا ورکړل شول .

دی‌دپولومراسمونه وروسته دخپل ټولگۍدملگروسره پوهنتون ته چې په هغه وخت کي دکابل په بالاحصارکي ؤ راوگرځید ، مگردغونډ دقومندان لخواجلب اوبری‌لیك ترې واخیستل شو ، یونیفورم ئې ترې وایستئ اودبریکوت جیل ته ولیږل شو .

بندئي خوکاله دوام وکړ ، دده دټولگۍ‌بل ملگری محمدزی‌نومی‌دقلات اوسیدونکی‌هم یدې توردده سره بندې شو . دکمونست نوم په هغه وخت کي عمومي نه ؤ ، اکثروبنه نه پیژندئ اوعوامو‌به داویل چې دحکومت دمخالفت په تور زنداني شوی‌دی .

میراکبرخیبردخپل کمونست کیدو ویاړ ببرك کارمل ته دبریکوټ دبنددوخت نه بخښي ، ممکن دلته دببرك کارمل او میرمحمدصدیق فرهنګ دوطن دورځپاڼي دچلونکي سره بلدشوی‌وي ، پداسي حال کي چې خیبرتردې پخواکمونست ؤ ولي چې دی دکمونستي فعالیت په تورنیول شوی ؤ .

---

(۱) محمدرسول خان چې په نورو ځایوکي دضبط احوالاتودرئیس په نامه ذکر شوی‌دی .

Ketabton.com

هغه وخت لاکمونستي سازمانا په لمړيومرحلوکي قرار درلود ، فعاليت ئي دکي جي بي ترنظرلاندي اوديوامنيتي سازمان په ډول ئي کارکاوه ، نوله دي امله دغيرضروري پيژندګلوی نه ډډه کيدله .

ميراکبرخيبردخوکلي بند نه ورروسته دعسکری نه طردمګردپوليسوپه اکاډمۍ کي داستادپه حيث وټاکل شو ، که څه هم دنورو خارندويانود معلمۍوظيفه خونبه نه وه مګردنوموړي لپاره په زړه پوري وه اوونئي کولای‌شوای‌چي دخپلي ايديولوژۍ لپاره شاګردان جذب او وروزي چي دده دي شاګردانوبيا ورروسته لوړي دولتي اوګونډي خوکۍ ونيولي . خيبردزندان کړاو اصلاح نه بلکه نورئي هم پوخ کړاودخپل فعاليت دپاره ئي دضبط احوالاتوپه رياست کي هم دځان دپاره لمبرپيداکړ .

خيبرخپلي ايديولوژۍ ته پتمن (وفاداره) اوپدي لاره کي ئي ډيرربړونه وګالل ، په خواري کورني پوري ئي اړه درلوده اولکه د نوروپه شان اماتورکمونست نه ؤ . کله چي دبندنه خوشي شو ، ماشومان اوښځه ئي ژوندي ورك ووچي تراوسه بياپيدانشول .

خيبردضبط احوالاتوسره خپله رابطه وساتله او وئي کولای‌شوای‌چي دخپل استعدادپواسطه دامنيتي دستګاه مخ دځان په لور ورواړوي ، دی‌دوتلواولايقو مخبرانوپه قطارکي ودريدئ اوراپوروونه ئي داؤدخان ته هم دعلاقي وړ وو .

خيبرپدي واسطه وکولای‌شوای‌چي دولتي دستګاه اغفال اوتردي چترلاندي خپل سياسي فعاليت ته هم په پوره ډاډ دوام ورکړي اوسياسي حريفان هم وټکوي .

دجاسوسۍ په تاريخ کي دوه سره جاسوسان مهم رول لري ، دوی‌ددواړو خواودعلاقي وړ وي اونيول ئي مشکل ياناممکن وي . خيبرپدي پوه ؤچي داؤدخان دکومي ډلي سره حساسيت لري ، همداؤ چي دخروسچوف دراتلو سره ئي دحضرت صبغت الله مجددي راپور ورکړی ، همدابي سنده راپوروسبب شوچي حضرت (۵) کاله په بريکوټ کي زندان تير کړی .

ده نوردخارندوی اکاډمي دخپل فعاليت لپاره تنګه بلله اوهڅه ئي کوله چي استعفی‌وکړي اوپه بهرکي آزاد فعاليت ته دوام ورکړي مګردکورنيوچارو وزيرسيدعبدالله ئي استعفی ونه منله ، ترڅوئي دنوي اساسي قانون نه په استفاده دولسي جرګي لپاره په (۱۹٦٤) کال کي دلوګرپه کومه حوزه کي دځان کانديدکولوپه منظوراستعفی ورکړه ، کمونستانوپه همدي دوره کي هڅه کوله چي ولسي جرګي ته لاره پيداکړي . ببرك کارمل ، اناهيتاراتب زاد ، نوراحمد نور ، ميرمحمدصديق فرهنګ ، معصومه وردك ، فيضان ، ډاکټرعبدالکريم فرزان اوروقيه ابوبکر بريالي اونورمحمدتره کی ، دستګيرپنجشيری ، هادي کريم ، بارق شفيعي ، حفيظ الله امين ، سلطان علي کشتمند ، نظام الدين تهذيب ، يعقوب کمك اوشرعي جوزجاني دولس راني پيدانکړی . سليمان لايق دخپل پلاردملاتړاومرستي سره چي دپلخمري دحضرتانوخليفه ؤ ، ناکامه شو ، ميراکبرخيبرهم ددي ناکامي ډلي نه ؤ . البته دکړونونه هاشم زماني دماويستانوله ډلي نه دولسي جرګي وکيل شو .

خيبرنور رسمي کاراووظيفي ته مراجعه ونکړه ، دی‌دخپل فراکسيون دنشراتي اورګان (دپرچم دورځپاڼي) دچلونکي په حيث پيژندل کيدی چي ددوی‌فراکسيون دببرك کارمل ترمشری‌لاندي دهمدي ورځپاڼي په نامه مشهوره شو .

ميراکبرخيبردخپل ګوند منل شوی سړی اوخوش صحبته وبندوی ؤ چي په ګوند کي ئي ډيرپلويان درلوده .

Ketabton.com

# دخیبر ترور

دوري دمياشتې پر (۲۸) نيټه کال (۱۹۷۸) کې ميکروريان ته نژدې دعام سړك په غاړه دشپې په سرکې ميراکبرخيبروژل شوچې داقتل په هيوادکې دډيرو نورومهمو پېښوميدأ وګرځيدله اوهيوادئې يوه نيمه لسيزه دپېښوپه طوفان بدل کړ .

په ښکاره اومستندډول ددې وژنې مرتکب ونه پيژندل شو . معمول هم داوې چې دداسې وژنوپه هکله دډيرسرچ نه کار اخيستل کيږي ، دمنظم پلان اونقشې لاندې پرې اقدام کيږي اومرتکب دپخوانه دفرار لاراوبهانه تياکلې وي نوپدې اساس يواځې قراين دي چې دموضوع ارتباطات ښودلای شي .

قتل دهغوجرايمونه دی چې که قاتل ونه پيژندل شي انګيزه ، دوژنې ښه اوصورت دموضوع په کشف کې مرسته کولای‌شي چې په هغې کې دمقتول شخصيت لويرول لري .

پوښتنه داده چې دخيبرد وژنې سره چاعلاقه درلوده ؟ چاترې ګټه واخيستله ؟ هغه ادعاغلطه ده چې ددې وژنې توربردولت لګوي ، دولت کولای‌شوای کمونستي مشران ټول په يوه ځل ونيسي محاکمه اومړه ئې کړي بل داچې ترخيبرنورمهم کسان هم په ګوند کې وو .

حالت ښکاره دی‌چې روسيان داؤدخان ته په غوصه وو ، کمونستان په کمين کې اولکه باروتوته يوه وړه سپرغۍ‌په کاروه ، يوه وړه انګيزه بايدپيداشي چې عام کمونستان هم وپارول شي ، پرداؤدخان شخصاًداسې تورولګوي چې دغلاصون لار ورته پياته نه وي اوکمونستانوته لاس واچوي چې پدې ډول دهغوپه حمايه روسيانوته هم بهانه پيداشي .

دتوطيئې لپاره بايديوخوك قرباني شي ، ټولوته دقربانۍ‌درس لاپخواورکړل شوی‌ؤ ، البته دسوسياليزم دانقلاب لپاره لويه قرباني پکاروه چې خيبرتر ټولومساعد اومناسبه قرباني ؤ .

دفراکسيون دلحاظه دخيبردوژنې بازخواست دببرك کارمل حق بلل کيدئ ، خوکارمل هم قناعت وکړچې ديوې خوا دانقلاب لپاره لارهواره شي اوبل پلوديوقوي ګوندې رقيب نه ځان بيغمه کړي . کې جي بي دوژنې لپاره روزل شوی ماموران (تروريستان) لري اوزموږ په اردوکې ئې هم دقومندوپه نامه يوشميرځوانانوته تروريستي روزنه ورکړی وه .

يوشميرکتونکي دا وژنه مستقيم دسفارت غړي ابلوف ته منسوبوي چې دده فعاليت په افغانستان کې دانګريزي (لارنس) دجاسوسي دفعاليت خاطری راژوندی کوي .

(افغانستان درپنځ قرن آخيردوهم جلد) کتاب دکمونستي رسمي رژيم اورسمي ورځپانوپه اقتباس دتائيدپه ډول داوژنه د حفيظ الله امين لخوا اويادهغه پواسطه بولي ، په دې‌لړکې دکمونستانودروغواودولس غولولو ته ګوته نده نيول شوی اومؤلف دخپلې ادعالپاره په دې قرينه چې دغوائي دکودتانه وروسته دخيبرنوم دلست نه ولويدئ ، اتکاکوي .

داقرينه ببرك ته هم پدې خاطرزياته متوجه ده چې دکارمل دواکمنۍ‌وخت ترامين ډيرؤ اوهيڅ ئې دخپل ګوندې ملګرې خيبرد مبارزی يادونکړ ، پداسې حال کې چې نوروکمونستانوته کله چې به دمجاهدينولخوا په قتل ورسيدل ، پسله مرګه القاب او کورنيوته به ئې بدل ورکول کيدئ ، مګردکارمل وفادخيبرسره داوه چې دده دنوې ښځې نه لور زرلښته ئې پرروسي مودل برابره په روسيه کې وروزله اودګوند دکلردغړودساعتيرې وسيله ئې کړه .

اصلاًچې خوك بايد څه شي ؟ دګوډاګيانوواك نه بلکه تصميم دروسيانوپه لاس کې وو . امين ، کارمل اونجيب خپل ګوندې رقيبان اومخالفان په يوه بهانه اوبله بهانه يواځې بنديانولای‌شوای ، له منځه وړولو واك ئې نه درلود . لکه چې حفيظ الله امين نشوای‌کولای‌چې د (۱۹۷۸) کال دکودتاپه تور تورن سلطان علي کشتمند ، رفيع ، قادراويانورکمونستان له منځه يوسي مګرپه همدې تورئې بيطرفان لکه تورجنرال لو... چې دجرم دمرستيال اتهام پروهل شوی‌ؤ ووژه ، ياد

Ketabton.com

شهنواز تني دعملي کودتاپه وخت په (۱۹۸۹) کال کي نجيب هم ونشو کولای هغه گوندي ملگري چي پدي کودتاکي تورن وو ، له منځه يوسي .

بناغلي فرهنګ پخپل کتاب کي ضمني هغه کړي چي دغوائي کودتاته طبيعي اودااردو دداخلي منصبدارانوده جارزي رنګ ورکړي ، دېداسي ليکي : *( امين شخصي بنام پاچاسرباز دراستخبارات اردوداشت که اورا ازنقشه هاي دولت اگاه ميساخت)* .

دېپدي وسيله په کودتاکي دروسيانورول لرغرګندوي ، خودولت اصلاً نقشه نه درلوده ، داسي خه نه وچي دروسيانو نه دي پټ وي ، بله مهمه خبره داده چي پاچاسربازداردو په استخباراتوکي لاغه چي هغه خواصلاًپه اردوکي هم وظيفه نه درلوده .

سرلازدجنګاکي دکودتاسره سم دوه ترفيع ترلاسه اودکورنيوچاروو وزارت دخارندوی بست ته ورکړل شو ، ده په مختلفوولاياتو کي دخارندوی دقومندان وظيفه درلوده اوورورستي ماموريت ئي دبغلان په ولايت کي و ، دغوائي په کودتاکي ئي خه رول نه درلود په همدي سبب ئي لوړه کرسي هم پيدانکړه .

بناغلي ميرمحمدصديق دروسي لاسپوخي رژيم داعتماد وړاوصلاحيت لرونکی و ، ببرك کارمل دده دنژدي مشوررنه برخه من او دروسي يرغل کلك پلوی شميرل کيږي . دپرواقعيتونه ورسره وو ، له ده نه هيله داوه چي اصلي واقعيتونه اوروسي جنايات ئي لوغ کړي وای ، مګرنوموړی پدي موردوکي ګنګ دی .

په هرصورت دخيبروژنه دداوُدخان په وخت کي ترټولو لويه مهمه اوورورستني غيرمستقيمه روسي توطيئه وه چي کمونستي ګوند ئي راوباراوه .

دخيبرجنازه په شاندارو مراسمو وشوه ، ډيرو کسانو پکي ګډون کړيوو ، دهيواد دګوټ ګوټ نه کمونستان اوګوندي غړي رابلل شوي وو . بيطرفه ، متشبث ، بي شعوره خوشيناني اودکابل دښارسيلانيان هم په جنازه پسي روان وو ، خلق اوپرچم خپل زورپه نمايش کيښودی ، کمونستو انجونوهم ګډون کړی وو ، دجنازي بلرګه کونکي په منظمو صفونواوترخاص ديسيپلين لاندي روان وو ، دجنازي يوپلونورمحمدتره کي اوبل پلوئي ببرك کارمل نيولی و ، دولتي ضد شعارونه ورکول کيدل اوددي وژني تورئي نيغ پرداوُدخان لګاوه .

# دکمونستي مشرانو توقيفي

روسي الوتکو په همدي شپو او ورځو کي دافغانستان پرهوائي حريم الوتني کولي ، ددي هوائي تيري په هکله پخپله داؤدخان روسي سفير پوزانوف ته شکايت او اعتراض وکړ چي دسفير دسخت ځواب سره مخامخ شو .
دخيبر په جنازه کي دکمونستانو ترخي او سپوري ويناوي يو بل سبکاره دخطرزنګ ؤ ، داؤدخان باهم غوږ دريغ غوره نکړی او دائي جدي خطر ونه بلي ، يادتصميم توان نورورياته نه ؤ . دقديرنورستاني اوغلام حيدررسولي په لاپو ، سستو او بي تدبيره اجراآتوئي قناعت کړی ؤ ، دکمونستي مشرانو په نيولو کي ئي دعدليي دوزيردعدلي او قانوني مشوري نه وروسته دغوائي پرشپږمه نيټه دخو کمونستي مشرانو لکه نورمحميدتره کي ، ببرك کارمل ، سليمان لايق ، ډاکترشاولي ، دستګير پنجشيري او شرعي جوزجاني دنيولو امر ورکړ ، مګر داردو کمونستان او نوردهيواد ضدعناصر په خپلو قطعاتو کي پرځای پاته وو .
نيول شوي کمونستي مجرمان په زندان کي هم بي تشويشه او خاطرجمعه معلوميدل ، دکابل ولايت په توقيف خانه کي ددوی ځای او کوټي هرچاته معلومي او تماس ورسره سوکه او اسانه ؤ ، دپيرچي خارندويانو لخوا به نازيدل او احترام ئي پرځای کيدی .
دولت او داؤدخان ته ددي عمل دبشپړولو او اجرالپاره ضروري داوه چي نظامي حکومت اعلان کړي او په کابينه کي عاجل بدلون راولي ، ولي چي دکمونستي مشرانو نيول دروسي سره دجنګ داعلان معنی درلوده لکه چي اسلم وطنجار پخپله تلويزيوني مرکه کي وويل چي دکودتاچيانو وکودتاته پدي اندازد تلوسه او بيړه وه چي هروخت به مو پوښتنه کوله ترخو ملګری تره کي صاحب وويل ( *هروخت چي زه يعني تره کی بندي شوم ، هغه دکودتادپيل ورځ ده* ) .
دکمونستانو دمشرانو دنيولو سره دګوند پوخه غړي دډارنه وتښتيدل او دخپلو کورونو نه ئي دخارندوی دډاره کمونستي نشرات او مواد ليري کړل .

# ۱ *** څلــــورم څپرکی ***

## د غـــوائـــي (۷)

دغوائي تراوم پوري دامنصبداران ددي لاندي مهموقطعاتوپه سرکي وو :

| | |
|---|---|
| دملي دفاع وزير | ډگرجنرال غلام حيدررسولي |
| دملي دفاع لوی‌درستيز | ډگرجنرال عبدالعزيز |
| دمرکزي قواو درستيزوال | تورنجنرال عبدالعلي وردګ |
| دجمهوري گارډقومندان | جگړن صاحبجان خان اخکزی |
| مدافع هوائي | ډگرجنرال محمدموسی |
| دافـع هـوا | بريدجنرال عبدالحنان شينواری |
| دمخابري لـوا | بريدجنرال عبدالحميد |
| دراکـټ لـوا | بريدجنرال محمداسمعيل |
| دمهتـاب کلا توپـچي | بريدجنرال محمدظريف ميداني |
| دمهـتاب کلا درستيزوال | ډگروال خليل الله |
| دحربي پوهنتون قومندان | تورنجنرال شاپور احمدزی |
| دمصئونيت ملي رياست | تورنجنرال محمداسمعيل |
| دخارندوی‌لوی‌قومندان | بريدجنرال محمدطاهر |
| (۱۵) زغروره قوا | ډگروال محمديوسف فراهي |
| (٤) زغروره قوا | ډگروال سرورنورستاني |
| دننگرهار فـرقـه | تورنجنرال محمديونس |
| دکندهارکل اوردو | ډگرجنرال محمدعظيم لغماني |
| دکندهاردکل اوردودپياده فرقي قومندان | تورنجنرال محمدنبي فراهي |
| دپکتياکل اوردو | ډگرجنرال سراج الدين خان |
| دپکتيادکل اوردودپياده (۲۵) فرقي قومندان | بريدجنرال فراج الدين |
| مدافع هوائي درستيزوال | ډگروال قادر |
| (۷) فـرقـه | تورنجنرال محمدنظيم |
| (۸) فـرقـه | تورنجنرال محمدآصف سياه |
| دبگرام هوائي قومندان | ډگروال غلام سخي |
| دشيندندهوائي قومندان | ډگروال عبدالرحيم نورستاني |

ديورتني لست نه په غيريوشمير جنرالان اوداردولوړ رتبه منصبداران شوزارت په بيلو بيلوخانگواودفترونوکي هم موظفه وو . مگرکمونست منصبداران ترټولوفعاله وو چي ځيني ئي دداؤدخان په کودتاکي ښکاره شوي اوځينوئي ځانونه پټ کړي وو .

Ketabton.com

داؤدخان ته دکمونستي مشرانودبنديکيدوپه خاطرد مظاهري آوازي اوراپورونه وررسيدل ، دمظاهري دمخنيوي په بهانه په (۱۹۷۸) کال دغوائي په (۷) دپنجشنبي په ورځ سهاردوخته بيله کوم امراوهدايت نه ځيني قطعات پرخپل سرمسلح اوتيارسي شول چي په ظاهره ئي ددوئ په پلوي دخوشحالي اتڼونه کول ، دوي بي طرفه اوبي خبره منصبداران اوعسکر پرځان راټول کړي اومصروف وساتل .

داؤدخان دمظاهري دمخنيوي اودوضعي سره دقانوني لاري دمقابلي په منظوردوزيرانوغونډه دمشوري دپاره دايرکړه ، غونډه دايروه چي دخلورمي زغروري قواودټانکونودخوځيدوخبردکابل دښارپه لوري داسلم وطنجارپه مشري وررسيد ، دټانکونود مخنيوي دپاره دملي دفاع وزيرغلام حيدررسولي اودکورنيوچاروزيرقديرنورستاني غوښتل چي غونډه پريږدي خوټانکونه دارګ مخته وررسيدل ، دوي دواړو وکولای شوای چي دارګ دشمالي پلودلاري نه ووزي ، رسولي خپل لوي درستيزډګرجنرال عزيزخان دځان سره واخيست ، ددي په ځای چي قومنده ورکړي دواړه قطعه په قطعه ګرځيدل ، تصميم ئي درلودچي قرغي ته ولاړشي اودقرغي دقوانه مرسته وغواړي ، دمامورينودکارتي دري لاري بنده وه ، قطعات لا پڅخوا ځای په ځای شوي وو اوددوي دتلګ مخنيوي ئي وکړ ، مګرنوموړو وکولای شوای چي دچتلي ددښت دلاري قرغي ته ځان ورسوي ، خورسيدوئي ګټه ونکړه ، هلته هم وضعه بله وه ، قطعي خپله وظيفه اخيستي وه اوددوي امرچا ونه منئ . ځينومنصبدارانودکودتا دمخنيوي دپاره دامرغوښتنه وکړه ، مګردفرقودقومندانانومشوره داوه چي تراخيري نتيجي اوډراډيوتر خبروپوري بايد انتظاروايستل شي .

دملي دفاع وزيراودده لوي درستيزدقومندي مرکزتش پريښودئ ، دوزارت په تورتشريفاتي موټرکي هريلودمرستي په غوښتنه وو ترخوچي دريشخور (۷) فرقي ته ئي مخ وکړ ، خوقطعي ته لانه وورسيدلي چي دکودتاچيانولخوا ونيول شول اودواړه ئي هلته ووژل . دواړوجنرالانوجنګ نه ؤليدلي ناازموېلي ددفترجنرالان وو ، ددوي دواړو په وتوسره دقطعاتورابطه قطعه اودهدايت اوقومندي په مرکزکي خوك پاته نشول .

باغي قواوي منظمي وي ، ددولتي قواوترمنځ هيڅ ډول رابطه اوکواوردينا سيون نه ليدل کيدل ، وارخطائي اولاهاندي هرپلو خپره وه ، دخانګوجنرالان ددي په ځای چي ابتکارپه لاس کي واخلي دځان دساتني په اټه کي شول ، خپل موټران ئي پريښودل ، پرپښواويادټکسي پواسطه ئي کورونوته ځانونه ورسول .

څرګنده نه ده چي دڅاپه قومنده دبالاحصارڅومحدودي ټولي دارګ په مرسته دمالي دوزارت ښاته وورسيدي ، خوامراوقومنده ورك شول ، قطعه بي سرپرسته پاته شوه ، ځوان اوبي تجربي افرادنه پوهيدل چي څه وکړي ، په آخيرکي يوه سپين ږيري ډګروال که څه هم ددي قطعي آمرنه ؤ ، دزره سوي اودځوانانودتلف کيدو دمخنيوي په خاطروقطعي ته دستنيدوامر ورکړی چي هغوی هم ومنئ .

دکورنيوچارو وزير قديرنورستاني وزارت ته ځان ورساوه اودکابل خارندويان ئي دکابل دقومندان ډګرمن ميرګل ترمشري لاندي دارګ په مرسته وليږل چي دتوپك اوتوپنچي پواسطه دټانك سره مقابله وکړي . ميرګل وتښتيدئ ، قديرزخمي شوچي پرهغه زخم سربيره دکابل په (٤٠٠) بسترېزروغتون کي ووژل شو ، (۱)ميرګل پخپله دغوائي پرنهم مراجعه وکړه اودکودتاچيانولخوا اعدام شو .

---

(۱) ساغلي ډاکټرحق شناس حپل د (دسيايس روس ازاميردوست محمدخان تاتبرك) په (٤٦٩) مخ کي دکابل سرمامور نورګل ليکلي دی ، دکابل په خارندويانو کي بدي نامه خوك نه ؤ . سرمامور عبدالرب رحيمي اوقومندان ميرګل نوميدی .

# هوائي عمليات

دهوائي عملياتو بريدفيصله كونكي اوغوڅ رول درلود ، ډگروال قادر دهوائي ځواکونو دسترقوماندان دقوماندې مرکز (محل جنان) اشغال اوهوائي عملياتوقوماندې په لاس کې ونيوه ، لمړيني ځل قوماندان ډگرجنرال محمدموسی دده په تشناب کې واچوی اوپيره دارني ورته مؤظف کړ ، كه څه هم ډگرجنرال كولای شوای چې دکړکۍ څخه خلاصون وموي اوقومندانۍ پلاس کې واخلي ، مگرنوموړی ډېرمهربانه اوبې جرئته و ، عسکري کرکټرئې نه درلود ، اکثرعمرئې دعسکري ښوونځيو معلمۍ کې تیرشوی و ، دهغه اخلاص اواطاعت له ځني رسولي دملي دفاع وزيرپه دې ځوکۍ وټاکی .

قادر دادفع هواقوماندان تورجنرال عبدالحنان خان شينواري ته هدايت ورکړچې دمظاهري دځنيري په خاطر ژر دسروبي دافع هواغونډونډې ته کنترول اومعاينه کړي ، جنرال عبدالحنان شينواري چې يومسلمان اوباجرئته قوماندان ، دداؤدخان دوست اونږدې اعتمادي و پدې حساس وخت کې ئې ځپل پاته کیدل په قطعه کې لازم وګڼل اوهغه ئې وکړه چې دعمومي قوماندان محمدموسی سره وږغيږي خوهغه لاپخواقادر په بندکي اچولی و ، دوزيردفاع سره دتماس په لټه کې شو هغه ئې هم پيدانکړ ، ناچاره دقطعي نه دسروبي په قصدووت چې دخلورمي زغروري قطعي رځنه په څرخي پله کې انضباطاتو ونيوئ او وروسته ئې شهيدکړ ، جنرال عبدالحنان شينواري په مهمه اوحساسه قطعه کې قوماندان ؤچې دده په نيولوسره دکودتاد عملياتو دپيل قومنده ورکړل شول .

دوخت په تيريدلو اودادرو دوارخطاکيدوسره هره گړی دکودتاچيانو روحيه قوي کیدله اودوی دمختلفوعملیاتوپه مقابل کې ددولتي اردو تدبيراومقاومت نه ليدل کیدئ ، کودتاچيان دپلان سره سم مخ په وړاندې تلل .

سيدمحمدگلابزوی دهوائي بريدگي اوقادرډنورو منصبدارانوپه څنگ کې ډگرجنرال محمدموسی اودده ياورجگړن عنايت الله چې دامريکې فارغ التحصيله و ديوشمېرنورو منصبدارانوسره ميدان ته راوايستل اوکلاشينکوف ئې پرخالي کړ ، چې له دې لاري نوروته دځپل عمل شدت څرگند کړي اودهوائي الوت لار پرانيزي . دوی دمازيگرخواته دهوائي عملياتوپواسطه جمهوري ارګ تر بمبارد لاندې ونيوئ ، چاتراوسه دافغان پيلوټانوپدې مهارت الوتنه نه وه ليدلي ، اکثره تراوسه پدې عقيده اوباوردي چې داالوتني دروسي پيلوټانوڅخوا کيدلې چې دبگرام په هوائي اډه کې عسکري سلاکاران وو . دافغان پيلوټانودډلي نه يوهم ډگرمن غوث الدين طوطاخيل ؤ چې پدې عملياتوکي ئې گډون درلود .

يواځې دتاجبيلک ددافع هواغونډ دمرکزي قوادډرستيزوال تورجنرال عبدالعلي وردګ دتشويق نه امله مقاومت وکړ ، دکودتاچيانودوه الوتکي ئې راوغورځولي چې ديوې الوتکي پيلوټ دشيربهادر افريدي زوی و اودپيراشوټ پواسطه ئې ځان دمرګ نه بچ کړ .

هغه هوائي عمليات چې دشپې دتاريکۍ له کبله ځنډيدلي وو ، سبايه رڼا کې دسره پيل شول .

Ketabton.com

# پرارك باندي عمليـــات

دغوائي پر (۷) دپنجشنبې په ورځ جمهوررئيس سردارمحمدداؤدخان دمظاهري په هکله دوزيرانوسره په غونډه اومشوره مصروف ؤ ، پداسي حال کي چي ددي ورځې غونډه دوخت له خرابولوپرته بل څه نه وه ، بايدنظامي تيارى نيول شوى‌اويا پوځې حکومت اعـلان شوى‌واى .

دغومي شناوخواوه ، دامسلم وطنجار ټينك دپردو په لمسون اوقومنده دزغروري خلورمي قوادخپل کنډك دټينکونوپه سرکي روان اودارك دختيځې دروازي مخي ته ودريد ، لمړى‌ئي دملي دفاع دوزارت پرماڼى باندي غوزار وکړ ، ماڼى‌ولړزيده ، وزيراوډده لوى‌درستيز لاپخوادماڼى‌ه نه وتلي وو ، بياتي دارك دساعت برج نښه کړ ، وروسي ئي دخپل ټينك شپيلى‌ارك ته ورواړوله اوارك ئي تراور لاندي ونيوئ چي هم هغه ټينك وروسته دارك رمخته دغوائي دانقلاب دبرياليتوب دسمبول اونښي په توګه پريوه لوړه ډبه ودرول شو .

داؤدخان وغوښتل چي داردو دعالي قومندان په حيث داردو اداره اومشري پخپله پلاس کي واخلي ، توله دې امله ئي هغي مخابري ته لاس کړچي په همدي منظوربه تل دده پرميزباندي پرته وه اوعسکري قطعوته به ئي نيغه لاربنوونه کوله ، خو ناخاپه متوجه شوچي دمخابرى کاتل (دستگاه) له کاره وتلي ، دمخابري کودداوچينل بدل شوى‌دى ، نوونئ ويل چي *" روسها کارخـودرا کرد (روسيانوخپل کاروکړ) "* ، وزيران ئي کورته رخصت کړل ، دکورنيوچارو اودملي دفاع وزيران خولاپخوادارك نه وتلي وو .

خپله کورنى‌ئي پرځان راټوله کړه ، داؤدخان تسليميدوته غاړه نه کيښوده اونه دتيښتي په لټه کي شو ، کولاى‌ئي شواى چي دفرانسي دسفارت دلاري چي دارك سره ئي پيوست اوګډ ديوال درلود ، ځان ګوښه کړي مګرپخپله خاوره کي ئي مرګ دعزت باله ، داځکه ئي ترمرګه مقاومت وکړاودابه ئي ويل چي نه غواړي دروسيانوپلاس په ژوبې کي بندي شي .

کودتاچيانوديوه ټينك پواسطه دکابل دتوقيف دخاوروراو اوموخښتوزوړ ديوال ونړاوه اوورننوتل ، خپل مشران ئي دداؤدخان دبنډنه په ډيره خوشحالى‌اوغرور راوايستل ، په ټينك کي ئي کښينول اودکودتا دعملياتومرکزکابل راډيوته ئي راوړل ، نور مشرانودکابل دښارمتشبثه سيلانيانوته دخوشحالى‌لاسونه ترټينك رااېستلي اوښوورول .

دارك دپوځيانومعنويات خراب ، سرې اومايوسه معلوميدل ، نورقطعات ئي مرستي ته راونه رسيدل ، داځکه ئي مقاومت نورهم کمزورى‌شو . کله چي هوائي قواپرعملياتوزور واچاوه اوارك ترځکني اوهوائي عملياتولاندي ؤ ، نودګاردمقاومت هم وار په وارکـمـزورى‌کـيـدئ .

دداؤدخان دکورنى‌غړي يوبه بل پسي زخمي اوددو زامنو عمر او خالد زخميکيدل اومرك ئي پخپله وليدئ ، دژوندمخت ساعت ؤاودى‌پوځې پاتي ؤ ، کمونستانوپه ارك کي نفوذ وکړاو ورننوتل . دداؤدخان نه ئي دليدواوخبروغوښتنه وکړل چي ده ومنل ، دري تنه واړه رتبه کودتاچيان دتورن امام الدين په مشرى دجمهوررئيس داؤدخان حضورته ورغلل اودتسليمي غوښتنه ئي تري وکړه ، سردارمحمدداؤدخان بيله دې چي دځان اويا دکورنى‌دخلاصون غوښتنه وکړي ، پرامام الدين ئي دخپلي توپنچي وروستى‌مرمى‌اورکړه ، امام الدين ئي زخمي کړمګرمړنه شو ، دامام الدين نوروملګرو جمهوررئيس محمدداؤدخان ترضربي لاندي ونيوئ اوپه هغه ځاى‌کي چي دى‌دافغانستان ترملي بيرغ لاندي ولاړؤ په شهادت ورسيد ، وروسته ئي دده ورور سردارمحمدنعيم خان اودکورنى‌نورنارينه غړي يوبه بل پسي ووژل ، دکورنى‌ښځينه غړي ئي دپلچرخي په هغه جيل کي چي داؤدخان دخپل رژيم دمخالفينولپاره په ډيرعصري توګه دقديرنورستاني په ورانديزجوړکړىؤ ، واچول . پدي ډول ددورانيوپاچاهي پاى‌ته ورسيدله .

Ketabton.com

دداؤدخان اوده د کورنۍ دنورو غړو مړي او جنازې چاونه لیدلې ، فاتحه فقط دچمن اوکويټې اخکزو دهغه ځای په جوماتونوکې واخيستله اودوعا ئې ورته وکړه . ويل کيږي چې مړي ئې دمرغجان دغونډی په لمن کې ترخاورولاندې شوي دي .
حفيظ الله امين دوينډوی اوانانسرپه توگه دکابل راډيودلاري جگړن اسلم وطنجار(۱) (تسوربيکی) اوقادرډگروال معرفي کړل چې وطنجارپه پښتو اوپه فارسو ډگروال قادرچې په (۲)قادر (سلك) ئې شهرت درلود ، پوځي حکومت اونوی رژيم اعلان کړ . ولس لابه نه ؤ پوه چې څه به راشي اوڅه راغلل چې دکابل راډيوپه خپرکې دسليمان لايق داشعر دډاکترصادق فطرت (ناشناس) په اواز اوکمپوزکې خپورشو :

*توره تياره تيره شوه ستا پرسردروبانـدي*
*نـه شوله چي تيره شوه ستاخوارو بچو باندي*
*هره تياره پـای لـري خلـگو ولسو باندي*
*لمرد عدالت وخوت ستاپه جبگو غرو باندي*

خوربه هيوادکې دهم هغې ورځې نه دوينې توئيدل اوداوښکوبهيدل پيل شو .

---

(۱) اسلم وطنجار پدې خاطر (توربيکی) بلل کيدئ ، چې دهغه چاملګری اووزيرباته شو . دشورويانوخوا وطنجاردېلې کودتا داستعمال لپاره هم په نظرکې نيول شوی ؤ (۱۰۹ مخ ـ لانه جاسوسي ، لمړی ټوك) .
(۲) قادرنه خلقي اونه پرچمي ؤ ، دپيسوپه مقابل کې ئې هرڅه کول . دمنورنځی نوخت نه ئې په قادر (سلك) شهرت درلود اوځکه دپوليدمعارت په وخت کې ئې دځينولوپدغوهيوادونو داستخباراتي جهاتوسره هم تماس ټينګ کړی ؤ .

Ketabton.com

## دکودتاپه مقابل کي دمرکزدقواو عکس العمل

دغوائي په کودتاکي هم هغو منصبدارانوګډون درلود کوموچي داؤدخان ئي واك ته رسولي‌وو ، دتیري کودتادبریالیتوب تجربه ورسره وه اودوه دوه ترفیعګاني ئي ترلاسه کړي وي . له دي امله داپوښتنه پیداکیږي چي داؤدخان دامنصبداران کودتاته جذب کړي وو اوکه ترتیب شوي کودتاته داؤدخان رابلل شوی ؤ ؟ .
کودتاچیانوتجربه اوهم آهنګي درلوده ، دتیري کودتانه هم ورته ازمون پاته ؤ ، دخپل هدف لپاره جنګیدل اوغوڅ دریځ ئي غوره کړی‌وو ، هغه منصبداران چي دجنګابښ دکودتاپه پلوي راوتلي وو ددوترفیعګانوخاوندان شول اودغوائي دکودتاپه وخت هم بي شمیره ، بي خبرو اوبي تفاوته منصبدارانو دترفیعګانوپه هیله خپل قطعات مسلح اودکودتاچیانوپه پلوي راووتل ، که څه هم دوی‌ته په عملیاتوکي دګډون برخه ورنکړل شوه مګردکودتاچیانودمعنویاتودتقویي سبب شول .
دجمهوري ګارډقواو ترخپله وسه پوري مقاومت وکړ ، دګارډقطعه اصلاً لویه اومجهزه نه وه ، یوازي دیوي لنډي دفاع په منظورجوړه شوي وه ، ترڅونور ځواکونه ئي مرستي ته راورسیږي .
عمرشریف دیخواني ملي دفاع دوزیرعارف خان وزاره اودحنیف خان روی‌دټینك سره غونډل ارلڼ ته ننوزي ، دهغي‌څوا په ټینك ضدي توغندی‌وویشتل شو ، ټینك دري توټي شوچي دوه برخي ئي په هوا والوتي اولاندیني‌برخه ئي تشه پرځګه پاتي شوه ، دټینك دقومندان عمرشریف غوښي دارلڼ دمخ په ونوکي په هوابندي پاته شوي . عمرته پسله مرګه تقدیوورکړل شواودنادري لیسه ئي په نامه شوه .
ورروسته کمونستان ارلڼ ته ننوتل چي دعسکرودروحیاتو په خرابوالي کي ئي مهم رول ولوباوه ، مقاومت نوره ګټه نه درلوده ، دګارډقومندان جګړن صاحبجان خان اڅکزی ونیول شواودکودتا نه یوڅه وخت ورروسته دمقاومت دښودلوپه جرم دکمونستانولخوا اعدام شو .
ددباندنیوقطعاتونه داومي فرقي د (٥٥) لوا قومندان ډګروال محمدهاشم (نورزي) په خپل نووښتون اومسئولیت دهیوادنه ددفاع په جذبه خپله قطعه دښارپه لوري وخوځوله . بریکوټ ته ورورسیدااوپه داسي حال کي چي ټیپي شواوویني تربهیدي مخ په وړاندي دارلڼ په مرسته روان ؤ چي دتورن علاوالدین لخوا وویشتل شواودده لارنورچا تعقیب نه کړه . دده دشهادت سره قطعه شاته ولاړه اونورقومندانان اودهغوی‌پوځي ځواکونه بیطرفه اوسیلاني پاتي شول . حفیظ الله امین دریشخور (۷ فرقه) دعلاوالدین په نامه کړه .

Ketabton.com

# د ولایتونو د قطعو عکس العمل

دنورو ولایتونو دقطعو عکس العمل هم ددولت په گټه نه وو ، دبلخ ، نهرین او هرات قطعودمرکزنه دلیرېوالي له امله ونشو کړای چې دمرکزومرستي ته ورسېږي مگر دکودتاد مخنیوي اودولت ته دمرستي دپاره دننگرهار ، پکتیا او کندهار قطعولوی رول لوبولای شوای .

دننگرهار د (۱۱) فرقي قومندان تورنجنرال محمدیونس خان خپله قطعه دغوائي پراوهه تیارسی کړه اودکودتادمقابلي اوداژدخان دمرستي دپاره دکابل په لوري وخوځید ، سروبي ته ورسید ، چې دکابل دخبریت دغلط راپوردورکولوله کبله ني خپله قطعه بیرته ستنه کړه ، دهمدي چاري له امله دننگرهاردوالي عبدالخالق رفیقي سره یوځای چې دده ددي اقدام دتشویقونکي اومشاورپه توگه ورسره ؤ به نږدې دنایبژندلو کودتاچیانوپه لاس کي ولوېدل اودواړه دهغې فرقي په فارم کې ارهلوته نږدي دتوپچي دتورن اورنلڼ په لاس شهیدان شول .

تورن اورنلڼ د (۱۱) فرقي قومندان شوچي دهمدي کنال دلږم په میاشت کي دپهلوان نومي (دده دمحافظ) دشروتنو روسي پوځي سلاکارانوسره دقومندانۍ په دفترکي مړکړاو وردکوبه ولایت کي ئی یوه علاقه داري په نامه شوه .

دکندهاراوپکتیا لوی کل اردوچي په تشکیلاتوکي ئي مختلفي پرمخ تللي وسلي ، لوی ځمګتوبه شوي قطعي ، زغرېزي اوموټروالي فرقي ، دپلوبشیره فرقي ، توپچي غونډبونه ، مخابره ، استحکام ، دتوغندیومستقلي لواوي ، نورې نشپړې قطعي ، یوشمېرجنګي الوتکي اوراډار دستگاوي ئي په واك کي درلودلي . هره قطعه به ځانگري ډول دمرزوول احتمالي هلي اواقدام ځواب ویونکي بلل کیدله ، دبنه پوځي موقعیت اوستراتیژیکي اهمیت نه برخه وه ، ایران ته دنږدیوالي اودپاکستان سره ئی اوږدي پولي درلودي ، په تیره بیا دپکتیاعسکرغوروخاص عسکري اهمیت لاره . لکه چې دجهادپه موده کي روسیانو دیپولوپوځي امکاناتوپه درلودوسره ونشوکولای په جنلي کي دیري وړي جبهي بي تجربه اوناروزل شوي مجاهدین دسنگرنه بیورته کړي .

ددي دوقطعوپه سرکي دپورتني اهمیت اوامکاناتوله امله داژدخان متقاعدجنرال محمدعظیم لغماني دکوره زروغرمنت ، دوگرجنرال رتبه ئي ورکړه اودکندهارکل اردوته ئي ولیږئ اوتورنجنرال سراج الدین ئي دجنرال محمدحسین دمیرك کارمل دبیلاړپرځای دپکتیادکل اردو لوی قومندان کړی .

ملت چې دهمدي ورځي لپاره اودهیواداودناموس ددفاع په خاطرئي دارتوسالي دروند پیټي په کلونو کلونوپرخپله غاړه اخیستي ؤ ، دجنرالانو رفاه اودژوندمادي وسایل ئي وربرابرول اودهوی احترام اوعزت ئي کاوه خوکله چې ورځ راغله نوهمدی جنرالانوپه احسلاقي خاظ دداژدخان دملکوتیا اودوستي شرط پرځای نکړ اودوظیفي له لحاظه ئي دتپولونظامي امکاناتوسره دهیواد دورسپارل شوي ناموس دفاع ونکړه .

جنرال مقاومت ونکړ ، دخپل سراسان ئي وغوښت ، دولس دهیلوخلاف ئي دتسلیمي لاسونه جلټ کړل پداسي حال کي چې دنوونځیوماشوماني اینجوني لکه ناهیده (صاعد) اوجمیله په تش لاس دروس مخي ته ودریدې اوشهادت ئي ومانه ، دنوری نوري ملکري لکه مرضیه اوصابره زخمیانې شوې . که جنرالانولږمقاومت هم ښودلی وای ملت به زړېرودی راټول شوی او ددوی ننګه به ئې کړې وای .

داجنرالان تراوسه ژوندي دي خودواقعیت دوېلوته دده کوي ، په تاریخ کي داسي ډیرلیدل شوي دي چې ترټولوژوندی مثال دمصراواسرائیلوډکال (۱۹۶۷) شپږورځني جگړه وه ، دمصردملي دفاع وزیرجنرال عبدالکریم عامرکله چې دامسرائیلوپه مقابل کي دمصري قطعودناکامي نه خبرشو نوله شرمه ئې ځان مړ کړ



عمدوی [illegible] خپلواکی خوندی کړی

Ketabton.com

په (۱۹۷۱) کال کې کله چې جنرال ټیکه خان او جنرال نیازي د ختیځ پاکستان (بنګله دیش) د سالمو جوګه نشول او پاکستان وویشل شو نو جمهور رئیس جنرال یحیی خان استعفا ورکړه، جنرالان بر طرفه او محاکمې ته ئې رشوه پداسې حال کې چې ولس ئې د سو ځلو غوښتنه کوله.

خو راګرځو بیرته خپل هیواد ته او دا پوښتنه رامنځته کوو چې آیا دغه د جنرالانو ټاکل تصادفي او یا ځکه د داؤد خان د اعتماد او شخصي باور له کبله وو چې بې کفایته وختل او د ولس د ضیلو خلاف ئې خپله وظیفه ادا نکړه؟ او که نه د دوی ټاکل لکه نوري ټاکنې حساب شوي او د یوتفاهم له مخې پر داؤد خان منل شوي وې او د وی دکې چې بې ترلاسه وونې لاندې ددې کودتا دوړاندېنۍ پلان نه خبرو او یا ئې پکښې ګډون درلود. بیا وروسته د باوري کسانو د خولې وا وریدل شول چې د ګر جنرال محمد عظیم لغماني د خپل د رستیزوال تورنجنرال ګل محمد منګل دوړاندیز په مقابل کې چې کابل ته ئې د مرستې ورکولو غوښتنه کوله، دتعلل په منظور د کابل د قومندې او هدایت تر رسیدو پورې دانتظار لارښوونه وکړه. دا ثمې فرقې قومندان تورنجنرال محمد آصف سیا هم پریکړه وکړه چې د کودتاچیانو په مقابل کې تر دریدلو وړاندې دراتلونکي اعلان انتظار وکړي.

دملي مصئونیت د رئیس جنرال محمد اسمعیل (فرمان) په ماموریت کې دوه ځلي د چپیانو کودتا بریالۍ شوه، د نظامي حادد مرستیال د ګرمن ګل عثمان له خولې چې دکې جې بې دمامورانو ټینګار داوو چې نوراحمد اعتمادي او جنرال (فرمان) ضایع نشي، مګر امین چې د روسیانو له خوا نوراحمد اعتمادي د ځان احتمالي سیال باله، له منځه یوړې.

چې دپورتنیو بهانو تر منځ ورته والي په ښکاره ډول مخکښنیو ژمنو او تعهداتو ته اشاره کوي.

دهمدې جنرالانو دوظیفې د نه اجرا کولو له کبله هیواد ال بې پته، هیواد د یکاړه او ولس وکړیدئ: جیلونه او شکنجې ئې وليدلې، څه کم دوه میلیونه شهیدان شول. پنځه میلیونه دیر د وپه د منتو کې د ژوندیه ډیر و خراب و شرایطو کې اواره شول. آیا ددې جنرالانو تاریخي مسئولیت په د خپلواکۍ د غزاد مشرقي جبهې د قومندان صالح محمد خان نایب سالارنه کم وي ؟؟؟

که موږ ورسمي ټاکنو ته ځیر شو دې نتیجې ته رسیږو چې د اشخاصو تر منځ پخوانۍ اړیکې او نږدیوالی او په وروسته کې د دوی په کمونستي رژیم کې راك اونوري څیره د دې مطلب دسرلیك مانا را او چته کوي.

په ملکي خانګو کې د قلم مخصوص مدیراو په عسکري کې یاور او ضابط امر د آمریه نیغه انتخاب او باورتیا ګل کیږي چې د رسمي او شخصي اسرار و کیلي ورتسلیم شي، دلته ایله څو مثاله لرم: د کندهار د کل اردو د لوی قومندان دګر جنرال سید خان یاور د ګرمن ګل عثمان کمونست راورت، د نظامي خادمرستیال شو، د روسي رژیم د بقالپاره ئې د خپل رئیس سردار محمد (ولي) په ګډون د تصفیې په نامه پولوی شمیر مسلمان او هیوادپاله افسران بې رحمانه وکړول او وژل.

د ګر جنرال محمد عظیم لغماني باور او دده اعتمادي سردار اکرم دده خوکۍ ته ورسید، د خپلو هیوادوالو په وژلو کې د روسي یرغلګرانو خدمت ته ولاړ. حکیم سروري د حربي ښوونځي د قومندان ضابط امر ډلاسپو څخه د رژیم د ملي وزارت مرستیال شو، آیا داټولې ټاکنې ناځاپي وې، جنرال ولي ګنهګار پاته دی، ولس دپوښتنې حق لري او که نه ؟

Ketabton.com

# د غوائي انقلاب

دغوائي پراته دملي مارش دموزيك سره يوځاى دنظامي شورا اعلانونه اوخبرداري خپريدل ، چي ولس ني آرامي اواطاعت ته وربانه او اردوني دامنيت ټينګولو اوتاريخي مسئوليت ته متوجه کاوه .

دکودتا په سبا دارګ دنيولو او دداؤدخان دوژني نه وروسته پراوضاع برلاسي قطعي شوله ، دانقلابي شورانوم هم پسله دي دنظامي شوراپه ځاى کي استعمال کيدئ پدي معني چي داقدام اوقيام پواځي په نظاميانو نه بلکه په يوشمېرملکيانو پوري هم اړه لري چي په راتلونکي کي دهغوى رول او اهميت بايد سرداوسه په نظرکي ونيول شي ، همداؤچي لوړي دولتي څوکيه اکثره ملکيانوته ورکړل شوي اونظاميان يواځي ددوى تر لارښووني لاندي پايواځي په اردوکي ځاى شول .

دغوائي پر لسمه دواړه شوراګاني (نظامي اوانقلابي شورا) په مرکزي کميټه کي مدغم شوي چي نورمحمدتره کي ددي کميټي منشي اوببرك کارمل اوحفيظ الله امين ني مرستيالان وټاکل شول ، ددي ټاکني سره نورمحمدتره کي د (نجيب بچي) په نامه ياد اودولت اووزيرانو دشوراسرتوب هم په غاړه ورکړل شواوامين دبهرنيو چاروو دوزارت دڅوکي عهده دارهم شو . نورمحمدتره کي دغوائي پر نولسمه کابينه اعلان کړه اودهغه نه دري ورځي وروسته ولاياتوته واليان ولېږل شول .

دپخواني دولت لوړرتبه مامورانَ ، جنرالانَ اووزيران بنديان يا لېري شول ، خوخلك چي دغوائي دانقلاب پيژندل شوي پلويان وودڅوکيوخوشايني بندنه وروسته ژرخوشي شول .

دپخني لمړى ورځي وي ، احتياط په کارؤ دهرات والي محرګازرګاه (خواجه عبدالله انصار) ، دکندهاروالي دخرقي مبارکي ، دبلخ والي دشاه ولايتمآب اودغزني والي دحکيم سنائي دزيارت نه وروسته کارونه پيل کړل . وزيرانو او واليانو دخلګوسره په لمړنيو ليدنه کي دداؤدخان نه ترهغه اودتوقيفي له کبله شکايت وکړ ، ددوى کړاسي دوخت نه تراوسه ني دخپلو مبارزو ، مېنېګونو ، مظاهرو ، اعتصابونو شمېراوا عصابيه حلګرته ورکړه ، ترهرڅه دمخه ني خلك امنيت ، آرامي اواطاعت ته وروبلل او دابه ني ويل چي اعليحضرت امان الله خان که څه هم يو سردار ، شهزاده اودحکمرانو دکورني نه ؤ بيا هم له دي کبله چي ترومېانوسره ني ښي اړيکي درلودي يوه ترقي پابچا ؤ . دغولو واليانوپه ټولو ولاياتونوکي عين نسخه ، بيانيه اوکړنلاره وه .

نظامي حکومت اعلان اوبندېزونه ولګول شول ، دري ګوني دولتي قواوي په انقلابي شورا پوري وتړل شوي اوفرمانونو دقانون ځاى ونيوى ، سياسي عين اويادکي چي ني په حمايه کودتاته دانقلاب نوم ورکړل شو اونړيوالو هم پدي پوه وه چي دا يوه سرچه روسي کمونستي کودتا وه . برژنف دټولو روسي نړي رژيم په رسميت وپيژندى اودتره کي نه ني دتبريکي په برخ کي دمسواپېسکرهيله وکړه .

کوم جنرالان يالوړرتبه دولتي ماموران چي تراوسه دبندنه پاتي وو دراتلونکو دلاري داعلان پواسطه نظامي شوراته ورغوښتل شول اوچي ورغلل نوځنايان ارضلي دفاع دوزارت په زيرخانوکي واچول شول چي دپوځي کونتي نه په دعسکري قطارپه شکل دافراتوپه قومنده ورل کيدل اوپه امرسره په ورته ويل کيدل چي " وزيرصاحب دقطار مراعات وکړه " .

په خپل منځکي وزيرانو ددي پښتني پوره پر نظاميانوا چولنه مګرنظامياو به پروزيرانو دغلط سياست اوبي کفايتي تورلګاوه ، دي ناندريو (مناقشو) ډيروخت ونه نيوى ، ويش پيل شو ، خولك شهيدان خولك خرخي پيله ته انتقال شول اوځيني خوشي شوا ښکاره ؤچي افغان ولس ته لويه ستونزي او کړاووراتلونکي ؤ ، دلايق نعمه شعريه څواب کي يوه ملي شاعرداسي وويل :

*اسرودآزادي پرپوت ، ستاپرسرونووښاندي*

*لوره لپاره راغلنه ، ستاخواراو بېچوبانلدي*

... الخ

Ketabton.com

دمیر اکبر خیبر وژنه چې دغواني دانقلاب لوړنی مهم سبب بلل کیدی ، نور هیرشو او دده نژدې گوندي ملګرو ، دکورنیو چارو وزیر نوراحمدنور او دانقلابي شورا مرستیال کارمل هم نوریاد نکړه

Ketabton.com

# نور محمد تره کی

دغزني دناوې دنظر محمدزوی ، په کام تره کی ، ددوهم ټولګي فارغ التحصيل اوکله چې دداؤدخان دجمهوريت دراتلو سره قومي تخلصونه منع شول ، نوموړي خپل تخلص په (تره قي) بدل کړ . دخلقيانو په وينا تره کي په افغانستان کي دکارګر ګوندبنسټ ايښودونکی اودکمونستي رژيم لمړنی دولتي مشرؤ .
دکندهاردپښتون شرکت کاتب هلته دوينې ځلمیانودډلي سره آشنااوددې ډلي دبيکارو اوغيرفعالوغړونه شميرل کيدئ ، که څه هم ده دا ادعا کوله چې ددې ډلي مؤسس دی خودا ادعا هم لکه دکمونستانودنورو دروغوپه شان سمه نه وه .
دی دپښتون شرکت لخوا په بمبئي (هند) کي نماينده شو ، هلته ئي انګريزي زده کړه اودهندوانومبارزه ئي دانګريزانوپه مقابل کي تعقيبوله . دراستونيدوسره ئي دشرکت کارپرېښودئ اودقومي اړيکوپربنادزابل دحکمران شريف تره کي لخوادهمدې ولايت دشينکي ولسوالۍ ته دجزادکاتب په حيث ولېږل شو اودده دمقرريدو وروسته پرانديزئې ډکورنيوچاروو وزارت ته ولېږئ ، داوړانديزد کورنيوچارودوخت وزيرمحمدداؤدخان دانګريزانودجاسوسي په اشتباه ردکړچې پدې وخت کي لازموږ ګاونډی هنددانګريزانوتر استعمارلاندې ؤ . مګرنوموړي وروسته وکولای شول چې دوينې ځلميانودغړي عبدالرؤف بينواپواسطه دمطبوعاتوپه مستقل رياست کي مقررشي اودباختر آژانس درياست مرستيالۍ ته هم ورسيد اووروسته په واشنګټن کي دافغان سفارت دمطبوعاتي آتشي په حيث امريکي ته ولاړ .
هغه وخت چې دويښوځلميانودډلي اکثره غړي بنديان وو ، نورمحمدتره کی کابل ته وروغوښتل شو ، دی ددواره کابل ته ورتلو اودحکومت په ضد ئي هلته څه ليکني خپرې کړې . مګرژردخپلوکړونه پښيمانه اوپه پېښوركي دافغان سرقنسل حسن ساپي پواسطه ئي داؤدخان ته عذراوتوبه وړاندي کړه اوکابل ته راغلی خوداچې نورمهم ؤبندي هم نشو ، درژيم دمخالفت له کبله دکي جي بي دتوجه وړ وګرځيد .
نوموړي دبيکارئ دوخت نه په ګټه دشوروي کمونستي ادبياتوپه سبک د "بنګ مسافري" په نامه کتاب چې طبقاتي مبارزه پکي تشريح شوې وه وليکئ اودپوهني دوزارت په مطبعه کي چاپ کړل شو ، ما (مؤلف) ته دسانسوردپاره دويلوپه منظورراکړل شواوداکتاب که څه هم هغه وخت خپورنشومګردعلاقمندانولاس ته ورسيدی اودروسي مطبوعاتي جايزه ئي چې نقدي پيسي هم ورسره وې وګټل .
روسيانوغوښتل چې په کابل کي دامريکائيانوفعاليت ترنظرلاندي ولري پدې اساس نورمحمدتره کي دانګريزي ژبي دترجمانۍ په پلمه دامريکې سفارت ته مراجعه وکړه ، امريکائيانوبه هم دسفارت دافغان کارکونکوپه تيره بيادترجمانانوپواسطه اکثره اطلاعات راټولول چې ځينوئي ارتباطي دنده لرله . نوموړی په دې هم پوه ووخودسفارت فورمې ئي ډکي کړې اودده داستخدام سره سفارت موافقه وکړه . دولت هم په خارجي مؤسساتوکي دافغان کارکونکونه دکاردجوازپه مقابل کي دراپور اواطلاعاتو ورکولوتعهداخيستئ ، تره کي نورمحمددې تعهد ته هم حاضرشومګرداؤدخان دده دکارسره بياهم موافقه ونکړه ، دې معاملي دبوه درې سريزي جاسوسی ډول درلود .
کومه ورځ مې (مؤلف) دتره کي نه دده دنه مقرريدلودعلت تپوس وکړچې راته ئي وويل " *زماسترګې شنې وې ، مقررنه شوم* " ، نوموړي زمادتعجب په مقابل کي زياته کړه چې " *زما (تره کي) سترګې داسې شنې دي لکه دخروسچوف سترګې* " ، خروسچوف پدې وخت کي دشوروي اتحاد لمړی وزير ؤ .
بياوروسته ئي د "سين" ترنامه لاندې کتاب هم وليکئ چې دې ته هم دخپريدلواجازه ورنکړل شوه ، داکتابونه دده د واکمنۍ په وخت کي دسره چاپ اووېشل شول .

Ketabton.com

داجي نورمحمدتره کي پخپله پوله مبارزه کي بندونه لید نودکارمل دپلویانودپوښتنو په مقابل کي به دتره کي پلویانودده دوه کتابونه دکمونیزم په لارکي دده خدمت باله .

ددیموکراسۍ‌په په گټه دجنوري په لمړۍ‌نیټه کال (۱۹۶۵) کي ئي دکارمل اوخونورو کمونستانوسره لمړنۍ‌کمونستي کنگره جوړه اودۍ‌ئي مشرشو ، دنشرېه اپارتمانوکي ئي دنورددارلوجي په نامه دفوخلاص کړاوفقط کمونستي فعالیت ئي پکي کاوه ، دپرسیپخلي پاك مبوادوال هلکان اوبي تجربي انجوني ئي اغوا اوهغوۍ‌ئي دوطنپالني داحساساتونه په گټه خپل گوندته جذب کړل ، ژوندئي ښه ؤ ، پروخت مي ولید راضي ښکاریدۍ .

تره کي په کال (۱۹٦٤) کي ولسي جرگي ته له مقره ځان کاندید کړ ، ولي رايي ئي ونه گټلي اوبيائي دخلق په نامه ورځپانه دگونددنشراتي اورگان په توگه چي چلونکۍ‌ئي حسن بارق شفیعي ؤ راوایستله ، داورځپانه دپنځوگڼونه وروسته داساسي قانون په خلاف دنشراتوله کبله مصادره شوه ، بارق شفیعي هم دپرچم وخواته گیل شو ، تره کي داخلي دظاهرافق په مسئولیت البته په عیني محتوا دبلي ورځپاني دخپریدودرخواست وکړ مگردوخت دمطبوعاتووزیرډاکټر (انس) اجازه ورنکړه .

نورمحمدتره کي دغواتي دواکمنۍ‌سره سم ارك ته چي دخلگوکوروبلل شو ، وکوچیدۍ‌اودده وروړجان محمدتره کي ته د مارشال شاولیخان ماڼۍ‌په صدارت کي ورسیده پداسي حال کي چي داؤدخان تراخیره پخپل شخصي کورکي اوسیدۍ او حتی‌معاش ئي هم وانه خیست.

بیاخوداراڼ ټول پرسونل ، فرش اوظرف دتره کي نورمحمدپه خدمت کي وو اودشیرشاه میني ددوکاندارانوبدمعامله پوروړۍ‌په غوښه پیټ شو ، اوسني عکسونه ئي دلمړنۍ‌ورځي دعکسونوسره دمقایسي نه وړتل ، بنه ئي واوښتله ، جامي اوکالي ئي شیك اوپرموتبرابرشول ، نوردزیاراېستونکوله غمه نه ؤ مړ ، دبهرنه نوي مصنوعي غاښونه دغاښونودمتخصص سره راوغوښتل شول اوزامي ئي نوي کړي .

تره کي‌که څه هم د (٦۲) کالونه اوښتۍ‌ؤ ولي دجنوري په (۱٦) نیټه ئي په همغه کال د (٦۲) کلنی کلیزه په بي ساري ډول ونمانځله چي لگښت ئي ترسوونو زرو واوښت ، په همدي شپه ساز ، سرود اوریدله وه ، خندا اوخاوه ، دپریسامرسل اوبخت زمیني سندري وې ، هرپلوناژاو ادالیدل کیدل ، بوډادپولو په منځ کي دهغه دي فلمونودمقل اعظم په شان نورساعتیري اوخوندته تشویقول اودنورواله خونده ئي خونداخیستی .

دمبالغي نه ډك القاب ورته منسوب شول ، چاپه رهبر ، ځینوبه آموزگار ، چاپه خلاق اوځینوبه نابغه .... باله . فارسي ژبو شاعرانوهم دده په ترصیف کي څه کمي نه درلود ، مشهوره سندره دده دپاره د (ای‌ناوه غرنه) په نامه کمپوزشوله ، دشیرشاه میني کورئي په موزیم بدل شو . تره کي‌ساده اواکثره به ئي خوله دخندانه ډکه وه ، دوچولي شین خال به ئي دلیري پرقیدۍ ، مگربي زړه سویه اوبي رحمه واوډیري ټوکي اوملنډي پوري جوړي شوي .

یوه ورځ مي دولسي جرگي پخوانۍ‌وکیل حاجي محمدانورخان ناصرپه بازارکي ولید چي دتره کو د (رشي خیلو) دخوځوروسره دنورمحمدلیدلواوتربلك ویلونه ورغلي وو ، دوۍ‌لدي لیدني اوکتني نه خوښ معلومیدل اودتره کي دلاپیراودروغوتراغیزي لاندي راغلي وو ، هغه پروگرامونه اوپلانونه چي دده نه ئي اوریدلي وو متاېل ئي ، ما (مؤلف) په ډیراحتیاط وویل چي تره کي‌صاحب نورنه دۍ‌مگرپه دین کي څه سست راته ښکاري ، دهغي ډلي نه حمدلاسه یوسپین ږیري وویل " هو ، په ناوه کي چي به هر وخت داذان نه وروسته موږ لمانځه ته پورته شولو ، نورمحمدبه دیواله ته ډډه وهلي ناست پاته شو " .

وخت تیرشو ، بخت یاري ونکړه ، تره‌کۍ‌لوړوصي دوفاداره شاگرد امین لامر پیرپوشو ، دعدالت ، مصئونیت اوقانونیت ترشعار لاندي ئي دهیولوگوندي اودولتي پستونه استعفاته اړکړاودخپلواعمالوپه سزائي ورساوه ، تره کي‌دنلیږاوارلاددي پیاته نشو

Ketabton.com

# د رژیم کورنۍ سیاست

دلینن کلمه ویونکي چي بلنه سابقه او کمزوري اخلاق ئي لا ښه معلوم وو پرهیواد مسلط شول ، روسیان او د رژیم واکمن پدي پوه وو چي دوی او ددوی ایډیولوژي ولس ته د منلو وړنه ده ، نو ئي ددي منظور لپاره لکه په روسیه کي د وحشت او وژلو د کورنۍ سیاست په عملي کولو لاس پوري کړی .

د زیار ایستونکو مغ کښانو ډوډۍ ، جامي او کور نو رهیرکړل ، په منزو او چرچو اخته او د امنیت تر نامه لاندي د انقلاب د مخالفت په بهانه ئي د ولس د تیکولو پروژه پیل کړه . د فیودالانو ، اخوانیانو ، اشرافیانو ، تنګ نظره ناسیونالیستانو ، چپو افراطیانو او غرب ومیلو جعلي او شعارونه دور ځي چیغي شوي ، د هر چا د پاره یوه بهانه موجوده وه ، هر څوک دیوه پورتني تور لاندي راتلای شو او بیا ئي پدي ټول ټول ولس ته د جنګ اعلان ؤ .

په پورتنیو بهانو د ولس په زرهاو غور علما او روحانیون جیلونو او مرګ ته راکش شول ، د هر چا لپاره وره بهانه او یو قصدي غلط راپور پوره ؤ ، شخصي دښمنی او عقدو ډیر رول درلودۍ .

تره کي خپل ګوندي ملګري پرولس باندي بي رحمه او وژني ته هڅول او داني ویل " *ماسرك جوړ کړ هر څوموره چي وس لری مخوموره خلکی* " ، هر څوك چاریدل . دسر ، مال او ناموس امن نه ؤ ، د مغزو او عقیدي تفتیش او کنترول مسلط شو ، دولس دښمنان په هر ځای کي موجود او براکي وو . هر خلقي واکمن ؤ ، مرګ د هر یوه دوسه پوره ؤ ، ددوی په منځ کي هغه معتبره ؤچي په روسیه کي ئي تحصیل کړی او بیائي روسی ښځه درلوده .

باقي ولس نیم عمر د بندیز په نامه د کوړ په بند کي تیراوه او د شپي آرامي د خلقیانو د جنایاتو د پاره وه ، د هر عمل او ښپښي سره ئي شدید عکس العمل ښکاره کاوه او دابه ئي ویل چي غوماشه په توپ او ټینك ولي چي پدي وسیله ئي ولس چاروئ .

د زندان جانبیان ئي د جیل نه خوشي مسلح او د انقلاب د دفاع د کمیټي په نامه تنظیم کړل ، پدي ډول ئي د مخورو ، علماو او روحانیونو د پاره په جیل کي ځای او کوټه تشه کړه .

ددین سیکاوی پیل شو او په ملي او اسلامي ارزښتونو باندي ملنډي وهل کیدي ، هڅه کیدله چي یوه بي بنډوباره مارکسیستي ټولنه جوړه کړي ، دلینین عکسونه عمومي او د خلقیانو په کورو کي هم ځوړند شول . میرویس ، احمد ، محمود ، خوشحال ، شیرشاه او اکبر په هیرېدو شول ، ټولي ملي ویاړني به ئي د اکتوبر د روسي انقلاب سره تړلي .

د تره کي ژوندلیك (سوانح) او د ګوند تاریخ په ښوونځیو کي د درسي پروګرام شو ، دیوالونه او میږه توب اړیکي او نور داسي کورني او ټولنیز اړیکي ئي غندل او غوښتل ئي چي ونې شکوي ، زوی به ئي د پلار او ښځه به ئي د میړه په مقابل کي د جاسوسي لپاره لمسوله ، د ګاونډیو پخپل ګاونډي نور باور نه ؤ ، پوروور کول ورك شول ، د غریبه او ناتوان سره نوره مرسته قطعه شوه ، د خلکو بیسي ئي بیله شرعي او غیرحق وځنبلي . د رژیم کارکوونکو په لمړۍ مرحله کي قصداً خلك وحرکت ته تحریکول چي پدي وسیله د خپل عمل شدت ښکاره ، مخالفان معلوم او وروټکوي .

د رژیم واکمنو ددي ټولو په خلك کي ځان پالنو ، رشوتونو ، دروغو او فحشاؤ ته هم زرلاس وروا چاوه ، لوکس او مجلل ژوند هر چا پخپله سویه غوره کړی مګر بیا هم خوار خلقي خوار پاته شو او معتبره نور هم معتبره شول چي پدي ډول یو بل قشر او پیدا را منځته شو .

دغوائي د (۷) نه یو څه وروسته راول کاسترو دیو هیئت په مشری د افغان انقلاب د لیدلو لپاره ورغلی ؤ ، او چي کله ئي د تره کي او حفیظ الله امین مجلل ژوند د نژدي نه وکتی نو ئي داعتراض په ډول وویل چي " *داسي ژوند زما او زرور فیدل کاسترو په کیوبا کي نه لري او لرل ئي هم نه غواړي* " .

Ketabton.com

درژیم داجراآتولویه برخه کښېپروخت دولس دتېکولواو وژلولپاره وقف ؤ ، اودروسي بادارانوددي هدایت په عملي کیدوکي ؤچي وائي : " مړه ئې کړه ، چې ژوندي پاتې شي "

تره کي دپښتنودسربازۍاودانګریزانوپه مقابل کي دجهاد خوښېتوفیلمونه لکه شهید ، عجب خان ، علاقه غیر ، دره خیبر اودامي نورپه سینماګانواوورووسته په تېلویزیون کي وچلول . دي فیلمونودموجوده حالت اووضعي سره پوره سمون خوړی ، چې خلګونه په زړه پوري وو ، دښکونوکارنامې ئې رایه زړه شوې اودرژیم دهیلوخلاف دولس ملي احساسات دروسیانوپه مقابل کي هم لکه دنوروپردوپه مقابل کي راوپاریدل .

# د رژیم لوی کارونه

رژیم دخپلو هیوادوالو دوژني اونیولو په خنګ کي ملي بیرغ بدل اوپه دولتي اداروباندي ئي سورخلقي بیرغ ځوړندکړ ، دملي جشن ورځي ته ئي تغیرورکړ نوردغو اني اومه دملي ورځي په توګه وپیژندل شوه اوداورځ ایله یوخوکاله ونمانځل شوه ، خلقي شعارونه هرپلولیدل کیده ، هرڅه سره معلومیدل ، ددوکانونو دروازې سرې شوې ، ځینوابن الوقتانو بیادډارنه دخپلو کورونو دروازې اوکړکۍ هم سرې کړي ، درضاکارانه ، اګاهانه اورفیقانه ترنامه لاندي بیګاردود وموند .

دشپږم فرمان پواسطه دخلګو شخصي پیسي چي په پوروي وتخنیل شوي اوپوررونه معاف وبلل شول ، داتم فرمان پواسطه په ناقص اوبي عدله ډول داصلاحاتو په نامه ځمکي وویشل شوې چي رژیم هرپلوغوغاپورته کړه اوداکارئي دخپلو لویو کارونونه بلل ، مګرپه کرهنه کي نوردهقان سره مرسته ونشوه ، نوراضي هم نه ؤ ، خوبیاځي دکورنیوترمنځ ئي دښمني راپیداکړې اوداوم فرمان پواسطه ئي دمنځومهر (دري سوه) افغاني وټاکی . د (هورا) کلمه عمومي اوپه هرمیتینګ اوغونډه کي ځای بي ځایه ځای شوه .

دپاشاهي کورنۍ اودهغوئ دخپلوانودکورسامانونه ئي ننداري ته کینبودل ، دافغان دودپه خلاف ئي دمنځوحامي هم ښکاره کړي حتی عادي سامانونه لکه زاړه بیلونه ، دبخارۍ نلونه اوربړي موزې هم پکي وې ، دررژیم کارکونکودارنګه مالونه په ډیره وارخطائي هریوه پخپله پیره چورکړه . قادر دخپل چورکړي مال دجملي نه دوه موږ قالینې داکبرخان واټ په قالین خرڅونکي حاجي عبدالرشیدباندي خرڅي اوهغه دپاچادقالینوپه نامه دلوړقیمت په هیله دالمان بازارونوته ولیږلی .

پاچاهي کورنۍ ئي دافغان تابعیت نه دنهم کي دیوه فرمان دلارې محرومه کړه .

خوډیره ژردرژیم دواکمنوترمنځ بي اتفاقي راغله ، دخوکۍ په خاطرددوۍ په اصطلاح دسنګرپه ملګري هم دریغ ونشو ، پرچمیان ددولتي واکمنې نه لیرې کړه شول ، د (۱۹۷۸) کال دجون په دوهمه ئي پرچمي مشران دهیوادنه (ببرک کارمل یوګوسلاویا ، نوراحمدنور واشنګټن ، بریالي اسلام آباد ، کبیر لندن ، فیض محمد بغداد ، نجیب ایران ، اناهیتاراتبزاد چکوسلواکیا ته) دسفیرانوپه ډول ولیږل اومحیدسربلندپه بمبئي کي قونسل شو . پدي ډول خلقیانوپه تیره امین دپرچمیانودواکمنۍ نه په ظاهره ځان بي غمه کړاماترشا ئي اندیښني پرځای پرتي وې .

امین پواځي دپرچمي مشرانوپه شړلوقناعت ونکړاوددي دپاره چي نورئي هم وټکوې نود (۱۹۷۹) کال دزمري په (۲۸) ئي درژیم اودده په ضدکودتاهم تورن کړل . پرچمي مشران چي بهرسفیران وو دمحکمي لپاره ئي کابل ته ورروغوښتل ، خو هغوئ دکارمل سره دامین دډاره دسفارت نه وتښتیدل ، دسفارتونوشتمني هرڅه چي وه هریوه پخپل وس (کارمل ۷۵۰۰ ډالره ، ډاکترنجیب یومیلیون ریاله اونوراحمدنور ۲۱۰۰۰۰ ډالره ) چورکړل اوداروپاپه ختیځوهیوادوکي اواره شول .

خوپیاتي پرچمیان امین ته په لاس ورغلل . کشتمند ، رفیع اوقادربندیان اوترشکنجي اوبي عزتي لاندي چي ددوۍ ټولوخاصه ده ونیول شول ، کشتمند پخپل جرم اقرارهم وکړمګرروس ئي مرستي ته ورسیداودمرګ نه بچ شول ، خوددي ناحقه جرم په تورنورغیرحزبي قلمداديان لکه تورجنرال نوی‌درستیزشاپوراحمدزی دامین لخوا اعدام شو ، دررژیم دفیوډالانو ، اخوانیانو او نوروشعارونوپه خنګ کي دجنرالزاده ګانوکلمه هم چي مطلب ئي دکارمل نه ؤ ، هم زیاته شوه .

بارق شفیعي ، سلیمان لایق اونورو پرچمیانوتوپه رایسته ، دپولیټ بیرونه ئي پخپله خوښه استعفاوکړه . دامین دخوښۍ دپاره ئي دخپل پخواني لارښود (کارمل) په ناوړه وپلوپیل وکړ مګرامین خرنګه چي پخپله کمونست ونودکمونستانوارتجاع نه ورته خرګنده وه ، دبارق اولایق پدې پښیماني ئي هم زړه یخ نشواودواړه ئي دنوروپرچمیانوسره بیاهم دخرخی پله په زندان کي واچول .

Ketabton.com

پرچمیانو دامین دګوندي تصفیي دډله په ښکاره ډول دامین په پلوي لاس پوري کړ . دغرخي پله په زندان کي مي ښه په یاددي چي یوه پرچمي داعتراض په ډول لایق ته وویل چي دوه ځایه دي لاس پورته کړي دی ، لایق په ښکاره ډول وویل چي " *زه نه دپرچم پروا لرم اونه دخلق ، هغه څه کوم څه چي پوزانوف ئي رانه غواړي.* "

Ketabton.com

# افغان ستالینیزم

دستالینیزم دمدرسې شاګردان پرهیوادمسلط اوخلق ته ئي دمرستي اومشورې په نامه دکې جي بي ماموران کبینستل ، چې د یوې خواپهدې توګه دولتي واګې پلاس کي ولري اوبل پلودولس وزنه ددوی‌ترنظراوهدایت لاندي عملي اوانجام شي ، په هروزارت کې دهرلوړرتبه خنلک ته روسي دمشاوربه نامه ځای‌ونیوئ اوحتی‌په قضاکي دنهي (ص) پرمسندهم ناولي روسیان کبینستل .

(ع) وائي چي منه مي پیاددې چي داژدخان دحقوقودپوهنځی نه نور فارغانوته چي ولسوالیوته دولسوالانوبه توګه تاکل شوي وو دلارښووني په ډول وویل :

*" زه کولای شم چي خارجي ډاکتر اوانجینر استخدام کړم مګر خارجي ولسوال اوقاضي نه شم استخداموﻻی "* ، خو تره کي داکاروکړ .

روسیان پدې پوه وو چي ژرياوروسته به ددې مافیارژیم په مقابل کي پاڅون‌وشي ، دیرې بجو واری‌دځه اوځه ئي وکړه چي پاڅون په نطفه کي له منځه یوسي اوپدې ډول دروسې غوندې تربرچي لاندي نظام ټینګ کړي اودخپلي تجربې په اساس په ولس کي څوك مړه ، څوك بندیان ، څوك فرار اوپه نوروکي دقیام اومقاومت روحیه مړه اومانه کړي .

نوژرئې په نیولوپیل وکړ ، په لمړي سرکې به دتحقیق په نامه څه سوال اوځواب موجودؤ ، نیول شوي کسان به ترڅه وخته پوري بندیان ساتل کیدل څوکله چي بندیان ډیرشول اوپه څرخي پله کي هم ځای‌نه ؤ ، وړلواو راوړلوستونزي درلودې ، محاکمې هم وخت نیوئ نودکارداسانتیا لپاره عاجلي وژني شروع شوې ، نیول شوي خلك دلستونوله مخي په کټګورې ویشل کیدل ، لمړی‌درجه لست به هغه کسان وو‌چي بایدشهیدان شي اودوهمې درجې دزندان معنادرلوده ، یوګوندي نظام ؤ ، هرخلقي په هره ساحه کي دنظراوصلاحیت خاوند ؤ ، وژني ډیرې وې اورسیده ګي نشوای‌کیدای ، شفاهي سفارش هم دمرګ لپاره پوره ؤ ، کله به دګوندي ملګرودکورني‌نه هم څه کسان سهواً اعدام شول ، دزوی اویاکوم بل خپل دشکایت په صورت کي به ئي نوم یواځې ددوی‌په اصطلاح داشراروډلست نه دوطنپرستانولست ته نقل شو .

هرګوندي ملګري صلاحیت درلودچي په وژنه کي دنووښتون نه کارواخلي ، وژنومختلف ډولونه درلودل : ځیني ئي ژوندي ښخ کړل ، ځیني ئي په الوتکوکي دکابل په نامه سواره اوپه لاره کي ئي په غرونوکي واچول ، پرډیروئي نښان زده کړ اوځیني به ئي په موټربسې وتړل .

صاحبجان په کندوز ، ډګرمن ګل اغابه هرات ، انجنیرظریف به کندهار ، عالمیاربه بلخ ، ده نشین په شبرغان ، ولسي به غزني اوقادربه بغلان کي هغه جنایات وکړل چي بشریت پرې شرمیږي ، طوفان اوآفت هم پخپلوجنایاتوکي ترنوروکم نه وو ، اسدالله سرورې دکابل دوژلراوکړولو وظیفه پرغاړه درلوده . دده له خواشفرې لاربنوونه *(به پاکستان اعزام نمائید)* داعدام په مانا وه .

په وژنوکي ددوی‌په اصطلاح لوړرتبه مامورانوهم ګډون کاوه ، دساديستانورژیم ؤ دبیچاره ګانوله کړاو اووژنونه ئي خوندواخیستی ، جیلونه دوژلواو کړاولپاره وو ، آمران ئي هم خاص باوریان وو ، دڅرخي پله زندان په یوه وژنتون بدل شو ، دتره کي اوامین اعتمادي لمړی‌بریدمن سیدعبدالله ئي مشروټاکل شوچي دهغوئي لپاره ئي خوځښتونه لیکم :

دخارندوی‌بدنامه سانتمن عزیزاومي‌چي اکبري ئې تخلص کاوه دامین داطلاعاتودسازمان (اکسا) مرستیال ؤ ، ده پخپل لاس دمحمدموسی‌شفیق شوري اودهغه ورحي اوجسمي ځوریان کاوه اوحتی‌په خبروکي ئي هم پرهغوجنایاتوخوندواخیستی ، ده به دامي کیسه کوله *" شفیق به سرکله په خاورکې واچاوه اوکله به مي وراکش کړ ، بیابه موپه پسوکي څیرونه وروکړل*

Ketabton.com

*زخمي به شو اوويني به تري توکيدلي ، کله به موتويک اوکلاشينکوف پري ونيوئ ، بل ماموربه راغلی عذربه ئي وکړی (نی باصدراعظم صاحب بايد ازانسانيت کارگرفته شود ، اگرکشته ميشودبايدبا اب وعـزت کشـته شـود) بيابـه همدابل تن چي عذربه ئي وکړی ترڅولوبدي ملنهي به ني پري وهلي "* . اکبري داهم رساته کړه چي شفيق بـه عذروکړی " نکنيد ، نکنيد مرانکشيد " ، څوساعته به دی‌ساعتيري دوام پيداکړ ترڅوشفيق شهيدشو که نن شفيق ژوندی‌وای‌ممکن په جهادکي ئي لويه برخه اخيستې وای .

محمدموسی‌شفيق چي دداؤدخان دررژيم په لمړي سرکي هم جيل ته ولـيږل شواوبيه هم هغه وخت کي هم پرچميان لاس پکار وو ، شفيق ئي دامريکي په پيلوي تورن کاوه چي دافغانستان عنعنوي بيطرفي ئي دامريکي په گټه بيموازنه کړيده اوغوښتل ئي چي يوه امريکائي هډه به افغانستان کي جوړه کړي . داهغه معمولي اوپيژندل شوی‌تور ؤچي کمونستانوبه دهرچا لپاره په کارووړی .

په تحقيق کي دښاغلي محمدموسی‌شفيق ځواب اواستدلال داؤچي امريکالدي کبله چي به سيمه کي ايران اوپاکستان دوه نژدي دوستان لري نودافغانستان دوستی‌ته دومره علاقه نه ښکاره کوي ، روسيانودپرچمي خارندويانوپه وسيله غوښتل چي دشفيق نه دتحقيق اوسوال اوځواب په پلمه دده دوخت دولتي مهم اسرارلاس ته راوړي چي ښاغلي شفيق به په ډيروځايونوکي ددي پوښتنوځواب دداؤدخان اجازې ته اړوندکړچي داؤدخان هم ومنل چي دليکلوځوابونه دي صرفنظروشي . محمدموسی‌شفيق که څه هم په افغانستان کي داسلامي نهضت غړيتوب نه درلود مگرپه کلکه ئي دهغه حمايه اوپلوي کوله .

دکندوز والي صاحبجان صحرائي ځانته داواک ورکړی‌ؤ اودابه ئي په ډاکه ويل *" کله چي ديوتن جرم والي ته څرگندشي نوڅارنوالی ، محکمي اوتحقيق ته څه اړه ليدل کيږي ؟ "* ، ده خپل دامنظوردوزيرانوپه غونډه کي چي دتلويزيون دلاري خپريدله طرح کړاو ورباندي ټينګ ؤ . ده دښووځيوپه نوبالغو اونابالغوهلکانوهم دريغ ونکړاوډيرئي شهيدان او وکړول .

صديق عالميار به هره شپه دبنديزنه وروسته په خپل لاس دوژلوپروگرام درلود ، دقصابي جامي به ئي واغوستي اودابه ئي ويل *" بيائيد که خودرا گلگون کنيم "* .

قادر دبغلان والي دعسکري ښووځی‌نه دبداخلاقی‌له کبله دوړوضابطانوښووځی‌ته بدل چي هلته ئي هم يوې‌امريکائي ميرمني ته لاس واچاوه چي هغې دکابل دهوائي ميدان په شاوخواکي آس سواري کوله ، نوبه اته کاله بندمحکوم ؤ چي دبندنه خوشي اودبغلان والي شو ، په بغلان کي ئي داسي ناوړه کارونه وکړل چي ليکل ئي شرم دی .

عبدالاحدولسي دغزني والي په غزني کي سپينه پگړی‌پري نښوده ، داخواني په نامه به ئي هرڅپرور راکشاوه ، دضدانقلاب په نامه ئي دخلکودژوندي ښخولوامر ورکړ ، دده دمحبس مدير جګړن عبدالقديرمحبوبي دده په ويناددلسوزی‌په نامه هغه ښخپله ړومبی‌مړه اوبيابه ترخاورولاندي کړل ، دمحبس مديران دررژيم نژدی باوريان وو .

دکابل دعسکري ښووځی دقومندان جګړن عبدالرشيدپلار لاجورد ته چي دغزني دقره باغ دانډړو او سيدونکی ؤ په مرلځ محکوم شوي کسان دوژلولپاره ورکړل شول چي پخپل لاس ئي مړه کړي ، داهغه کسان وو چي ده دانقلاب دضدعناصروپه نامه دخپلي شخصي عقدي پربنادهغوی‌راپور ورکړی‌ؤ اولاجورد داکسان پخپل لاس مړه کړل

دهرات والي د (۱۳۵۸) کال دکب دمياشتي دپاڅون په مقابل کي دومره بيگناه خلک مړه کړل چي دسخولوخوک ئي نه ؤ ، داشهيدان په کراچيواولاريو کي يوړل شول اوترخاورولاندي کړل شول .

Ketabton.com

انجنیر ظریف دکندهاروالي امرو کړچې دوندودولسوالی (۴۸) تنه قومي مشران دي دده په دفتر کي په ساتورمړه کړي چي پدي وژنه کي ئي پخپله هم برخه واخیستله .
داپورتني خویوخومثاله وو ، په ټولوولایاتو کي همداحال روان ژ ، په سمنګان کي والي افت ، افت اوپه فراه کي طوفان ، طوفان ګرځېدلي وو . دېردودګټودپاره یوشمیرانسانانودنورو انسانانوسره دناانسانیت نه کاراخیستئ .

Ketabton.com

# روسي يرغل ناڅاپي نه وُ

دکي جي بي سازمان دخپل لوی تشکيل په چوکاټ کي دهرهيواد داطلاعاتودراټولولودپاره يوه ځانګړې څانګه لري چي دمطلوب هيوادنظامي ، اقتصادي ، سياسي ، اجتماعي ، تخنيکي اودعلاقی وړنورمسائل ترڅارني لاندي نيسي ، يکي نفوذ کوي اوهره اختصاصي برخه دمسلکي کارپوهانو لخوا اداره کيږي .

لکه نورتشکيلات دهرم په ډول درأس نه وقاعدې ته پراخيږي ، پدې ماناچي دسرماموران اومسئولان لوړرتبه اوپه قاعده کي معمولاً دوړو رتبوماموران مؤظف وي چي دهري برخي مامورته په وظيفه کي ديوشميرنوروايجنټانواداره ، لارښوونه ، هدايت اوروزنه وربه غاړه وي چي دی دآمرحيثيت لري .

په هره اندازه چي ايجنټ لوړ ، لايقه اوخپل هيوادکي دنفوذ خاوندوي په هغه اندازه دمسئول مامورلياقت اوبرياليتوب څرګند وي ، البته څرنګه چي دمخبراوياجاسوس جذب اواستخدام دبلي څانګي دنده ده ، دلته ترې صرفنظرکوم .

مخبرياجاسوس که پخپل هيوادکي وزير ، جنرال اويا وکيل هم وي مګرپدې حال کي په غيرمرئي ډول هغه بريدکي يا وړرتبه مامورده آمراومافوق دی چي دی ئي استخدام کړی دی ، استخدام شوی کس دوه مخه لري ، ياپه اصطلاح ذوالمعشيتين بلل کيږي چي پخپل هيوادکي آمراوبادار مګردپردونوکروي ، دضرورت پربنااودوخت په اقتضا دتش راپوروظيفي نه سربيره په عملي خدمت هم لاس پوري کړي اودپردودګټولپاره به دی دخپل نفوذنه کاراخلي ، دی به دغيرمرئي آمردهدايت سره سم کله څه هم چي هغه ئي پخپل عمرکي نه وي ليدلې وظيفه سرته ورسوي مثلاً دلوړي سويې دقراردادونوپه لاسليک اودقانون په تسويداويانه تسويدکي به دپردي هيوادګټوته ګوري اوپدې شان نورامرونه هم ومنې چي داحالت زموږپه هيواد کي اوددريمي نړۍ په نوروهيوادونوکي تراوسه معمول دی ، چي دولس قرباني ځای نه نيسي اودهيوادملي حيثيت ته پدې ډول صدمه رسيږي .

ديورتني مدعالپاره دډيرومثالونو نه يوهم ببرک کارمل دی چي نوکري ئي دکي جي بي جګړن سناغلي (ولاديميرکوزيچ کين) هغه وخت افشاکړه کله چي ئي دافغانستان په هکله په ايران کي ماموريت پريښود اوپه (۱۹۸۲) کال کي ئي لندن ته سياسي پناه يوړه . استعماري ځواکونه هڅه کوي چي پدې بنه دخپل امنيتي سازمانونولخواخپل ايجنټان واکمني ته ورسوي نوپدې ډول دمستقيم ښکيلاک ځای غيرمستقيم ښکيلاک نيسي ، چي دروسيانويرغل زموږپه هيوادکي هم دابنه درلوده .

ديرغل پلان دکريملن دتجربې سره سم ، پرعقل اوسنجش برابراوتدبيرله مخې دهراړخيزه سوچ اومطالعي نتيجه وه ، ديرغل پلان دپخوانيوتياريو ، روسي فعاليتونواوتجربوله مخي پوره دتطبيق وړ وُ ، نه روسيان دومره اومه دي لکه چي معلوميږي دوی پخپل پلان کي دهرډول احتمالي اشتباه دمخنيوي اواصلاح تدبيرپه نظرکي نيولی وُ .

کله چي دپوځي يرغل نقشه دکي جي بي لخوادکريملن دسياست پوهانومخته وغوړول شوه ، دهرافغان ګوټکي دنده دانه په دانه څرګنده اوبيرې حساب شوې ، دکي جي بي ماموړانودهرسوال لپاره ځواب درلود .

يرغل اوديرغل ساتل دواړه ئي په نظرکي نيولي وو ، همداوجه وه چي داطرح دتصميم دنيونکوواکمنودقناعت اوباورسبب وګرځيده اوزموږپه هيوادکي دننه افغان احتياطي قواوي هم په دي حساب کي ترنظرلاندي نيول شوي وې طرح داسي وه چي ښائي يرغل په دوو ډولوحرکتونوترسره شي :

۱- پوځي حرکت :-

ددی حرکت سره سم ښائي پوځي روزل شوي واړه رتبه منصبداران کودتا ، پاڅون اوعمليات پيل کړي ، جنرالان اولوړرتبه منصبداران د خپلوټولوامکاناتوسره دسيلاني اوبې تفاوته په شکل پردې عملياتودتائيدمهرونګوي

په دې ډول ددولتي دستګاه دسرماشين ليري اوپه ځای‌ني بل سوی‌ماشين ولګيږي ، دولت خپل نورماله اوعادي ژوندته دوام ورکوي اوپه همدي توګه ددولت اداره دروسي ناڅکولاسته ورځي چي همداسي هم وشول چامقاومت ونکړ اوجوته ده چي پلان اتيکلي نه ؤ .

۲ــ سياسي اواداري حرکت :ــ

سياسي اوملکي برخه هم دروسيانودنظرنه ليري نه وه اوطرح داوه چي دبدنامو پيژندل شوو کمونستانو لکه تره کی ، کارمل ، امين ، سلطان علي کشتمنداونوروڅنګه ته به دهيوادوالواونړيوالود غُلولوډپاره پټ کمونستان اوياستخدام شوي احتياطي قوه کبنيوي ، احتياطي قوه اکثره دپخوانيوحکومتونوتجربه کارلوړرتبه ماموران ووچي دنفوذاوشهرت خاوندان هم وو اوحتی ځينوئي لوړعالي تحصيلات په لويديځوهيوادوکي کړي اونسبتاًپه ملي اوبين المللي کچ پيژندل شوي څيري وي ، دوی‌دبيطرفانوپه نامه دجبهي شاته دروسي ګټودساتلوډپاره دروسي رژيم په خدمت کي وو ، ددي کسانوڅيري اوس هم پټي ندي اوهريوه دخپل توان اوشرايطوپه درلودو ديردودګټوډپاره کاروکړ .

چي په کبني يوشميرپه سبه سبکاره ډول څوك دسلاکار ، څوك دروغي اوجوړي اويادپلاروطن جبهي په نامه دولس دعقيدي اوخيلواکي په خلاف دپردودګټو لپاره په ډيراخلاص عملاً دکارمل مله اوملګري شول .

له دي ځايه په ډيره عاميانه ډول ويلای‌شوچي روسي شوم پلان هيڅ غلطي نه درلودله ، هرڅه دپلان سره سم جوړشوي وو ، مګردروسيانولويه غلطي يواځي پدي کي وه چي دولس دملي اواسلامي احساساتوحساب ئي هم په هغوحسابګروکاوه چي نه ددين اوايمان له زوره خبروو اونه دهيواددميني اوملیت له شوره .

Ketabton.com

# په بهرکي افغان ډيپلوماتان

دروسيانو امپرياليستي پروژه داوه چي هيواد دسراوسرپرست نه خالي ، روحانيون ، علما اومخورمړه ، بندي اوياتيښتي او فرارته اړکړي اوداسي خوك پاته نشي چي ولس پراته‌ول شي اوكه څوك پاته هم شي نوترورحشت اوخارني دي لاندي وي ، داپروژه په بيړه په مخه تلله .

دشوروي په مقابل کي دافغان ولس مقاومت بياهم دعقل نه ليري كاراودپيري معجزه وه .

اخوا افغان ديپلوماتانوچي دنړۍ په مهموسياسي مركزونولكه لندن ، واشنګټن ، پاريس اوپيكينګ کي خوندي وو اود تبليغاتو اوسياسي حمايي ښه موقعيت ئي هم درلود . خو ئي ونه كړل اوولس ئې ځانته پريښود ، دوى ايله دپناه اودځان په غم کي وو . تولو دخلقيانو دراتلو سره په چوپړو خولوخپلي دندى پريښودلي اوحتى ځينوئي تريوه وخته پوري درژيم دپاره هم كاروكړ ، عبدالمجيدزابلي دخپلي شتمنۍ په بخښلو سره درژيم هركلي وكړ .

دپاچاه كورنۍ غړو ياورته نژدي كسانولكه ځلمي غازي ، عبدالله ملكياراوهمايون آصفي هيڅ اعتراض اوياد نوي رژيم په هكله هيڅ تبصره ونكړه اوحتى يخپله پاچاهم تر (۱۹۸۳) كال پوري كوم ښكاره دريځ ونه نيوئ .

ځيني سفيران تسليم اوتره کي نورمحمداودبهرنيوچارو وزيرحفيظ الله ته ئي دتبريكۍ تلګرامونه راوليږل ، درژيم تلو لاره ئي ومنله اوترخوئي وس ؤدرژيم دټينګيدو اوبقاء لپاره ئي خدمت وكړ ، دمثال په توګه څوځونوته اشاره كوم :

ډګرجنرال عبدالكريم مستغني دداؤدخان نژدي ملګرى چي په وارسا (پولينډ) کي سفيرؤ ، تربونيم كاله ئي دتره کي درژيم خدمت وكړ ، څوكله چي كابل ته دبل خدمت لپاره وغوښتل شو ، نوپه ډيره وارخطائي المان ته دپناه لپاره ورغلى ، چي دهمدي وارخطائي له امله تري دالمان لاره خطا اوچكسلواكيا ته ننوت ، المان ورته په لمړي سركي دنظامي شخصيت دلحاظه په درنده سترګه وكتل چي كه دمقاومت ملګرى شي مګرده دجهادسره هيڅ علاقه ښكاره نكړه اوراغلى حالت ته تسليم شو .

عبدالرحمن پژواك دلندن سفارت پريښودئ ، دتبريكۍ په نامه كابل ته ورغى اوتره کي ته ئي دخدمت دپاره چمتووالى وښودئ .

په تركيه کي سفيرډګرجنرال سيدخان هم سفيرپاتي شو اوبيادسفيرپه توګه په بغداد (عراق) کي وټاكل شو .

دوكتورطيبي هم په ملګروملتونو کي ترهغه وخته پوري پاته شوچي حفيظ الله امين كابل ته وغوښت ، خوډاكترطيبي نوبيا خپله همكاري قطعه كړه اوپناه ئي وغوښته .

سيدمسعودپوهنيار درژيم دبقا لپاره جشن ونيوئ اوددي منظورلپاره ئي دواتيكان دپاپ نه دعا وغوښته ، دمجاهدولس دورځپاڼي كال (۱۹۸۹ ـ ۱۳۵ ګڼه) په حواله دنامه هاى وارده ترعنوان لاندي مضمون کي دده لخوا دافغان ولس پرميراث اوملكيت باندي (دسفارت پرماڼۍ) دده په لاس دتره کي نورمحمد الحادي بيرغ پورته اووريول شو .

پدي ځاى کي ديوهنيار لپاره نه ډارؤ اونه پوهنيار دومره ناپوه ؤچي وغوليږي اودا رژيم ونه پيژني ، دلته داګمان قوي كيږي چي ديوه ړانديني تفاهم اويپرزويني په اساس ښائي درژيم په ګټه دا اجرآت شوي وي .

نوروسفيرانو اودسفارت غړوته هم دمقاومت اوافشا كولولارجوړه وه ، دوى ترهيڅ فشارلاندي نه وو اوكولاى ئي شواى چي په سياسي جهاد لاس پوري كړي ، شرق هم دسفارت نه درژيم خدمت ته ځان ورساوه .

څوكله چي دجهاددبرياليتوب ستورى په ځليدو اودرژيم زبوني ښكاره اونژدي شوه ، نودي سفيرانودرژيم مرسته اوملاتړ پريښود ، بياه ني وغوښته اوياني دځان دمطرح كيدودپاره قلم راواخيست چي څه ناڅه ليكني وكړي .

Ketabton.com

# د رژیم بهرنی سیاست

درژیم بهرنی سیاست پرناوړه وېناو اوبدوویلو ولاړؤ ، هغه هیوادونه چي دپخوانه ئي دافغانستان سره سیاسي اړیکي درلودي ، دتره کي رژیم ئي هم په رسمیت وپیژندئ ، مګررژیم دافغانستان عنعنوي بي طرفي ترپښولاندي اوپه ټولوموارد وکي ئي دروس په پل پل کیښودئ . کیوبا ، ختیځ المان اوویتنام ئي په رسمیت وپیژندل اودلوی‌سفارت په سویه ئي اړیکي ورسره جوړي کړي ، په (۱۹۷۹) کال کي کله چي چین دویتنام غوږونه تاو اوپرویتنام ئي یرغل وکړ ، نوررژیم خپل داخلي مشکل هیرکړاودروسي دخوښئ لپاره ئي دویتنام په پلوئ مظاهري وکړي .

دآزادوهیوادونو سره اړیکي ورځ په ورځ سړي اوخرابي شوې ، په ټولومظاهرو اومارشونوکي به امریکا ، برطانیه ، فرانسه ، مصر ، اسرائیل ، سعودي ، چین ، پاکستان اوایران ته ناوړه خطابونه کیدل ، پرکمونستي هیوادونوسربیره یواځي دعراق ، سوریي ، فلسطین ، جنوبي یمن اوهندسره ښي اړیکي پاتي شوي .

د (۱۹۷۹) کال روسي یرغل په مقابل کي دپروتیست په ډول دنړی‌آزادوهیوادونوخپل سفیران وروغوښتل اودسفارت دورځني کارودپاره ئي ایله یویادوه کاتبان پریښودل .

امین اوتره کي وهغوافغان سفارتونوته چي پرچمیان تري ایستل شوي وو ، ترهغوبي کفایته خلقیان ولیږل چي دډیپلوماسی‌سره ناآشنا وو ، په خلقیانوکي اصلاً تخصص ، مسلك اوتجربه دبحث وړنه وو لکه : ده نشین نومی‌دشبرغان دورځپاڼي حروف چین ؤ چي کله کله به ئي په محلي سویه لیکني کولي ، حودکمونستانوپه وخت کي د شبرغان والي اوبیاپه کویټ کي سفارت ته وټاکل شو ، دنوموړي دماموریت په دوهمه ورځ دروسیانوسفیرپه کویټ کي دده دلیدلولپاره ورغلی ، ده نشین ترانداري زیاته مینه ورسره وکړه لکه دکلونودوست چي ئي پیداکړی‌وي ، ځان ئي قوي اوپوه کمونست مبنودئ ، دمارکس اوانګلزفلسفه ئي داسي بیان کړه چي سفیرورته حیران پاتي شو ، خوسفیرباهم ددیپلوماتیکونزاکتونو مراعات کاوه ، خرنګه چي داسوال اوځواب دیوه افغان ترجمان په خوله کیدل نوداحتیاط نه ئي کاراخیستئ اوافغان سفیرته ئي وعده ورکړه چي ددي مشکل دلیري کولواودنوروتماسونودنیولودپاره به ډیرژربوفارسي ژبي روسي شوروي سفارت ته وړاندیزکړي .

ډاکترقیوم کوچي چي دبودابست (هنګري) دسفارت نه په نیټه (۷ / ۳ / ۱۹۸۲) اتریش ته پناه یووړه په خپله انټرویوکي ئي وویل چي په بودابست کي روسي سفیردکابل دبهرنیوچاروترورزارت ډیرهدایت اودکارداجرا امرونه کول ، په نوررو سفارتونوکي هم تردي ښه وضعه نه وه ، کله چي به دکابل سره پستي رابطه خرابه یاتلګراف به عاطل ؤ ، نودرژیم سفیرانوبه خپلوکارونواوسرې اجراآتوهدایت دمسکودلاري ترلاسه کول .

Ketabton.com

# د الله اکبر چیغه

دخلقیانو زوراوزیاتي ، وژني ، بندیګرئ ، روحي اوجسمي کړاونه سراسري شول ، ولس ته دملي پاڅون اومقاومت نه پرته بله لارپاتي نه وه . محورعلما اوروحانیون شهیدان ، بندیان اویامهاجرشول ، پاتي کسان ترکنترول اوتعقیب لاندي وو ، اکثره ئي نن اوسبادمهاجرت په فکرکي وو ولي دکورنئ‌یوغړی به ئي دبندي په نامه رژیم برمته نیولی ؤ . لاراوګودر ورك ؤ ، دکارپیل ؤ ، هریویدي پوه ؤچي که ژروي اوکه وروسته په خپله پیره به نیول کیږي ، غوك چي خلقي نه ؤ رژیمیانوددښمن په سترګو ورته کتل ، خوچي دمهاجرت لارپرانیستل شوه اوخلك ددي آیت شریف مانا ته متوجه شول چي وائي :

الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ أَعْظَمُ دَرَجَةً عِندَ اللَّهِ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ ط

په بناروکي دګوریلائي عملیاتو اوپه کلیوالواولیري سرحدي پولوکي دوړو وړوحملوخبرونه خواره شول چي درژیم دډیرشدیدعکس العمل سره مخامخ شول ، دلمړي ځل لپاره دمقاومت دننګیالوسره دګلبدین حکمتیاراوبرهان الدین رباني نومونه هم واوریدل شول ، مولوي جلال الدین حقاني اومولوي نصرالله منصورلمړی حملی‌دپکتیاپرتانوپیل کړې ، دپښتني دود اورواج پربناد هرقوم مجاهدینودخپلوخلقیانواوبیلاري شویو وژنه تروسه پوري پرخپله غاړه واخیسته .

افغان ولس دځان دپاره دمقاومت په منظوردګاونډیانوپه دښتوکي دخیموژوندغوره کړ ، جهادعمومي شو ، تره کی‌نورمحمد دخپلوبادارانوپه لارښوونه جهاددپاکستان اوایران لاسوهنه وبلله اوپه ښکرورو دروغوسره ئي دهرات د (۱۹۷۹) کال دکب د (۲٤) پاڅون چي دزلمي کوټ فرقه هم ورسره یوځای‌شوی‌وه ، هرات ته د (٤۰۰۰) ایرانیانودننوتلوادعا وکړه ، اوپه هرات کي ئي دایران قونسل ته وویل چي په (۲٤) ساعتوکي دي ووزي ، قونسل دخپلوتلوپه مقابل کي ددي ادعاثبوت وغوښتئ ، دایران دولت په مقابل کي دافغان قونسل محمدنادرایوبي نه دوتلوغوښتنه وکړه ، ایوبي دبهرنیوچاروپه وزارت کي دتره کي نورمحمدپه امردمعین خوکۍ ته په نظرکي نیول شوئ‌ؤ ، مګرایوبي کابل ته رانغلئ بلکه مصرته ولاړ .

دهرات دقیام سم پسي دچخچران مجاهدینوحملي پیل کړي ، نورمحمدتره کي دبهرنیوخبریالانو دپوښتني په ځواب کي دچخچران قیام دهرات دقیام نه تبنیدلي کسان وبلل .

تره کي نورمحمدخپلودروغوته دوام ورکړدکال (۱۹۷۹) دجنګابن دمیاشتي دجنداول قیام ئي دپکتیادوروبڼوپه کالوکي دپاکستانیانومداخله وبلله ، دهمدي کال دزمري پر (۱٤) نیټه په بالاحصارکي پاڅون وشو ، په کندهار ، نهرسراج ، پکتیا پکتیکا ، کنړ ، ایبك ، دره صوف ، وردك اوبالاخره په ټول افغانستان کي مقاومت په ځپواوطغیان شو ، رژیم هم دخپل ټول زوراوناروا نه کاراخیستئ اودخپل زورنغاري به ئي وهلي ، ګاونډیانوته دافغان مهاجروکډي رواني وي چي دانزیارایستونکودلارښود (تره کي) په ادعاکوچیان وبلل شول اوپه ډیرغروربه ئي ویل چي ژمی‌تیرشي بیرته به راوګرځي ، کله به ئي په دروغودځینوکلیوالودراستونیدوخبرهم تیرکړ چي په فلاني سرحدکي دفلاني والي اوولایتي کمیټي دمنشي لخوا کلیوالوته هرکلی‌وویل شو ، مګرډیرکلونه تیرشول چي افغان ولس لادپردوپه دښتوکي لمراوېځنیوته پرېوت اوشمیرئي ورځ په ورځ دیریدئ .

تره کي دمهاجرینودالوی‌بهیرپواځي په سلوکي دوه فیوډالان بلل ، روسیانواورژیم دملګروملتودپناهندګانودسازمان دهغومرستو مخالفت کاوه چي دافغان مهاجرینوسره به کیدلي . مقاومت ورځ په ورځ پیاوړی‌کیدئ ، داتفاق اواتحادپه ضرورت پوه ؤ ،

Ketabton.com

دقومونوترمنځ تلې اوراتلې اوتفاهم ډیرشو ، پښتون ، هزاره اوتاجك سره یوشول ، مګررژیم لاپیاهم دولس هوډعادي باله په خپلوبادارانوني باوروکړاوویل به ني چي دروسیې داکتوبرانقلاب کورلیوجګړوهم شپږکاله دوام وموند .

دافغان جهادلمې ورځ په ورځ لوړیدلې ، دجهاد دشرعي کولوپه منظوردجهادآمران وټاکل شول ، دجمعې لمونځ شرعاً ساقط شو ذکات اومالیي په مجاهدینوپوري اړه پیداکړه ، دالله اکبرچیغه پورته شوه ، ښځې اوماشومان دمجاهدینوسره دپوستون په خاطراوررژیم ته دکرکې دښکاره کولولپاره په مرکزاوولایاتوکې دشپې لخوابامونوته پورته شول اوترسهاره به ني دالله اکبرسوري وهلي ، حتی‌هندوانوهم چي خپله عقیده په خطرکي لیدله دخپلوهیوادوالوسره به ني یوځای‌دالله اکبر چیغې بلرقه کولې ، ځینې هندوان دالله اکبردچیغوپه توربندیان هم شول .

په هره اندازه چي به دښمن دناروا اوظلم دشدت نه کاراخیستی نوپه هغه اندازه دولس وینه به جوش راتلله اوپه جنګي لووبښتون به ني لاس پوري کاوه . اقتصادي تحریمونه پیل شول ، بازارونه اودوکانونه وتړل شول ، پوهنتون اوښوونځیوکي اعتصابونه عمومي شول . شورویانوبه داهم دانقلابي رژیموپه مقابل کي داډول مخالفتونه یوه عادي اوطبعي پدیده بلل اوداملي پاخون ني داعلیحضرت امان الله غازي داصلاحاتوپه مقابل کي دارتجاعي لسونوسره مقایسه کاوه .

چریکي عملیاتوغوځ رول درلود ، یوه خلقي هم ځان په امن کي نه باله اودوی‌نورپیژندل شوي ور . هرمجاهدبه خپل ابتکاردهیواددغلیمانودله منځه وړولونقشه جوړوله ، دکابل راډیودنامتوسندرغاړي خان قره باغي اوماستړغني دوژلواغیزمن پړغ هرځای ته ورسید . دتلویزون رقاصه (ستاره) نومي اودراډیووینلویه سامعه مقصودي هم په نوبت کي ونیول شول ، په ولایتونوکي هم همداوضعه وه ، ډیرو (ګم نامو) مجاهدینوبریالي عملیات ترسره کړل چي شهرت ني نه غوښت . رژیم نورناتوانه ؤ ، ایله دخپلوناکامیودخبرونودخپریدودمخنیوي په هځه ؤ ، ډیري جنازې‌ني په پټه خوله ترخاورولاندي کړې . مقاومت ترازموینې وروتیږ اونه ماتیدلونکی بریښیدئ ، آزادي نړۍ‌هم مقاومت په رسمیت وپیژندئ ، ددوی‌کارنامي ني دخپلوخبرونودپروګرام برخه کړه اودجهادجنګیالي ني مجاهدین وبلل .

# غـازي سيداكـبـر

تاريخ به دافغان ولس ميړانه ومني ، په مجاهدينوکي ترميړنيوهم ميړني وو ، هريوه به هغه کوله چي ترخپل يارنه دمخه شهادت ته هرکلی وکړي ، بي ځايه ئي نه بولم چي دغازي شهيدسيداکبرشهادت دمثال په ډول وليکم :

سيداکبردخپلوملګروسره دداؤدخان دوخت بندي وچي دخرخي پلـه دجيل دررژيم دکارکونکوورځيني جنايات ورته معلوم اوپه خپله ئي هم ګاللي وو اوپدي پوه وچي يوه ورځ به ئي دشهادت نوبت راشي ، فکرئي کاوه چي که وکولای شي ترشهادت دمخه دجيل په قومندان سيدعبدالله چي ترټولوپه وحشت کي لوړمعلوميدی ځان غازي کړي ، ددي منظورلپاره ئي وکولای شواي چي د (٥٠٠) افغانيوپه مقابل کي دخپل پيره داريه وسيله يوه پيش قبضه په لاس راوړي .

(١٩٧٩) کال دغبرګولي (١٣) نيټه وه چي دسيداکبردشهادت موده راورسيدله ، دجيل دمديرسيدعبدالله لخوا سيداکبردفترته وغوښتل شو ، معلومه وه چي دشپي لخوادمديردفترته غوښتنه څه مانالري ؟ غازي په ډيره ميړانه دتلو نه ډډه وکړه اوراليږل شوي وظيفه دارته ئي وويل *" که مديرزما سره کارلري هغه بايده ته ورشي "* .

قومندان داسي ځواب تراوسه نه و اوريدلی ، په قهراوغضب کي ډوب غازي ته ئي په بيړه ځان وررساوه ، غازي سيداکبرنه معمولي احترام پرځای کړاونه دخپل ځای نه ورته پورته شو ، ترخوقومندان په ډيره بي باکۍ په لغته وواهه ، په همدي وخت کي سيداکبرغازي دجرابي نه خپله رانيول شوي پيش قبضه راوايستله اوديوي حيدري ناري سره ئي وار پرېوکړ ، پيش قبضه دجاني قومندان په ګيډه کي ښخه شوه ، غازي پدي ډول خپل پلان عملي کړ ، قومندان په وينوکي لت پت شواوزاري اوتوبي ئي ټول زندان واوريدلې ، ټيپي روغتون ته ورسول شو ، دمرګ نه بچ شو . سباګهيځ دوخته دررژيم واکمن وررسيدل ، دزندانيانوشکايتونه ئي واوريدل اويوڅه آسانتياوي راغلي .

سيداکبرغازي ئي دخپل (٩٠) کسه يارانوسره دواړه دزندان دننه شهيدکړاوترډيره وخته ديوالونه ددوي په پاکو وينورنګين پاتي شول .

دي ملي اوعمومي پاخون په تاريخ کي يوځل بياثابته کړه چي افغان ولس ته دخپلواکۍ په اندازه بل هيڅ شی دومره اهميت نلري . کورني شوروپانوهم داسلام په پرده کي پټيدل غوښتل ، هغه ئي کول چي اسلامي هويت پيداکړي ، نورمحمدتره کي به اکثره ويل چي په يوه *" مسلمانه کورنۍ کي زيږيدلی دی "* .

خيري نورپيژندل شوي وي اوروسيان هم دغوائي دانقلاب دنجات په بهانه دبرغل لپاره دلاري دهوارولوپه لټه کي ليدل کيدل .

Ketabton.com

# د مادیت ډارن بنده گان

دمادیت ډارن بنده گانونه خدای (ج) پیژندئ ، نه ئي پرخدای (ج) توکل درلوداونه ئي شهادت ته عقیده درلوده ، دوی یواځې په مادي گټوپسي روان ور ، دوخت په اقتضابه کله خلقي پرچمي شو ، پرچمي به خلقي شو ، ستمي اوشعلي به هم کله یواوکله دواړه ومنل ، ځکه چي ددوی‌تولوداهام منبع اوسرچینه یوه ده ، کله به ئي ائتلاف وکړاویودبل رهبرته به ئي غاړي کینبودلې ، ددوی‌تشي خبري ډیري وې مگرتربلي هري ډلي داکسان دمرګ نه ډیر ډاریدل .

په کال (۱۹۷۹) کي دامین دواکمنۍ ورروستۍ شپې اوورځې وې ، به خرخي پله کي دهدایت دجیل دکوټې ځینې انډیوالان ویده اوځینې ئي لاویښ وو ، چي قاضي عبدالهادي هدایت اوطاهربدخشي دمدیرودفترته وغوښتل شول ، دشپې ودفترته دغوښتنې مانا څرگنده وه ، قاضي عبدالهادي هدایت په ډیرتوکل اومېړاني پاڅیدئ ، اودس ئي وکړ ، دخدای (ج) درضا شکرانه دوه رکعته لمونځ ئي ادا کړ ، حتی‌خنلك ته پروت خپل ورسره بندي زوی خالدهدایت ئي هم ونه غوښتئ چي ویښ اوناآرامه شي ، دخدای (ج) درضاڼپاره ئي شهادت ومنئ اوچتوودریدی . شهیدقاضي هدایت هغه څوك ؤچي دخرخي پله په زندان کي په ډیره مېړانه اولوړ آوازمحمدي آذان پورته اولمونځ په جماعت اداکول ئي رواج کړ .

مگرطاهربدخشي دستمیانومشرفقط دعسکرانودکشولوپه زوریوړل شو ، دعسکروسره پدې زاریواولاس پښووهلوکي هدایت وبدخشي ته وویل چي " *جلك شه ، دغه دی دخدای اود رشتیا ځای* " .

مجیدکلکانی‌دشعله یانوبل مشرچي دشاهي دوخت نه تبنتیدلی ؤ ، دببرك کارمل دعمومي عفوې نه په گټه ، دډاکټرنجیب د خورئي (توریالۍ) کورنۍ ته ددوعالپاره چي حفیظ الله امین وژلی ؤ ، کابل ته راننوت . زردپرچمیانولخواتعقیب ته متوجه شو ، دهغه کوردکړکۍ نه وغورځیدئ چي ورننوتلی ؤ ، پښه ئي ماته اوونیول شو ، پرچمیانوپه هم هغه کال (۱۹۸۰) کي اعدام کړ .

Ketabton.com

# د ډبز ترور

روسي توطیئې هراړخیزه عملي کیدې اوپه هره برخه کي دمجاهدینودبدنامی اوکمزوري کولولپاره کارکیدئ چي داحُل په کابل کي دامریکادسفیرښاغلي ادولف ډبز نوم په لست کي ونیول شو .
ښاغلي ډبزهغه امریکائي سفیرؤچي ددریمي نړۍدکمونستي اوچپي رژیمونوپه هکله ئي پوره مطالعه درلوده اودروسیانونه هم پټه نه وه چي نوموړي دچیلي دسفارت نه وروسته په کابل کي وټاکل شو ، دکابل رژیم چي څومره دننه بي معلوماته ؤ همغومره ئي بهرهم معلومات نه درلودل ، هره چاره ئي دروسیانوپه اشاره وه ، دډبز اګریمان فقط دنوراحمدنورپه مقابل کي چي وامریکاته ټاکل شوئ‌ؤموافقه وشوه ، امین هم بیره درلوده چي پرچمیان ژردکابل نه وشړي اونوراحمدنورهم دهمدې ډلي نه ؤچي بایدواشنګټن ته وشړل شي .
روسیانوروغوښتل چي پدې توطئه کي دیوې خوامجاهدین بدنامه اوترورریست معرفي کړي اونړیواله ننګه پرې قطعه اوبل پلودامریکادسفیرښاغلي ډبزنه هم ځان پدې ډول بي غمه کړي .
دفبروري میاشت کال (۱۹۷۹) ؤچي دامریکاسفیرګهیځ دخپل کارودفترته په لاره کي ددروکسوکي جي بي تروریستانو لخواچي دافغان ترافیکویونیفورم ئي اغوستي‌وو ونیول شواودکابل دهوټل په یوه کوټه کي بندي اوبرمته شو .
په جنایاتواوجرمونوکي کله سیمه ایزه اونژادي مشخصات ښکاره وي ، په افغانستان کي حتی‌داووس هم پرغمل نیول دود نه دی ، دمیلمه عزت اواحترام کیږي . پرغمل نیول په ډیروځایوکي هم دروسیانواوددوی دشاګردانوخوی‌اوعادت دی ، ښاغلي ډبزته موقع ورنکړل شوه چي تلیفوني تماس ونیسي اودبرمته والوغوښتني منعکس کړي ، دلویدیځوهیوادونو سفیران دچاري په لټه کي وو مګرامین نه پیداکیدئ چي خبري اویا لیدنه ورسره وشي .
ښاغلي ډبزترورشو اوبرمته وال هم ورسره ووژل شول ، شاهدان له منځه ولاړل ، دعملیاتوپه وخت کي ډیرودکي جي بي غړي دافغانستان بانک پرباموتوولیدل چي دعملیاتولارښوونه ئي کوله ، دتروریستانوپه نامه دخوکسومړوعکسونه هم په ورځپانوکي خپاره شول چي چانه پیژندل . دامریکاد (اف بي آی) لوی هیئت راغلی ، که څه هم رژیم دموضوع په څیړنه کي ورسره مرسته نه کوله.مګرهغوداترورکي جي بي لخوا وګڼی .
رژیم په خپلوخبرونوکي دبهرام الدین باعث خوشي کول چي هغه ئي لاپخواپاکستان ته تبتیدلی‌وبانه دتروریستانو غوښتنه وبلله ، داهم درژیم ښکرور دروغ ؤ ولي چي باعث لاپخوارژیم وژلی ؤ .
داخبره درژیم اوامین عمومي وه چي یوتن به لاپخواوژل شوئ‌ؤ مګررژیم به ئي ورئې ته نه ویل اوحتی‌جامې به ئي دخپلوانو نه اخیستې اودهغه خیرني جامې به ئي ورته راوړې ، که به چاوکولای‌شوای‌چي امین یابل لوړمقام ته ځان ورسوي اودخپل دمړه اوژوندي تپوس وکړي ، دوی‌به ورته لنډ ځواب ورکړچي په زندان کي نشته نوحتمي پاکستان ته تللی‌دی ، امین به ډیرو پاك لمنواوپټمنوافغان میرمنوته چي په خپلومړو پسې به ګرځیدلې اوده ته به ئي ژړل ، وویل چي :
*" ولاړې شئ ، نسور میړونه وکړئ "* .
ددي دپاره چي جهادبولسون وبښي ، دکابل دیوهنتون یوفلسطیني‌محصل ئي دجهادپه توریه تلویزون کي ومنودئ ، هغه داقرارپه ډول وویل چي دمجاهدینودپاره ئي دالمان د (هانوور) په ښارکي دالوتکودبیژندني روزنه لیدلی‌ده ، پداسي حال کي چي المان دجهادپه ټول وخت کي دمجاهدینوسره دنظامي مرستي نه ډډه کوله ، دافلسطیني‌سابه بازارکي آزادګرځیدئ چي اکثرولیدلی اوپیژندلی‌ؤ .
خیرکه هرڅه ؤخودښاغلي ډبز دترورسره رژیم نورهم رسوا اودمجاهدینوبلوته نړیواله توجه ډیره شوه .

Ketabton.com

# وفاداره شاگرد اوبې وفا استاد

دقدرت لیونیانوپه خپلومنځونوکي هم هیڅ ډول اخلاقي معیاراوبشري ارزښتونوته نه کتل ، دواکمنۍ دګټولودپاره هرڅه ته چمتوو .

د (۱۹۷۹) کال دپیل نه استاد اوشاګردیوبل ته به زړه کي پټه ورو ورو راخرګندوله اوبالاخره ئي اختلافونه ورځ په ورځ ډیرشول ، حفیظ الله امین دځانګړي واکمنۍ دترلاسه کولودپاره په ظاهره دتره کي سپین ږیرتوب پلمه کاوه مګرپه حقیقت کي دهغه دساده ګۍ اوحماقت نه هم په عذاب ؤ ، دغوائي دکودتادلړي تلین درسمګذشت دکتني په وخت کي استاد (تره کي) خپله میرمن خنګ ته ودروله پداسي حال کي چي دګوندي اصولوپه اساس دمملکت دلړي سري څنګ ته بنائي دوهمه درجه دولتي یاګوندي سړی ځای ونیسي ، امین هم میرمن تره کي چي ګوندي شخصیت ئي نه درلود لیري اوپخپله هلته ودریدئ ، داسي نورلوی اوکوچنی دنظرتفاوتونه راتلل اودا آوازی به بهرته هم راووتي که څه هم حفیظ الله امین به په خپلوبیانیوکي دا آوازي ردولي اودوفادارشاګرد ادعابه ئي کوله .

مګربیاهم دیوی بیبني انتظارکیدی ، (۱)جنرال ویکتورپاپوټین دشوروي دکورنیوچارودوزارت معین دامنیتي تشکیلاتودمهرن کولوپه نامه دکال (۱۹۷۹) دسپتامبرداولي نیټي نه په کابل کي اوسیدی .

روسیان ومشکلاتوته متوجه وو ، دغوائي دانقلاب نه یوکال اوخومیاشتي تیري شوي وی ، ستونزي لږخه بلکه ورځ په ورځ مخ په ډیریدو وې . دروسیانوورستۍ هیله داوه چي دانقلاب نه په لاس راغلوته دنجات په خاطردافغاني کمونستي مشرانونه یویادوه په قرباني (۲)کښیږدي چي دادروسیانوورستنی پلان وو ، امین اوتره کی هم په روسي تدبیر (توطیئه) پوه وومګرداخرګنده نه وه چي څوك به لمړی دتوطیئۍ قرباني شي خوتره کي واردمخه کړ .

تره کي دوري د(۱۸ ـ ۲۰) نیټي پوري (۱۹۷۹) کال کي دکیوبادسفرنه دراستونیدوپه لارکي په مسکوکي تم شو ، برژنیف دافغانستان دناآرامي وضعي نه شاکي اوددي حالت دلیري کولودپاره ئي تره کی دببرك کارمل سره پخلاکړل اواستادهم چمتوشوچي دخپل وفادار شاګردسره بي وفائي وکړي اودبرژنیف په دیکتي ئي دامین دله منځه وړلواوکارمل ته دصدارت ورکولوژمنه وکړه ، سیدداؤد تړون داستاد دبي وفائۍ دنیت نه په تفصیل سره وامین ته خبرورکړ ، پدي سفرکي امین دتره کي سره ډاکټرشاولي هم دخارني دپاره لیږلی ؤ اودتره کي دخارني دپاره لاپخوا خپل اعتمادي سیدداؤدتړون دځارندوی دلوی قومندانۍ نه ارك ته بدل اودتره کي دنظامي یاورپه توګه ئي ټاکلی ؤ .

امین دخپل اخلاص دښکاره کولواواغفال په خاطردکیوبانه دتره کي دراستونیدوپه وخت کي دهغه دهرکلي لپاره لوړترتیبات نیولي وو ، څه وخت مخکي هم دتره کي دخوښي لپاره دده دپلویانوډلي نه ئي اسدالله سروري دعلی البدل غړي نه دمرکزي کمیټي غړیتوب ته لوړکړ .

پروګرام داؤچي کابل ته درسیدوسره سم به دتره کي دهرکلي په وخت کي امین دمنځه یوړل شي ، ولي څرنګه چي داتوطیئه

---

(۱) تردي دمخه دروسي ځمکني ځواکوقومندان جنرال پاولوفسکي دشل کسیزه نظامي هیئت سره په ډیرخصوصي ډول کابل کي اوسیدی .
(۲۰۸ مخ ، لانه جاسوسي ـ لمړی ټوك) .

(۲) روسیانوبه ویل :'' درسرزمین انتقام یکی ازرهبران خلقي بایدبهای سنتي را برای مرګ هزارهانفربپردازند....'' (سندمحرمانه ۲۲ ، ۹۹مخ ـ لانه جاسوسي ـ لمړی ټوك) .

پدي پلان امین اوتره کي هم پوه وو مګرداخرګندنه وُ چي څوك به لمړی دتوطیئي قرباني وي ، خونورمحمدتره کي واردمخه کړی .

Ketabton.com

عملي نشوه نودوه ورځي وروسته د تره کي خوا امين دده ودفترارګ ته وغوښتل شو ، امين موضوع ته متوجه وُدتلو نه ئي لړی ډډه وکړه ، ددې ليدني اوراتلو دپاره په کابل کي دروسيي سفيرپوزانوف هم داغوښتنه تکرار کړه ، دپوزانوف په تضمين چي دصحتي ناظراوګډونکونکیو امين ورغلی .

امين دخپل تلو سره احتياطي ترتيبات ونيول ، تره کي هم په ارګ کي اسلم وطنجار ، سيدمحمدګلاب زوی اواسدالله سروري دده دمرګ دپاره په کمين کي کښينول ، پرامين ډزي وشوي ، دشاګرد اواستاددپلويانوترمنځ پدي اخ وډب کي خوګ مړه اوخوګ ټپيان شول مګرامين دمرګ نه بچ شو ، که نه دده مرګ اوترورپه هم لکه نوري وژني پرمجاهدينواويا د امريکا پرامپرياليزم تاوان شوي وای .

دهمدې کال دوړي پر (۲۳) نيټه استادبالفعل دي وفاتي په تورد شاګردپه امردجنرال يعقوب په لاسوچي دپغمان اوسيدونکی ؤ ونيول شو ، اسلم وطنجار ، سيدمحمدګلابزوی اواسدالله سروري دشوروي سفارت ته په کابل کي وتښتيدل ، استاد دخپلواعمالو محکمي اوسزاته سترګي په لاره پاته شو .

Ketabton.com

# حفیظ الـلـه امین

امین دکابل دپغمان دحبیب الله خروټي زوی اودابن سینادښوونځي ښوونکی ؤچي خپلي لوړي زده کړي ئي په امریکا کي کړیوي اوهلته دخپلوزده کړوپه وخت کي دافغان محصلانودااتحادیي مشرؤ ، سیاست سره ئي علاقه درلوده ، دخلق د دیموکراتیك گوندغړی اوپه کال (۱۹۶۹) کي دپغمان دولسوالی دخلکوڅخه اولسي جرگي ته د (۱۳) دوري وکیل وټاکل شو . دغوائي دکودتانه وروسته دلمړي وزارت دوهم مرستیال اودبهرنیوچاروروزیرشو ، د (۱۹۷۹) کال دوري په (۲٤) نیټه دخلگود کور (ارك) نه دکابل ځینوښاریانوډېزي اوریدلي وي مگررابطه چانشوای وزکولای خوپه راډیواوټلویزون کي د (رهبرتوانا) نوم نور ډیرنه اخیستل کیدئ ، دلمړي ځل لپاره گل غوټي دحفیظ الله امین لوربخپله ټولگي کي دتره کي عکس لاندي راواچاوه اوترپښوئي لاندي کړ ، تره کي ئي لوی شیطان وباله اودهغه دژرروژلوزیری ئي ورکړچي دي بي احترامي ته نورو شاگردانواو ښوونکوپه حیرانتیا کتل .

په کال (۱۹۷۹) دوري په (۲٦) نیټه امین پولیسنوم راوغوښت اودنورمحمدتره کي لیکل شوي استعفائي پولینوم ته وړاندي کړه ، استعفا ئي بیله پوښتني ومنل شوه ، دنوي رهبردپاره انتخابات په همدي پولینوم کي پیل شول ، امین په ډیره ریا دغونډي نه ووتی چي دقاطع رایوپه نتیجه کي دده په غیاب کي دگوندمنشي ، دانقلابي شورارئیس اولمړی وزیروټاکل شو .

داعدام دتطبیق فیصله هم درئیس دولت په اختیارکي وي ، امین ددي قانوني واك نه په استفاده دتره کي دوژلوفیصله وکړه ، تره کي نورمحمدلا ژوندی ؤچي دپښتو خواږو له کبله ئي دخپل مرك اعلان دراډیوله لاري واوریدی ، تره کي دخپل مرك حتمي کیدل خپل مؤظف پیره دارته په ډیرعجزاظهارکړه چي ترهمدي وخته ئي (۱)داحتمالي عفوي اوبازخواست هیله درلوده .

دگارډقوماندان جانداد تورن دنورمحمدتره کي وژنه ددو نوروممنصبدارانوپه گډون دکارمل په وخت کي دراډیوله لاري په تفصیل سره داسي بیان کړه : "*تره کي صاحب لا ژوندی ؤ چي دکفن اوقبر دتهیه کیلوهدایت راکړل شو ، ماهم اله سره تړپه دبازارنه رانیوله اودشپي لخوا دتره کي صاحب دوژلوامر راته راکړل شو*" . تره کي لاپخوا درهبریت داختلاف نه وجاندادته شکایت کړیؤ اوخپل امنیت ئي ده ته سپارلی ؤ .

جانداد خپل بیان ته ادامه ورکوي چي "*دلوی درستیزیعقوب دامر سره سم زه ، روزي خان دگارډسیاسي آمراوحلودبریلمن دتره کي صاحب وژلوته چي هلته په ارك کي بندي ؤ ورغلو ، تره کي صاحب ته په همدي شپه ښه خواړه دارك دآشپزخاني نه راوړل شوي وه ، احترام مي پرځای اوتره کي صاحب مي برکت پري ایستئ ، ددي دپاره چي عذاب ونه گوري اوژر په حق ورسیږي نومي لاسونه ترشاوروتړل ، دوتنولي پښي ټینگي ونیولي ، روزي خان برخوله بالښت ورټینگ کړ ، تره کي صاحب هم مقاومت نه کاوه اولحظه وروسته دملگري تره کي صاحب ساه وختله*" . داکتوبردمیاشتي پر (۹) نیټه کال (۱۹۷۹) کي دکابل راډیودلاري دنورمحمدتره کي دمرك اعلان دپخواني رنځ له کبله خپورشوچي نوره تبصره اوشرحه ئي نه درلوده .

دحفیظ الله امین لوردتره کي ښکلي دریشي دخپلو ملگروویلروته چي پرقدئي برابري وې وبخښلې .

تره کي نورمحمدوصیت ونکړ ، فقط دکرکي اوپښیمانی په ډول ئي دگونددغړیتوب کارت دجانداد تورن په لاس امین ته مسترد کړاوهیله ئي وکړه چي دده دجیب (٥٠٠٠٠) افغانۍ دده وکونډي ته ورکړي .

دنورمحمدتره کي مړی دهغومنصبدارانواودارك دخلورو نوروعسکروپواسطه دکابل دقولي چکان دهدیري په هغه قبرکي

---

(۱) دروسیانوهغو محال پیدانکړ چي نورمحمدتره کي دامین دمنگلونه خوشي اوروسي ته تحهدکړي . (۲۷مخ ـ لمړی ټوك ـ لانه جاسوسي) .

Ketabton.com

واچول شوچي پخوا ورته کینل شوی ؤ .

برژنیف اوډروسیي نورومشرانوحفیظ الله امین ته تبریکي وویله اودښوارېکواودامین دبریالیتوب هیله ئي وکړه . په روسي ورځپانوکي هم ددوی په اصطلاح د (انقلاب پلار) دمرګ خبرهم په همدي ډول دواقعیت نه لیري اوبیله تبصري په لنډډول خپورشو .

په تره کي نورمحمدپسي چاونه ژړل اونه ئي فاتحه اوجنازه وشوه ، پسله مرګه دامریکي په جاسوسي تورن شو اورژیم تردي وخت پوري ټوله کړي جنایات په ده باندي وتپل ، دکورنیوچارو دوزارت پردیوالونودځینوشهیدانودنومونو لستونه ځوړندادوه ته منسوب شول ، دپرون رهبردنن خائن شو اوامین دعدالت ، مصئونیت اوقانونیت رغ پورته کړ .

Ketabton.com

# د امین رژیم

امین ځانګړی واکمن شو ، تر ټولو ړومبی ئې دا رلړ د توطئې په تور د کابل نه د روسي سفارت د غړي ابلوف او د روسي د سفیر پوزانوف د وتلو غوښتنه وکړه ، پوزانوف په کابل کي شیخ السفرا او په شوروي کي لوړ ګوندي اعتبار درلود او زښته ډیر مډالونه ئې اخیستي وو . خلقیانو د پوزانوف خدمتونه د ګوند دپاره ستایل او د امین پر دي عمل ئې هم اعتراض کاوه .

د امین په مقابل کي د توطئې نور مرتکبان اسدالله سروري ، اسلم وطنجار او سید محمد ګلابزوی امین ته په لاس ور نغلل ، امین پدي بوه ؤ چي دوی ټوله د شوروي په سفارت کي ساتل شوي دي . داسي هم اوریدل شویدي چي دوی د مړو په بڼه د امین د واره شوروي ته یووړل شول .

امین د امنیتي سازمان نوم په (کام) بدل او خپل وراره اوزوم اسدالله امین ئې د هغه سازمان د مشر په توګه وټاکه ، ډاکټر شاه ولي ئې د بهرنیو چارو وزیر او خپل زوی عبدالرحمن امین چي د محصلانو د سازمان مشر ؤ د پولي تخنیک نه د حقوقو پوهنځي ته بدل کړ .

عبدالله امین دده ورور چي د غوائي د کودتا په ړومبي سرکي لدي کبله چي پخوا د سپین زر شرکت د قلم مخصوص مدیر ؤ د هغه شرکت په ریاست قانع او خوښ ؤ ، اوس د امین په رژیم کي د شمال د خلورو ولایتونو رئیس تنظیمه (دزون آمر) وټاکل شو ، عبدالله امین د ګوند غړیتوب نه درلود ، مګر پدي ادعا چي د امین په روزنه کي ئې زیار ایستلی ؤ د لوړو پستونو مستحق وبلل شو .

اکبر مهر چي د روسیانو تر نظر لاندي د مسکو او وارسا د سفارت په غړیتوب ډیر وخت تیر کړی او د روسیانو د ډاډ وړ ؤ د امین خنګ ته ئې دده د خارني دپاره د دفتر د رئیس په توګه ځای ونیوئ . د امین نژدي کسان په وروسته کي اعدام او یا بندیان شول مګر اکبر مهر د بهرنیو چارو د وزارت د تشریفاتو رئیس مقرر شو .

امین خپل هغه پلویان چي دده پر ځای ئې سرور کړی وو ، پسله مرګه تقدیر ، جلال کوټ ئې د سید داؤد ترون په نامه (ترون ښار) ، لښکرګاه د اکسا د مرستیال نواب په نامه (نواب ښار) او د جمهوریت روغتون چي پخوا د شهزاده بلقیس په نامه ؤ او داؤد خان تغییر ورکړی ؤ اوس د اکبر روغتون په نامه ونومول شو .

د عدالت ، مصئونیت او قانونیت تر نامه لاندي جنایاتو دوام وموند ، کړاوونه ، مهاجرتونه او وژني لکه د پخوا په شان رواني وې ، دده په وخت کي هم ډیر کسان ونیول شول او څوک چي تر هغه وخته ژوندي پاتي وو شهیدان او پرته کي ئې تاوان کړل .

داخلي ساطوریو اځي ولس او مجاهدینو ته متوجه نه ؤ بلکه پرچمیانو او ځینو خلقیانو د (تره کیانو) په نامه هم ګذارونه وخوړل ، ځیني خلقیان ئې د افغان ملتیانو په نامه هم وټکول .

امین د سپیده دم قومندان په نامه یادشو ، د غوائي کودتا ده ته منسوب شوه او د غوائي د اوم د کودتا د فلم په ترتیبولوئي پیل وکړچي د فلم هیرو پخپله دی او دده کورنۍ وه .

امین د مجاهدینو تر ګذارونو لاندي ؤ ، د خلقیانو او پرچمیانو دښمني هم ورته پاته شوه که څه هم په پرچمیانو او تره کیانو کي د مقاومت توان او همت نه لیدل کیدئ مګر تشویش ئې پر ځای پاته ؤ .

امین هڅه وکړه که اقلاً د یو شمیر مجاهدینو سره لار و اخلي ، د انجنیر ګلبدین حکمتیار (۱۸) کلن ورور ، پلار او تره ئې بندیان کړل چي حکمتیار و صلح ته اړ کړي ، خنګه چي داو نشوه نو هغوی ټول ئې شهیدان کړل .

د تره کي په وژلو سره ګوند کمزوری او د پرچم سره هم لا هغه پخوانی ائتلاف مات شوی ؤ ، اغوا شوي کمونستان مایوسه معلومیدل او د پخوا شوق او امیدور ته پاته نه ؤ ، مګر د خپلو جنایاتو له کبله ئې هم زړه نشو کولای چي د ولس لمن ونیسي ، سیاست ته ئې بدویل او په زړه کي پښیمانه وو .

Ketabton.com

دامین نیشنالیستي اوفکري آزادي دروسیانوخوښه نه وه ، دخلقیانواوپرچمیانوپه تیکولوکي هم روسیان تري ګیله من وو ، وارته ئي کتل ، امین ئي مسکوته ورو باله ، څرنګه چي دیدکي جي ښي په توطیئوپوه ؤ داتلې ئي ونه مانه ، حتیدمرکزي کمیټي دځینوغړودټینګارسره ئي دملګري برژنیف سره ونه کتل .

امین دخوارخیزولشارونولاندي ؤ ، خومقاومت ئي کاوه ، دیوي پیښي پیش بیني ئي درلوده ، دکابل ښاریانوته به ئي دراډیواو پاڼوپرواسطه دتیاري اخطار ورکاوه چي دالارم په وخت کي پردي کش ، څراغونه مړه کړي اوپرسرکونوباندي دټولیدونه ډډه وکړي ، په اضطراري حالت کي ئي اضطراري حالت اعلاناوه ، اماواقعیت اوحقیقت ئي نشواي ویلای چي روس ورته په کمین کي دی ، دلویدیځوهیوادوسره داړیکوپه لټه کي شومګرامریکاپري باور ونکړ .

روسیانووخت ورنکړچي ولس ته مخ ورواړوي ، دروسي سلاکارانوپه مشوره دامنیت له خاطره دتاجبیګ دغونډیوماڼۍ ته وکوچیدی ترڅودمرغومي شپږمه پرراورسیده .

Ketabton.com

# پنځم څپرکی

## د مرغومي (٦)

دمرغومي شپږمه دافغانستان په تاريخ کي يوه نه هيرېدونکي اوترټولوتوره ورځ ده ، دنړۍ لمړی استعماري ځواك دجنګ د ازمويل شوو جنرالانوپه نقشه دخپلوټولوجنګي وسلو اوملېرنووسايلوسره پريوه بې دفاع ، مظلوم اوصلح خوښونکي هيوادباندې دټولوبين المللي موازينواوقوانينوپه خلاف په ډيره بې شرمي يرغل وکړ .

پداسي حال کي چي دنړۍ بېکيفل شوي هيوادونه دخپلواکۍ پراوته نژدي اود آزادۍ په هيله وو ، زموږدهيوادپه خپلواکۍ تاړاك وشو .

سرې لښکري يوه اوني مخکي دافغانستان ويولوته رانژدي اوځای پرځای شوي وې ، دمرغومي په دريم اوخلورم دکابل اوتاشکندترمنځ هوائي پل جوړ اوپيله مقدمي ، خبراواعلان نه دمنظمو الوتکوپواسطه دکابل هوائي ډګرته وسلې ، توپ اوتوپخانه ، ټينکونه اونوري درندې وسلې راوچليدلې ، الوتکي دشپې اوورځي کوزيدې ، تشيدې اوپورته کيدې .

د (۱۹۷۹) کال دپنجشنبي په ورځ دمرغومي په (٥) دماښام پرشپږوبجوسري لښکري دکابل په ښارکي دخپلو هدفونوپه لوري وخوځيدې ، هدفونوته نژدې شوې ، دحملي لپاره ئي ځايونه ونيول ، حفيظ الله امين ته لاپخوادهمدي ورځي په غرمه په ډوډۍ کښي زهرورکړ شوي وه ، پوره پراتوبجودعملياتووخت ؤ ، عمليات پيل شول ، ددې عملياتولارښوونه دکي جي بي پرغاړه وه .

د (دوروز بي‌ډرپي) د (۱۹۹۳) کال دسرطان ديوديرشمي نيټې ويلهيونې فلم دمسکودتلويزيون دلارې دکي جي بي دلوړرتبه ماموراتودمرغومي دشپږم دعملياتويوه برخه لوخه کړه .

دکي جي بي دضدجاسوسۍ مشرتورنجنرال لوکين وائي : کي.جي بي کولای‌شي چي دټولنزاوافرادو په خصوصي اوعمومي تاريخ کي بدلون راولي اودقومندوداسي افرادئي په واك کي وو چي دشوروي دپولودباندې هم په هرډول تهاجمي اوتروريستي عملياتولاس پورې کړې چي دهمدې قطعي نه يوه ډله چي په مستعارنامه (زينت) يادېدله ، دسفارت دساتنې په پلمه کابل ته رليږل شوله اودجنرال ويکتورپاپوتين قومندې ته ورکړل شوه .

نوموړی وائي چي دمرغومي په پنځمه ذي‌دکي جي بي دمشرانډروپوف سره ناست ؤ چي دکابل نه دکي جي بي نماينده دامين دوژلواودعملياتودبرياليتوب خبرورکړ ، انډروپوف احساساتي ژاوويل ئي چي کارمل ژرپيدا اودبيانيې متن ورته جوړ کړئ !

دامين دارلۀ روسي‌ډاکټردستر ګوليدلي‌حال په همدې مرکه کي داسي بيانوي : امين وارخطااولاهنده هرپلوپه منډوؤ ، سيروم ئي لاپه وريدکي ؤ اوماشي دسيروم ستن دوريدنه وايستل ، واړه زوی‌ئي ژړل اودده پښې ئي نيولي وې چي ده به ډاډوركاره . دواړه (بار) ته ولاړومګرروسي عسکرودبارنه وايستلواودکنفرانس دکوټي دتلو لارسوونه ئي راته وکړه ، زه چي راووتم جنرال ويکتورپاپوتين دمرلۀ پرحال ؤ ، راډيومي ونيول چي خبرونه غيردهغه ورخه چي ماليدلي وو نوحتي‌زماهم پرې باورراغلی .

نورو ځايوکي هم هرخه چي مخي ته ورتلل دپرښښناپه شان غوځ بريديري کيدل اوهرمقاومت ئي ماتاوه ، وژني ئي کولي ، ډيربيګناه تنکي ځوانان ئي چي فقط دمکلفيت ددوري دتيريدوپه نامه راغلي وو دمځه يوړل ، قشلوته ورننوتل ، افغان پاتي عسکرئي بې وسلې اونراوورلاندې ونيول ، مهم عسکري ځايونه لکه دملي دفاع وزارت ، دکورنيوچارو وزارت ، بالاحصار ، ارګ ، راډيوکابل ، دنقليې غونډ ، دارلامان اودتاج بيګ غونډۍ روسي قطعوځواشغال شوې ، عملياتولوخت ونيوئ ، هرپلو جوېپي چوپتيا پرده واچوله ، امين ووژل شو ، اودده په کورکي ورسره ملګري اوميلمانه چي هغه هم مسموم شوي وو روغتون ته يووړل شول چي بيا دې مسموم شوو کي ډاکټرصالح زيري اوپنځه نور هم شامل وو .

ketabton.com

دکي جي بي دجنرال ويکتوريا پوتين دامر سره سم هر څوک چي د تاجيک د ماڼۍ نه د باندي وزي بايد وويشتل شي ، د عملياتو ختميدو ته نږدي په ده باندي هم چي افغان عسکرو يونيفورم ئي اغوستی ؤ او غوښتل ئي چي د ماڼۍ نه بهر ووزي ، د روسي سرولښکريانو لخوا ډزي وشوې او ووژل شو .

خلک چي د داسي ټک او ټوک سره نوري پوره آشنا شوي وو ، بي تفاوته ؤ يا اکثرو د اعمليات هم د مجاهدينو د خوا وبلل ، تلويزوني پروګرام قطعه ؤ مګر راډيو لا پروګرام درلود ، لمړی د تاشکند د راډيو نه د حفيظ الله امين د وژني اعلان ديوه آشنا ستوني نه راووت او د ا اعلان د مفصلي بيانيه ترڅ کي د کارمل لخوا د تاشکند د راډيو په څپو کي څو ځلي تکرار شو ، چي وروسته ئي خپلي غلطۍ ته پام شو ، کابل راډيوئي قطعه او خپله خپرونه ئي د کابل راډيو په نامه کوله .

روسانو د اځلي دامين د مرګ د پاره پوره دقيق او پاخه ترتيبات نيولي وو ، د کابل د زغرورو او د بګرام د هوائي ميدان منصبداران ئي ديوه محفل په نامه سالون ته دعوت او ورټول کړل ، روسي وسلوال عسکرو ورته ودريدل او د وی ټول ئي خارل ، چي پدي ډول د حفيظ الله امين د درومياشتو واکمني ختم شوه او مړی ئي هم چاو نه ليد .

روسانو پدي چاري سره وکولای شوای چي په ظاهره خپل د بيړيو خوب چي تر دواو بوتـه نږدي کيدل وو رښتيا کړي . ببرک کارمل چي دامين د مرګ نه پوره ډاډه شو ، نو دکي جي بي د ميلمستون نه د خپلو تنبيدلو ملګرو سره بيرته کابل ته راوستل او پرتخت کښېنول شو . برژنيف او روسي مشرانو ديو ټلګرام په ترڅ کي کارمل ته د بريا ليتوب مبارکي ورکړه او د لاسوا ړيکو هيله ئي څرګنده کړه .

د روسي نوري پوځي ځواکونه د ځکي د لاري حيرتان او تورغونډۍ ته د نوروښارو د نيولو د پاره راورسيدل ، اکمالات يا د هوا او يا د ځکي د لاري کيدل ، هغه الوتکي چي هاربه ئي په افغانستان کي تش کړئ ، روسي منصبدارانو به د دي خوا يکي خپلو کورونو ته کچالو او يا نوره ترکاري او يا زړی امريکائي جامي په ډيره خوشحالي ليږلي ، د لته غواړم د ننګرهار د فرقي ديوه منصبدار له خولي بيان هم وليکم چي ويل ئي :

د فرقي د کانتين غوا مرداره شوه ، د بلي غوا د رانيولو د پاره بايد منصبداران چنده ټوله کړي او يا د کانتين د شيدو نه تيرشي ، خو پدي منځ کي ديو منصبدار فکر ته راغلل چي دا مرداره غوا بايد پرروسي مشاورانو په ارزانه بيه خرڅه کړو ، سر مشاور ئي ورته راوستي ، غوائي په افراد (عسکر) پوست کړه ، پيسي ئي تري واخيستي ، کانتين خپله وجهه پيدا کړه ، مشاوران هم راضي ښکاريدل او هغه مرداره غوا چي خلقي افسرانو هم د ټول خلقي توب او مارکسيزم سره نه خوړله په خپلو انترناسيوناليستو دوستانوئي وخوړه .

Ketabton.com

# ببرک کارمل

ببرک ترښولوځیل اودخوکي لیونی ؤ ، دی دجنرال محمدحسین خان زوی اودکابل دبګرامي دڅمري اوسیدونکی ؤ اووائي چي ډیرخراب هلکتوب ئي تیرکړی ، ډیرپدي باوردي چي دببرک دنیکه محمدهاشم پلرونه هندوستانیان دي چي دکشمیرنه پنجشیرته راغلي دي . محمدحسین دکارمل دبهرنیوچارودوزیر عبدالوکیل نیکه محمدحسین عسکري منورځي ته شامل اوپه وروسته کي ئي خپله لورهم ورپه نکاح کړه .

کله چي ئي پلاردکندهارپه فرقه کي ماموریت درلودنوموړی به اکثره وخت دکورنه ورك ؤاودچمن (کویټي) په لاره به ئي دچلیدونکولاریو دډریورانوسره شپي کولي اوداسي به ورك ؤچي دده په پیداکولوبه اکثره دفرقي انضباطان سرګړي شول ، ببرک دواکمني اوسیاست سره مینه درلوده ، خوکاله بندي هم شو ، دحقوقوپوهنځي ئي تمامه کړه اودپلان په وزارت کي مامور شو .

په (۱۲) او (۱۳) دوره کي دکابل دشیرشاه مېني دحوزي لخواولسي جرګي ته دوکیل په توګه ورغی ، کمونیزم ئي ومنځ او دتره کي دکال (۱۹٦۵) دجنوري دلمړی‌نیټي په لمړی‌کنګره کي ئي ګډون درلود .

خوببرک ډیرژردخو نورومنلګروسره په ګوندکي انشعاب راوستی، اودپرچم په نامه ئي جلافراکسیون جوړکړ ، ددولتي واکمنو سره ئي هم اړیکي درلودي همداوجه وه چي دپرچم ورځپانه تراخیره وچلیدله اوله همدي امله به خلقیانودی درباري کمونیست باله ، محمدحسین خان لدي کبله چي جنرال پاتي شي ببرک ئي عاق اودکوره وایستی .

ببرک کارمل دغوائي په کودتاکال (۱۹۷۸) کي دتره کي نورمحمددانقلابي شورا اودلمړي وزارت لمړی‌مرستیال شو ، خوپدي ځوکي هم ډیروخت پاته نشواوپه پراګ (چکوسلواکیه) کي ئي سفیرکړ ، څه وخت وروسته امین دی‌غیرحق په کودتاتورن اودسفارت نه وایستی اودمحکمي لپاره ئي کابل ته وروغوښت ، ده هم دسفارت شتمني چي دولس مل ؤلوټ کړه اواواره شو .

پرببرک دپخوانه دکي جي بي دجاسوس ګمان کیدی ، چي دجګړن مناغلي ولادیمیرکوزیچ کین د (۱۹۸۲) کال دنومبرپه (۱۱) نیټه دبي بي سي سره په مرکه کي دي ګمان کابوجوته باوري بڼه واخیسته (مناغلی‌ولادیمیرکوزیچ کین دافغانستان په ارتباط په ایران کي دکي جي بي مامورؤ) ، چي په همدي کال ئي لندن ته پناه یووړه ، دکارمل دجاسوسي خدمتونه ئي رسواکړل اوهغه ئي دکي جي بي یولوړرتبه ماموروباله .

کارمل روسیانوته دډیراخلاص له مخي پرخپل زوی یورروسي‌نوم (واسخوف) کیښود . ده به هغه کوله چي خپل آوازهم ددوي کړي ، (شوروي کبیر ، لینن کبیر ، انقلاب کبیراکتوبر) اوپه داسي نوروتکراري اوبي ربطه جملوئي غوښتل چي خپلوبیانیوته مهم رنګ ورکړي ، ده ترخپلونورو کمونستي ملګرو په مزدوري کي مخکیوالی داپول څرګنداوه چي دلته دده دبیانیوخوجملي‌ټکي په ټکي رانقلوم : " *این خونهای‌پاك (مطلب ئي دروسیانونه دی) درخاك مقدس افغان مخلوط شده . دلالت به دوستي جاودان است ....* " .

بل ځای‌وائي : " *درما ازاعماق جان وروح پاك که ، کیست ؟ وچګونه بایدشناخت وطن پرست ، انسان الشین وراستین کیست ؟* " .

پخپله ئي ځواب وایه : " *که وفاداربه دوستي شوروي باشد* " اوګوته به ئي ورسره هسکه کړه . برژنیف ئي دلیندی پر (۲٤) نیټه (۱۹۸۱) کال کي دافغان دلمړپه زرین مډال ونمانځه اودهغه په مرګ غمجن اود (۱۹۸۲) کال دنوامبرپه مپاشت کي ئي دهغه جنازي ته ځان ورساوه ، په افغانستان کي ئي سراسري ویراعلان کړاودویردمراسمودپرځای‌کولودپاره دحکومت دشورادغړوسره دکافرانوپه رسم پټه خوله پرپښوودریدل په تاجکستان (شوروي) کي ئي دیونهال دایښودلوپه وخت کي

Ketabton.com

مداري غوندي ښځېله ورسره افغاني (پاکه) خاوره دخريطې نه راوايستل اودهغه نهال په بيخ کي ئي توی کړه ، مګرولس دده په هکله ښځېله کرکه پټه نکړه اوپه ګنهونومونو لکه کارغل ، کارملوف ، مزدور ، وطن پلورونکی ، دوهم شاه شجاع ، مداري ګوډاګي‌اونورو يادکړ .

ده دمرغومي دشپږمي روسي يرغل دغوائي تکاملي اودوهم پړاو وباله اودروسيانوهم داپړاوپيکار ؤچي دهنددسمندرتودو اوبوته نژدې‌شي ، ده ترآخيره دروسي يرغلګروخواکوشمېراودوتلونيته رنه ويله .

دهغه شعرپه اقتباس چي دشاه شجاع په باره کي ويل شوی‌ؤ :

" سکه زد برسيم وزر شاشجاع ارمني — نورچشم لاردوبرنس خاکپای کمپني "

دده په باره کي ولس دا زمزمه کوله :

" سکه زد برتخت وتاج کارمل پرچمي — نورچشم برژنيف خاکپای کي جي بي "

# ګوډاګي رژیم

کارمل کابینه جوړه کړه ، دامین پلاس پرچمي زندانیان ئې دبندنه خوشي کړل . رفیع ، قادر ، سلطان علي کشتمند ، سلیمان لایق ، بارق شفیعي اودروس په سفارت کې پټ شوي اسلم وطنجار ، اسدالله سروري ، سیدمحمدګلابزوی اودافغان سفارتونه تبدیلي ئې هم په کابینه کې ورټول کړل ، ځینې غولیدلي خلقیان ئې ځانته رانژدې اوځینې ئې دامینانوپه نامه یاد ، خوک ئې لیرې اوخوک ئې اعدام ته برابر کړل .

داعدامیانودډلي نه اسدالله امین ، عبدالله امین ، صاحبجان صحرائي ، انجنیرظریف ، صدیق عالمیار ، اقبال وزیري ، اسدالله پیمان اوځوکسه نور وو ، دامین زوی‌عبدالرحمن امین دده سره یوځای‌روسیانودیرغل په ترخ کې مړه کړل .

دامین دساطورنه پاتې ځینې مخوراومجاهدین ده ورپسې‌شهیدان اوپرامین وتپل ، نورروته ئې په ډیره ریاکاري ورونه پرانیستل اوعمومي عفوه ئې اعلان کړه .

دملي ماتم ورځ اعلان اودشهیدانوفاتحه واخیستل شوه . ده پخپله دنوي ښاردجومات په فاتحه کې ګډون وکړ ، هغه ورځ په ربښتیا چې دملي ماتم ورځ وه ، ډیروکورنیودخپلوانومړو دخرخې پله دزندان دوررونودپرانیستلوسره یقیني کړاوروسي یرغل هم دماتم دوه هومره لوی‌کړ . دامین کورنۍ اوماشومان دولس دپاره دخرخې پله جیل ته پخپله خونبه ورننوتل .

دامنیتي سازمان اویا دانسانانودوژلودعظیمي دستګاه نوم ئې د (کام) نه په (خاد) بدل کړاوډاکټرنجیب ئې چې تازه پیدې ځانګه کې دکې جې بې دروزنې نه راغلی‌ؤ دجنرال په رتبه وزیروټاکی .

پخوانۍ‌داصلاح ورځپانه ئې چې دداؤدخان په وخت کې د (جمهوریت) اودتره کي په وخت کې د (انقلاب ثور) په نامه وه د (حقیقت انقلاب ثور) په نامه یاده کړه اوبیرغ ته ئې هم تغییرورکړ .

تره کي‌نورمحمدئې (ارواح ښاد) وباله اودتره کي دکوښوي خواښي دامریکاجمهوررئیس رونالډریګن ته چې تازه رئیس شوی‌ؤ دامریکې دلاسوهنې له خاطره دشکایت لیک ولیږئ .

نابیژندل شوي اوپټ کمونستان ئې برڅان راټول اودولتي خوکیۍ‌ئې ورکړې ، دپدروطن په نامه ئې جرګه جوړه کړه ، پخوانیودولتي ابن الوقته کسانوته ئې ددې جرګې دغړیتوب وياړ وباخښه ، ځوځلي روسې ته ورغی .

کارمل دبرژنیف خوادخپلووطنوالودوژلوپه مقابل کې تقدیراوپه کال (۱۹۸۵) دفبروري په (۱۸) نیټه دلېنین دمډال مستحق وبلل شواوکارمل هم هغه متقابلاً دافغانستان دلمړیه زرین مډال وګاڼه .

دپاکستان سره دخبروپه لټه کې شواودایران داسلامي انقلاب لارښودخمیني ته ئې لیک ولیږئ اود (حضرت امام خمیني) په نامه ئې خطاب ورته وکړ .

د (۱۹۸۰) کال داپریل پر (۲۱) ئې لویه جرګه جوړه کړه اوپدې وسیله ئې زموږملي عنعنه هم سپکه کړه ، اساسي قانون ئې تصویب اوپه (۱۱) ماده کې ئې داساسي قانون په سطحه دروسي یرغل دتضمینولوهڅه وکړه ، یرغلګرو قواوې ئې دصلحې دځواکونواویادوستوقواوؤپه نامه یادي کړې اودخپلووطنوالودوژلو اوداعدام دآسانتیا لپاره ئې ترخپل نیغ نظرلاندې دانقلابي محکمې اوخارنوالۍ په نامه جلاادارە جوړه کړه چې خپل نژدی اعتمادي ملګری کریم شادان ئې دهغه په سر کې وټاکی .

دعسکري مکلفیت دوره ئې ددوکلونه ودروکلونه لوړه اوداحتیاط په نامه ئې دمکلفیت دوره خوځلي تمدیداوجلب واحضارئې وکړ‌تنکي ځوانان ئې ترعمومي جلب واحضارلاندې کړل اوپه همدی منظورئې په کوڅه اوبازار کې پیروا‌وګرموته دوام ورکړ

Ketabton.com

چې د (۱۶) کلونو هلکان کوخو او بازارونو ته وروتلای نشول، په کورونو کې هم مصئونیت نه ؤ، روسي عسکر به په کورونو ننوتل او هره ناروا چې به ئې دوسه وه دریغ به ئې نه کیده، سرو غلو به حتی د کورشیان هم پټول.
عسکري بندیزاو پوځي حکومت وو، د خپلواکۍ تنګیالي مجاهدین ئې تر آخیره اشرار او باندې بست بلل. نیول، شکنجې او وژلو دوام درلود او نورو لس هم مهاجرت ته مجبور کړل شوا و د ګاونډیانو په دښتو کې ئې خیمې ودرې شوې، د کارمل په ورځو کې ډیر تنکي ځوانان د کورونه فراره یا د اضطراري حالت په نامه ئې د عسکرۍ نه د فرار په تور بندیان او ځینې ئې د محکمې له خوا اعدام کړل.
د کوڅو او بازارونو نه نیول شوي بې تجربې هلکان بیله نظامي زده کړې او روزنې نه د حلق په نامه د خپلو ورونو (مجاهدینو) مخته لیږل کیدل چې ډیر به ئې پدې لارې کې پرته لدې چې مجاهدین ئې وژل وغواړي، وروژل شول.
د کارمل په وخت کې ډیر ژر جیلونه بیا ډک شول، وژنو او شکنجو دوام پیدا کړ، روسیانو د جنګي وسایلو په څنګ کې د شکنجې وسایل هم د ځان سره راوړي وو، د نوکونو ایستل، برق ورکول او په اور سوځل عمومي وو، تر ټولو خطرناکه خرځې خوکۍ وه چې په یوه ثانیه کې به خوزره واره څرخیدله او هر څوک به ئې حق او ناحق اقرار ته اړ ایستی
خو اقراریواځې کافي نه ؤ، د مجاهدینو نومونه، ارتباطات، د وسلې ځایونه او داسې نور نظامي معلومات به ئې هم ترې غوښتل، تحقیقات به د کې جي بي د ماهرانو په واسطه او یا د دوی تر نظر لاندې کیدل، د بشر د حقوقو او د نړیوالې عفوې د سازمان پو مخ ورونه زر وتړل شول، روسیانو غوښتل چې سر حدونه بند او د روسې غوښتې زموږ آواز او خبر د باندې رنه وزي، د عفوې نړیوال سازمان و کړای شول چې یواځې پوهاند حسن کاکړ دده د نړیوال پیژندل شوي علمي شخصیت له امله وژغوري.
په مرګ د محکومو بندیانو نه به تر مرګ دمخه ساعتونه او نور قیمتي شیان ټول کړل شول، وروسته به د هغو بندیانو نه چې د مرګ سزا به ئې ورکوله د روسیانو په لارښوونه د دراکولا په شان وینه ایستل کیده او ډیر به یکې د وینو د ایستلو او لړولې نه مړه شول چې دا ادعا یوې نړیوالې موسیسې تائید کړې ده، داوینه به وروسته ګروپ بندي او د رژیم د زخمیانو د پاره به د وینو په بانکو کې ذخیره کیدله.
د څرخي پله د پولیګون په کیندل شوو جړو کې به مړ ژواندي او یا ژوندي تراکتورونو تر خاور و لاندې کول، کله کله به ددې وژنو سره شکنجې هم یو ځای وې. ددې ټولو سره به بده او دو یرونه ډک عمل دا ؤ چې دا ټول جنایتونه به یا د پردو په هدایت د رژیم په واسطه او یا په خپله پردو کول.
کارمل او د رژیم کارکونکو تشریفاتي او سمبولیکه بڼه درلوده، د روسیانو سترګو ته به ئې کتل او د هغو رضا به ئې غوښتله، روسیانو د افغان مامورینو د مقررۍ او تبدیلۍ واک درلود، حتی منصبداران او ماموریتونه ئې جرأت کسر معاش ورکاوه.
دا رنګ دننه یواځې روسي قواوي ځای پر ځای شوي و یا او یا یواځې د باندې او په دروازو کې به بیچاره افغان مړ د د عسکر د شکیدلو د ریشیو سره لیدل کیدل، د ببرک کارمل ساتونکي او شخصي نږدې پیره داران هم روسیان وو.
ښاغلي محمد آصف آهنګ په خپلو هغو یادداښتونو کې چې راوړي ښودل لیکلي دي چې یو ځل د پښتو د پیژندګلوی په وینا د کارمل دلیدلو د پاره د هغه و دفتر ته ورغلي، خو د کارمل و دفتر ته د ننوتلو په وخت کې حاضر نشو چې د خپل لاس لکړه د کې جي بي وظیفه لرونکو ته ورکړي او د د وړو تر منځ جیغې پورته شوې، دا آوازونه ببرک واوریدل او په خپله راووتی، نو ښاغلی آهنګ حاضر شو چې لکړه یواځې وده ته ورکړي، ببرک هغه لکړه ورنه واخیستله او د کې جي بي وظیفه لرونکو ته ئې ورکړه.
ددا ؤد خان د ګارډ د قوماندان ضیاء د خولې چې د کارمل لیدو ته ورغلي ؤ، د مازیګر د خلورو بجو نه څه تیري وه چې دده مؤظف پیره دار ورته راننوت او د خپلې پیرې د وخت د یوره کیدو له امله ئې د ببرک نه د تلو غوښتنه وکړه چې نور نو کورته ولاړ شي.

Ketabton.com

# لوی‌او بنیادي خیانتونه

کارمل اودده پرچمي ملګري دپردوپه چوپړکي ترنوروکمونیستانومخلص اوټینګ وو ، همداوجهه وه چي په واکمنۍ کي تر ډیره وخته وساتل شول . روسیانودکارمل دګوډاګي رژیم په ملګرتیادهیوادد پاره په یولړبنیادي اوډیروخطرناکوتوطیئولاس پوري کړ :

په کابل کي دکارمل دښځي محبوبي ترمشرۍ لاندي د (پرورش ګاه وطن) په موسسه کي واړه ماشومان دیتیمانوپه نامه روسیې ته دلیږلودپاره غونډشول چي ترروسي روزني لاندي ئي ونیسي اوپیدی ډول ددوی غونډي یې دینه اوبي احساسه اوبې‌پردومین اوپلورل شوي انسانان تري جوړکړي اودنوي نسل یوه برخه دپردودخدمت لپاره ورروزي ، دمور ، پلاراوهیوادمینه تري لیري کړي اویواځي دلینین کاریګري پرولتاریا ورروپیژني .

دټرون سره سم بنائي دماشومانوشمیرشلوزرو ته رسیدلی‌وای مګرپه حقیقت کي ئي تردې هم ډیرولیږل .

په اصطلاح درژیم لوړرتبه کسانودځان اوخپلوکورنیودپاره داپروګرام نشوای‌منلای . داناهیتاراتبزاد ، جلالراودنورو زامنوپه لویدیځوهیوادوکي ژوندغوره کړی‌وو مګرغریب کمونستان اویا ابن الوقتان به دڕژیمیانودخوښۍ اوخوګي دپیداکولودپاره دخپلواولادولیږلوته چمتوشول ، خوکله چي نصاب پوره نشو ، نورژیم ددې پروژې دبشپړولولپاره په جبراوزور لاس پوري کړ ، حتی‌ځینې به ئي دکوڅواوبازارنه نیول اوغلاکول به ئي ، په (۱۹۸٤) کال دفروري پر (۱۸) نیټه ئي دوردګوداسماعیل خیلونه (۱۲) اود هودخیلونه (۲۰) انجوني او (۲۱) هلکان غلاکړل اوپه ټینکونوکي ئي واچول ، دکابل په هوائي ډګرکي به دوړوماشومانولیږلواودمیندونه جلاکولویوه عجیبه اودرینه ډکه صحنه جوړوله .

کارمل ښووڅۍ دجاسوسۍ په روزنتونونوبدلي کړې ، واړه اوبي تجربې‌اینجوني اوهلکان به ئي دجاسوسۍ دپاره روزل ، لمسول اوتشویقول به ئي ، دعادي شاباس اویاجزوي مکافاتوپه مقابل کي به دې‌بې تجربې‌ځوانانودخپلونژدې خپلوانواو حتی‌داچي دموراوپلارجاسوسي هم کوله اوپه ښووڅیوکي به دسازمان په نامه همداپروژه ترجدي پرمختګ لاندي وه ، (۱۲) کلن محمدضیاء داندخوی اوسیدونکی‌په روسیه کي دجاسوسۍ دروزني نه وروسته په غوربندکي دقومندان محمدګل جبهي ته دجاسوسۍ دپاره ولیږل شو .

روسیانودیرغل په خنګ کي دافغانستان دتن نه دواخان دسیمي یوه ټوټه داسي غوڅه کړه چي اصلي اوسیدونکي ئي مهاجرت ارکډوته مجبورکړل ، لاري اوسړکونه ئي راکښل کړل ، عمراني پروژې ئي پیل کړې اوپیژندل شووڼ‌یوالو پولوته ئي دځان په ګټه اودافغانستان په ملي تاوان تغیرورکړ .

رژیم اویرغلګروځواکونودهیوادپه ټولواویااکثرولویو اوړو لاروکي د (۵۰) نه تر (٦۰) میلیونو پوري ماینونه کینبودل چي اکثره ئي دکرهني په ځمکوکي ، داوسیدلوپه منطقواوښارونوته په نژدې سیموکي وو ، چي ددې ټولوماینونوایستل اوپاکیدل به ډیروخت وغواړي اوډیروته ناممکن هم ښکاري چي په دې‌ډول به داخطردتل دپاره زموږپه هیوادکي پاتي شي .

دروس سره زموږجنګ ددوهمي نړیوالي جګړې‌په پرتله دوه هومره اوږدشو ، ځوان نسل دپوهني اوروزني نه محروم اویواځي ئي وژل اوجنګ زده کړل ، وړوماشومانوبه هم په کمپونوکي یواځي دجنګ په لوبوسات تیراوه ، جنګ اووژنه ئي دخوی‌او خصلت برخه شوه ، که جنګ ختم هم شي مدني ژوندته دځوان نسل راګرځول به آسانه کارنه وي چي همدااوس داحالت دسرپه سترګووینو .

Ketabton.com

کارمل خوکسه ارذال اوآوباشان راټول کړل ، دجنګي اجیرانوپه نامه ئي استخدام اودملیشوپه نامه ئي منظم کړل ، داجګړه ماران دکې جې بې په روزنه به حرفوي انسان وژونکوبدل شول ، جنګ به ئي په اجاره اخیستې اوهرډول وژنو ، تالاکولواو بې پتولوته ئي لاسونه غوړځول . ددې ډلونه په جنایت اوبربریت کې ترټولومشهوره وحشیان دجوزجاني ملیشو ګلیم جم درشید دوبستم په مشرئ ، دعصمت مسلم دغلوډله اودنادري سیدکیان ملیشه وو ، دوی‌درژیم په ساتلوکې رول درلود اوکله کله به ئي درژیم کارکونکوته هم اطاعت نه کاوه ، دروسي‌نه بیرته راغلي یوه افغان مسافرراته داسې کیسه وکړه :
د (۱۹۸۵) کال په لړیوورځوکې دتاشکندپه هوائي ډګرکې افغان محصلان کورونوته دتلو دپاره دآریاناهوائي شرکت الوتکې ته سترګې په لاروو چې ناخاپه پروګرام وګرځیدئ ، الوتکه دلړې وزیرسلطان علي کشتمنددپاره اختصاص شوه ، په دی وخت کې عصمت مسلم پیداشوچې کابل ته ئي دتلو پروګرام درلود ، محصلانومسلم ته دخپلې وضعې اود الوتنې نه دمحرومیدلوشکایت وکړ ، مسلم وکشتمندته چې دترمینل په سالون کې په ډیروقارناست ؤ ورغلئ اوغوښتنه ئي ترې وکړه چې محصلان هم پدې الوتکه کې دځانه سره ومنې ، خوکشتمنددمحصلانومشکل ونه مانه ، ترخومسلم ده ته په مخ خاپېړه ورکړه ، چې ډیرو روسیانواوخارجیانودا صحنه پخپلوسترګوولیده ، کشتمندپه خپلووهلودومره خپه شوچې دا سفرئي وځنډاوه .
بیرك دروسیانوپه لمسون اوددوی‌په پیژندل شوي تکتیك دبوتود (دپاکستان پخوانی‌صدراعظم) زوی‌مرتضی‌نومي پواسطه د پي آی اي (دپاکستان هوائي شرکت) الوتکه کابل ته دسورلیوسره برمته وتښتوله ، رژیم اوکارمل پدې برمته کې ښه ښکاره لاس درلودل اودایوه پوره جوته خبره وه ، داځکه خودالوتکې په تښتولوکې په لاس لرلودکابل رژیم محکوم شو اود اروپادګڼبازارهیوادونو دآریاناهوائي شرکت پرمخ خپل هوائي ډګرونه نوروتړل .
روسیانوغوښتل چې دبوتوزوی‌دپیپلزپارټۍ په نمایندګي دالذوالفقارپه نامه تروریستي سازمان جوړاوپه کابل کې ئي دنیشنل پارټۍ دنماینده اجمل ختك په ځنځ کې کښینوي اوددوی پواسطه صدرجنرال محمدضیاءالحق تخریب‌اوترفشارلاندې کړي چې دمجاهدینواومهاجرینودمرستي نه لاس واخلي ، خوصلربیاهم پرخپل دریځ ټینګ ولاړپاتي شو .
کارمل په چل اوټګۍ دعوامودغولولودپاره خوتنه بي دینه ملایان لکه مولوي عبدالعزیزدجمعیت العلمارئیس ، سیدیعقوب ددارلحفاظ رئیس اومولوي عبدالجبارظریفي دکمونیزم خدمت ته وګمارل ، روسیانودکارمل په وخت کې دتحقیق په نامه دافغانانوپه شکنجه اوځورکې نیغ لاس درلود ، په تیره بیاروحي ځوربه یواځې دروسیانولخوا تنظیمیدئ اوچې خوك ترې‌ژوندي راوتلي دي تراوسه روحي تکلیف اوناروغي ورسره ده .
کارمل غوښتل چې دجرګو ، مرکو اوپیسوسره که وکولای‌شي چې داسلامي پاڅون مخنیوی‌وکړي ، ددې چل اونیرنګ پروژې په اکثرولایاتوکې پیل شوې مګرنورناوخته ؤ ، خیرې پیژندل شوي وې ، دې نیرنګ هم کارونکړ ، درژیم لړنی‌قرباني دداؤدخان دکورنیوچاروپخوانی‌وزیر (۱) فیض محمد (مسود) ؤ چې دده دملګري سمونوال بختاجان سره دپکتیا دځدرانودننګیالیولخوادجرګې په میدان کې د (۱۹۸۰) کال په لړیومیاشتوکې دهیوادخرڅولوپه جرم محکوم اواعدام شوچې دولت ئي دشرمه دفاتحې اودمړو داعلان نه هم ډډه وکړه ، پدې برخه کې رژیم هغه وکړه ، په قومي تحریکاتولاس پوري کړي دمسودوقوم دمجاهدینومخ ته راوپاروي مګردې تحریك هم نتیجه ورنکړه .

---

(۱) دځدرانوجنګیالیودنوراحمدنور اودبکتیادقومونودخوتومشرانوسره دبیسوپه مقابل کې دفیض محمدمړي ورکول هم ونه منل . دمسودقوم دفیض محمد کوندوه چې دجلیل احدابوي لوروه ، دعیواد دنه دمیره نه منع کړه ، رژیم دفیض محمدلوله مادي امتیازات دده پلار (خپ) ته ورحواله کړه چې وروسته کې به حاجي ګل محمدزنومیدئ .

Ketabton.com

# روسي جنـــايـات

روسيانـودابتدانه ديوه تيا كلي اوجوت هدف سره سم دافغان كمونستي رژيمونودستونزوپه هيرولوكي بنخپله رول درلوده ، په منوونځيوكي به ئې بې هوښه كونكي اوزهرجن موادوپاشل چې پـدې ډول لويه آوازه اوغوغاجوړه كړي ، جوته وه چې رژيم لاتر هغه وخته داسي كيمياوي اوبيولوژيكي موادپه لاس كې نه لرل .

په (۱۹۷۹) كـال كې ئـې داوړي دلبلوپه وخـت دشـاه دوشمشيره عليـه رحمه جـومـات ته نژدي بمونه كيښودل چې دچاودلو سره ني شپـږتـنه واړه مـاشـومـان پـه ډيـربي رحمانه ډول شـهيدان كـړل ، روسـيانواورژيم داجنايات ومجاهدينوته منسوب كـړل ، روسيانواوبه خـرولي چې رژيم وداروي ، مجاهدين بدنامه كړي اودداسي صحنوعكسونـه اوفلمونه به ئې پـخپـلوپيلوي هيوادونوكي هم دمجاهدينودبدنامي لپاره خپرول ، روس ته بې توپيره وه دهري خواچې وژل كيدل بياهم افغانان وو .

له بلې خوا روس غوښتل چې ولس يوقيام ته ولمسوي اورژيـم دډارلـه مـخـې داداري اوپوځې لحاظه پـه ځان پوري وتړي اولدي لپاري دخپلوپښتونينګولواويرغـل دپاره يوه پـلمه پيداكـړي ، دالاره ورته كـارمـل اوپرچميانوجوړه كـړه ، دررژيم كاركونكوبه يوا ځې سمبوليكه بنبه درلوده ، دافـغـانـسـتان پـه هـكـلـه وروسـي ته دنړيوال اعتبارموضوع مـطـرح وه ، كمونستانوبه ويل چې افغانستان روسيانوته دناموس حيثيت لري نورروسيانودرژيم دټينګولودپاره ټولي نـظـامـي ، امنيتي اواداري چاري دكې جي بي ترنظارت لاندي دمشاورينوپه نامه پـه خپلولاسـونـوكـي ونيـولې ، دولتي اوګـونـدي تشكيلات پرروسي-موډل باندي جوړشول . اداره ، خبرونـه ، ډ امونه ، پوهنه اوروزنـه دروسيـانوپه لاس كـښيوتل ، كـتابونه پـه روسيه كي چاپيدل ، تلټ اوراتلټ روسي ته آزاد اوډيرشو ، حتىواړه ماشومان هم دزخصتي دتيرولـو دپاره شـوروي تـه لېږل كيدل . حتى قـضـا هـم دروسيـانوپه لاس كې شـول ، پـه بـهرنـي سـياست كـي بيـلـه هغه خه پاتې نه ؤ ، يوازي دخـومحدودهـيوادونوسره اړيكي پاتي شوې ، نورهرڅه دروسي دسياست تريخ سيوري لاندې ور .

روسيان ديرغل پـه سـركي دچكوسلواكيا اوهنګري پـه فـكـرور چـې افـغـان ولس به هم دوخت دتيريدلوسره مات اوتابع شي ، پـدې جنګ كې ررسيان يواځې نه وو بلكه دختيځې اورروپاهيوادونو اوكيوباهم ورسره ملګرتيا كوله .

ديرغـل نه وروسـته دجيلونـود ورونـوديرانيـسـتلوهـدايت شوىؤ ، له بلې خوادهيوادلنه ديوه بنارنه بل ښارته تلټ اوراتلټ چې تـراوسـه پـه داوه ډول نه كـيدئ آزادشـو ، داچې ولس دامين ظـلـمونـه ليدلي وو نورروسيانوانګيرله چې دښتي نرميوسره به قانع اوآرام شـي اودنـظامـي لـحـاظـه به هـم يـرغـلګرځواكونه وكولاىشي چې دګاونديانوسره دافغانستان پولي داچې دمجاهدينودتلټ اوراتلټ اواكـمالاتـولاري وي بندي كـړي اوپـدې ډول به دروسـي اويـانـورركـمـونـسـتي هيوادونوپه شان زمورهيوادهم پـه يوه لوىاوعمومي محبس بدل كـړي ، چې دولس چيغه دهيواد ددباندې نه څـوك وانـه وري ، مـګـرمـقـاومـت غلىنـه شواويرغـلګرو ددي شوم پلان دتطبيق لپاره دولس پـه لويه وژنه اوجناياتولاس پوري كـړ .

سـرولـښكروډلـه ايزي وژني پـيل كـړي ، ماشو ـان ئـي پـه ځانګوكي مړه اوپـه برچو وپـيـل ، حتىپرانسانانوئې نښان زده كاوه ، ناپالم بمونه اونوري كـيمياوي اوبيولوژيكي وسلي ئـې اسـتعمال كـړي ، دمجاهدينوپه پلمه به ئې پـه ورځو ورځودولس دمېشت اوهـسـتوګـني سـيمي پـه توپـونوويشتلې اوله پـاسه به ئي پرىدبمونواور اوراوه . پـه آخـيـركـي بـه ئـې انـسـان دښـځـه وحشي بـلي ځواكـونـه پـه بې وسـلې خلكوورخوشي كـړل ، هـرژوندىشي چې به محته ورتلې له منځه به ئي ورىئ ، مال اوسامان به ئي دځان سـره اخيستئ ، دمـجـاهـدينـودتـرانسپـورت دشـنډولـوپـه مـنـظـورئـي غـاروي هـم ووژل ، روسيانوديوه منظم پروګرام سره په سيـسـتماتيك ډول انـسـانان وژل اوهيوادئې خراباوه چې هيواد دوګـړونه تـش كـړي ، همدا ؤچې افغانان بهرته دنړىترټولو لويه مهاجره ټولنه شوه ، يواځې دري ميليونه پـاكـستان اودوه ميليونه ايران ته كډه شول .

Ketabton.com

د روسیانو یو اځې د مجاهدینو سره نه بلکه د ماشومانو ، خارویو او طبیعت سره هم جنګ کاوه حتی زموږ تاریخي اثارئې هم غلا کړل .
سروغلو د مجاهدینو د سرې اخلا د امکاناتو د له منځه وړلو په نامه ځنګلونه او باغونه وسوځله ، د کابل او چاریکار و ترمنځ د سړک د دواړو خواو شنې د توت ونې ئې ټولې وایستلې ، د کرهنې او اوبو لګولو سیستم ئې خراب کړ ، باغونه ئې وچ او درمندونو ته ئې اور واچاوه ، چې په دې ډول خلک نورهم خوار او محتاجه شي او د مجاهدینو د ننګې نه لاس واخلي ، په هره سیمه کې چې به د مجاهدینو عملیات و شول سبا به هغه سیمه دیرغلګرو لخوا د خاورو سره برابر کړل شوه ، روسیانو په (۱۹۸۲) کال د جولای په (۲۰) د لوګر په سیمه کې د شپږو کلو نه (۲۰۰۰) ته ماشومان او ښځې په یوه ورځ په ډله ایزډول ووژل .
روسیانو به د ماشومانو د ژولو او ژوبلولو دپاره د لوبو د سامانو نو په ډول واړه ماینونه شیندل ، کله چې به بې ګناه ماشومانو هغه د لوبو په شوق راواخیستل نو به د ماین د چاودلو سره مړه یا ژخمیان شول ، د دې شیندل شوو ماینونو ونلږ به اکثره د ځکې د رنګ سره برابر وو .
روسیانو به شهیدانو او یاژخمي مجاهدینو ته نژدې ترهغوی لاندې او یا د هغوی په نس کې بمونه ځای پرځای کړل او چې روسیان به په شا شول نو د ژخمیانو د وړلو او یا د شهیدانو د پورته کولو په وخت به هغه بمونه وچاودل او نور به پری هم شهیدان او یا ټپیان شول .
روسیان به د تلاشې او لټون په نامه کورونو ته ننوتل ، ژوندي به ئې مړه کړل او سامانونه به ئې د ځان سره واخیستل ، زهرجن مواد او یا بمونه به ئې پرځای پریښودل ، په دې ناانډوله جنګ کې به هغه ټپي مجاهدین چې ځان ئې نشواې د روسیانو لاسته به ورغلل نو ځای پرځای به ئې مړه کړل او یا به ئې د کارمل انقلابي محکمې ته د اعدام لپاره تسلیمول په داسې حال کې چې اکثرو مجاهدینو به د نیول شوو روسیانو سره د افغان دودونو او اسلامي موازینو په بنیاد چلند کاوه ، ځینوئې اسلام راوړې غوښتل ئې ، هغه نو مجاهدینو د ځان سره وساتل . نو ربه ئې ملګرو ملتونو ته سپارل او د جنیوا د تړون او نورو بشري معیارونو ارزښت ئې ساتلو .
روسیانو پر خپلو عسکرو هم زړه سوی او ترحم نه درلود ، خو ځلې پیښه شویده چې د خپلو ټپیانو او یا په جنګ کې د نیولو خطر به ئې احساس کړنو به ئې د خپلو ملګرو په وژلو هم صرفه ونکړه ، چې دا مطلب د روسي نامتو سیاسي ناراضي او فیزیک پوه ښاغلي اندرې سخروف هم د دیموکراسی په وخت کې د روسي په پارلمان کې د اعتراض په ډول مطرح کړی ؤ .
مثالونه ډیردي د لته د غوني په ډول دوه مطلبه لیکم :
د مجاهدینو یوې وړېشانې ډلګی پکتیاته د روسي عسکري بهیرد تلګ د مخنیوي په خاطر دري تنه د کشف د پاره د لوګر سړک ته نژدې رګومارل ، نورو مجاهدینو لرڅه لیرې مورچلې نیولې وې ، دیرغلګرو کاروان راورسیدئ ، پیښه داسې شوه چې دادرې تنه مجاهدین په لاس ورغلل ، نورو مجاهدینو د مؤثري وسلې د نه درلودلو او دلږشمیرله کبله ونشو کولای د نیول شوو مجاهدینو ملاتړ وکړي ، کاروان مخ په وړاندې روان ؤ ، د سړک په غاړې داوړلې پورته شوې . کاروان چې لیرې ولاړ نور مجاهدین داوړدلبو ځای ته ورغلل ، پر هغو درو تنوئې بینزین اچولې او په ژوندونې ئې سوځلي ور ، ولې چې هلته ویې نه لیدلې کیدلې ، دا بیان هغه چارانه کاوه چې د شهیدانو په دې ډله کې ئې خپل ورور هم ؤ ، شهیدان د پیژندلو نه ور ، ده راته ویل چې مړي موهلته پر هغه ځای پریښودل .
همدارنګه غزني ته نژدې د (ناني) د سیمې یو ځوان مجاهد چې د حرکت اسلامي د تنظیم غړی او د جبهې د پوستې رسونکی ؤ ، د کال (۱۹۸۰) د سپتمبر د میاشتې د روسي جنایاتو د بیان په ترڅ کې ئې د (۵۰۱) تنو د ډله ایزې وژنې بیان داسې کاوه :

Ketabton.com





38





د د [illegible] په څوك وى ؟

Ketabton.com

آوازه شوه چې سرې لښکرې راننوتې شوې ، خلګو کلي او کورونه پرېښودل ، چاچې کولای شوای ځانونه ئې ګوښه کړل ، پنځه سوه یوتنو یوه کاریزته پناه یوړه ، اکثره یې وسلې کسان وو چې څو محدود مجاهدین هم ورسره ملګري وو . روسیان وروررسیدل ، یوه شول چې په کاریزکې خلک دي او کاریزئي محاصره کړاو دلوډسپیکر یو واسطه ئې احطارورکړ چې ټول راووزئ ، مګر څوک دداره وروتو ته حاضرنشول ، روسي سرې لښکرې خپه ته ولاړې او په کاریزکې ئې زهرجن مواد وشیندل او بیادکاریزئه یوهم ژوندۍ راونه وت دادول کارونه روسیانونورهم ډیرکړي دي .

ددي پیښې دهغه مجاهدینان مي تراوسه پیاددی چې پنځه سوه او یوبه ئې نه ویل بلکه هرڅل به ئې په خبروکي (یوبالاپنځه سوه) وایه .

روسیانوبه تنکي ځوانان په زور زیاتي دکلي او کورنه دعسکرۍ دپاره نیول او ددوی دخوښې خلاف به ئې جنګ ته مجبوررول ، دوی به دجنګ په لومړنیولیکوکي دسرولښکروتر زوراوتهدیدلاندي وراودتیښتې هیڅ لاره به ئې نه وه . لکه یوه (۳۰۰) کسیزه قطعه چې دمجاهدینوسره دجنګ دنه کولو په ګناه د (۱۹۸۱) کال دجون پرپنځمه نیټه ټوله په دله ایزډول دروسیانو لخوا پریوه ځای شهیده شوه .

دمجاهدینوسره دجنګي بندیانودبدلولوګټه یواځې دروسي بندي شووجنګي افسرانوکولای شوای ، دکابل دررژیم منصبداران ددي حق او ګټې نه بې برخې وو .

دروسیانوټول جنایات لیکل اویادول وخت او حوصله غواړي اودارخت او حوصله تاریخ ترهرچاډیره لري ، ځکه چې تاریخ پخپله سینه کي دخوندي کړو پیښوپه یادولونه ستړی کیږي .

ددي ټولوجنایاتوسره کارمل رکولای شوای چې یوشمیر کسان دروسي یرغل دتائیدلپاره دمشاور ، لوړرتبه ماموراویادپدروطن دجبهې په نامه پرځان راټول کړي ، دي کسانوتر کومه ځایه چې هیله ورته پاتې وه دولس په ضداودولس دخپلواکۍ په خلاف دکارمل په خنګ کي دبېردوخدمت ته ملاوتړله .

# افغان کارتیل

په (۱۹۸۲) کال کي روسیانوپه کابل کي دافغان کارتیل په نامه یوه تجارتي موسسه دروسي مالونو دخرڅلاودپاره جوړه کړه چي افغانانوبه (افغان کارت) بلله .

دموسسي اداره اوچلندهم نیغ په نیغه دکي جي بي ترڅارني لاندي ؤ اودکارمل باجه چي اوس ئي په فرانسه کي پناه اخیستي دموسسي تش په نامه رئیس ؤ ، موسسې ډول ډول روسي مالونه واردول چي یوه وړه برخه به ئي په کابل کي خرڅیدله اونوربه دافغان سوداګرانوپواسطه دسرحدي پاکستاني قاچاق ړرونکوپه لاسوپه منظم ډول پاکستان ته اړول کیدل اوخرڅیدل به چي دپیښور (باړه بازار) دروسي دمالونو نه ډک ؤ ، ددي تجارت نه په لاس ورغلي پاکستاني روپۍ به کویټ ته نقلیدلې اوهلته به تري امریکائي ډالرجوړیدل چي روسیانورته ډیره اړه درلودل اودا ډالردکابل دلاري روسيې ته لیږل کیدل ، پردي سربیره روسیانوبه یوه اندازه ډالردکابل دآزادبازار (دشهزاده دسرای) نه هم په لاس راوړل .

بیاوروسته شکورلایوف ازبک نژاده شوروی چي دکارمل ددفتر آمرؤ اوپه حقیقت کي ټولوهدایاتواواحکاموپه ده پوري اړه لرله ، هم پدي تجارت روږد شو .

شکورلایوف به یواځې ترغرمي کارکاوه چي په ارګ کي حتي‌پخپله لوړرتبه روسیان به هم دده په وظیفه سم نه پوهیدل ، نوموړي به دپوست خولۍ پرسرکوله ، افغان بڼه ئي درلوده ، په زوړ (والګا) کي به سپریدئ اوفقط دده ساتونکي‌بریدمن فریدالله به ورسره لیدل کیدئ ، په میکروروبان کي ورته کور ورکړل شوئ ؤ . شکورلایوف به دماپښین څوا وزګارؤ ولي چي کارمل نورځیل کارونه یواځې مخته وړل اویا اکثره وخت به ئي لیدني ، کتني اوغونډي درلودي .

شکورلایوف لمړۍتجارت د (کاوبائي) امریکائي پتلونو نه پیل اودخپلي خصوصي الوتکي پواسطه به ئي روسيې ته وړل ، وروسته ئي دافغان کارتیل نه سامانونه په ارزانه قیمت (ایشان نیشنل) ته راوړل اوهغه به ورخرخول . دایشان نشنل خاوندڅوا چي هم ازبک دئ‌ده ته لاربنوونه وشوه چي دخالصوډالرو تجارت ته چي آرام ، آسانه اوګټوردی ؛ لاس ورواچوي .

شکورلایوف نه هم په یوه ورځ کي دشهزاده دسرای امریکائي ډالرټول کړل ، بازار ورړوکی ؤ ، څه وخت وروسته غلبلي پورته شوې‌اوخادمتوجه شو ، ترڅودخادپه مرسته شکورلایوف کي جي بي ته په لاس ورکړل شو ، دکي جي بي څلورو ماموړانوونیوئ ، موټراویا ئي الوتکي ته پورته کړاوتراوسه چا ونه لیدئ .

# مقاومت

دسرولښکرودیرغل سره ولس په ویرکې ډوب ؤ ، ځکه چې خپلواکي اودعقیدې آزادي ئې په خطرکې ولیدله ، هرپلوسیاسي تحلیلونه او دراډیوګانوتبصرې اوریدل کیدې چې مایوس کوونکي وې ، هیلې مړې وې ، دابه ویل کیدل چې روس چې کوم ځای ونیسي بیا ئې پورته کیدل چاتراوسه نه دي لیدلي ، دروسیانوخوانیول شوي سیمې به ژردروسیې دخاورې برخه شوې اودروسي کولوپروګرام به پرې پیل شو ، نوموږنه به ئې بدل شول ، کلتوراوفرهنګ ته به ئې تغیورکول شو ، دمشروروریه نامه به دمختلیفو قراردادونوپواسطه رابکیل اوآزادي به ئې ورله ورکه کړه .

مګردافغان ولس هوډېل شاني ؤ ، مرګ ئې پیژندئ خوماتې ئې نه پیژندله اوشهادت ئې ومنئ . دزیارایستونکوپه نامه تش شعارونه هم نورهیرشوه ، ددښمن اصلي څیره ښکاره شول ، دهیواداصلي دښمنان وپیژندل شول ، دروس دراتلو سره مقاومت لازور ومونداوولس هم پدې پوه ؤچې دقوي مړځمن لپاره لویه قرباني پکارده .

دولس جنګیالیوبیله دې چې ځانته تردد اوشک پیداکړي په یرغلګرئې ګوزارونه پیل کړل ، دمړوبهیرروان ؤ ، تردې ځایه چې د (۴۰۰) بستراینزه پوځي روغتون یو (۴۰۰) کسیزه کنډک پوله ورځ یواځې دقبرونودکیندلودنده په غاړه وه ، رژیم دخپلو مړودپاره دمرجان غونډۍ یه تپاکلي اودشهیدانودغونډۍ نوم ئې پرکیښودچې څه وخت وروسته هلته هم نورځای نه پیداکیدئ ، روسیانوهم په خپلوپوستوکې تیارشوې تابوتونه لرل اویابه ئې دعملیاتودکاروانوسره بارکړي وو .

هیلې بیاژوندئ شوې اوولس ته هیله پیداشوه چې مجاهدین دروس دمقابلې توان هم په ځان کې ګوري . البته دیوه واړه مظلوم هیواد مقابله دنړۍ دلوی ستر ځواک سره ساده نه وه ، لویه قرباني ئې غوښتله ، ولس دمجاهدینوشاته ودریدئ ، عواموډ تنظیمونوسره اړیکي ټینګې کړې ، دمجاهدینوسره ئې مالي مرسته ، پاخه خواړه اوډول ډول کومکونه کول ، دخطرپه وخت کې به ئې دځان دپاره خطرومنئ اومجاهدینوته به ئې په کورونوکې دپټیدوځای ورکړ ، مامورانواومنصبدارانوهم خپلو مجاهدینو وروڼوته دمرستې لاسونه ورکړل .

جهادپه سراوټال شروع شو ، چادهیواد دښمنان په ګوته کول ، چابه راپوراواحوال برابراوه ، چابه محکمې دهیواد ددښمنانو دعملیاتوهدفونه اونیټې پیداکولې ، راجلب شوي عسکري افرادهم دموضوع په اهمیت اوحساسیت پوه شول چې د رژیم دمکلفیت ددورې ترنامه لاندې دپردوپه ګټه دورونوسره جنګیږي ، اکثرومامورینورسمي کارونه اووظیفې پریښودلې ، په مهاجرتونونې پیل وکړ ، دهرمامورا ومنصبدار خالي ځای چې به ډک شو هغه ماموربه هم په رضا یادمجاهدینوپه فشاروظیفه پریښوده ، رژیم ورځ په ورځ ولس ته اعتبارباللئ .

هریوه یوابتکارکاوه ، ځینوملکي اونظامي مامورانودتیښتې په وخت کې تجهیزات ، ددولت پیسې اونورهرڅه چې به په لاس ورغلل بروسته اودځان سره به ئې یوړل . په عملیاتوکې خوبندي دوروڼوسره دمرستې په منظورځنګ په خنګ ودریدې حتی ځینوتوپک او کلاشینکوفونه هم اوروته واچول .

دروس اویادرژیم هرډول هڅې دمهاجرت اودعسکرودتیښتې دمخنیوي دپاره ناکامه شوې ، که څه هم اصطراري حالت دوام درلوداودعسکرۍ نه تیښته دمرګ اواعدام په جزامحکوم شول ، خوبیاهم دعسکرۍ نه دتیښتې لړۍ روانه وه . هریوه به هرځای کې چې به ئې وس ورسید درژیم عسکري اووظیفه به ئې پریښودله .

انفرادي تیښتې په ډله ایزوبدلې شوې ترڅوچې بشپړواوپه ډولوروسایلو اوتجهیزاتوسمبال شوقطعو دخپلوورونو (مجاهدینو) سره پیوستون وکړ . هرې قطعې چې به ناسپړانه وکړه رژیم به ئې دزوال کندې ته یوګام نورهم ورنژدې کړ ، نورقطعات اوافرادبه هم دې کارته تشویق اوپیدې ډول درژیم زوراوبه شو . دې ډول جهادپه اکثروولایاتو اوقطعوکې رواج وموند ،

Ketabton.com

دمثال په توگه په (۳۱) داسد کال (۱۹۷۹) کي دډگروال عبدالرؤف ساپي په قومنده داسمارغرنی غونډاودزابل ددروازه گي سرحدي غونډدقومندان ظفرالدين خوا دمجاهدينوسره يوځای‌شول .ډيرورك نومي مجاهدين هم ور چي فقط دخدای (ج) درضااودهيوادناموس په خاطرئي جهادوکړاوحتی‌نومونه ئي چاونه پيژندل .

عسکري ميړني پيلوټانوته چي به هم لاره برابره شول نومجاهدينوته به راغلل اويابه مجاهدينوته تسليمېدل لکه محمدعمرد هيليکوپټرپيلوټ په (۱۹۸۷) محمدداؤددميلي پيلوټ په (۱۹۸۶) اودبنکاري جيټ پيلوټ غلام مصطفی‌دمجاهدينوسره يوځای‌شول اوخپلي الوتکي ئي په پاکستان کي مجاهدينوته کوزي کړی ، مجاهدينوته به همدي ډول هم وسلي اوسامانونه په غنيمت ورسيدل ، خوځيني‌وطن دوسته پيلوټان دهدف دنه ويشتلوله کبله دصحرائي اعدام په نامه شهيدان شول .تبليغات ، پروپاگنداوشبنامي دولس وظيفه وه ، خوله په خوله به هرچادمجاهدينودحال اواحوال اوعملياتوخبرونه يوبل ته رسول چي رژيم دټولوامکاناتوپه درلودلوددي تبليغاتوسره سيالي اوددي تبليغاتومخنيوی‌نشوای‌کولای .

مجاهدينولړي کلي آزاد اودخلقيانواوکمونستانونه ئي پاك کړل ، بيائي ولسوالی‌هم يوپه بل پسي ونيولي ، ځينودرژيم کارکونکودمجاهدينودډاره پخپله ولسوالی‌تشي کړي ، کله به دمجاهدينودروسته تلو په وخت کي ځيني مامورين بيا ورغلل اوپه کاربه ئي پيل وکړچي څه وخت وروسته به بيادمجاهدينودحملوتوبنه شول اومجاهدينوبه هم اکثره خپل اکمالات په همدي ډول په لاس راوړل ، رژيم اوروسيانوپه‌واځي دلويوښارونوپه درلودلوقناعت وکړ ، خوااوشاسيمي اکثري دکمونستي چتليونه آزادي اوپاکي شوی ، مجاهدينولوی لاري هم په ځينوځينوځايوکي کنترولولي اوکمونستان به ئي دبسونونه کوزول اودولتي مالونه به ئي دولس په نامه دځان بلل ترڅوچي ئي لوی‌لاري اکثري ترخپل کنترول لاندي کړي ، روسيانواورژيم دولاياتوترمنځ تلو اوراتلو دڅه وخت لپاره دکاروان په ډول چي څه ټينکونوبه مخکي اوڅه به شاته ووکاوه ، خودي کار ډير وخت دوام ونکړځکه چي بر رژيميانوباندي مخکني تلو اوراتلو په بشپړډول قطعه کړل شواولويو ښاروهم دکابل په گډون نورامن نه درلود .

مجاهدينوبه دی‌ډول عملياتوته سخته تلوسه درلوده ، کله چي به درژيم ياروس کاروان راپيداشوخوشحالي به په گډه شوه ، لويولارو چي رژيم ته به ئي داکمالاتي اونظامي لحاظه لوړاهميت درلود اکثره رژيم ورنه پوره اوبي خطره گټه نشوای‌اخيستلای ، درژيم دپوستواودولتي موسسوبه څنګ کي لويي لاري دمجاهدينودحملولوی‌هدفونه وو ، لدي کبله رژيم دسر اومال درانده تاوانونه وکړل ، اقتصادفلج ته نژدي اودروسي مړواوټپيانوبهيرمخ په ډيريدو وو ، حتی‌نوردمالونودگرځولوسره دمجاهدلاسليك اورسيد رسمي اعتبارپيداکړاوتحويلدارته دمجرائي وړ وبلل شول ، دهمدي تعمل نه په گټه به ډريوورانو اوتحويلدارانوپخپله هم درژيم مالونه دمجاهدينوسره شريك کړل . روسيان نورمجبوره شول چي هوائي ترانسپورت ته توجه وکړي ، تلو اوراتلو يواځي دهوادلاري ومنل شوو ، بياډيروخت تيرنشوچي هوائي ترانسپورت هم دستونزو سره مخامخ شو ، مجاهدينودستينگر ( STINGER) توغندی‌ومیندل ، روسيانوته به بيايواځي دشپي په تياره کي الوتنه ممکن وه اويابه دتوغندی نه دبچ کيدلوپه خاطر الوتکي دشادخوا دمقناطيسي موادودخوشي کولوسره الوتلي . رژيم اوددوی بادارانودامنيت په منظور دامنيتي پټو (کمربند) په نامه نوي امنيتي تدبيرونه ونيول ، چي دي هم چندان ځای‌ونه نيوی حتی ننگيالي مجاهدين خوځيني دآموترسيندهم واوښتل اوهلته ئي هم پرروسيانوبريدونه وکړل . روسيانودمقاومت دماتيدلودپاره هرډول درندي ، کيمياوي اوبيولوژيکي وسلي‌وکارولي ، ناپالم بمونواو نوروممنع شوو وسلونه ئي کاراخيست ، روسيانوهيواد واففان ولس ته دررخ کړ ، خوبياهم ورځ په ورځ دمايوسی اوکمزوری‌روحيه په روسيانوکي ډيريدله ، دجنگ ابتکار مجاهدينو په لاس کي ونيوی ، دروسيانو ورروستی‌وحشيانه حملي به دانتقام لپاره وي اوپه دفاعي حالت کي به وومگرپه عملياتوکي يواځي دهوائي برلاسی‌لاوربياتي وه اوچي خبره تردی‌ځايه ورسيده نوروس دصلحي نغمي پيل اودوتلوپه لټه کي شو .

Ketabton.com

# د افغان ولس سره نړیواله ننګه

نړیوال عامه ذهنیت دروسیانوبې شرمه یرغل محکوم کړ اودافغان ولس مظلومیت اومېړانه ئې ومنله ، دروسي ټولې بهانې ، دامین لخوادعوت ، دجنوبي یولوخطراویادامریکائیانو ننوتل افغانستان ته دروغ وبلل شول

د (۱۹۸۰) عیسوي کال دنوي کېلوسره دملګروملتونودامنیت شوراغونډه وکړه ، اوداټکل سره سم روسیانوهغه پریکړه چې دوی‌ئې په ټولوګرموحکوموئ ویټوکړه .

په ملګروملتوکې دامریکااستازي دملګروملتونودفوق العاده عمومي غونډې دجوړیدو وړاندېزوکړ چې په غونډه کې د (۱۰۹) هیوادونوپه رایوسره روسي یرغل محکوم اویواځې د (وارسا) دتړون دنظامي پکټ غړولکه پولینډ ، هنګري ، بلغاریې ، چکوسلواکیې ، ختیځ المان اوتش په نامه اسلامي هیوادوکې جنوبي یمن ، سوریې اوعراق دروس په پلوئ لاسونه پورته کړل ، هندوان مستنکفه پاته شول اوامریکایانوپه روسیه باندي غنم بندکړل چې ډېره لویه خبره نه وه ولې سمبولیك ارزښت ئې لرلو .

جنرال محمدضیاءالحق دپاکستان صدرپه اسلام آبادکې داسلامي هېوادونوفوق العاده غونډه وروبلله چې دې غونډې ته دمجاهدینو (۱)استازي دایران دبهرنیوچارو وزیرصادقلي قطبزاده پخپل هیئت کې دځان سره بوتلل .

دې غونډې روسي یرغل محکوم اوغړوهیوادونوئې دمجاهدینوسره دننګې اومرستې کولو لوزوکړ ، فلسطین ، سوریې ، عراق اودجنوبي یمن هېوادونو داسرائیلواوبیت المقدس کشاله ترافغانستان مقدمه وبلله ، اخوادغونډې اکثریت دکابل غړیتوب داسلامي نړۍ په سازمان کې وځنډوله مګرپه ملګروملتونوکې دکابل استازې خپله کرسۍ ترآخیره وساتله .

په همدې کال دملګروملتونوپه عادي عمومي غونډه کې بیادافغانستان موضوع اوروسي یرغل په اجنداکې ونیول شول اوټاکل شوې‌وه چې دافغان مجاهدینوهیئت به داندونیزیادهیئت سره ګډ غونډې ته ننوزي ، داځلي هم په ډېرو رایوسره روسي یرغل محکوم شو اوداسې غونډوپه نوروکلونوکې هم څوځلي روسي یرغل محکوم اودروسیانونه ئې بیله قیداوشرطه دوتلوغوښتنه وکړه .

دنړیوالي المپیا دکمیټې په تصویب (د ۱۹۸۰ کال دالمپیك لوبې چې په مسکوکې کیدلې اوروسې ددې لوبولپاره پوړاو لګښت هم کړی و) ، دآزادې نړۍ د (۵۵) هیوادونودبشردوستوسپورټمینانو ټیمونوپه بل پسې روسي یرغل محکوم اود لوبودګډون نه ئې ډډه وکړه اوحاضرنشول چې خپلې لوبې په داسې یوه ښارکې وکړي چې دهغه ځای‌نه په یوه واړه اومظلوم هیواد باندې دیرغل قومنده ورکړل شوې وي ، دادهره لحاظه پرروسې واکمنواوپه تېره بیاپه برژنیف باندې سخت ګذارو .

له بلې خوانړیوالي خیریه موسسې هم لاس پکارشوې ، دافغانستان دمهاجرینواومجاهدینودپاره ئې دمرستو دټولولوخانګې جوړې کړې اوپه بانکونوکې ئې ددوی‌پرنامه جلاجلاحسابونه پرانیستل اوخپلې نماینده ګۍ ئې دافغانستان سرحداتوته ولېږدولې .

روغتونونه ئې جوړکړل ، ډاکتران اونرسانې ئې دمهاجرینودپاره پاکستان اودمجاهدینودپاره دافغانستان دننه ولېږلې ، دزخمي شوومجاهدینوتداوې ئې پخپلوروغتونوکې ومنله اوپه رضاکارانه ډول ئې په سنګرکې دمجاهدینودارو درمل خپله وظیفه وبلله .

همدارنګه مطبوعاتوهم خاصه توجه درلوده ، دروسیانوترټولوپوري مطبوعاتوهغه وکړه چې دافغانستان موضوع اوروسي یرغل دنړیوالونه هېرنشي ، هره ورځ به په نړیوالونشراتواومطبوعاتوکې یوه یاڅوخبرې زموږدهیواداودروسي جنایاتوپه هکله وې .

---

(۱) که څه هم دقطبزاده سره دهغه په هیئت کې دمجاهدینواستازي ورتلل په ډېروافغانانوښه نه لګېدله ، ولې دسیاسي نزاکتونوله امله چوپ پاتي شول ، ځکه چې هغه وخت کې دلوی‌دښمن سره دجګړې وخت و .

د نړۍ مهم او د وسنو هیوادونو په پښتو او دري ... وخپ ... نې ب‍ـل کړي ، ځینو راډیوګانو دورځې څوځله د افغانانو دپاره خبرونه درلودې چې په ډیر قوي څپو به ئې خپرونې کولې او داسې دپاره چې مجاهدین و کولای شي دلیري او هسکو غرونو په څوکو کې د جهاد او د هیواد د حال نه خبر شي . تر ټولو ښې د امریکې رږغ ، بي بي سي او المان رږغ راډیوګانې وې چې ډیر تازه او ورځني خبرونه ئې خپرول ، روسیانو په ډیره غداري او دلوړ مصرف نه ملو سره هڅه کوله چې دپراز یت پواسطه د مجاهدینو دپاره داخپې ګډوډي او داوریدلو نې وباسي .

افغانستان د نړۍ د پېښو مرکز و ګرځیدئ ، د نړۍ خبریالانو افغانستان ته مخه وکړه او دراندہ خطرونه ئې و منل ، تا وده سنګرونه ئې ولیدل او تازه خبرونه به ئې مخابره کول او د مجاهدینو کارنامې ئې ګام په ګام په سنګراو جبهه دواړو کې ترنظراو کیمرې لاندې نیولې وې .

ځینې خبریالان پېدي لاره کې مړه او ځینې د روسیانو لخوا ونیول شول چې رژیم محاکمه هم کړل ، ایټالوي ژورنالیست ښاغلی (رفائیل) چې دخپل عمر اخیری وخت ئې اکثره د مجاهدینو سره په سنګر او د افغانستان دننه تیر کړ او مجاهدینو به (رفیع الله) باله ، ده افغان سنګرته تر اوروپا ترجیح ورکړې وه او آخر په جبهه کې تر روسي ټینک لاندې مړشو ، مجاهدینو دده جنازه او دمړي لمونځ ادا کړ او فاتحه ئې واخیستله ، او ډیر پېرې غمجن شول ، مجاهدینو دی دځان باله او زیارت ئې پر جوړ کړ او بیا دده ماشومه لور او میرمن هم دایټالیانه دپاکستان د لارې د پکتیا جګو غرونو ته دخپل مړه د زیارت لپاره ورغلل .

فرانسوي مشهور ژورنالیستان ښاغلی (فیلیپ ا بوشار) د روسیانو لخوا په جبهه کې ونیول شول او کابل ته ئې د محاکمې لپاره ولیږل چې د دستوري محکمې لخوا په سخت بند محکوم شو .

په ټلویزون کې هم روسي جنایات او ناوړوا عنوان او دخبرونو سرلیکلې شوې ، هره هفته او یا په څوورځو کې به د روسي یرغلګرو او افغانستان په هکله یو پروګرام ؤ ، اکثرو ټلویزونو اختصاصي پروګرامونه هم جوړ کړل .

لیکوالو هم قلم پلاس کړ او دسترګو لیدلې حالات ئې د مجلدو کتابو په بڼه ولیکل ، هنرمندانو هم خپلې بشري دندې پر ځای کړې ، ډیر و مشهورو سندرغاړو د افغانستان د مظلوم ولس سندرې او نغمې ورږغولې او د افغان ولس پر حال تأثر ښکاره کاوه .

عکاسان ولاړل تراجیدي او دویرنه ډکې صحنې ئې عکاسي کړې چې دي عکسونو تر هر ډول قلم او بیان نه بهتره دحالت تشریح کوله ، دبوکس نړیوال اتل حاجي محمدعلي کلي هم چې د امریکې ؤ په (۱۹۸۷) کال کې د مهاجرینو کمپونو ته ورغی .

اخو دسینماستو دیوګانو هم افغان ولس هیر نکړ او د افغان ولس په نامه ئې د دوی د میړانې فلمونه جوړ او په سینماګانو کې ئې وچلول چې مشهور ئې دادي :

د دریم رامبو په نامه فلم چې په هغه کې د هالیود نامتو لوبغاړي سیلویستر ستالون کار کړی ؤ

RAMBO 3
SYLVESTER STALLONE

(حیواني جنګ) لوبغاړی ښاغلی ویلیام ماستهرو سایمن

BESTIEN KRIEG
WILLIAM MASTRO SIMONE

د مړه د (آه) په نامه فلم چې ټیموتي ډالټون د جیمزباند په رول کې کار کړیدی

HAUCH DES TODES
TIMOTHY DALTON (JAMES BAND)

د (عیراتیکلي نه ؤ) په نامه فلم چې د سویس کریستان ستړلي ډک کړیدی

NICHT VON UNGEFAEHR
CHRISTIAN STERLEY

Ketabton.com

روسي بشردوستان هم دکریملین دي جنایتو متأثر کړل او ځینوئي ترخپله وسه روسي عملونه محکوم کړل ، دصلحي دنوبل دجایزي گټونکی مشاغلي اندري سخروف روسي جنایات محکوم کړل چي دبرژنیف لخواله همدي کبله دگورکي ښارته تبعید اوبندي ومنی ، روسي عسکرهم داعتراض په ډول دجنګ نه وتښتیدل ، ځینوئي لکه مشاغلي (نیکولای‌یوسي) اودده غوندي نورپه اسلام مشرف اودروس په مقابل کي دمجاهدینو سره یوځای په سنگرکي گوندي شول .

دنړۍ ټولو مشرانو او سیاست پوهانو چي پاکستان ته میلمانه شول دمهاجرینو کمپونه په پېښور او کویټه کي هېرنه کړل ، دافغان مهاجرینو سره ئي غم شریکي اوخپل یووالی ښکاره کړ اوددوی په حال به ئي ځان خبراوه .

ځیني سیاست پوهانو اودولتي لوړو کسانو په دې هم قناعت نه کاوه بلکه دننه به ولاړل اودخواخوږۍ په خاطربه ئي دمجاهدینو سنگرونه ولیدل اوهلته به ئي شپې اوورځې ورسره تیري کړې . دهغه وخت دفرانسي دکورنیو چارو وزیر داروپا دپارلمان غړی اودافغان فرانسي ددوستۍ دټولنې رئیس هم ؤ ، په ډاکه ئي افغانستان ته دخپل تلګ اعلان خپورکړ پداسي حال کي چي روسیانو افغانستان ته دننه دخارجیانو تلګ منعه کړی ؤ ، نوموړی افغانستان ته ورغی ، روسي جنایات ئي په خپلوسترگو ولیدل اوخوشبې ئي دمجاهدینو په سنگروکي تیري کړې .

دالمان په پارلمان کي دبشري حقوقو دکمیسیون مشرښاغلي دوکتوریورگن ټوټنهوف غوځلي نه یواځې دمهاجرینو حال دنږدې نه وکتی بلکه دننه افغانستان ته ولاړی اودمجاهدینو سره سنگرپه سنگروگرځېدی ، دروسیانو جنایات ئي عامه نړیوالي ذهنیت ته ورسول ، دمهاجرینو او مجاهدینو دپاره ئي داعانې اومرستې په راټولولو اقدام وکړ ، نوموړي وروستۍ ځل قصداً وغوښتل چي دکریسمس داختر دخوشحالۍ ورځې دکړیدلي افغان ولس سره دننه په سنگرکي تیري کړي .

دنړۍ ټولو انساني اوحقوقي سازمانونو روسي یرغل وغندئ ، دستوکهولم نړیوالي محکمې هم داپریل په (۱۵) نیټه کال (۱۹۸۱) کي روسي یرغل محکوم کړ .

دافغان مهاجرینو سره به چي هرکال ئي دغوائي اومه اودمرغومي شپږمه دلویو اوپرتمینو مظاهرو په ترڅ کي غندله دهغو هیوادونو سیاسي شخصیتونو اودپارلمان وکیلانو دزړه سوی اوپیوستون په خاطرگډون کاوه . په بهرکي پولینډي ، چکسلواکي ، روسي اتباعو اوناراضیانو هم دافغانانو په څنګ کي ځای‌ونیوئ اوسوری‌به ئي وهلې چي مړه دي وي کې جي بي اوبریژنیف .

Ketabton.com

# د مهرې بدلون

روسیانوچې دوژلواوجنایاتوسره ونشوای کړای چې مجاهدین مات اودولس دپاخون مخه ونیسي اوپاخپل مزدورپه افغانانوومني او دکارمل ددروغو لوزونو ، روسي لافواوغروروهم نورځای ونه نیوی ، اخواپه روسي مشرانوهم مرك گډوشواودافغانستان په ارمان برژنیف ، اندروپوف اوچرنینکوف یوپه بل پسې مړه شول .

روسیانودخپلو جنایاتواوناکامو وروستیوتوطیئو (۱) دمسئولیت باریرافغاني کمونستانوواچاوه اودوی ئي (کشیف، اواحمق) بلل . دروسي نوي مشرگوربه چوف دپخواني فورمول په اساس صلاح یدې کي ولیدله چې مهرې ته تغییورکړي .

گوربه چوف وروسي جنرالانوته دازموینې لپاره دجنگ دشدیدوالي بیاهم وخت اوموقع ورکړه ، امامجاهدمات نشو ، نوکرملین دغوائیانودانقلاب دنجات لپاره ثواب یدې کي ولیدی چې عقب نشینې وکړي اودصلحې طرحه ئي راوړاندې کړه . دخپلې دې طرحې په مقابل کي ئي دکارمل لجاجت اودمارکسیزم پرسفسطه دده لاټینگوالی خنډباله ، نودده پرځای سلطان علي کشتمند په نظرکي ونیول شو ، کشتمندخپله بیچاره ګي اودملیت (هزاره) داقلیت عذروړاندې کړاودی کارته ئي ډاکټرنجیب مناسب وباله . ډاکټرنجیب دروسیانو دوتلواودکمونستي نه پرشاتللواویاپه اصطلاح بدلون راوړلودپاره ئي دکارمل لیرې کول لمړی شرط وباله اودډیرواك اواختیارغوښتنه ئي وکړه . روسیانولمړی بریالی اواناهیتا دکابل نه وایستل اوبیائي دکارمل فدائي جنرال عزیز (حساس) دارك قوماندان دتحصیلاتوپه نامه مسکوته جلب کړ . داآوازې خه موده مخکي راپورته شوې ترڅوخت راورسیدی ، نو کارمل داجرائیه قوا نه لیرې اویواځې دانقلابي شورا دمشرپه توگه پاته شو اوبیاډیرژرد همدې (۱۹۸۶) کال دمی په میاشت کي ددې څوکی نه هم لیرې کړې شو .

اویوواربیادمتهریالیزم دایډیولوژی دخاصیت پربنادپرون رهبرپه خپله کمونستانودنن دخائن په توگه یادکړ اورهبر (کارمل) دخپلونژدې ملگرودسزادډاره په کابل کي دچین سفارت ته دپناه وړولوهڅه وکړه مګرموظف پیره دارئي مخه ونیوله .

دهم هغه خبرې په اساس (وني لره چې په کاربه دې راشي) ببرك هم دکي جي بي دمامورینولخواچې یوطرفه ټکټ ئي پلاس کي ؤالوتکي ته پورته کړل شو اودمسکودښارنه دباندې ئي په یوه کلي کي وغورځاوه چې پرتلګ اوراتلګ ئي هم بندیزؤ .

کارمل نه یواځې دافغانانو نه په ډارکي ؤ بلکه هغه روسیان چې زامن ئي دافغانستان په جنګ کي دلاسه ورکړي وو ، هم دده نه دانتقام اوغچ په لټه کي وو .

دده ددی ډول لیږلواوتلګ سره زمادنوراحمدنورهغه خبره راپه زړه شي چې ویل ئي " *ترڅودکابل په ښارکي یوه شنه پاڼه پاتي وي کارمل به دواك په گدی ناست وي* " . داشعارهم لکه نورکمونستي شعارونه داوبودسرکرښه شوه .

په مسکوکي پسله ډیرې پوښتنې سوال اوځواب نه دکارمل یوملګری توترانیدئ چې دکارمل سره دده په کورکي وګورې ، هغه داسې بیان کاوه چې " *کارمل دخپلوخاطراتوپه نامه کومه لیکنه کوله اوهرڅودقیقي وروسته به پورته شو ، دکوړتې تکمې به ئي وتړلې اونیکتائي به ئي سمه کړه اوبه ئي ویل چې څوك وائي چې زه لیونی یم ؟ آیا زه لیونی یم ؟* " .

په روسیه کي دامعمول دی چې رژیم ځیلي اویادرژیم مخالفین دعقلي ناروغانوپه نامه ترنظارت لاندې نیسي .

دکارمل دلیږیکیدوسره ډاکټرنجیب دخاددانسان وزوسکي سارمان مشردخدمت ملاوتړله اوده ته هم دتبریکي په ترغ کي دکریملین لخوادښواړیکوهیله وشوه .

---

(۱) محرمانه سند (۹۰ ـ ۹۱) مخ لاته جاسوسي ثوشه نپوك

## ډاکټر نجیب

نجیب دېکتیاداحمدزوداختر محمدزوی ؤ چي داخلاقواوقواري له مخي غواني ته دورته والي له کبله په نجیب (ګاو) مشهوره ؤ ، بهرنیو خبریالانوبه هم دهمدي نامه په هکله پوښتنه ترې کوله ، دی که څه هم دطب دپوهنځي نه فارغ التحصیل شو مګرتر آخیره ني بخپل مسلك كي كارونكړ اودسیاست سره داسي علاقمندوچي دمبارزي سرحدني وحشت ته رسیدئ ، دی بیله عسکري روزني جنرال هم شو .

نجیب دحفیظ الله امین لخواتهران ته دافغان سفیرپه نامه وشړل شو . نجیب دپاچاهي رژیمونوپه مقابل كي دمخالفت له کبله دایران دپاچا ددربارووزارت ته دباورلیك دوړاندي كولودخاصومراسمودا جرانه هم سرغړاوه خوپهامین په امرئي دغه مراسم ترسره کړل .

نجیب لنلوخت وروسته دسفارت نه لیري اودخپلونوروپرچمي ملګروسره آواره اودسفارت نه وتښتیدئ اوبیادمرغومي دشپږمي نیټي دروسي یرغل نه وروسته دکارمل په ملګرتیا کابل ته راوستل شو ، دکي جي بي خاصه روزنه ئي لیدلي وه اود روسیانودخاص اعتباروړ ؤ ، دجنرالۍ په رتبه کي دده دځیواني خاصیت له مخي دامنیتي سازمان په نامه دانسان وژلودعظیمي دستګاه یعني خاد مشروتیاکل شو .

دادستګاه دریاست، نه په وزارت اونوم ئي په وزارت امنیتي دولتي (واد) باندي بدل شو ، دروسیانوسره ئي دافغانانوپه وژلو ، کړولو ، مهاجرولواودهیوادپه خرابولولاس پوري کړاوپه دي ډول دکارمل مقام ته ورسیدئ .

دنجیب په پیژندګلوي کي دده وروړصدیق (راهي) بخپل چاپ شوي کتاب (نجیب رابشناسید) کي څه ناڅه مرسته کړېده که څه هم نجیب ترهغه ډیربدی کوم چي پدي کتاب کي بیان شوي دي (راهي په کال ۱۹۸۷ داکتوبرپه ۲۹ دکابل نه د پنجشیرمجاهدینوته وتښتیدی ) .

دنجیب اوکارمل دالهام منبع یوه وه ، فقط دوخت اوشرایطوپه اقتضا مځونه بدلیدل ، دنجیب دراتلو سره هم دولس په ژوندار حالت كي تغیرپیدانشو ، ده هم دده دنورو ګوندي ملګروپه شان زیاراېستونکي هیرکړل ، سیاسي مبارزه اوفعالیت ئي دشخصي ګټواوجنسي غرایزوپه اقناع كي لنډکړ . نجیب دخپل راتلو سره دکال (۱۹۸۶) دنوامبرپه میاشت کي په پولیټ مانورو اوغلولوپیل وکړ .

نجیب دافغانستان په هکله دملګرو ملتونواکثرو نووپریکړو ته غاړه کیښوده ، مبکاره عقب نشیني نه پخوشو ، څرنګه چي دی طرحي روسي رنلو اوبوي درلود ، مجاهدینوپري باورونکړ ، خپل نوم ئي دنجیب نه نجیب الله ته وګرځاوه ، دمهاجرینود راتلو غوښتنه ئي وكړه اوپدي منظورئي دبودیجي سره په دولتي تشکیلاتو کي یووزارت هم جوړکړ .

دلیندۍ پرنهم کال (۱۹۸۷) کي نجیب لویه جرګه وروبلله ، اساسي نوي قانون ئي تدوین اودهغي جرګي لخوائي ځان جمهوررئیس وټاکه ، نوی حکومت ئي تشکیل اوخوکسان ئي دبیطرفوپه نامه په حکومت كي ونیول اوبیژندل شوی ډاکټر حسن شرق ئي دبیطرفه په نامه ترسلطان علي کشتمندوروسته دحکومت په رأس کي دصدراعظم په توګه وټاکی .

په کابینه کي دګډون په منظورئي دمجاهدینورهبران هم وروبلل اودوزارتونوورانديزونه ئي ورته وکړل ، په کال (۱۹۹۰) کي ئي په بهرکي اکثروافغان پوهانوته دمشورې دعوت ورکړ ، دملي روغې جوړې پروګرام اوبیاژغیز اوربندئي اعلان کړ ، حتی جهادي قومندانانوته ئي په سنګرکي بیله دي چي هغوی وسلې کېږدي دمرستوورکولووړاندیز وکړچي قومندانان دي پواځي دحلونه ډډه وکړي ، دمجاهدینونه داشرارو اوبانیسټانو نوم لیري اوخپه ورونه وبلل شول ، په راډیواو تلویزون کي دتسلی اوبخلاکیدلوخبروني اونغمي وږغولي شوې .

Ketabton.com

دګوندونو آزادي او تعدد مطور ، دديموکراتيک خلق ګوندني ړنګ او د (وطن ګوند) په نامه ئي ګوند جوړ کړ چي په هغه کي ئي بيا دخلق دديموکراتيک ګوند زاړه جنايتکاره غړي راټول کړل

مګر دي ټولو خبرو کومه نتيجه ورنکړه . مجاهدين ونه غولېدل ، دروغي او جوړي لپاره ئي دده ليري کېدل او د روسيانو وتل لمړنی شرط وباله ، حتی پخپله روسيانو هم دمرستي په نامه د (۶۰۰) ميليونو ډالرو او دهيوادد بيا ودانولو دپاره وړانديز وکړ ، مجاهدينو داهم ونه منل او په خپلو وړانديزونو ني ټينګار کاوه .

رژيم په ډير خراب حالت کي ؤ ، مورال ئي خراب او نظامي قواوي ئي سټړي شوي وې ، اقتصادي ستونزي ئي ډيري وې او پرواځي خولوی ښارونه ئي په لاس کي پاته وو ، دمجاهدينو نظامي تجربه ښه او روحيه ئي لوړه وه او هغه ورځي راغلي وې چي نه په شا کيدونکي انقلاب په ماته په شا روان ؤ .

Ketabton.com

# د مهاجرينوپه منځ کې د کې جي بي فعاليت

لکه څنگه چې رژيم دکوردننه هيڅ ډول ملي اوولسي خيره نه درلوده . نظامي ، امنيتي ، اداري اونوري چارې ئې روسيانو دمشاورينوپه نامه پخپل لاس کې نيولې وې ، په بهرکې هم کې جي بي درژيم لپاره مؤثرکارونه کول اودمهاجرينوپه منځ کې ئې فعاليت کاوه چې درژيم په گټه اومجاهدينوپه تاوان دزهرجنوتبليغاتوپه بنه وواوپادرژيم لپاره پلويان پيداکول ، ځينې کسان ئې دنوررودغلولواودلاري دپرانيستلوپه منظورکابل ته هم ولېږل چې درژيم اومهاجرينوترمنځ به ئې ارتباطي اوتضميني دنده په غاړه واخلي ، روسيانودجهې شاته هغومره لگښت کاوه لکه دجنگ په ميدان کې .

ضياء نصري او ډاکترضياء جاغوري ددوه طرفه ټکټ داخيستلوسره دامريکې نه کابل ته ولاړل چې دکابل نه دراستيدوسره سم ئې په پراخه پيمانه درژيم دپاره کارپيل کړاوافغانان به ئې تشويقول چې رژيم ته تسليم شي ، دمجاهدينوبدبه ئې ويل ، درژيم اومهاجرينوترمنځ ئې په جينيواکې ديوې گډې غونډې بندوبست هم وکړچې ځينې غوليدلي افغانان ئې ورتلو ته تيارکړل .

ضياء نصري په هغه راډيوئي مرکه کې چې دافغانستان دغ راډيو (دنباغلي فاروق تميز) سره ئې په لاس اينجلس کې وکړه په ډيره سرسپارنه ئې درژيم ددريزنه دفاع کوله اودوالي تاج محمدوردګ دخولې ئې په صبغت الله مجددي اواحمدشاه مسعودباندې دپوره لسوزروافغانانودوژلو تورولگاوه .

قاضي عبدالوکيل صداقت چې دولسي جرگې په (۱۴) دوره کې دکامې وکيل اودپيرسيداحمدگيلاني پخواني مرستيال وو دپورتني پروگرام سره سم کابل ته لاړاوسناتورشو ، څرنگه چې په پيښوراوامريکې کې ئې دمهاجرينوپه منځ کې ډيروخت تير کړيدو نوپوره معلومات ئې دځان سره کابل ته يوړل ، ده به دکابل اوډهلي ترمنځ تلل اوراتلل کاوه ، دکابل دتلو دپاره ئې افغانانوته ډاډ اوداسې تضمين ورکاوه چې که دچاررژيم اوکابل خوښ نشول نوبيله دې چې پاسپورټ ئې درژيم دوبيزې ټاپه وخوري اوياخوك پرې خبرشي بيرته کولای شي چې ستانه شي ، وکيل صداقت ته ددې په مقابل کې په وزيراکبرخان کې کورپه قبالـه شوچې هغه ئې قبايلوته په کرايه ورکړاوپه خپله به په مکروروپانوکي اوسيدی .

په ډهلي کې دنجات ملي دجبهې نماينده غوث الدين ټيکدارچې ددرې گوني اتحاد دنماينده گۍ وظيفه ئې هم په غاړه وه ، دخپل تنظيم دغړودلستونواونورو معلوماتوسره رژيم ته تسليم شو ، اوکله چې دکابل هوائي ډگرته ورسيد . نوپه ډيرتظاهرئې دکابل دهوائي ميدان ځمکه ښکل کړه ، دی هم دسناتورۍ مقام ته ورسيدی اوخپل خلوردکابل کوروند ئې پررژيم باندې دډالرو په حساب خرڅ کړل اولويه گټه ئې وکړه ترڅوبيرته دهيوادنه وتښتيدی . حضرت مجددي خپل مرستيال محمدگلاب ننگرهاري‌دنجيب داستازي وکيل نيك محمدسره دخبرودپاره سويس ته ولېږی چې دافغانيتونه نه تصادفي وو اونه درژيم دکارکونکو دوسه پوره وو .

ولس اوافغان کورنۍ په شخصي اوملي سطحه تربل هروخت دژونددرپرونواواحتياج سره مخ شول . دژونددعادي اړتياوو لکه سرپناه ، اوبواواوردتهيې په غم کې ډوب اوورته سوال پيداشو ، دروسيانونه پرته گاونديانواوځينې نورولېرې هيوادونوهم په يوه اوبله بڼه لاسونه راوغځول . دافغانستان په پولوکې سازمانونه جوړ ، قومندانانو لوبدېځوهيوادونوته ميلمانه شول ، ليدنې کتنې اسانه شوې . هيله ده چې داتماسونه دملي گټوترپولواوښتي نه وي ، څرنگه چې کړدې په خپلومرانلو دريزې ، خوزموږ هيوادپر پردوباندې دمينانوپوسيله دتباهۍ کندې ته وغورځول شو .

# روسي توطيئې دجهاد دجبهو شا ته

دروسيانو دا ټکل په خلاف افغان ولس مقاومت وکړ ، مقاومت ترآخيره نه مات او نه کمزوری شو او چې دروسي جنرالانو محاسبه غلطه راوختله ، نو روسي سياست پوهان دجنرالانو په مرسته دسياسي حل ديوې لارې په لټه کې شول ، خو په عيني وخت کې ئې دمقاومت شاته په نښتو او توطئو هم لاس پورې کړ ، په پيښور او کوټه کې ئې بمونه وچاودل ، وژني او ترورونه ئې وکړل (لکه چې د (۱۹۸۷) کال دسپتمبر په مياشت کې دحزب اسلامي افغانستان پر مشر ګلبدين حکمتيار باندې دناوړه قصد له کبله دده دوه کسه ساتونکي وظيفه داران شهيدان شول) ، په دې ډول KGB غوښتل چې ديوې خوا مخور افغانان دجهاد نه کم او شهيدان کړي او بل پلو دافغانانو ترمنځ بدګماني را پيدا کړي .

پر زهر جنو تبليغاتو او پروپاګندو باندې ئې هم زور راچوئ ، قومندانانو يو و بل په مرموزه ډول سره ووژل ، روزل شوي او ياخپلو اعتمادي يانو ته ئې لاره جوړوله او ارايول به ئې چې دمجاهدينو په صفوفو کې نفوذ وکړي او وه ئې ګماري چې لمړی په جهاد کې ځای پيدا کړي او په راتلونکي کې ددريشي او نيکتهائي پر ځای په پکولونو او پيزو کې هم بې برخې نه وي . چې نن د KGB دهغو هلو ځلو خر ګنده اغيزه وينو .

بيله دې چې څيري ئې وپيژندل شي ډيرو چې پيسې ئې درلودې هغو ورسلې اخيستلې او چاچې به وسله درلوده مجاهد او قومندان شو ، ددوی دتقويې لپاره کار کيدئ ، بهرنه ددې دپاره چې پيسې بايد مينځل شوي وي په دوهم لاس يادلو ډيګو هيوادونو داتباعو په سلسله به راغلي او بل په ډالرو بدل شول چې پيدې برخه کې دفرانسي سوسياليستان ترنورو دمخه وو .

روسيانو وکولای شول چې دپنجشير وتلي قومندان احمدشاه مسعود دعبدالحميد محتاط پواسطه تر نفوذلاندې راولي او داو ربندپه نامه ئې دببرک کارمل وخلق ته ودروي اوروسي يرغل پر يې ديوه رسمي قرارداد په ترڅ کې تائيد او ومني ، پداسي حال کې چې په ټول هيواد کې اوبل ډاولمې ئې بورنه وي . احمدشاه مسعود دجګړې نه ډډه وکړه ، بيطرفه اوسيل ينه شو ، چې ددې په مقابل کې ئې بايد د روسيانو نه لوړ امتياز تر لاسه کړی وي . دې تړون ديرې متقابله همکاری بنه درلوده ، مسعود هم دفرصت نه په ګټه د (شورای نظار) په نامه دجمعيت په تنظيم کې ځانته فراکسيون جوړ کړ .

روسيانو به دپنجشير په جبهه کې خوځلې بيله دې چې کومې خواته تاوان ورسيږي مصنوعي ماتې وخوړلې او بيابه شاته ولاړل ترڅو چې داحمدشاه مسعود نه ئې شير پنجشير جوړ کړ ، نو رمجاهدين پسله درندو تلفاتو نه دې ټکي ته متوجه شول او دروسيانو سره ورته د (۱) قرارداد دموضوع حقيقت جوت شو .

داحمدشاه مسعود دتړون له برکته په شمالي صفحاتو او دکشت مند په وساطت په مرکزي افغانستان کې دروسيانو سره جنګ سوړ او يا په ټپه ودريدئ . دمرکزي افغانستان او سيدونکي چې يو لوی شمير ئې په ايران کې مهاجر شوي وو ، دخپلې عقيدې له مخې دايران په ګټه دامام خميني په پلوې دعراق په جنګ کې ګډون وکړ . ببرک کارمل دراتلونکې زمورد هزاره وطنوالو وجنګ ته پرنيژ لوداايران په اسلامي دولت اعتراض وکړ . پدې وسيله روسيانو او رژيم فرصت وموندچې دپاکستان وخرمو سرحدي سيمو کې پر جنګ زور راچوي او شديد جنګ دروسيانو تر وتلو حتي درژيم ترنسکوريدو پورې په شدت سره دوام درلود .

دډاکټر نجيب ديو جنرال دخولې چې د (۱۹۸۹) کال دفبرورۍ په مياشت کې دروسيانو دوتلو په وخت کې دسالنګ دبرخې دامنيت وظيفه دار ؤ ، ويل کيږي چې روسيانو دخپلو پوستو وسلې دوتلو په وخت کې دمسعود دوجهوته چې نژدې پرتې وې په خپل لاس ورتسليم کړې .

---

(۱) دجمعيت دشورای نظار څرګندونې ګوره شناس ځيل (تحولات سياسي جهاد افغانستان) نومې کتاب په (۲۴۵) مخ کې ددې قرارداد لوجهي مخه کړې ده .

Ketabton.com

دجمعیت دیولوی‌قومندان دویاسره سم کله چي دجنګ دشدت په وخت په (۱۹۸۷) کال کي داحمدشاه مسعودپه بلنه دپنجشیردجبهودلیدودپاره ورغلی‌ؤ نوهلته ئي درژیم دهلیکوپترو تلې اوراتلې اوکوزیدل دپنجشیردجبهي په قرارگاه کي په خپلوسترګولیدلي‌ؤ .

همدارنګه مجاهدین دمارچ دمیاشتي د (۱۹۸۹) کال دجلال کوټ په حمله کي دترنلوتلفاتواوتاوانونوسبب دسالنګ دلوئي لاري پرانیستل ګنـي چي دپنجشیردجبهي دنظامي نفوذ په ساحه کي پرته وه اوورژیم وکولای‌شول خپل ټول ضروري اکمالات دهمدې لاري نه بشپړکړي ، مسعوداکثره وخت دنوروومجاهدینوسره په جنګ تیرکړاودافغانستان په شمال کي ئي ډیرنامتوقومندانان مړه کړل .

عصمت مسلم هم چي روسیه کي ئي نظامي تعلیمات کړي اوخه وخت ئي په جهادکي هم برخه واخیستله ، خوچي کله ئي شهرت پیداکړنو ژرئي پرمجاهدینوباندي دخپلي وسلي مخ ورواړوئ ، دمجاهدینودتلې اوراتلې لاري ئي بندي کړې ، په لمړي سرکي دا اشتباه کیدله چي دامخالفت ئي ممکن دغنیمت وسلودویش په سراوپادخپل سری انګیزه ولري ، مګردموضوع ریښتي ترديډیري ژوري وې اوچي وخت راغلي‌چي مقاومت بدنامه کړي نودجهادنه وتښتیدئ اوکارمل ته تسلیم شو ، دکارمل لخواتقدیرشو اودوزارت په بست کي ئي دمجاهدینوپه مقابل کي دده ترمرګه درژیم خدمت اجراکړ .

د (۱۹۹۰) کال داپریل په میاشت کي روسیانووکولای‌شوای چي دهرات دولایت قومندانان حاجي ملنګ درویش ، سیداحمد اوعزیزاغا تطمیع اوترنفوذ لاندي راولي اودخوکلي جهادنه ئي وروسته دهرات والي فضل الحق خالقیارته تسلیم کړي ، ددې کار دپاوه درانده تشریفاتي ترتیبات نیول شوي وو اودرژیم خولوړرتبه ملکي اونظامي مامورینوهم پکي ګډون درلود ، حتي لمړی پلان داؤچي جمهوررئیس ډاکټرنجیب پخپله هم پدي استقبال کي برخه واخلي ، پروژه نژدې وه چي عملي شي چي درژیم په کارکونکو اوپه تسلیم شووقومندانانوباندي یودبله سره دروغېرپه وخت کي دهغومجاهدینولخواډزي وشوي چي توانیدلي وو په دې تشریفاتو کي ګډون وکړي ، دېپیښه کي دپنځم خادمرستیال جنرال جلال رزمنده مړاوخونور لوړرتبه ماموران ټوک مړه اوټوك ټپیان شول ، خالقیارهم ټپي شوچي کابل ته ئي ژر ورساوه ، دمرګ نه بچ اوپه مقابل کي دصدارت خوکۍ ته پورته کړل شو ، خودتسلیمي‌غوښتونکي دډاره بیرته سنګرونوته وګرځیدل .

دګروال سرورنورستاني‌په هندکي دافغان سفارت پوځي آتشه په (۱۹۸۰) کال کي هغه وخت پاکستان ته پناه یووړه کله چي یوه پاکستاني دیپلومات ته په کابل کي رژیم پناه ورکړه ، نورستاني ددې موقع نه پوره ګټه واخیستله ، په پاکستان کي ئي نسبتاً ټودهرکلي‌هم وشو ، څه وخت ئي په پاکستان کي تیرکړ ، وسله ئي پیدا اوجبهه ئي جوړه کړه ، خوخرګنده نشوه چي چا ورسره مرسته وکړه ، دجهادپه نامه دنه افغانستان ته ولاړاودنورستان دمجاهدینومخ ته ودریدئ ، اکمالات ئي درژیم لخواکیدل اودجنرالۍ رتبه هم ورکړه شوه .

Ketabton.com

# ورستني لټې

د (١٩٧٩) کال دیرغل سره سم روسیانو خپلو ټولو انساني ضد تاړاکونو ته په ډیر غرور دوام ورکړ ، هر ډول خطرناکي وسلي ئي استعمال کړې ، مګر مقاومت مات نشو ، روسیانو په هر ډول جنایت لاس پوري کړه ؤ ، جنګ څو کاله دوام وکړ ، تازه دمي عسکرئي راوستل چي ځیني به ئي خپل هیوادته ډیر وبدو خاطراتو سره ستانه شول او په یو شمیر نورو ئي روسي هدیرې ډکي شوې ، دځینو مړي هم بیدانشول ، په افغانستان کي د روسي ذوژل شوو عسکرو شمیر ورځ په ورځ ډیریدئ او نوره دا خبره پټه نه وه چي روسیانو ته په افغانستان کي نړیواله دنده اجراکول دمرګ مانا لري ، روسي ولس او جنګي افرادهم پدي پوه وو چي دا جنګ یواځي دکریملین دحرفوي جنایتکارانو غوښتنه ده او دا ورته جوته شوه چي ددوی په ادعا په افغانستان کي چینائیان او امریکائیان نشته او یواځي دهغه هیوادهستوګن افغانان دي چي دوی ورسره جنګیږي .

روسي عسکرهم پدي جنګ راضي نه وو ، ځوان عسکرئي اکثره په چرس او نورو مخدره موادو اخته شول او دا جنګ ئي غیر ضروري باله ، مګر مجاهدین دخدای (ج) درضا او دهیواد ددفاع په خاطر دا جنګ پرځان فرض او یو ایماني مجبوریت ئي باله ، روسي ایډیولوژیست او طراح سسلوف هم دکریملین په نورو واکدارانو پسي دمرګ لاره ونیوله چي دغوائي کودتائي دسوسیالیزم په لوري یو حرکت باله .

روسي جنګي ازمویل شوي جنرالان هم په خپله غلطي پوه شول دوی به پخواویل " *که مو دسرحدنه تېنګونه وخوځیدل نو یواځي دهند سمندر ئي دفتوحاتو مخ راګرځولای شي* " .

خوچي کله ورته څرګنده شوه چي دچاسره مخامخ دي نوئي غرورمات شوو ، لاس ئي دسیاستمدارانولمنې ته واچولې چي دسیاسي اواري دلارې په نامه په عزت دوتلو لاره پیداکړي . روسي واکمنان هم هر یو پدې پوه شوو چي دا یرغل یوه بده غلطي وه ، په کریملین کي څوك پیدانشوچي ددي غلطۍ او جنایت مسئولیت پرخپله غاړه واخلي .

په (١٩٨٥) کال کي میخائیل ګوربه چوف دکمونست ګوندلمړی منشي وټاکل شو ، په ډیر منافقت دسیاسي حل لاري په هڅه کي شو ، دببرك کارمل سره ئي چي دچرنینکوف په جنازه کي دګډون لپاره مسکوته تللئ ؤ وکتل او دافغانستان دفاجعي ټوله مسئولیت ئي دببرك کارمل په غاړه وروغورځاوه او دسیاسي حل دلارې په منظور کارمل دلاري نه لیرې او دهغه پرځای د کي جي بي دبل روزل شوې په فکر کي شو ، په لمړي سرکي ئي په نمایشي ډول دخبر بالانوترنظر لاندي څو محدودي قطعي هم وایستلی خو په عوض کي ئي نورې تازه دمي قطعي ولیږلې .

ګوربه چوف دافغانستان جنګ یواشتباه بلله پداسي حال کي چي داکتوبرانقلاب ترهغه لویه اشتباه وه او ده دروسیانو دپاره ئي افغانستان داسي پرهار وباله چي وینې ترې څخیدلې ، مګرددې ټولو سره بیاهم نه یواځي دده په وخت کي جنګ لاتودشو بلکه هڅه ئي کوله چي پاکستان هم ودې جنګ ته راکش کړي ، دسکډ په لیرې ویشتونکو توغندیوئي دپاکستان پرخاوره هم حملي وکړې چي کله کله به دډیرومالي او ځاني تاوانوسبب ګرځیدلې .

د (١٩٨٥) کال داکتوبر په میاشت کي ګوربه چوف دنړیوال ذهنیت دغولولو او دکمونیزم دژغورني په خاطر د (١) پریسترویکا (بیاتاندون) او (٢) ګلاسنوست (پرانیستوب) دهمدې عنوان لاندې دیوه کتاب په ډول وړاندي کړ ، چي دلویدیځو هیوادونو نه مالي مرسته ترلاسه کړي او پدې وسیله دمړژواندي کمونیزم تېکېدلي تن ته تازه ساه ورپوه کړي .

---

(١) PERESTROIKA

(٢) GLOSNOST

Ketabton.com

خوبیاهم په افغانستان کې دله ایزې وژني اودکلو اوکورونوخرابېدنې په زورکې رواني وې ، گورباچوف به پرجنګ زور لګاوه اوویې به بهیدلې خودهمدې کال (۱۹۹۱) دجون په (٦) دې دصلح دنوبل دجایزې مستحق وبلل شو .

روسیانوبه خپل مړي اکثره وخت نشوای راپورلولای ، په روسي هدیروکې به ئې تش په نامه خالي تابوتونه خاوروته سپارل چې خوځلي داکارونه دمړودکورنیو اوکې جي بي دمامورانوترمنځ داخ ووب سبب هم شول ، روسیان نورپوه وو چې دایوه بې گټې جګړه ده .

ددې جنګ بې عدالتي په روسیه کې هم څرګنده وه ، جنګ ته یواځې غریب اوبې واسطې روسیان لیږل کیدل اودافغانستان لخواهم بې واسطې خلقیان دمجاهدینودګولۍ نښې وې .

دکابل رژیم نه یواځې په نظامي برخه کې روسیانوته ډېره وهلې وه بلکه په مالي لحاظ هم دروسیانوداوږو بېټې شو ، پداسې حال کې چې روسیانوپخپله ډېرې اقتصادې ستونزې لرلې اودفقرلاس ئې لویدیځوهیوادونوته نیولی ؤ ، درژیم بې کفایتي نوره څرګنده اوروسیانوبه په ښکاره ډول په مطبوعاتوکې دمرغومي د (٦) نیټې دکوغږنې پیښې اودافغانستان دجنایاتومسئولیت یواځې دافغان کمونستانو وبې کفایتۍ ته منسوباوه اوغوښ دریځ ئې داؤچې ژر ووزې اوکمونستان یوځه دځان سره بوزې او نوربې پلاره اوبې سرپرسته دولس محکمې ته وسپارې .

ګورباچوف په پوره مکارۍ دیوې خوادصلحې اوسیاسي حل لارې چیغې وهلې اوبل پلوئې هڅه کوله هغه څه چې په جنګ کې پلاس ورنغلل دصلح دلارې ئې ترلاسه کړي ، افغانستان دیوه تړون په نامه دبیطرفه هیوادترعنوان لاندې بیاهم ترخپل نفوذ لاندې راولي اودتل دپاره ئې سیاسي آزادې محدوده کړي ، اودبیطرفۍ نه دعدول په بهانه دفرصت په وخت کې دبل یرغل دپاره دامکان لارپرېږدي .

ګورباچوف په خپل سیاسي چال چلندکې تردې اندازې دوه مخۍ ؤ چې حتی دده ددې منافقت له کبله دده تهاکل شوی دبهرنیو چارو وزیر (ادوارد شوارد نادزه) هم په دسمبرکال (۱۹۹۰) کې استعفی وکړه ، روسیانوبیاهم وتلوته تیارې نیوله چې لمړۍ ئې روسي ښځې اوماشومان اوبیاوروسته ملکي مشاوران وایستل .

Ketabton.com

# د يرغل پلويان

دلسو کالونه زيات په منظم او سيستماتيك ډول هره ورځ روسي جنګي الوتکي دکابل دښارپه فضاکي والوتې ، ډکي ولاړې او تشي راغلې ، توپ اوټينکونه وخوځېدل اوورچليدل ، بمونه وچاودل ، کيمياوي اوبيولوژيکي وسلې وکاريدې ، هر يوپيدي پوه ؤ چي داپرمخ تللي جنګي وسلې پرچا اودچاد پاره اوچرته استعماليږي ؟

دعملياتوپه نامه دانسانانو دوژلوپلانونه جوړ اوعملي شول ، هريوه ته داسوال ؤ چي نن به بيادهيوادکوم ګوټ دخاورو سره برابر اوانسانان به ئي ترخاورو لاندي کوي ؟

دهيوادپه کومه بي دفاع سيمه به دعملياتوپه نامه دمجاهدينوپه پلمه اور اوروي ؟

ماځيګردلرپرلويدلوبه دادبشردښمني قواوي دمظلوموانسانانوپه وينوسره لاسونه ومرکز اوخپلوچونيوته ورستني شوې ، تپولوبه ليدل اوهيڅ چانه وضعه پټه نه وه .

درژيم راډيواوټلويزون به دپردوبرى ونمانځې ، دخوبنې خبرونه به ئي خپاره کړل ، داشراروپه نامه دهيواد داصيلوبچيو اود ناموس ددفاع کونکوپه وژلوبه ئي اختر جوړ کړ ، دکورخاوندته دغله خطاب کيدئ اوسره غله دوستان اودصلح ځواکونه بلل کيدل . هرژونديشي که انسان ، که څاروي اوکه بوټي وو ژوندئي دخطره سره وو ، دهيوادهوا په اور اوباروتواوبنتې وه ، دتوپونودډزو نه دهوامرغان هم وکوچيدل ، دهيوادښه بچيان دخاورو شومه اودپردو دګټوپه منظوراعدام اومحاکمه شول .

کړول ، تپکول ، دنوکانوايستل اونوري شکنجې ، ډول ډول وژني لکه په اورسوځول ، ژوندي ښخول اويائي دهيوادپريسبودلو ته اړايستل .... اونور اونور ، چي دې ډول چاروپه وينه ګټهل شوې دهيوادخپلواکي نيغه دخطرسره مخامخ کړه .

خوافسوس بياهم يوشميرهيوادوال کله په يوه پلمه اوکله په بل نوم ددي تپولوپه مقابل کي بي تفاوته پاته اوهيڅ زړه ئي ونه سوځئ ، حتیدپردو دظلم دتبرلاستي شول ..

مګريوشميرلکه ډاکترمحمودحبيبي ، ډاکترنعمت الله پژواك ، خليل احمدابوي ، سيدامان الدين اميني ، غلام سخي دانشجو ، غفارفراهي ، ميرمحمدصديق فرهنګ ، عبدالواحدسرابي ، عبدالرحيم هاتف ، فضل الحق خالقيار اوعبدالمجيدزابلي چي ده په خپله رضائي خپل جايداداوشتمني ورژيم ته ورکړل ، ددوی ګوندي اړيکي ځرګندي نه وې خوبيائي هم دروسي يرغل پلوي کوله .

دوی نه پرولتارياته عقيده درلوده اونه ئي محروميت پيژندئ ، نه ئي دزيارايستونکودژوندسره علاقه درلوده ، دهيوادممتازه طبقه وه ، دوی اوددوی کورنۍ دهرډول مادي نعمتونونه برخه مني وې ، دوی کمونيزم نه منئ . فکري خط ، فکري محتوی اواخيستني ئي دهغونه په کلونوواټن درلودئ .

داوله په شعوري ډول دپردودګټوپه خاطراودلاسپوځي رژيم دبقاليپاره په اخلاص دبيطرفانوترنامه لاندي ددوی په خدمت اوچوپړکي ودريدل اودروسي يوځي يرغل پلوي ئي وکړه چي داتوتصادفي نه بلکه بايدديوه ټينګ لوزپربناولاړوي .

والله اعلم الغيب

# ناکامه یرغل

روسیانوته افغانستان زبنته گران پریوت ، نودخلاصون په خاطرئي دامریکائیانوگریوان ته لاس واچاوه ، دامریکائیانوله خوا ومجاهدینوته دوسلې‌دنه ورکولوپه تش لوزقانع شول ، د (۱۹۸۸) کال داپریل په میاشت کي دملگروملتوترنظارت لاندي دکابل رژیم ، پاکستان ، امریکا اوروسیي په جینیواکي دروسي یرغلگرودوتلوتړون لاسلیك کړمگرمجاهدینودي تړون ته خپله عدم پابندي اعلان کړه .

خرنگه چي دا تړون بي محتوا ؤ ، نوعملي اوتطبیقي جنبه ئي ونه موندله ولې چي دقضیي اصلي اړخ (مجاهد) په تړون کي دنظره لویدلی ؤ .

یاهم دملگروملتونومشرمناغلي دیگوکوردوویز دهمدې‌تړون له امله داگست پردریمه په کال (۱۹۸۸) کي دامریکاد (مارتین لوترکینگ) دصلحي لوړه جایزه واخیسته .

پاکستانیانوهم ددې‌تړون په ترخ کي هغه درلوده چي دفرصت نه په گټه دکابل درژیم نه دډیورنلو دکرښي دپه رسمیت پیژندني لاسلیك ترلاسه کړي ، خوډاکټرنجیب تن ورنکړ ، دپاکستانیانوددي ناکامي هغي په هکله بایدداسي وویل شي چي که داسي لاسلیکونه کافي وای نودامیرعبدالرحمن خان لاسلیك به کافي بلل شوی‌وای .

ددې تړون نه وروسته ډاکټرنجیب دسرولښکرودوتلو دقراردادلپاره تاشکندته وغوښتل شو اودتړون پرجوړشوي متن باندي د نجیب لاسلیك واخیستل شوچي دواړه دنړۍ دډیروهیوادونوپه تلویزون کي ښکاره کیدل ، دبادار اومزدورتر منځ معامله وه ، دنجیب خیره دغم اوویرنه ډکه خرگندیده ، روسیانوخپل مزدوران وخپل ؟ کبړلیك ته پریښودل ، خدای‌خبرده‌چي په دې وخت کي به دنجیب په زړه کي څه گرځیدل ، روسیانودوتلوتیاري ونیوله چي په (۹) میاشتوکي به دافغانستان خاوره پریږدي اونړیواله دنده ئي بشپړشوه ، دنابللومیلمنولپاره خوك پیداشوچي آخیردتلو رخصت ورکړي .

دفبروري په (۱۵) نیټه کال (۱۹۸۹) کي دروسیانو وروستنی کاروان پداسي حال کي چي نجیب اوکشتمندگلان پرې شیندل ، ددرندوامنیتي ترتیباتولاندي ، دډارسره چي هره تیره به ورته مجاهدسنگاربدئ اوپه هرخوکیلومتري کي ورته امنیتي پوستي هم جوړي شوي وې‌اودکاروان پرسرئي جنگي الوتکوهم الوتني کولې ، دافغانستان نه ووت .

نجیب دروسي یرغلگرو قواو پرسینه دافغانانو دوزلوپه مقابل کي مډالونه وځړول . داوته عادي نه وه بلکه په ډیرتلوارکي وشوه ، ښکاره تیښته وه . دډار نه په ځینوپوستوکي ډیرشیان اوسامانونه لکه عکسونه ، روسي بیرقونه ، شخصي لیکونه ، وسلې‌اونورپوځي موواددوتونکوشوروي لښکرونه پاتي شول .

دگرجنرال بوریس گوروموف وروستنی روسی‌عسکر ؤ چي دسلواغي دمیاشتي پر (۲۶) نیټه په (۱۹۸۹) کال کي دحیرتان پله ته ورسیدئ ، دپله پرسردخپل ټانك نه راووت اوپه لنډو لنډوگامونو (سرکوزی) پرپله باندي په زیړمخ تیرشو . دپله په آخیرسرکي ئي دوروستي ځل دپاره یوځلي بیامخ راواړاوه اوشاته ئي افغانستان ته وکتل چي دده په قومانده اوقلم وران اوویجاړ شوی‌ؤخدایزده چي په زړه کي به ئي څه تیریدل ، کله چي ئي مخ وگرځاوه دخپل (۱۶) کلن زوی‌لخوا په غیږکي ونیول شواودسورهیوادافغانستان غیږه خپلوبچوته پاتي شوه . دنړیوال تاریخ یوبل څپرکی‌بشپړشواود دشوروي دامپراطورئ په بنیه دپیراخه شوي روس وروستنی‌یرغل اولمړی‌ناکامي وه .

Ketabton.com

افغانانو ته د روسیانو د شړلو بری په برخه شو او یو وار بیا جوته شوه چې حق زور ور دی ، زور ور حق نه دی . د دې پړولو پېښو سره انقلاب په بېړه مخ په وړاندې روان ؤ ، د غزني د تازي د رباط پوسته ، ګمرخیل او ځاځي میدان یو په بل پسې فتحه شول ، د هر پلونه د مجاهدینو د بریالیتوب او فتوحاتو خبرونه رارسېدل ، نړۍ وآخیري برې ته سترګې په لاري وه ، د کابل د کورونو په سرونو و مجاهدینو ته د بنه راغلي لپاره سپین بېرغونه پورته شول . عجیبې او په زړه پورې تبصرې د نړۍ مطبوعاتو کولې ، د افغان کمونستانو د پاره هم د تېښتې لارې مخکې سنجول شوي وې ، د الوتکو په واسطه د فرار د پاره ځو معین ځایونه په کابل کې ټاکل شوي وو ، یوا ځې لوړ رتبه مامورینو د ځان د پاره دیوه بکس دوړولو سره د الوتنې ټکټ درلودې ، خو غریب خلقیان ئې بیا هم د خدای او د ولس محاکمې ته خوشي کړل . خلقیان نن بیا د خپلو هغو وطنوالو د پیدا کېدو په لټه کې شول ، کوم چې د کلورا هیسې ئې د خپلو مجاهدینو ورونو سره اړیکې ساتلي وې ، اماد اځل د تعقیب او تحقیق په نیت نه بلکه د خپلو کورنیو د پت او سر ساتلو په خاطر د مرستې په هیله ورونه ټکول او هیلې ئې کولې چې سبځي او ماشومان ئې په خپلو کورونو کې د مجاهدینو د غچ نه خوندي کړي . خو افسوس چې د سوبې پړاو ژر تر لاسه نه شو ، نجیب او د هغه د وطن ګوند وکړای شول چې د ټولو توقعاتو خلاف بیا هم دیو خه مودې د پاره پاتې شي . کیدای شي د دې علت به هغه بې اتفاقي وي چې تل د تاریخي سوبو او فتحو په وخت زموږ په ولس کې پیښېږي .

مناغلي علي توسلي د خپل "جنګ داخلي احزاب افغانستان" د کتاب په (۱۳) مخ کې د سیدمنصور نادري ، جنرال مومن ، جنرال دوستم ، جنرال ابراهیم ، جعفر د سیدکیان زوی ، شورای نظار (جمعیت اسلامي) ، حزب وحدت او انقلاب اسلامي ترمنځ د "جنبش ملي اسلامي صفحات شمال" په نامه تړل شوي پټ تړون ته چې یو اصل ئې دده لاس ته هم رسیدلی دی اشاره کړیده او دا تړون د ډاکتر نجیب د رژیم د نسکورېدو سبب بولي . دا تړون وروسته د "ائتلاف شمالي" په نامه راوچت او تند خویه ستمي مشربه شعله یانو پکې ګډون درلود .

د روسي یرغل د جګړې تاوان ذخولې ولوید ، تر دا او سه د رژیم ولاړ پیرجیان او خلقي افسران سره د دې چې محاکمه نشول بلکه د اسلامي دولت د واکمنۍ شریکان شول او د خادمهم اسناد دلاسه و وتل ، د ځانګړې واکمنۍ په هیله لوی جهادي تنظیمونه لکه حزب اسلامي ، حزب اسلامي (مولوي خالص) ، نجات ملي ، محاذ ملي ، حرکت انقلاب اسلامي او اتحاد اسلامي د نظره و غورځول شول ، د ملګرو ملتونو د استازي مناغلي بینن سیوان هلې ځلې د قدرت د انتقال لپاره داوبو د سر کربنې شوې ، سوله او آرامي رانغلل ، ائتلاف ته د روسیانو مالي مرستو د پیخوا په شان دوام وموند ، سیمه ایزې مذهبي اوژبنۍ ستونزې راپورته شوې او هیواد د بلې تباهۍ په لور پورې وهل شو .

Ketabton.com

# هیله

مادا کتاب خاص دخپلو وطنوالو دمطالعې لپاره وړاندې کړئ ، کومه اشتباه که منځ ته راغلې وي په هغه کې به حتمي قصد موجود نه ؤ .

ددې کتاب نه په لاس راغلې پانګه به دیتیمانو دتعلیم اوروزنې دپاره لګښت شي .

زما دوست چې ماته ددې کتاب دمتن دپاره لویه او مهمه منبع وه ، داتیا کلنۍ په عمر وفات شو چې ما دده وفات نه وروسته په (۱۳۷۰) هـ ش کال کې دمهاجرت په قصد دپښور په لورې حرکت راوکړ .

من الله التوفیق

PROPERTY OF ACKU 5276

Ketabton.com

دعبدالله عبدالرحیمزی دکودتاحقایق اوانکشافات......

ددوامریکائیانوتری تم کیدل......

افغان جاسوس په روسیه کې......

دکابل په هوایي ډګرکې دامریکایي وسلو دنیولو درامه......

په کابل کې دلندن له سفارت نه دیوه روحاني شخصیت د میاشتني حقوقو...

په کابل کې ددوو پاکستانیانو دپناغوښتلو جریان...

دمیوندوال پرخلاف دکې جي بي لومړی توطئه......

دمجید کلکاني اړیکې اوفعالیتونه ......

دمحمدداؤداوسردارعبدالولي مخالفت......

غلام بچه رحیم پنجشیري اودارګ دلوښوعکسونو حقیقت......

ضبط احوالات اوجنرال اسمعیل فرمان......

ببرک دکاسګین دهرکلي په مراسموکې ......

دپل خشتي په جومات کې دملایانودمظاهروبیرغونه چاسردارولي ته تحفه کړل ........

ددرالامان ماني ته څنګه اوچااورورواچاوه ......

مارشال شاولیخان دداودخان دکودتاپر وخت څه وویل :.......

روان فرهادي دظاهرشاه دسفرخرڅ له اجراکولوولې ډه ډه وکړه .........

میوندوال چاشهید کړ - لومړی لاس اطلاعات

په زندان کې دمیوندوال په هکله دعبدالملک عبد الرحیمزي څرګندونې.......

داودخان ویل: زه پر چپیانوته په سلام هم پښیمانه یم......

علي احمد خرم ولې ووژل شو ......

دبریژنیف په وړاندې دداؤد خان دملي غرور عظمت

دزمان خان .کلامری ...........

دکمونستي کودتا په وړاندې دداؤدخان دمقاومت حماسه ......

دامریکادسفیر ډبز دوژلوربښتیني انځور

په زندان کې قاضي هدایت طاهر بدخشي ته څه وویل :......

حفیظ الله امین دروسیې له سفراوبریژنیف سره له لیدو ووه وکړه ؟

کارمل له ګوښه کیدو وروسته په روسیه کې څه کول ........

داحمد شاه مسعود او روسانو تر منځ دسولې په اړه-

عبد الحمید محتاط څه دول رول ولوباوه ......

په سالنګ کې د روسي عسکرو پوستو خپلې وسلې چاته ورکړې.

Ketabton.com